فَإِنَّ فَقِيهًا وَاحِدًا مُتَوَرِّعًا أَشَدُّ عَلَى الشَّيْطَانِ مِنْ أَلْفِ عَابِدٍ

مخزن الحقائق

پښتو شرح د

كنز الدقائق





نکاح -

مصنف

حضرت مولانا محمد حنیف گنگوهی

استاذ جامعه دار العلوم دیوبند

جدید مکتبہ رشیدیہ

جادہ میوند سرچوک کابل | محلہ جنگی قصہ خوانی پشاور

0782690850 | 091-2580074



Maktaba Tul Ishaat



تمام فنون کے کتب ہمارے ویب سائٹ اور پلے سٹور سے فری ڈاون لوڈ کریں۔ ہم روزانہ کی بنیاد پر اس میں مزید نئے کتب شامل کر رہے ہیں نئے شامل شدہ کتب لیے روزانہ ہمارے پلے سٹور اور ویب سائٹ کو باقاعدگی سے چیک کیا کریں۔

اپنی کتاب کو ہمارے ویب سائٹ پر شائع کرنے کے لیے رابطہ کریں

تفاسیر	خطبات	منطق
احادیث	سیرت	معانی
فقہ	تاریخ	تصوف
سوانح حیات	صرف	تقابل ادیان
درس نظامی	نحو	تجوید
لغت	فلسفہ	نعت
فتاوی	حکمت	تراجم
اصلاحی	بلاغت	تبلیغ و دعوت
آڈیو دروس	مناظرے	تمام فنون

maktaba.tul.ishaatofficial@gmail.com

کتاب النکاح			۳۶۹
د نکاح تعریف او د هغې حکم	۳۷۰	فصل په بیان د محرماتو کې	۳۷۵
د محرماتو تفصیل	۳۷۶	د حلال نکاحونو بیان	۳۸۱
نکاح متعه او نکاح موقت باطله ده	۳۸۵	باب دی په بیان د سر پرستو کې	۳۸۶
فصل دی په بیان د هم مثلو کې	۳۹۳	د توکیل نکاح وغیره بیان	۳۹۵
باب دی په بیان د مهر کې	۳۹۷	د مهر مثل د واجب کیدلو د صورتونو بیان	۴۰۳
د مهر په مقدار کې د زوجینو اختلاف	۴۰۷	په مهر کې د زوجینو د اختلاف نقشه	۴۰۹
باب دی په بیان د نکاح د غلام کې	۴۱۰	د شپږ نوي صورتونو اجمالي خلاصه	۴۱۷
باب دی په بیان د نکاح کافر کې	۴۱۸	باب په بیان د نوبت کې	۴۲۲
کتاب الرضاع			۴۲۵
د اَلْاُمّ اُخْتِه تفصیل	۴۲۹	او د یو ویشت صورتونو تفصیلي نقوش	۴۳۰
کتاب الطلاق			۴۲۴
د طلاق د قسمونو بیان	۴۴۴	باب دی په بیان د طلاق صریح کې	۴۴۸
فصل طلاق زماني ته په منسوب کولو کې	۴۵۱	فصل د صحبت نه مخکې د طلاق ورکولو په بیان کې	۴۵۵
باب دی په بیان د کنایاتو کې	۴۵۷	نقشه صورِ تکریر اعتدی مع حکم هر صورت	۴۶۰
باب دی په بیان د سپارلو د طلاق کې	۴۶۲	فصل د امر بالید په بیان کې	۴۶۴
فصل د مشیت په بیان کې	۴۶۵	باب دی په بیان د تعلیق کې	۴۶۹
باب دی په بیان د طلاق د بیمار کې	۴۷۵	صورتونه د تعلیق	۴۷۹
باب دې په بیان د رجوع کې	۴۸۰	د حلالې احکام	۴۸۴
باب دی په بیان د ایلاء کې	۴۸۹	د ایلاء د احکامو تفصیل	۴۹۱
باب دی په بیان د خلع کې	۴۹۴	د خلعې باقي احکام	۴۹۸
د مهر متعلق د شپاړسو صورتونو نقشه	۵۰۰	باب دی په بیان د ظهار کې	۵۰۰
د ظهار د کفارې بیان	۵۰۵	باب دی په بیان د لعان کې	۵۰۹
باب دی په بیان د نامرد وغیره کې	۵۱۵	باب دی په بیان د عدت کې	۵۱۷
د وفات د عدت بیان	۵۱۹	د عدت د احکامو تفصیل	۵۲۳

د خاوند په مرګ سره د ښځې د غم کولو بیان	٥٢٦	باب دی په بیان د ثبوت د نسب کې	٥٢٨
د نسب د ثابتیدو باقي احکام	٥٣٠	د حمل د زیاتې مودې او د کمې مودې او هغې سره د متعلق مسائلو بیان	٥٣٣
باب دی په بیان د پرورش کې	٥٣٥	باب دی په بیان د نفقې کې	٥٣٨
د نان نفقې تفصیلي احکام	٥٤٠	د نفقې باقي احکام	٥٤٤
کتاب العتاق			٥٤٤
باب دی په بیان د هغه غلام کې چې د هغه څه حصه آزاده کړی شي			٥٤٨
بابدی په بیان د قسم کولو په آزادئ سره	٥٥٧	باب دی په بیان د آزادئ کې په عوض د مال سره	٥٥٨
باب دی په بیان د مدبر کولو کې	٥٦٠	باب دی په بیان ام ولده ګرځولو کې	٥٦٢
کتاب الایمان			
د حانث کیدو صورتونه سره د احکامو	٥٧٠	باب دی په بیان د قسم خوړلو په داخلیدلو کې په بهر وتلو کې	٥٧٢
او په راتلو باندې د قسم خوړلو په بیان کې	٥٧٤	باب دی په بیان د قسم کولو کې په خوراک کې په څښاک کې په اغوستلو کې وغیره	٥٧٠
باب دی په بیان د قسم کولو په طلاق ورکولو او آزادولو کې			٥٧٦
باب دی په بیان د اخیستلو. خرڅولو. نکاح او د لمونځ. روژې وغیره قسم خوړلو کې	٥٩٠	باب دی په بیان د وهلو او د قتلولو وغیره قسم خوړلو کې	٥٩٥
کتاب الحدود			٦٠٠
باب دی په بیان د هغې وطې کې چې حد واجبوی او هغه چې حد نه واجبوی	٦٠٧	باب دی په بیان د ګواهۍ ورکولو کې په زنا او د هغې نه په رجوع کولو کې	٦١٠
باب د شرابو څښلو د حد په بیان کې	٦١٥	باب دی په بیان د تهمت زنا د حد کې	٦١٧
کتاب السرقة			٦٢٥
د موجب قطع او د غیر موجب قطع څیزونو تفصیل	٦٢٩	فصل دی په بیان د محفوظ کې	٦٣٠
فصل دی په بیان د کیفیت د قطع د ید کې او د هغې په اثبات کې	٦٣٥	باب دی په بیان د لارې شوکولو کې	٦٣٩

کتاب السیر			٦٤٢
باب دی په بیان د مال غنیمت کې او دهغې په تقسیم کې	٦٤٧	د سور او پیاده په مینځ کې د مال غنیمت د تقسیم کولو بیان	٦٥٠
باب دی په بیان دغلبې دکافرانو کې	٦٥٤	باب دی په بیان د مستامن کې	٦٥٠
مستامن په دار اسلام کې د یو کال نه زیات نه شي پاتې کیدلی	٦٥٩	باب په بیان د عُشر او د خراج او د جزیې کې	٦٦٢
د جزیې احکام	٦٦٦	باب دی په بیان د مرتدینو کې	٦٧٠
د مرتدینو د احکامو تفصیل	٦٧٣	باب دی په بیان د باغیانو کې	٦٧٥
کتاب اللقیط			٦٧٧
کتاب اللقطة			٦٧٨
کتاب العابق			٦٨٠
کتاب المفقود			٦٨٢
کتاب الشرکة			٦٨٤
د شرکت مفاوضه او د شرکت عنان بیان	٦٨٦	د شرکت وجوه او د تقبل بیان	٦٨٩
دشرکت فاسده بیان			٦٩٠
کتاب الوقف			٦٩١
د احکامو د وقف تفصیل			٦٩٢

کِتَابُ النِّکَاحِ

((کتاب النکاح))

قوله کتابُ النکاح: دعباداتو د فراغت نه پس معاملات شروع کوي ځکه چې د عابدينو د بقاء راز په صحيح معاملاتو کې پټ دي، بيا ئې په معاملاتو کې نکاح مقدم کړه ځکه چې عبادت سره د نکاح تعلق ډير نژدې تعلق دی. تر دې چې اشتغال بالنکاح نفلي عبادت لپاره د ګوشه نشينئ نه بهتر دی، در مختار او منتقی وغيره کې دي چې مسلمانانو لپاره د ايمان او نکاح نه علاوه هيڅ يو عبادت داسې نه دی چې د حضرت ادم عليه السلام د زمانې نه تر اوسه پورې مشروع پاتې شوی وي او بيا په جنت کې هم هميشه وي، صاحب د مجمع الانهار نکاح د عباداتو نه وروسته کولو په توجيه کې وئيلي ده چې د عبادت په نسبت نکاح په منزله د بسيط ده ځکه چې د امن وجه عبادت دی او من وجه معامله ده. عبادت خو په دې وجه سره دی چې په دې کې مشغول کيدل صرف د عبادت لپاره خلوت ګزين اوسيدو نه بهتر دي، دويم دا چې په دې کې د امت محمديه د جماعت تکثير دی چې په دوی باندې به نبي اکرم صلی الله عليه وسلم د قيامت په ورځ فخر کوي. د نبي صلی الله عليه وسلم ارشاد دی تناکحوا تکثروا فانی اُباهی بکم الأُمم يوم القيامة. دريم دا چې د نکاح په ذريعې سره د زنانه د سترګو او د شرمګاه حفاظت کيږي. د نبي صلی الله عليه وسلم ارشاد دی ای د ځوانانو جماعته! په تاسو کې چې څوک دنکاح طاقت لري نو هغه دې نکاح وکړي ځکه دې سره نظر ښکته کيږي او شرمګاه محفوظ کيږي (صحيحين عن ابن مسعود) څلورم دا چې په دې کې کوشش هغوی لپاره د کسب حلال محنت برداشت کولو د اولاد په تربيت باندې قائم اوسيدل مجاهده او د رياضت شاقه موقع ملاويږي. او معامله په دې وجه سره ده چې په نکاح کې مال او مهر ادا کيږي ايجاب او قبول کيږي شهادت په کې کيږي وغير ذلک.

قوله النکاح الخ د نکاح په لغوي معنی کې څلور اقوال دي (۱) اول دا چې لفظ نکاح په اشتراک لفظي سره د وطي او عقد په مابين کې مشترک دی. ظاهر د صحاحو نه هم دا معلوميږي، صحاح کې دي

النکاح الوطء وقد يکون العقد تقول نکحتها ونکحتُ هی ای تزوّجتُ اهـ هم دې لره.

صاحب د غاية البيان ترجيح ورکړې ده ځکه چې متروک لفظ په خپلو دواړو معنو کې حقيقت وي او حقيقت اصل دی. دويم دا چې په معنی د عقد کې ددې استعمال حقيقت دی او په وطي کې مجاز دی اصولينو د متی امکن العمل بالحقيقة سقط المجاز په بحث کې دا قول امام شافعی رحمه الله ته منسوب کړی دی دريم دا چې ددې برعکس دی يعنې وطي کې حقيقت دی او عقد کې مجاز دی

زمونږ د اکثرو مشائخو هم دا قول دی. چې د هغې تصريح فتح القدير کې موجود ده. او هم په دې صاحب مغرب جزم او يقين ظاهر کړی دی. پس په قران او حديث کې چې کوم ځای لفظ نکاح دقرائينو نه خالي وي هلته به جماع مراد وي. لکه ايت و لا تنکحوا ما نکح اباءکم اهـ چې دلته کې مراد د نکاح نه جماع ده. په خلاف ددې آيت چې حتی تنکح زوجًا غيره. چې دلته کې جماع نشي مراد کيدی ځکه چې ښځې طرف ته د نکاح نسبت ددې خبرې دليل دی چې دلته حقيقي معنی مراد نه ده ځکه ښځه مفعوله وي نو چې فاعله. نو د ښځې جماع ممکنه نه ده. څلورم دا چې ددې حقيقي معنی يوځای کول او جمع کول دی قال الشاعر:

ان القبور تنكح الأيامی　النسوة الارامل اليتامی، ای تضم و تجمع الی نفسها. زمونږ مشايخو نه ددې معنی تصريح هم موجود ده لکه صاحب محيط هم د اختيار کړی دی. او صاحب کافی او نورو محققينو ددې اتباع کړې ده. علامه ابن الهمام فرمائي چې د مشائخو په دې دواړو قولو کې هيڅ منافات نشته ځکه چې وطي د ضم او جمع يو فرد دی او کوم لفظ چې يو مضي اعم لره موضوع وي هغه په خپل هر يو فرد کې حقيقت وي. لکه زيد لپاره لفظ د انسان حقيقت دی د هغې استعمال ، عارضه صاحب البحر بما لم يرتضه المشائخ

هُوَ عقدٌ يَرِدُ علیٰ ملكِ المتعة قصدًا　وهو سُنَّةٌ و عندَ التَّوقَانِ واجبٌ
دا يو عقد دی چې واردېږي په ملک متعه باندې قصداً او دا سنت ده او په وخت د غلبې د شهوت کې واجب ده.
و يَنعقِدُ بايجابٍ و قبولٍ وُضِعَا للمضيّ او اَحَدُهمَا
او منعقد کيږي په ايجاب او قبول سره چې وضع کړی شوی وي دواړو لپاره د ماضي يا يو د هغې نه

(دنکاح تعريف او د هغې حکم)

د فقهې تشريح: قال هُوَ الخ: عقد نه مراد د هغې مصدري معنی يعنې فعل د متکلم مراد نه دی. بلکه حاصل مصدر يعنې د اجزاء تصرف شرعي ارتباط مراد دی. ملک متعه نه مراد د ښځې نه

نفع حاصلول او هغې سره د وطي کولو ملکیت حاصلول دي. او په ملک متعه باندې ددې عقد واردیدو مطلب دا دی چې د نکاح مفید انتفاع لپاره مخصوص کیدل دي حاصل دا چې په عرف اهل شرع کې نکاح د هغه عقد مخصوص نوم دی چې بالقصد ملک متعه فائده کوي. یعنې د هغې په ذریعه سره ښځې نه نفع حاصلول حلال وي، قصداً قید سره ئې احتراز کړو د ضمني حلت نه پس وینځه اخیستونکی ته چې کوم وطي حلالیږي هغې ته په شرع کې نکاح نه وئیلی کیږي، ځکه چې په اشتراء سره مقصود ملکیت وي نه چې قربت او وطي کول.

قوله وهو سُنّةٌ الخ: دلته کې د نکاح صفت بیانوي، صفت نکاح د سړي په حالاتو باندې بناء دی چې په اختلاف د حالاتو سره حکم مختلف گرځي . نو که چیرې په زنا کې د مبتلا کیدو خوف ئې وي، او بغیر د نکاح نه د هغې نه بچ کیدل ممکن نه وي نو نکاح کول فرض دي، او که چیرې د ښځې د حقوق د تلف کیدو خوف وي نو بیا مکروه ده، او که چیرې د ظلم او ستم یقین وي نو بیا حرام ده. او په حالت د اعتدال کې د داود ظاهري او د هغه د همخیالو علماؤ نظریه دا ده چې په حالت د اعتدال کې وطي او نان و نفقه باندې قدرت لرونکي لپاره نکاح فرض عین ده، ځکه چې آیت فانکحوا ما طاب لکم (حکم د نکاح په صیغې د امر سره دي او امر لپاره د فرضیت)

جواب دا دی چې نبي صلی الله علیه وسلم فرائض او ارکان دین شمارلو په وخت دا نه وو ذکر کړی. که چیرې دا فرض وي نو ضرور به ئې ذکر کړي وی، پاتې شو د فانکحوا صیغه امر ، نو امر همیشه فرضیت لپاره نه وي، په حالت اعتدال کې زمونږ د مشائخو اختلاف دی، بعضو فرض کفایه او بعضو ورته واجب عین وئیلی دی، لیکن صحیح دا ده چې سنت مؤکده ده. دلیل د نبي صلی الله علیه وسلم ارشاد دی چې النکاح من سُنّتی فمن رغب عن سنتی فلیس منی (او کما قال امام شافعي رحمه الله نه نقل دي چې نکاح مباح ده. او عبادت لپاره گوشه نشیني اختیارول د نکاح نه بهتر دي. ځکه چې آیت و سیّداً و حصوراً کې د حضرت یحیی علیه السلام تعریف په لفظ د حصور سره شوی دی، چې د هغه معنی د قدرت باوجود ښځو ته نزدیکت نه کوونکی دی.

جواب: دا دی چې د حضرت یحیی علیه السلام په شریعت کې دا افضل او قابل مدح وو ، زمونږ په شریعت کې رهبانیت منسوخ شوی دی حضرت انس رضی الله عنه نه د نبي ﷺ دا ارشاد نقل دی چې (هر اُمت لپاره یو رهبانیت وي او زما د امت رهبانیت جهاد فی سبیل الله دی.

قوله وینعقد الخ :پوه شه چې شریعت بعضې مرکبات اخباریه نه تعبیر په انشاء سره کړی دی. چې د هغه په موجود کیدو سره د یو معنی شرعي تحقق کیږي. او په هغه باندې حکم شرعي مرتب

کیږي. مثلاً دا ووئیلی شي چې زَوَّجْتُ‌نو دې سره د یو معنی شرعي تحقق کیږي یعني د نکاح په دې باندې د یو شرعي حکم مرتب کیږي یعنې ملک مُتعي، دارنګې چې کله ووئیلی شي بِعْتُ وَاشْتَرَیْتُ‌نو دې سره د بیع تحقق وشي او په دې باندې حکم شرعي یعنې عین ملک مرتب‌شي. دا هم یاد ساتل پکار دي چې د هر څیز لپاره علل اربعه ضروري دي. (۱) فاعلیه، (۲) مادیه، (۳) صوریه، (۴) غائیة. په باب د نکاح کې علت فاعلیه متعاقدین او علت مادیه ایجاب او قبول دي. او علت صوریه د تصرفِ شرعي د اجزاء و ارتباط دی، او علت غائیة استمتاع ده. دومره قدرې یادداشت نه پس یاد ساتل پکار دي چې انعقاد نه مراد ایجاب او قبول د اجزاء مادیه منافي دي. بلکه باء لپاره دملابست ده. لکه بنیت البیت بالحجر و المدر کې باء لپاره د مُلابست ده، د عبارت مطلب دا دی چې نکاح منعقد کیږي کله چې هغه د یو طرف نه ایجاب سره او بل طرف نه قبول سره ملابسه شي. په داسې حال کې چې دغه ایجاب او قبول فعل ماضي لپاره وضع وي. ځکه چې په تحقق او وقوع باندې فعل ماضي دلالت کوي، په خلاف د زمانه حال نه چې د هغه هیڅ حقیقت نشته ځکه چې هغه د ماضي او د مستقبل د اجزاء نه مرکب وي او په خلاف د زمانه استقبال نه چې هغه په وخت د تکلم کې معدوم المضمون وی، دې وجې نه صیغه د ماضي ضروري ده. خواه که ایجاب او قبول دواړه لپاره صیغه د ماضي وي یا په هغه کې دیو لپاره وي.

و انما یَصحُّ بلفظِ النکاحِ و التزویجِ و مَا وُضِعَ لتملیک العَیْنِ فی الحالِ

او صحیح په لفظ د نکاح او تزویج سره او په هغه الفاظو سره چې وضع شوي وي فی الحال تملیک عین لپاره

عند حُرَّیْنِ او حُرٍّ و حُرَّتَیْنِ عَاقِلَیْنِ بَالِغَیْنِ مُسْلِمَیْنِ و لو فاسِقَیْنِ

په حضور د دوو آزادو یا یو آزاد سړی دوه آزادو ښځو په حضور کې چې عاقل بالغ مسلمان وي اګر که فاسقان وي

اَوْ مَحْدُوْدَیْنِ اَوْ اَعْمَیَیْنِ اَوْ ابْنَیِ العَاقِدَیْنِ وَ صَحَّ تزوجُ مُسْلِمٍ ذِمِیَّةً عندَ

یا په حد شوي وي یا ړانده وي او یا ځامن دعاقدینو وي. او صحیح ده نکاح د مسلمان سړي د ذمي ښځې سره په حضور

ذِمِیَّیْنِ و مَن اَمَر رَجُلًا یُزَوِّجَ صَغیرتَهُ فزوَّجَها عند رجُلٍ و الابُ حاضِرٌ

د دوو ذمیانو کې، او چا چې حکم وکړو یو سړي ته چې ده دره لور په نکاح ورکړي نو هغه په نکاح ورکړه په حضور د یو سړي او پلار ئې حاضر

صَحَّ و الّا لا

وو نو نکاح صحیح ده ګنې نه صحیح کیږي

د فقهي تشريح: **قوله وانما يصح الخ:** نکاح په هر هغه لفظ سره صحيح ده چې هغه نکاح لپاره صداقه موضع وي. لکه لفظ د نکاح، انکاح تزويج يا بالفعل د عين شي تمليک لپاره موضوع وي. لکه لفظ بيع او شراء، هبه، تمليک، صدقه، جعل، عطيه قرض وغيره. تمليک نه مراد کامل تمليک دی. نو په لفظ د شرکت سره نکاح نه صحيح کيږي ځکه چې شرکت کې مکمل تمليک نه وي د عين په قيد سره ترينه اعاده او اجاره خارج شوه ځکه چې دا تمليک عين متعې لپاره موضوع نه دی بلکه تمليک منفعت لپاره موضوع ده، دارنګې اباحت. احلال. ابراء. اقاله. اجاره، فداء، خلع، کتابت، رضی، وديعه، صلح، رهن وغيره الفاظو سره نکاح نه صحيح کيږي ځکه چې دا الفاظ تمليک عين لپاره وضع شوي نه دي. د فی الحال په قيد سره وصيت خارج شو ځکه چې وصيت کې تمليک بعد الموت وي د عامو علماؤدا نظريه ده، امام طحاوی نه نقل دي چې په لفظ د وصيت سره مطلقًا نکاح صحيح ده. او امام کرخی نه نقل دي که چيرې وصيت زمانه حال پورې مقيد وي نو نکاح صحيح ده بانْ يقول أوصيتُ با بنتي لک الأن. دا ټول تفصيل په نزد د احناقو دی. په نزد د امام شافعی رحمه الله او امام احمد رحمه الله نکاح سوا د لفظ د نکاح او تزويج نه بل يو لفظ سره نه صحيح کيږي. ځکه چې لفظ تمليک و هبه وغيره نکاح لپاره نه حقيقةً وضع دي او نه مجازاً. مونږ وايو چې تمليک په واسطې دملک رقبې سره د ملک متعه سبب دی او سبب هم دمجاز يوه طريقه ده.

قوله عِنْدَ الخ عنْدَ ظرف ينعقد سره متعلق دی. او دلته د نکاح شرط خاص بيانيږي. او هغه دا چې نکاح بغير ګواهانو نه صحيح کيږي، ځکه چې د نبي صلی الله عليه وسلم ارشاد دی چې لا نکاح الا بولىٍّ و شاهدى عدلٍ (نکاح نه صحيح کيږي بغير د ولي او دوو عادلانو ګناهونونه» ابن حبان عن عائشة) دارنګې دنبي صلی الله عليه وسلم ارشاد دی چې زانيه ښځه هغه وي چې بغير د ګواهانو نکاح کوي (ترمذي عن ابن عباس مرفوعًا عبد الرزاق موقوفًا)، په نزد د امام مالک رحمه الله صحت نکاح لپاره ګواهي شرط نه ده صرف اعلان کافي دی. ځکه چې حديث کښې دي اعلنوا بالنکاح واضربوا عليه بالغربال (ترمذي، ابن ماجه عن عائشه) **جواب** دا دی چې روايت نه صرف دا معلوميږي چې د نکاح اعلان دې وکړی شي، دې سره د ګواهي د شرط نفي نه کيږي.

قوله حُرين الخ: په نکاح کې د شهادت لپاره د ګوهانو ازاد کيدل ضروري دي. نو عبد محض عبد کاتب او عبد مدبر په موجودګئ کې نکاح نه صحيح کيږي، ځکه چې شهادت بغير ولايت نه

نه وي. او غلام خو د خپل ځان ولي نه شي کيدی نو په بل باندې ئې څه وشي دارنګې دا هم ضروري ده چې ګواهان به عاقل بالغ وي ځکه چې عقل او بلوغ نه بغير ولايت نه وي. نو د مجنون او ماشوم په موجودګئ کې نکاح نه صحيح کيږي. دارنګې په نکاح د مسلمانانو کې د ګواهانو اسلام هم ضروري دی، ځکه چې د کافر په مسلمان ولايت نشته. قال تعالى لن يجعل الله للكافرين على المؤمنين سبيلاً البته دا ضروري نه ده چې ګواهان دې نارينه وي. د يو نارينه او دوو زنانهؤ په موجودګئ کې هم نکاح کيږي. په نزد د امام شافعي رحمه الله نارينه والی ضروري دی. دارنګې زمونږ په نزد عدالت هم شرط نه دی بلکه دوو فاسقانو او دوو محدود فی القذف په موجودګئ کې هم نکاح صحيح ده. په دې کې د امام شافعي هم اختلاف دی. زمونږ په نزد د شهادت صحت لپاره قاعده کليه دا ده چې کوم شخص خپل ذاتي ولايت سره د نکاح قبلولو مالک ګرځيدی شي د هغه روبرو نکاح منعقد کيدی شي. مثلاً ذمي او فاسق ته د قبلولو اختيار شته نو د هغوي شهادت هم صحيح دی په خلاف د ماشوم او غلام او ليوني چې دوی ته د خپل ذات اختيار نشته نو ددوی ګواهي هم صحيح نه ده. **قوله و صَحَّ الخ:** که چيرې ښځه ذميه وي نو د شيخينو په نزد د مسلمان نکاح د دوو په موجودګی کې صحيح ده. د امام او زفر رحمه الله په نزد صحيح نه ده. هغوی وائي چې ايجاب او قبول اوريدل شهادت دی او د مسلمان په حق کې د کافر شهادت معتبر نه دی. نو دا داسې شوه لکه چې دوی هډو د مسلمان کلام اوريدلی نه وي. شيخين فرمائي چې په نکاح کې کوم شهادت شرط دی نو هغه دې وجوب مهر په اعتبار نه دی بلکه هغه په اعتبار د اثبات ملک سره دی. او په هغه باندې دغه دواړه ګواهان دي لهذا ددوی شهادت معتبر دی. **قوله و من أَمَرَ الخ:** يو سړي بل کس ته وويل چې ته زما دوړوکي لور نکاح چا سره وکړه او وکيل ديو سړي يا د دوو ښځو په شهادت سره د هغې جينئ نکاح وکړه په داسې حال کې چې ددغه جينئ پلار هم په دغه مجلس کې موجود وو نو نکاح صحيح شوه. ځکه چې په دې صورت کې پلار ته حکماً عاقد ويلی شي او وکيل او يو سړی يا دوه ښځې د نکاح ګواهان ګرځي. او که چيرې پلار په مجلس کې موجود نه وو نو بيا نکاح نه صحيح کيږي، ځکه چې په دې صورت کې وکيل عاقد دی، او يو سړی يا دوه ښځې ګواهان دي، او صرف د يو سړي يا دوو ښځو په موجودګئ کې نکاح نه کيږي.

فصلٌ فِي المُحرّمَاتِ :: فصل دی په بيان د محرماتو کې

قوله فصلٌ الخ: دنكاح د مشروعيت د بيان نه پس محرمات بيانوي. لپاره ددې چې محلاتو او محرماتو کې فرق وشي. دحُرمت اسباب نهه دي (۱) قرابت يعنې نسبي رشته داري (۲) مُصاهرت: د خُسرګنی رشته داري (۳) رضاع يعني دشودو رشته داري (۴) جمع يعنې دوه خويندې په يوه نكاح کې جمع کول (۵) عدم دين سماوي: لکه مجوسي اوبت پرست سره نكاح كول. (۶) ادخال الأمَة على الحُرّة يعنې د آزادې ښځې په موجودګی کې وينځي سره نكاح كول. (۷). ملک لکه د آقا خپلې وينځې سره يا د سيدې خپل غلام سره نكاح كول (۸) حق غير يعنې د بلې منكوحې سره يا د هغه معتده يا ثابت النسب حاملې سره نكاح كول. (۹) طلقات الثلاث يعنې كومې ښځې ته چې درې طلاقه وركړې شوې وي. مصنف په دې نهو اسبابو کې دلته کې اوه اسبابو په ذريعه سره محرمات ذكر كړي دي. اود مطلقې ثلاثه حرمت ئې باب الرجعة نه پس فصل کې ذكر كړي دي، او د محرم يلحق الغير تصريح ئې نه ده ذكر كړې ځكه چې د بل د منكوحې حرمت بالكل ظاهر دی.

فائده: بعضې حضراتو د حرمت اسباب يوويشت ذكر كړي دي، چې په هغه کې لعان، خنثى مشكل، جنيه او د اوبو د انسانانو ئې هم ذكر كړی دی. قُنيه کې د حضرت حسن بصری رحمه الله نه روايت دی چې د دوو ګواهانو په موجودګی کې جِنّی ښځې سره د بنی آدم نكاح صحيح ده. ليكن زواهر الجواهر کې ئې دې ته صحيح وئيلي دي چې د بنی آدم نكاح د جني ښځې سره او دجني سړي د بنی آدم ښځې سره صحيح نه ده ځكه چې جنس مختلف شو. حال دا چې (آيت والله جعل لكم من أنفسكم ازواجًا) کې احسان په صورت د اتحاد دجنس کې دی.

قوله فی المحرمات الخ: حرامې ښځې دوه قسمه دي اول هغه چې د هغوی حرمت دائمي وي. دويم هغه چې د هغوی حرمت مؤقت دی، اول يعنې محرمات مؤبده دوه ويشت دي، د اوو حرمت د نسب په سبب سره دی چې د هغه ذكر په آيت د (حُرمت عليكم اُمّهاتكم اه) کې دي. او هغه دا دي (۱) مور (۲) لور (۳) خور (۴) ترور (۵) خاله (۶) وريره (۷) خورزه او د څلورو حرمت په سبب د مصارهت دی يعنې (۸) خواښې (۹) بركتئ (۱۰) منكوحة الاب (۱۱) اينګور. دا ټولې يوولس ښځې شوي. هم دغه يوولس د رضاعت په وجه سره حرام دي، محرمات موقته اووه دي دوه خويندو کې جمع كول د څلورو ښځو په موجودګی کې پنځمه نكاح كول، د آزادې ښځې په موجودګئ کې د وينځې سره نكاح كول. كومې ښځې سره چې وطي بالشبه شوي وي د هغې په عدت کې څلورمې ښځې

سره نكاح كول، دارنګې پنځم د هغې د خور سره نكاح كول، امه مكاتبه (۷) امرءة مشتركه، پس دا ټولې يو كم ديرش ښځې شوې چې د هغه تفصيل او وضاحت مخكې را روان دى

حُرِمَ تزوجُ اُمّه و بنته و اِنْ بَعُدَتا و اُخته و بنتِها و بنتِ اخيْهِ و عَمّتِه
حرامه ده نكاح د مور خپلې سره او د لور سره اګر كه بعيد وي او د خور سره او د خورزې سره اودوريرې سره او ترور سره
و خالته و اُمِّ امرأتِه و بنتِها ان دَخلَ بها و اِمْرَأةِ ابيه وابْنِه و ان بَعُدَ والكلّ
او خاله سره او خواښې سره، او د لور د ښځې سره، يعنې بر كتئ سره كه چيرې دخول ني كړى هغې ښځې سره او د پلار د ښځې سره او اينګور
رضاعًا و الجمعُ بَيْنَ الاُختَيْنِ نكاحًا و وَطيئًا بملكِ يَمِيْنٍ.
سره اګر كه بعيد وي او دا ټول حرام دي په وجه د رضاعت سره. او جمع كول په مابين د دوو خويندو كې په نكاح كې او په وطې كې په ملك يمين سره

(د محرماتو تفصيل)

د فقهې تشريح: قوله حُرِمَ الخ: خپلې مور او لور سره نكاح كول حرام دي، اګر چې لرې وي لكه نيا، غوره نيا، لمسئ، غوره لمسئ وغيره.وجه دا ده چې آيت كې لفظ د اُم او د بنت دى او په لغت كې اُم اصل ته وايي او بنت فرع ته وايي. پس دا ټول په محرماتو كې داخل دي. خواه كه په طريقې د عموم مجاز وي يا په طريقه د تشكيک سره يا كه په دې بناء وي چې د دې حرمت باندې اجماع ده. خپلې خور سره او د خور لور سره اووريرې سره او ترور سره . خاله سره. خواښې سره او د خپلې ښځې لور سره هم نكاح حرامه ده. خو په دې شرط سره چې ښځې سره ئې صحبت كړى وي.

د دې ښځو په حرمت كې اصل دا آيت (**حُرِّمَتْ عليكم امهاتكم و بناتكم اه**) (صحيحين عن ابن عباس. ائمه سته غير ابن ماجه عن عائشه بالفاظ)

فائده: د ترور او خاله په حرمت كې د نيكه او نيا. ترور او خاله هم داخل دي. البته د ترور ترور او د ناسكه خاله خاله حلاله ده. په دې وجه چې د مورنئ ترور پلار دنيا خاوند وي نو مورنئ ترور دنيا د خاوند خور شوه او هر كله چې د زوج الأُم خور حرامه نه ده نو د نيا دخاوند خور په طريقه اولى سره حرامه نه ده. او كه چيرې ترور سكه يا ناسكه وي نو د ترور ترور حرامه ده. ځكه چې ترور د نيكه خور شوه نو لكه څنګه چې د پلار خور حرامه ده دغه رنګ د نيكه خور هم حرامه ده او د ناسكه خاله خاله ځكه حلاله ده چې د ناسكه خاله مور سكه نيا نه ده. بلكه د نيكه ښځه ده. نو د هغه سكه خور نيكه ساله شوه او د نيكه داسې ساله په حرامه نه ده. او كه د هغه خاله يا مورنئ خاله

وي نو په دې صورت کې د خاله خاله حلاله نه ده. (غاية الاوطار، ج ۲ ص ۱۱)

قوله والكلُّ رِضَاعًا الخ: چې د کومو رشتو حرمت د نسب او مصاهرت په وجه سره چې مخکې ذکر شو نو دغه تمامې رشتې په سبب د رضاعت سره هم حرامې دي ځکه چې د نبي صلى الله عليه وسلم ارشاد دی چې (يحرم من الرضاع ما يحرم من النسب) (هذا الحديث غريبٌ لم يتعرض له واحد من الشراح غير ان الكاكى احاله على ما ذكر فى المبسوط والسروجى فى الذخيرة للمالكية نعم فى هذا الباب احاديث اقر) نو رضاعي مور، خور، پدري نيا، مادري نيا او وريره وغيره ټول حرام دي، خلاصه دا چې د دائې تمام رشته دارې ښځې په شير خوار باندې حرامې دي. او د شير خوار د طرف نه زوجين او فروع دايې وغيره باندې حرام دي. قال الشاعر

از جانب شير ده همه خويش شوند :: و زجانب شير خوار زوجان و فروع

تنبيه د رضاعت بعضې صورتونه حرمت نه مستثنٰى دي لکه چې پخپله مصنف باب الرضاع څو صورتونه مستثنٰى کړي دي. بعضو حضراتو يوويشت صورتونه مستثنٰى کړي دي او بعضو ددې نه هم زيات. چې د هغې تفصيل به کتاب الرضاع کې پيش کولى شي. انشاء الله تعالى.

قوله والجمع الخ: دوه خويندې په يو عقد کې جمع کول حرام دي. قال تعالى «و ان تجمعوا بين الأختين» مونږ صحيح عقد ځکه وويلو چې په عقد فاسد کې جماع کول حرام نه دي. لکه يوې ښځې سره نکاح ماته کړه بيا ئې د هغې خور سره صحيح نکاح وکړه نو صحيح ده. ځکه چې نکاح فاسد کې وطي حلاله نه ده. دارنګې دوه خويندې په واسطې د ملک يمين سره په وطي کې جمع کول هم حرام دي ځکه چې د نبي صلى الله عليه وسلم ارشاد دی (چې کوم سړی په الله او په ورځ د آخرت ايمان لري نو هغه ته پکار دي چې خپلې اوبه ددوو خويندو په رحم کې هرګز جمع نه کړي.

فلو تزوّجَ أُختَ اَمتِه الموطوءَةِ لم يَطَأء واحدة منهما حتى يَبيعها ولو تَزوّجَ
که چيرې نکاح ئې وکړه، د خپلې موطوء ې وينځې خور سره نو وطي به نه کوي د يو سره هم تر دې چې وينځه خرڅه کړي او که دوه خويندې
اختَين فى عَقدَيْنِ ولم يُدرَ الاوّلُ فرّقَ بينه وَ بينهما ولهمَا نصفُ المهرِ
ئې په دوو عقدونو کې په نکاح سره واخيستې او دړومبې معلومات نه کيدل نو جدائي به راويستلى شي په مينځ دده کې او دواړو خويندو کې
وَ بَين امرأتين اَيَّةٌ فُرِضَتْ ذَكَرًا
او د دواړو لپاره نيم مهر دی، او صحيح نه ده جمع په مابين د داسې دوو ښځو کې چې کومه يوه ورته مذکر فرض کړی شي

حُرِمَ تزوّجُ	و	حُرْمَةُ المصَاهرةِ يُوجِبُ بشهوةٍ	النكاحُ و الزِّنَا و اللمْسُ و النظرُ	حُرِمَ
او حرامه ده نكاح كول د		حرمتِ مصاهرت، واجبه وي	نو نكاح حراميږي، او زنا او لاس اوړل او نظر كول په شهوت سره	
اختِ معتدّتِهِ وَ امتِهِ و سيّدتِهِ و المجوسيةِ و الوثنيةِ.				
خپلې معتدې د خور او د وينځې سره اود خپلې مالكې سره اودمجوسې سره او بُت پرستې ښځې سره.				

د لغت وضاحت: **لمسٌ**: لاس وړل. **مصاهرةٌ**: خُسرګنی رشته داري. **مجوثيةٌ**: آتش پرسته ښځه **وثنيةٌ**: بت پرسته ښځه.

د فقهي تشريح: **قوله فلتوتزوج الخ**: كه چيرې يو سړی د خپلې موطوئې وينځې خور سره نكاح وكړه نو نكاح خو كيږي ليكن دی په دوی كې يو سره هم محبت نشي كولی، ترهغه وخته پورې چې په وی كې ئې د يو حلت دجماع په ځان حرام كړی نه وي مثلاً دا چې وينځه خرڅه كړي يا بل چا سره ئې نكاح وكړي، يامنكوحې ته طلاق وركړي وجه دا ده چې منكوحه حكما موطوءة وي. كه چيرې دی په دوی كې د يو سره جماع وكړي نودواړه خويندې په وطي كې جمع كول لازم راځي.

قوله ولو تزوجّ الخ: كه چيرې يوسړی دوو خويندو سره يا دوو محرمو ښځو سره په دوو عقدو سره نكاح وكړه او دا معلومه نه وه چې په دوی كې ړومبئ ښځه كومه وه نو په دې صورت كې د قاضي په حكم سره به ددوی په مينځ كې جدائي كيدی شي او دا جدائي به په حكم د طلاق كې وي نه چې په حكم د فسخ كې، ځكه چې په دوی دواړو كې د يوې نكاح باليقين باطله ده. او د عدم اولويّت په وجه سره د يوې تعيين ممكن نه دی، دې وجې نه لا محاله جدايي به كولی شي. بيا په دې كې د ړومبنی ښځې لپاره نيم مهر واجب دی ليكن هر كله چې اولويت معلوم نه دی نو نيم مهر به دواړو ته وركولی شي.

تنبيه: وجوب د نصف مهر څلورو شرطونو سره دی. (۱) په وخت د عقد كې مهر معين وي. كه چيرې معين نه وي نو د نصف مهر په عوض كې دواړو ته به مُتعه يعنې جامې وركړی كيږي (۲) د دواړو مهر به برابر وي، د اختلاف په صورت كې كه چيرې د دواړو مهر معلوم وو نو هر يو ته به څلورمه حصه وركړي او په صورت دعدم تعين كې په دواړو مهرونو كې چې كوم يو كم وي. د هغې نصف به ملاويږي. (۳) جدائي به قبل الدخول وي. كه چيرې بعد الدخول وي نو هر يو ته به پوره پوره ملاويږي، ځكه چې د دخول په وجه سره مهر ثابتيږي. او كه چيرې يوه ښځه مدخوله وه نو

هغې ته به کامل مهر ملاویږي او غیر مدخوله ته به څلورمه حصه د مهر ملاویږي (۴) په دواړو کې هر یوه ښځه دعوی کوي چې زما نکاح وړاندې شوې دی او ګواهان یو سره هم نه وي

قوله وبَیْنَ امرءتین الخ : دا یوه قاعده کلیه شان ده چې د هر دوو ښځو مینځ کې جمع کول جائز نه دي چې په هغوی کې کوم یو مذکر فرض کړی شي نو هغه لپاره هغه بله حلاله نه وي لکه یوه ښځه او د هغې ترور په مینځ کې جمع کول. که چیرې ښځه نارینه فرض کړی شي نو د دوی نکاح جائز نه ده ځکه چې خپلې ترور سره نکاح جائز نه ده. او که چیرې ترور نارینه فرض کړی شي. نو بیا هم نکاح جائز نه ده. ځکه چې وریرې سره نکاح صحیح نه ده. دغه رنګې د خاله او خورزې حال هم دی. ځکه چې د نبي ﷺ ارشاد دی چې (نکاح به نشي کیدی د یوې ښځې سره د هغې په ترور باندې، او نه د هغې په خاله باندې او نه د هغې په خورزه باندې) (بخاري، مسلم، ترمذي، ابوداؤد و نسائی. ابن حبان، ابن ابی شیبه عن ابی هریرة ، طبرانی عن ابن عباس) داسې دوو ښځو کې جمع کول ځکه حرام دي چې په دې کې قطع رحم راځي لکه چې په روایت د طبراني کې د دې تصریح موجود ده.

سوال: قرآن نه خو صرف جمع بین الاختین حرمت ثابتیږي. د ترور او وریرې جمع کولو حرمت خو نه ثابتیږي؟ **جواب**: حدیث مذکوره مشهور دی چې د هغه په ذریعې سره د آیت په عموم کې تخصیص جائز دی.

قوله اَیَّةٌ فُرِضَتْ الخ : د دې مطلب دا دی چې په دوی کې یو نارینه فرض کړی شي نو بله په هغه حرامه وي نو که چیرې نارینه فرض کولو باندې بله پرې حرامه نه وي نو په نزد د آئمه اربعو نکاح جائز ده. مثلاً یوه ښځه او د هغې د خاوند لور. چې که چیرې ښځه نارینه فرض کړی شي نو په هغې باندې د خاوند لور نه حرامیږي، او که چیرې د خاوند لور نارینه فرض کړی شي. نو ښځه په هغې حرامه ده. نو د داسې دو ښځو مینځ کې جمع کول جائز دي. دا رنګې د وینځې او د هغې د مالک د ښځې په مینځ کې جمع کول که چیرې بي بي نارینه فرض کړی شي نو وینځه پرې نه حرامیږي او که چیرې وینځه نارینه فرض کړی شي نو وینځه پرې نه حرامیږي. او که چیرې وینځه نارینه فرض کړی شي نو بي بي حرام ده . پس په دوي کې جمع کول هم جائز دي.

قوله والزّنَا الخ: ښځې سره زنا کول. هغې ته په شهوت سره لاس وړل. د هغې د فرج داخل ته د شهوت په نظر سره کتل حرمت مصاهرت واجبوي. د امام شافعی رحمه الله په نزد دې څیزونو سره حرمت مصاهرت نه ثابتیږي. هغه دا فرمائي چې مصاهرت یو نعمت دی چې اجنبې ښځې مینځو

كې او اجنبي سړى د پلارانو سره شامل شي او په دوى كې يوه رشته قائمه شي ، نو دا نعمت د حرامو سره نه حاصليږي. مونږ دا وايو چې وطي په واسطې د ولد سره د جزئيت سبب دى ، دې وجې نه ولد په زوجينو كې هر يو طرف منسوب كيږي، نو د موطوئي ښځې اصول او فروع د وطي كوونكي د اصولو او فروعو په شان شو. پاتې شوه دا خبره چې مصاهرت يو نعمت دى لهذا د دې حصول په حرام فعل سره نه كيږي نو د هغه جواب دا دى چې وطي چې كومه موجب د حرمت مصاهرت ده هغه په دې حيثيت سره نه چې هغه زناء ده بلكه هغه په دې حيثيت دى چې هغه د بچي سبب دى چې ولد كې هيڅ قُبحه نشته بلكه مكرم او محترم دى او آيت ﴿ولقد كرمنا بنى ادم﴾ د لاندې داخل دى نو په دې حيثيت سره په سبب كې هم قُبحه نشته. او په شهوت سره فرج داخل ته نظر كول يا ښځې ته لاس وړل هر كله چې د ا د وطي اسباب دي او د هغه دواعي دى نو ځكه احتياطا د هغې قائم مقام دي.

قوله وحَرُمَ الخ يو سړي خپلې ښځې ته طلاق رجعي يا طلاق بائن وركړه نو ځو پورې چې د هغه عدت نه وي پوره شوى هغه وخته پورې د هغې ښځې خور سره نكاح كول حرام دي. امام شافعي رحمه الله فرمائي چې كه چيرې د هغه عدت د درې طلاقو وي يا د طلاق بائن وي نو د هغې خور سره نكاح كول جائز دي ځكه چې په دې صورت كې نكاح بالكل ختمه شوه. هم دا وجه ده كه چيرې هغه ته د حُرمت علم وي او هغه سره صحبت وكړي نو حد واجبيږي. مونږ دا وايو چې نكاح بالكل ختمه نه ده. ځكه چې د نكاح احكام باقي دي مثلاً د نان نفقې وجوب . د ښځې په حق كې د خروج ممنوع كيدل وغيره . پاتې شو وجوب د حد نو اول خو دا منو نه چې په ده حد واجب دى لكه چې د مبسوط كتاب الطلاق كې د هغه طرف ته اشاره ده. او كه چيرې تسليم ئې هم كړو نو وجه دا ده چې د ښځې د حليت په لحاظ سره خو د سړي ملكيت زائله شو، دې وجې نه هغه سره په صحبت كولو سره زنا ثابتيږي. ليكن د امور مذكوره په لحاظ سره ملكيت باقي دى، دې وجې نه د هغې د خور سره په نكاح كولو سره جامع الاختين گرځي. حاصل دا شو چې دلته كې من وجه نكاح ختمه شوه او من وجه باقي ده.

قوله والمجوسيّة الخ: آتش پرستې او بت پرستې ښځې سره هم نكاح كول حرام دي ځكه چې حق تعالى شانه فرمائي ﴿و لا تنكحوا المشركات حتى يؤمن﴾ مشركو ښځو سره نكاح مه كوى تر دې چې ايمان راوړى. دارنگې د نبي صلى الله عليه وسلم ارشاد دې چې ﴿دوى سره هغه سلوك كوئ كوم چې تاسو اهلِ كتابو سره كوئ. سوا د دې نه چې د دوي ښځو سره نكاح مه كوئ او د دوى ذبيحه مه خورى فتح القدير كې دى چې آفتاب پرست، ستاره پرست، صورت پرست، مُعطله.

زنديق، باطنيه او اباجيه ټول بت پرست دي.

و حَلّ تزوجُ الكِتابيةِ وَ الصَّابيةِ و المُحرمَةِ و لو مُحرِمًا و الأمةِ و لو كتابيةً
او حلال دي نكاح كول د كتابيې ښځې سره، صابئې ښځې ،محرمې ښځې سره اگر كه سړی هم محرم وي او وينځې سره اگر كه كتابيه
و الحُرةِ على الأمةِ لا عكسهُ و لو فى عدّةِ الحرّةِ و اربع منَ الحرائرِ والإمَاءِ
وي او د آزادې ښځې سره په وينځې باندې نه عكس د هغې اگر كه په عدت د آزادې كې وي او څلور آزادو ښځو سره اووينځو سره
فقط و ثِنْتَيْنِ للعَبْد و حُبْلى من زِناً لا مِنْ غيرِه و الموطوءةِ بملكٍ
فقط او غلام لپاره دوو سره او د حاملې سره د زنا،نه، نه ددې نه سوا سره، او موطيې سره چې هغه وطي شوې وي په ملك
او زِناً و المضمومَةِ اِلَى مُحرَّمةٍ وَ المُسَمّٰى لَهَا.
عين سره يا زنا سره اود هغې ښځې سره چې يو ځاى كړى شوى د محرمې سره او مهر ددې لپاره دی.

(د حلال نكاحونو بيان)

د لغت وضاحت: **صابيةٌ** د صابيې مؤنث دی، د يهودو يوه فرقه ده، **اماءٌ** جمع د **اَمَةٌ** ده وينځې، **حُبلی**: حامله.

د فقهې تشريح: **قوله والصّابيّة الخ:** د امام صاحب په نزد صابيئې سره نكاح كول جائز دي ، صاحبين فرمائي چې نه دي جائز او دا اختلاف په دې خبره باندې بناء دی چې فرقه صابيه اهل كتابو كې ده يا نه؟ صاحبين فرمائي چې دا فرقه بت پرستو كې شامله ده ځكه چې د ستورو عبادت كوي، د امام صاحب تحقيق دا دی چې بت پرستو كې داخله نه ده، ځكه چې دوی زبورِ مني او د ستورو عبادت نه كوي بلكه د هغه تعظيم كوي لكه مسلمانان چې د كعبې تعظيم كوي ، ددې شك په بناء صاحب د هدايې وئيلي دي كه چيرې صابيه ښځه په يو نبي او آسماني كتاب باندې ايمان لري نو نكاح ورسره صحيح ده، ګنې نه صحيح كيږي

قوله والمُحْرِمَةُ الخ: كه يوې ښځې د حج يا عمرې احرام تړلی وي نود احنافو په نزد په حالت د احرام كې نكاح كول جائز دي، دښځې ولي اونكاح كوونكی محرم وي او كه حلال، حضرت عبدالله بن مسعود رضی الله عنه ابن عباس رضی الله عنه او انس بن مالك رحمه الله ددې قائل دي، صاحب د نهر الفائق نكاح د محرمې ته چې كوم مكروه تحريمي وئيلي دي نو هغه قابل توجه خبره نه ده. البته د امام

شافعي رحمه الله په نزد جائز نه ده. د هغه دليل دا روايت دى. (لا ينكح المحرم ولا يُنكح (١)

(الجماعة غير البخاري، ابن حبان عن عثمان بن عفان

زمونږ دليل دا دى چې نبي ﷺ د حضرت ميمونة رضي الله عنها سره په حالت د احرام كې نكاح كړې وه (ائمه سته عن ابن عباس رضي الله عنه. دارقطني عن ابى هريرة رضي الله عنه، بزاز عن عائشه رضى الله عنها)

سوال: د حضرت ابن عباس رضي الله عنه نه د طبراني دا روايت دى چې نبي صلى الله عليه وسلم د حضرت ميمونې رضى الله عنها سره په حال د حلال والى كې نكاح كړې وه. **جواب**: پخپله حافظ طبراني دحضرت ابن عباس رضي الله عنه نه پنځلسو طريقو سره روايت كړى دى چې نبي ﷺ محرم وو. هغې نه پس ئې وئيلي دي چې (هذا هو الصحيح)

سوال: يزيد بن اصم پخپله د حضرت ميمونې رضى الله عنها قول نقل كړى دى چې نبي ﷺ ما سره په حالت د حلال والي كې نكاح كړې وه (مسلم، ابوداؤد، ترمذى، ابن ماجه عم ميمونة رضي الله عنها)

جواب: د يزيد بن اصم د روايت هغه درجه نشته كومه چې د حضرت ابن عباس رضي الله عنه د وړاندې ذكر شوى روايت ده. ځكه چې هغه د ائمه سته متفق عليه راوى روايت دى. په خلاف د يزيد بن اصم د روايت نه چې دا خو نه امام بخاى رحمه الله اخيستى دى او نه امام نسائى دا رنګې په حفظ او اتفاق كې يزيد بن اصم د حضرت ابن عباس برابر نشي كيدى. دې وجې نه حضرت عمرو بن دينار امام ظهري ته وئيلى وو. و ما يدرى ابن الاصم اعرابي بوال على عقبيه اتجعله مثل ابن عباس؟

سوال: چې كومو روايتونو كې د وهو محرمٌ الفاظ دي د هغې مطلب په قول د ابن حبان دا هم كيدى شي چې نبي ﷺ ارض حرم كې داخل وو نه دا چې هغه محرم وو لكه چې وئيلى كيږي النجد

---

(١) هذا الحديث حمله المشايخ على الوطن فى الجملة الاولى فالمنهى الرجل و على التمكين منه فى الجملة الثانية فالمنهى المرءة و التذكير باعتبار الشخص و كلمة لا فيه جاز ان تكون تابية و دخولها على المسند للغائب جائز عند المحققين و ان كان غيره اكثر و جاز ان تكون نافية و فى النهاية و المعراج ان معنى الثانية لا يمكن المرءة من نفسه ليطأة كما هو فعل البعض فجعل التذكير على حقيقة و أن المنهى الرجل فيهما و الياء مفتوحة فى الجملة الاولى مضمومة فى الثانية مع كسر الكاف نفيا للانكاح و من فتح الكاف عن الثانية فقد صحف وجوه فى الفتح القدير حمل النكاح فيه على العقد و يكون النهى فيه للكراهة جمعًا بين الدلائل و ذلک لان المحرم فى شغل عن مباشرة عقود الانكحة على النهى عن التماس الوط. توفيقًا بين الاحاديث ١٢ بحر الرائق.

اذا دخل تهامة قال الشاعر:

قتلوا ابن عفان الخليفة محرمًا　و دعا فلم ارمثله مخذولاً　جواب اول خو دا تاويل د صحاح جوهري خلاف دی صحاح كې دي أحرَم الرَّجُلُ اذا دخل فی الشهر الحرام. موصوف په مذكور شعر سره په دي معنی سره استدلال کړی دی .دويم دا چې د امام بخاري حديث تزوّجَهَا و هو مُحرمٌ و بنی بِهَا و هوِ حلالٌ نه پس دا تاويل بې فائدې دی بلكه مردود دی خلاصه د خبرې دا ده چې كوم حضرات د نبي صلی الله عليه وسلم نكاح په حالت د احرام كې روايت كوي هغه اهل علم دی، اثبت دی. أفقه دي تام الضبط دي، صاحب أمانت دی لكه سعيد بن جبير ، عطاء ، طاوس ، مجاهد ، عكرمه . جابر بن زيد و غيرهم . دارنګې د حضرت ابن عباس رضی الله عنه د روايت تائيد حضرت عائشه هم كوي لهذا دا به معتبر وي هذا قليل من كثيرو مثل من غدير و الله عليمٌ خبيرٌ

قوله و الامة الخ: وينځې سره نكاح كول جائز دي اګر كه هغه كتابيه وي او خاوند ئې د ازادې ښځې سره د نكاح كولو طاقت وي، ځكه چې زمونږ په نزد قاعده دا ده چې كومه وطي په ملك يمين سره حلاله وي هغه په ذريعه د نكاح سره هم حلاله ده. او چې كومه په ملك يمين سره حلاله نه وي هم په نكاح سره نه حلاليږي او وينځې سره خو په ملك يمين سره وطي حلاله ده لهذا په نكاح سره حلاله وي هغه په ذريعه د نكاح سره هم حلاله ده او چې كومه په ملك يمين سره حلاله نه وي هغه په نكاح سره نه حلاليږي، او وينځې سره خو په ملك يمين سره وطي حلاله ده. لهذا په نكاح سره هم حلاله ده. د امام شافعی رحمه الله په نزد كتابيې وينځې سره نكاح كول جائز نه دي په داسې حال كې چې هغه د ازادې ښځې سره د نكاح كولو طاقت لري ځكه چې ايت **ومن لم يستطع منكم طولاً أن ينكح المحصنات المؤمنات فمن ماملكت ايمانكم من فتياتكم المؤمنات.** كې د عدم استطاعت او د صفت ايمان قيد دی، نو د حرې د نكاح قدرت لرلو په وخت كې او په موجودګی د مومنې وينځې كې كتابيه وينځې سره نكاح صحيح نه ده. دا اختلاف په اصل كې په يو اوصولي مسئله باندې بناء دی. او هغه دا چې د شرط او د وصف مفهوم معتبر دی، چې د هغې په انتفاء سره حكم هم منتفي كيږي يا ياكه غير معتبروي؟ نو د امام شافعی رحمه الله په نزد دا معتبر دی، او زمونږ په نزد دې لره اعتبار نشته. دې وجې نه زمونږ په نزد **فانكحوا ماطاب لكم من النساء او احل لكم ماوراء ذٰلكم** د عموم په وجه سره كتابيه وينځې سره نكاح جائز ده و تمامه فی الاصول.

قوله والحرة الخ چې د کوم سړي په نکاح کې وينځه وي هغه د ازادې ښځې سره نکاح کولی شي ليکن ددې عکس جائز نه دی، چې حره ئې په نکاح کې وي او بيا د وينځې سره نکاح وکړي، اګر چې د حرې په عدت کې وي، ځکه چې نبي صلی الله عليه وسلم ددې نه منع فرمايلې (او چې کوم سړی په تاسو کې پوره طاقت لري د ازادې مسلمانې ښځې سره د نکاح کولو نو بيا د خپلو مسلمانانو وينځو سره چې ستاسو په ملکيت کې وي نکاح کوي) په نزد د امام شافعی غلام لپاره ددې اجازت شته دی، او په نزد د امام مالک رحمه الله د حرې په رضاء سره جائز دی. ليکن حديث مذکوره په دوي ټولو حجت دی

قوله وحُبلی الخ د حاملې ښځې سره چې د هغې حمل د زنانه وي نکاح جائز ده. ليکن وضع حمل پورې وطي او دواعي د وطي جائز نه دی، په نزد د امام ابويوسف رحمه الله نکاح د سره صحيح نه ده. او که چيرې حمل د زنانه وي نو بيا په اتفاق سره نکاح صحيح نه ده. امام ابويوسف دا فرمائي چې نکاح ځکه ممنوع ده. چې د حمل حرمت ملحوظ کړی شي او چې کوم حمل د زنانه وي هغه هم محترم دی ځکه چې د هغه هيڅ قصور نشته. دې وجې نه په دواړو صورتونو کې نکاح نه ده جائز. طرفين دا فرمائي چې په زنا سره حمل شده ښځه حلاله ده لهذا نکاح صحيح ده البته وطي جائز نه ده. لپاره ددې چې دده په اوبو سره پردې فصل سيراب نشي او په دويم صورت کې د صاحب فراش د حق په وجه سره نکاح صحيح نه ده. ځکه چې په دغه صورت کې هغه ثابت النسب دی. او د ملک عين په ذريعې سره د موطوءې وينځې نکاح هم صحيح ده ځکه چې هغه د خپلې مولی مفروشه نه ده تردې چې که چيرې د هغې ماشوم پيدا شي نو د مولی نه بغير د بل چانه نسب نه ثابتيږي **قوله واعضومة الخ** يو سړي په عقد واحد کې دوو ښځو سره نکاح وکړه چې په هغوي کې يوه ده لره حلاله وه او دويمه پرې حرامه وه نو چې کومه حلاله وه هغې سره ئې نکاح صحيح ده. او چې کومه حرامه وه د هغې سره نکاح باطله ده. او څومره مهر چې معين دی هغه به ټول هغې ته ملاويږي چې کوم سره ده په نزدد صاحبينو دواړو ته به په مهر مثل تقسيم کيږي.

و بَطَلَ نكاح المُتعَةِ و الموقّتِ و لَهُ وطئُ امرءَةٍ ادّعَتْ عَلَيهِ اَنّهُ
او باطله ده نکاح متعې او نکاح مؤقته، او جائز ده لپاره دده وطي کول هغه ښځې سره چې هغه دعوی وکړي چې ده ما

تَزَوَّجَهَا	وَ	قُضِيَ	بِنكَاحِهَا	بِبَيِّنَةٍ	ولم	يُزَوِّجهَا
سره نكاح كړې ده	او	فيصله وكړې شوه	په نكاح د هغې	په گواهانو سره	حال دا چې نكاح ئې	نه وه كړې

(نكاح متعه او نكاح موقته باطله ده)

د فقهي تشريح: قوله و بطل الخ: كه چيرې يو سړى ښځې ته ووايې چې زه لس ورځو پورې يا يوې مياشتې پورې تا سره نكاح متعه كوم يا ورته دا ووايې چې زه يوې مياشتې لپاره تاسره نكاح كوم نو دا نكاح موقت ده. په نهايه او معراج الدرايه كې ددې دواړو مينځ كې ئې دا فرق كړى دى چې په نكاح موقت كې د وخت سره. لفظ د نكحت يا تزوجت ذكر كيږي او په متعه كې اتمتع يا استمتع. صاحب د عنايه دا فرق بيان كړى دى چې نكاح موقت د گواهانو په موجودگئ كې كيږي او معين وخت ذكر كيږي، په متعه كې دا ضروري نه ده، بعضو وئيلي دي چې په نكاح متعي كې د مهر مقدار تعين لازمي وى، او په موقت كې لازم نه وي ليكن په دې سلسله كې تحقيق هغه معتبر دى چې كوم فتح القدير كې دى چې د هغې حاصل دا دى چې نكاح موقت د متعې په افرادو كې داخل ده بناء بر هر تقدير نكاح متعي او نكاح موقت په اتفاق د ائمه اربعو باطله ده ځكه چې نكاح متعي اگر چې په ايام خيبر او په ايام فتح مكه كې مباح وه ليكن د فتح مكه نه بعد تر قيامته پورې حرامه شوه (مسلم عن عبد الله بن زبير و اياس بن سلمه و سبره ابن معبد، صحيحين عن على و ابن مسعود، ابوداؤد عن سبرة، دارقطني عن ابى هريرة و على ۱۲)

حضرت عبد الله بن عباس رضي الله عنه په شروع كې د متعې د جواز قائله وو. وروسته ئې بيا رجوع كړې وه لكه چې جامع ترمذي كې روايت دى، سعيد بن جبير فرمايې چې ما حضرت ابن عباس ته عرض وكړو حضرت ستاسو فتوې خو په اطرافو كې خورې شوې او شاعرانو خو قيصې شروع كړې دي هغوى پوښتنه وكړه چې څه وشو؟ ما ورته د شاعر اشعار واورول. قد قلتُ للشيخ لما طال: يا صاح هل لک فى فتيا ابن عباس ::: هل لک فى رخصة الاطراف آنسةٌ :: تكون مشواک حتى مصدر الناس. هغوى وفرمايل سبحان الله. قسم په الله چې ما خو ددې فتوى نه ده وركړې زما په نزد خو متعه داسې حرامه ده لكه وينه، مرداره او د خنزير غوښه، امام شافعي رحمه الله فرمائي چې زه نه پوهيږم چې الله يو څيز حلال كړي وي او بيا ئې حرام كړي وي. او بيا ئې حلال كړې وي او بيا ئې حرام كړې وي سوا د متعې نه، بهر حال د نكاح متعې اباحت په اجماع د صحابو منسوخ دى. او تر قيامته پورې حرامه ده. مضمرات كې دي چې كوم سړى متعه حلاله گڼري هغه كافر دى عماديه كې دي چې كه چيرې يو قاضي د هغې د جواز فيصله وكړي نو هغه به نه نافذ كيږي.

تنبیه: صاحب د هدایې امام مالک طرف ته جواز د متعې منسوب کړی دی لیکن دا غلطه ده ځکه چې ائمه اربعو کې هیڅ یو کس ددې د جواز قائل نه دی. د ټولو په نزد حرامه ده. البته د شیعه ګانو یوه ډله د اباحت قائله ده. علامه سروجي فرمایې د امام مالک په نزد متعه جائز نه ده، چې د هغې صراحت په ذخیره مالکیه کې موجود دی. علامه اکمل په عنایه کې د صاحب هدایې طرف نه عذر پیش کړی دی اوونیلي ئې دي چې ممکنه ده چې د صاحب هدایې استاذ ته د امام مالک ځه قول ملاؤ شوی وي لیکن د ذخیرې د تصریح نه پس دا عذر بیکاره دی. دې نه علاوه امام مالک په موطاء کې د حضرت علی رضی الله عنه نه د نهي عن المتعه حدیث روایت کړی دی او د هغه عام عادت دی چې مؤطا کې کوم روایت راوړي په هغې باندې دده عمل وي **قوله وله وطئ الخ** ښځې د قاضي په مخکې په یو سړي دعوی وکړه چې ده ما سره نکاح کړې ده. او ښځې ګواهان هم پیش کړه او قاضي د ګواهانو په بناء د نکاح فیصله وکړه حال دا چې واقعةً دغه سړي ښځې سره نکاح نه وه کړې نو د امام صاحب په نزد د قاضي فیصله نافذ ده. او دغه سړي ته ښځې سره صحبت کول جائز دي. د صاحبینو او د امام شافعی په نزد وطي جائز نه ده ځکه چې ګوهانو د دروغو ګواهي کړې ده او قاضي په فیصله کې غلطي کړې ده لهذا دقاضي فیصله نافذ نه ده. امام صاحب فرمائي چې د هغه په نزد ګواهان رښتیني دي او دا حجت دی ځکه چې د صدق په حقیقت باندې خان خبرول متعذر دی. لیکن فتوی د صاحبینو په قول ده چې وطي به نه کوي

بَابُ الاولیَاءِ والاکفاءِ
(باب دی په بیان د ولیانو او هم مثلو کې)
نَفَذَ نکاحُ حُرّةٍ مُکلّفةٍ بلا ولیّ
نافذ ده نکاح د حرې آزادې بالغې عاقلې ښځې بغیر د اجازت د ولي نه‌ځ.

د فقهي تشریح: **قوله بابُ الخ**: نکاح د هغې الفاظ او محل نکاح بیانولو نه پس عاقد نکاح بیانوي. وجود د ولي په جمیعو حالاتو کې ضروري نه دی، ځکه چې دا مؤخر راوړی. اولیاء جمع دولي ده او ولایت په معنی د نصرت سره دی، په لغت کې دوست ته وایې او په عرف کې عارف بالله ته ویلی شي. او په اصطلاح کې ولي عاقل بالغ وارث ته وئیلی شي. د عاقل په قید سره ترینه مجنون او بې هوشه خارج شو، او د بالغ په قید سره ترینه ماشوم خارج شو د وارث په قید سره ترینه

كافر وصي او غلام خارج شو. وصي ته مطلقًا دنكاح ولايت نشته، خواه كه هغه ته پلار د نكاح كولو وصيت كړى وي يا ئې نه وي كړى او كافر د خپل مسلمان ځوي او غلام د آزادې ښځې وليان نشي كيدى، په اصطلاح د فقه كې ولايت دې ته وايې چې په بل چا باندې د خپلې دخپلې خبرې نافذ كولو حق هغه ته حاصل وي، خواه كه هغه بل كس راضي وي او كه نه وي په باب د نكاح كې ولايت په وه قسمه دى، (۱) يوولايت استحباب (۲) اودويم ولايت اجبار. ولايت استحباب په عاقله بالغه ښځه باندې وي كه باكره وي او كه ثيبه، او ولايت اجبار په صغيره باندې وي او بالغه بيهوشه او په وينځه باندې وي،د ولايت د ثبوت څلور اسباب دي (۱) قرابت لكه پلار د خپلې لور نكاح وكړي (۲) ملك لكه اقا د خپل غلام يا وينځې نكاح وكړي (۳) ولاء لكه آقا د خپل ازاد كړى شوي غلام نكاح وكړي (۴) امامت لكه بادشاهي يا قاضي د لا وارث نكاح وكړي. اكفاء د كفو جمع ده په معنى د نظير سره وسيأتي.

قوله وَنَفَذَ الخ: د ازادې عاقلې بالغې ښځې نكاح د شيخينو په نزدد ولي نه بغير نافذ ده د امام محمد په نزد د ولي په رضا موقوف ده. (ويروى رجوعه الى قولهما) په نزد د امام مالك او شافعي رحمه الله د ولي د رضا نه بغير ښځو ته د نكاح كولو اختيار نشته ځكه چې حديث كې دي لا نكاح الا بولى (۱). دارنګې د نبي ﷺ ارشاد دى چې كومې ښځې د ولي د اجازت نه بغير نكاح وكړه نو نكاح ئې باطله ده (۲). زمونږ دليل دا دى چې د قران ايتونو نه ښځې لپاره د نكاح اختيار ثابت دى. قال تعالى لا جناح عليكم فيما فعلن فى انفسهنّ حتى تنكح زوجًا وغيره، فلا تعضلوهُنّ ان ينكحن ازواجهن. دارنګې مسلم كې حديث مرفوع دى چې كونده ښځه د خپل ځان زياته مستحقه ده په نسبت د خپل ولي، ابوداؤد ، نسائى كې د حضرت ابن عباس نه روايت دى چې د نبي ﷺ ارشاد دى چې شوهر ديده ښځه باندې ولي ته هيڅ اختيار نشته. معلومه شوه چې بالغه ښځه باندې ولي ته د خبر اختيار نشته هغه خو مختاره ده. دا بله خبره ده چې مكلفې لپاره مناسب دا دى چې هغه دې خپله نكاح د ولي په رضا سره وكړي دې لپاره چې د بې حيايې نسبت ورته ونشي زمونږ په نزد قاعده كليه دا ده چې كوم انسان په خپل مال كې تصرف كولى شي هغه په خپل ځان

---

(۱) ابوداؤد ، ترمذي، ابن ماجه عن ابي بردة، حاكم عنه الاشعري، ابن ماجه، دارقطني عن عائشة و ابن عباس، طبراني عن ابن عباس و جابر و ابن مسعود ، عبدالرزاق عن عمران بن حصين. ابن عدي عن على و انس و ابي هريرة ۱۲

(۲) ابوداؤد ترمذي، ابن ماجه عن عائشة، ابن راهويه، طبراني، ابونعيم، عن ابن عمر ۱۲.

کې هم تصرف کولی شي او چاته چې په خپل مال کې د تصرف حق نه وي هغه ته په خپل ځان کې هم د تصرف حق نشته . او هر کله چې عاقلې بالغې ښځې ته په خپل مال کې د تصرف کولو اختیار حاصل دی. او صغیر دې او مجنونې ته په خپل مال کې اختیار نشته لهذا په نکاح کې ورته هم اختیار نشته پاتې شود معین فرمایې چې داشتراط ولي په باب کې هیڅ حدیث ثابت نه دی چې د هغې تفصیل زیلعي وغیره کې موجود دی. او که چیرې صحت تسلیم هم کړی شي نو په دغه حدیثو کې د کمال نفي مقصود ده. نه چې د جواز. وتمامه فی المطولات

و لا تُجبَرُ بِكرٌ بالِغةٌ على النكاحِ فان استأذَنها الوليُّ فسَكتَتْ او
او جبر به نشي کیدی په باکرې بالغې باندې په نکاح کولو سره نو که چیرې طلب د اذان وکړو دې نه ولي پس دا چپ شود یا په
ضحِكتْ او زَوّجَهَا فبَلغهَا الخبرُ الخبرُ فسكتتْ فهوَ اِذنٌ و ان استاذنَها
خندا شوه یا ئې هغه په نکاح ورکړه او هغې ته خبر ورسیدو او هغه خاموشه شود نودا اجازت دی، او که چیرې غیر د ولي
غيرُ الوليِّ فلا بُدَّ مِنَ القولِ كالثَّيِّبِ و مَن زَالَتْ بكارتُها بِوَثْبةٍ اَوْ
ترینه اجازت طلب کړو نو بیا ضروري ده وینا په ژبې سره لکه ثیبه اودکومې ښځې چې بکارت زائله شوی وي په توپ وهلو سره یا په
حَيضةٍ و جراحَةٍ اوتعنيسٍ اَو زِنا فهِيَ بِكرٌ
حیض سره په زخم سره یا بغیر نکاح وخت تیرولو سره یا په زنا سره نو دا په مثل د باکرې ده.

د لغت وضاحت **بكرٌ** پیغله. **ثَيِّبٌ** خاوند نه جدا شوې ښځه. **بكارةٌ** پیغلتوب **وثبةٌ** توپ **جَرَاحَةٌ** زخم **تعنيسٌ** د بلوغ نه پس ډیر وخته پورې بغیر نکاح نه اوسیدل

د فقهې تشریح **قوله ولا تُجبر الخ:** عاقلې بالغې ښځې لره د هغې ولي په نکاح کولو مجبوره کولی نشي ځکه چې د عقل او بلوغ په وجه سره ولایت اجبار هغې نه ساقطیږي حدیث کې دي چې یوه عاقله بالغه جینۍ د نبي صلی الله علیه وسلم په خدمت کې حاضره شوه او عرض ئې وکړو. یا رسول الله! زما پلار زما واده داسې ځای کې وکړو چې هغه زما نه دي خوښ نو نبي ﷺ هغې ته اختیار ورکړو (۱). دارنګې نبي صلی الله علیه وسلم ارشاد دی چې د باکرې بالغې جینۍ نکاح دې

(۱) ابوداؤد. نسائي. ابن ماجه. احمد عن ابن عباس. دارقطني عن جابر و ابن عمر و ابن عباس (فی معناه) نسائي احمد عن عائشة (فی معناه) ابن ماجه عن بریده ۱۲

بغير د هغې اجازت نه نه شي کولی (۱)، د دې روايت عموم واضح دليل دی چې بالغې عاقلې باندې چا ته هم ولايت اجبار نشته نه پلار ته بل چاته احناف، امام ثوري، او زاعي، حسن بن حيئ، ابوثور او ابو عبيد قول ددې قائل دي. امام شافعي رحمه الله ددې دلائلو عموم او منطوق پرېږدي او د الثيبُ أحَقُ بنفسها مفهوم أخلي او فرمائي چې په باکرې ښځه باندې هم ولايت اجبار شته دی، حال دا چې په قول د علامه ابن رشد د مفهوم نه عموم او منطق أولی دی چې په هغې کې هيڅ اختلاف نشته. سوال: کله چې احناف د لا تنکح البکر حتی تستأذن په عموم باندې عمل کوي نو بيا په باکرې صغيرې باندې د ولايت اجبار ولې قائل دی؟ جواب: ځکه چې حديث صحيح نه ثابته ده چې حضرت ابوبکر ﷺ. د حضرت عائشې رضی الله عنها نکاح د هغې په کم عمرې کې د نبي ﷺ سره کړې وه فکان ذلک مستثنی من العموم. **قوله فان استأذنها الخ** بالغې عاقلې ښځې نه د هغې ولي د نکاح اجازت طلب کړو او هغه خاموش شوه يا په خندا شوه يا ولي د هغې نکاح وکړه او په هغه په خبريدو سره خاموش شوه نو د هغې خاموشي او خندا کول د رضا دليل دی، ځکه چې د حديثو الفاظ دا دي. سُکوتها (۲) اذنها. او په نسبت د سکوت د خندا دلالت د رغبت په اظهار زيات دی، دې وجې نه ضحک د سکوت سره ملحق دی.

لويه فائده: علامه ابن نجيم مصري په الاشباه و النظائر کې ذکر کړي دي چې په اوه ديرشو مسئلو کې خاموشي د رضا دليل دی (۱) سکوت د باکرې په وخت د استيذان دولي کې عقد نه مخکې وي او که وروسته (۲) سکوت د باکرې په وخت د قبض د مهر کې (۳) سکوت د باکرې په وخت د بلوغ کې کله چې پلار اونيکه نه علاوه بل ئې نکاح کړې وي (۴) ښځې د نکاح نه کولو قسم وخوړ بيا پلار ئې نکاح وکړه او هغه خاموشه پاتې شوه نو هغه حانثه ګرځي (۵) سکوت فقير نه چې سکوت موهوب له (۶) سکوت مالک په وخت د قبض د موهوب له (۷) سکوت وکيل په وکالت سره (۸) سکوت د مقر له (۹) سکوت مفوض اليه چاته چې څوک حواله شي (۱۰) سکوت موقوف عليه چې په هغې باندې څه شی وقف کړی شي (۱۱) بيع تلجيه کې د احد العاقدين دا وئيل چې زه دا بيعه صحيح کوم او د بل عاقد خاموشي (۱۲) په غانمين کې د تقسيم مال په وخت کې سکوت (۱۳) د غلام د خريدو فروخت په وخت کې د مشتری

---

(۱) آئمه سته عن ابي هريرة ۱۲.

(۲) صحيحين عن عائشة (و اللفظ للبخاري) ائمه سته عن ابي هريرة (فی معناه) ۱۲.

بالخيار سکوت خيال ساقط کول دي (۱۴) په مبيعه باندې په وخت د قبض د مشتري کې د بائع سکوت چاته چې کومې مبيعې کې اختيار وو د قبض کولو اجازت دي ورته (۱۵) سکوت د شفيع په وخت د بيعه کې حق د شفعې باطله وي (۱۶) کله چې غلام ووينې چې د غير مال أخلي او خرڅوي نو د مولی سکوت دا دتجارت اجازت دی (۱۷) د مولی غلام ته د تجارت اجازت نه ورکول قسم خوړل او بيا غلام په خريد و فروخت ليدل او خاموش پاتې کيدل د حنث موجب دی (۱۸) سکوت د غلام په وخت د بيعه کې يا د رهن کې د غلامئ اقرار دی (۱۹) د کور خاوند يو سړي ته قسم کړی وو چې دی به کور کې نه پرېږدم او بيا هغه سړی ئې په کور کې داخل وليدو او سکوت ئې وکړو نو په دې سره حانث کيږي (۲۰) سکوت د زوج په وخت د ولادت يا په وخت د مبارکبادئ کې د ثبوت نسب اقرار دی (۲۱) سکوت د آقا په وخت د ولادت د ام ولده کې د بچي اقرار دی (۲۲) قبل از بيع د مبيعې د عيب خبره اوريدل او په هغې سکوت کول رضا بالعيب ده په دې شرط چې مخبر عادل وي (۲۳) د باکرې سکوت په وخت د تزويج د ولي معلومولو کې رضاء د نکاح ده (۲۴) د ښځې زمکه خرڅول او د خاوند سکوت اقرار دی ددې خبرې چې دغه زمکه د خاوند نه ده، دغه ددې عکس (۱) (۲۵) يو سړي د چا کور يا د هغه اسباب خرڅ کړه او څه وخته پورې مشتري په هغې کې تصرف وکړو بيا هم مالک خاموش پاتې شو نو د هغه سکوت دعوی ساقطوي (۲۶) د شريکانو په شرکت عنان کې د يو کس دا خبره کول چې دا وينځه خاص خپل ځان لپاره زه اخلم او د بل خاموشي شرکت لره ختموي (۲۷) وکيل ووېل چې دا څيز زه ځان ته اخلم او مؤکل خاموش پاتې شو نو هغه څيز دوکيل گرځي (۲۸) عاقل ماشوم خريد و فروخت کول او د ولي ليدل او سکوت کول د اذن دليل دی (۲۹) يو سړي وليدل چې غير کس د هغه مشک شلوي او هغه پرې ساکت شو نو دا رضا ده او شلونکی ضامن نه دی (۳۰) مالک قسم وکړو چې غلام نه به خدمت نه أخلم او بيا ئې غلام په خدمت کولو وليدو او خاموش پاتې شو نو حانث کيږي (۳۱) مور لور ته په جهيز کې څه سامان ورکړو او پلار خاموش پاتې شونو پلار د واپس اخيستو مقدار نه دی (۳۲) مور لور ته د رواج مطابق جهيز وکړو او پلار خاموش پاتې شو نو مور رضا منه نه ده (۳۳) مالک د کالو سره وينځه بغير شرط نه خرڅه کړه او مشتري ته ئې حواله کړه او هغه بوتله او مالک خاموش پاتې شو ، نو مشتري د کالو مالک گرځي (۳۴) په وخت د قراءت د شاگرد کې د استاذ سکوت په منزله د

---

(۱) و هذا عند مشائخ سمرقند خلافا لمشائخ بخارا فينظر المفتى ۱۲.

نطق دی (۳۵) بغیر د عذره د مدعا علیه سکوت انکار دی (۳۶) په مرهون باندې د مرتهن د قبضې کولو په وخت د راهن سکوت رضاء ده (۳۷) قاضي د شاهد نه د مزکّي د حال پوښتنه وکړه او هغه خاموش شو نو دا د شاهد تعدیل دی. رومبنۍ دریویشت مسئلې جامع الفصول وغیره کې دي اووروسته اوه مسئلې د أشباه مصنف رحمه الله زیاتې کړي دي حمري د اشباه په حاشیه باندې د څوارلسو نورو مسئلو اضافه کړې ده. ټولې یو پنځوس جوړیږي. وهذه کلها مشهورةٌ و لا محصورةٌ و قد نظم منها ابن الشحنه ثلاثین فقال:

وحکم الرضا اعطوا سکوتا و قرروا: له صورا مجموعها ما ساذکره من البکر فی عقد و قبض صداقها: و عند بلوغ ثم لا تتخیر
کذا شافع من بعد علم و واهب: رائی قبض موهب کذا البریذ کر. و مصدق شیئا علیه بقیضه: مقر له بالمال مبرا مسطر
کوصی و کیل باشر الفعل موقوفا: علیه و بعض رده لا یوثر. و قبض مبیع اذ یحض بفاسد: و بالعیب قبل البیع من هو مخبر
کذا بیع عبدا و صبی و مشتر: بشرط خیار المشتری فهو یهدر. و مالک مأسور رأی بیع حالم: و زوج بمولود یهنأ و قدر،
تصویم یوم اواخر لم یکن: له ام ولد ثم لا تکبر بخدمته من البیت لا تخذ منه: کلا اسکتن ذا و السکوت مقرر
وقول و کیل فی شراء معین: لنفسی اشتریه له الملک یظهر. کذلک عقیب الشق للزق لم یکن: کوضع متاع عند من هو ینظر
وقول الذی واضعه قد جعلته: صحیحا و عند الامر بالید یوم سکوت الذی اسی الیه مفوضا: و مجهول النسب یباع فیحضر
وقید بعض بانقیاد و بعد ذا :لغت منه دعواه یأتی محرر. و زوجه او ولده او قریبه :بحضرته بیع العقار یصور
فیمنع دعواه و بعض یجیزها :کرویته عین و التعریف یصدر. من المشتری دهرا فدونک حفظها : بنظم حکاها النفاسة جوهر

والقولُ لَها اِنِ اختلفا فی السکوت و للولی اِنکاحُ الصَّغیر و الصغیرةِ وَ
او قول د ښځې معتبر دی که چیرې مختلف شول دواړه په سکوت کې او اختیار شته ولي ته د نکاح کولو د وړوکي هلک او د وړوکي جینۍ او
الولِیُّ العَصَبَةُ بترتیبِ الاِرثِ و لهمَا خیارُ الفسخِ بالبلوغِ فی غیر الابِ و الجدِّ بشرط القضاءِ
ولي عصبه وي په ترتیب د میراث سره او دواړو لره خیار شته. دنکاح ماتولو په بلوغ سره په صورت د غیر أب او جدّ په شرط د قضا. د
و بَطلَ بسکوتِها اِنْ علمتْ بکرًا لا بسکوته مَا
قاضي سره او باطلیږي په سکوت د صغیرې سره که چیرې معلومه وو هغې ته بکر خپل نه باطلیږي په سکوت د ماشوم هلک سره څو پورې چې.
لم یَرْضَ و لو دلالةً و توارثا قبلَ الفسخِ ولا ولایَةَ لعَبْدٍ وَ صَغیرٍ و مجنونٍ و کافرٍ علی مُسْلمةٍ
رضا نې نه وي او دلالةً وي او دواړه وارثان کرځي مخکې د فتح نه، او نشته ولایت غلام ته او ماشوم ته او مجنون ته او کافر ته په مسلمانه
و ان لم تکن عَصَبةٌ فالوَ لایةُ لِلاُمِّ ثمّ للاخت لاَبٍ وامٍّ ثمّ لاَبٍ ثمّ لولَدِ الامِّ
ښځه باندې او که چیرې عصبه نه وي نو بیا ولایت مور لره دی، بیا حقیقي خور لره دی، بیا لپاره د علاتي خور دی بیا لپاره دا خیافي رور خور

ثم لذوي الارحام ثم للحاكم و للابعد التزويج بغيبة الاقرب مسافة

دی بیا لپاره د ذوی الارحامو دی بیا لپاره حاکم دی، اوولي بعید لپاره اختیار دی په وخت د غائب والي د قریب کې

القصر ولا يبطل بعوده و ولي المجنونة الابن لا الاب

په مسافت د قصر سرد. او نه باطلیږي په واپس راتلو دولي قریب سره اوولي د لیونۍ د هغې ځوی دی او پلار دی.

د لغت وضاحت: **انكاح** په نكاح وركول. **عصبة** د پلار د طرف نه رشته داران. **ارث** وارث كيدل.

دفقهي تشريح: **قوله والقول لها الخ:** په زوجینو کې اختلاف شو خاوند وایې چې تا ته د نکاح خبر در اوسیدو نو ته خاموشه شوې ښځه وائي چې نه ما نكاح رد كړې وه او ګواهان یو كس سره هم نه وو. نو په دې صورت کې قول د ښځې معتبر دی. په نزد د امام صاحب بغیر قسم نه او د صاحبینو په نزد سره د قسم کولو د ښځې نه. او فتوی د صاحبینو په قول ده.

قوله والولي العصبة الخ په باب د نكاح کې ولي هغه دي كوم چې په باب د میراث کې عصبه بنفسه دی یعنې ځوی، نمسئ. د نمسئ ځوی اه بیا پلار، نیکه غور نیکه اه بیا رور ، بیا تره، بیا اعمام الجد، بیا د مولی عصبه، بیا ذوی الاحرام. په نزد د امام مالک رحمه الله د پلار نه ما سوا او په نزد د امام شافعی د پلار او نیکه نه علاوه بل چا لپاره ولایت د نکاح نشته. که چیرې د ماشومې جینۍ یا د ماشوم هلک نکاح د پلار نیکه نه علاوه بل چا وکړه نو پس د بلوغ نه به هغوي ته اختیار وي که خوښه ئې شي نو باقي به ئې وساتي او که خوښه ئې شي نو په ذریعه د قاضي به ئې فسخ کړي. په نزد د امام ابو یوسف رحمه الله دا اختیار نشته. هغه ئې په پلار او نیکه قیاس کوي. که چیرې پلار نیکه ئې نکاح کړې وي نو دوي ته د فسخ اختیار نه وو نو دغه رنګې د پلار نیکه نه علاوه د نور اولیاؤ د نکاح کولو په صورت کې به هم دوي ته اختیار نه دی. طرفین دا فرمائي چې د پلار نیکه نه علاوه نورو اولیاؤ کې دومره شفقت نه وي څومره چې پلار نیکه کې وي نو که چیرې ددوی عقد لازم شي نو بیا ددوی په مقاصدو کې خلل واقع کیږي. دې وجې نه پس د بلوغ نه هغوي ته به اختیار وي

قوله وللأبعد الخ: که چیرې نزدې ولي موجود نه وو نو بیا بعید ولي لره نکاح کول جائز دي. بیا که چیرې قریبي ولي راشي نو د ولي ابعد کړی نکاح نه باطلیږي ځکه چې دولي أبعد کړي نکاح د هغه د کامل ولایت سره شوې ده . بیا متأخرین په نزد دولي أقرب په قدر د مسافت سفر شرعي سره لرې تلل

معتبر دی مصنف هم دا قول اختیار کړی دی، علامه زیلعي فرمایلی دی چې فتوی په دې ده.

فصلٌ فی الاکفاءِ : (فصل دی په بیان د هم مثلو کې)
مَنْ نکحتْ غیرَ کُفوءٍ فَرَّقَ الولِیُّ وَرِضَا البعضِ کالکلِّ و قبضُ المهرِ
کومې ښځې چې نکاح وکړه په غیر کفو کې نو جدایي به وکړي ولي، او رضا د بعضو رضا تولو ده، او قبضه کول په مهر سره
و نحوهُ رضاءٌ لا السّکوتُ و الکفاءةُ تعتبر نسبًا فقریشٌ اکفاءٌ و العَربُ اکفاءٌ
رضاء ده نه خاموشي کول، او کفاءت معتبر دی په اعتبار د نسب سره نو قریش په خپلو کې کفو، دي او عرب په خپلو کې کفو، دي
وحُرِیّةً وَ اِسلامًا و اَبَوانِ فیهما کالآباءِ و دیانةً و مالاً
او معتبر دی په اعتبار د ازادی او د اسلام سره او پلار نیکه په دې دواړو کې په شان د پلرانو دي او په اعتبار دین داری او د مالداری
و حرفةً و لو نقصت عن مهرِ مثلِهَا فللولیِّ ان یُفرِّق او یتمّ مهرَهَا ولو
او دپیشې سره، او که چیرې ښځې کم کړو د مهر مثل نه نو ولي ته دا اختیار شته چې جدایي وکړي یا ورته مهر پوره کړي او که چیرې یو سړی
زَوَّجَ طِفْلَهُ غیرَ کفوءٍ او بغبنٍ فاحشٍ صَحَّ ولم یَجزْ ذٰلک لغیرِ الاب و الجدّ.
ذخپل وړو کي ماشوم نکاح په غیر کفو، کې وکړه یا ئې په غبن فاحش سره وکړه نو صحیح ده، لیکن دا دپلار او نیکه نه علاوه بل چاته جائز نه دي

د فقهې تشریح: قوله فصلٌ الخ: اکفاء جمع د کفوء ده په معنی د نظیر سره، وئیلی شي (کافاه، هغه د هغه برابر دی. په باب د نکاح کې مراد د کفاءت نه یو خاص قسم برابری ده چې د هغې اعتبار د سړي د جانب نه کیږي. ځکه چې د شریفې ښځې د کم تر مفروشه جوړیدل ناممکن وي. او هغه د خسیس سړي لاندې ژوند تیرول نه غواړي. په خلاف د سړي نه چې هغه طالب د فراش وي چې هغه لپاره کمترئ فراش باعث د شرم نه وي. کفاءت معتبر دی په ابتداء د نکاح کې. نو که چیرې په وخت د نکاح کې سړی د ښځې برابر وو اوو روسته بیا هغه نه کمتر شي مثلاً فاسق شي نو نکاح نه فسخ کیږي. دا هم یاد ساتل پکار دي چې کفاءت د اولیاؤ حق دی نه چې د ښځې. نو که چیرې یوې ښځې چا سره نکاح وکړه او ښځې ته د سړي حال معلوم نه وو او وروسته هغه غلام ثابت شو نو ښځې ته اختیار نشته بلکه حق اولیاؤ ته دی. او که چیرې اولیاؤ ته د کفاءت علم نه وي او هغوی د ښځې نکاح د هغې په رضا سره وکړي بیا معلومه شي چې خاوند کفو نه دی نو نه اولیاؤ ته حق د

فسخ د نکاح حاصل دی او نه ښځې ته. **قوله والکفاءة الخ:** مصنف په شپږو څیزونو کښې کُفُوَ معتبر کړې ده. (۱) نسب څکه چې خلک په نسب فخر کوي. نو قریش (۱) په خپلو کښې د یو بل کُفو دی هاشمي وي او که نوفلي وي او که عدوي، څکه چې نبي صلی الله علیه وسلم دخپلې لور نکاح حضرت عثمان رضی الله عنه سره کړې وه حال دا چې نبي صلی الله علیه وسلم هاشمي دی او حضرت عثمان اُموي دی نه چې هاشمي، او حضرت علی د خپلې لور ام کلثوم نکاح د حضرت عمر رضی الله عنه سره کړې وه. حال دا چې حضرت علی هاشمي دی او حضرت عمر عدوي دی، دارنګې د قریشو نه علاوه باقي عرب په خپلو کښې دیو بل کُفو دي. صاحب د هدایې د بنو باهله استثناء کړې ده څکه چې دا خلک په خساست او دناءت کښې مشهور دي لیکن صحیح دا ده چې تمام عرب د یو بل کُفو دي. په بحر، نهر، فتح او دُرر وغیره کښې هم دا ذکر دي. البته عجمي خلک د عربو کفو نه دي. **قوله وحُریّة الخ:** د نسبي کفاءت اعتبار صرف د عربو لپاره دی نه لپاره د عجمو، څکه چې عجمو خپل نسب ضائع کړی دی، البته په حُریت او اسلام کښې برابري ضروري ده، نو کوم سړی چې پخپله مسلمان یا آزاد وي نو هغه د هغې ښځې کفو نشي کیدی د کومې ښځې پلار چې مسلمان یا آزاد وي، او د کوم سړي پلار چې آزاد وي هغه دهغې ښځې کُفو نه دی. د کوم چې پلار نیکه مسلمانان وي لیکن حُریت او اسلام صرف پلار نیکه پورې مُعتبر دی، یعنې د دوو پیړو آزادي او اسلام د لسو پیړو د آزادئ او اسلام برابره ده. څکه چې نیکه باندې نسب ختمیږي (۴) دیانت، غایة البیان کښې دي چې دیانت نه مُراد دینداري او پرهیزګاري ده. په دې کښې هم مساوات کول پکار دي. څکه چې دینداري د ټولو نه زیات د فخر قابله ده، نو په صالحه ښځه او فاسق فاجر سړی کښې کُفو نه کیږي. دا صحیح ده. په نزد د امام محمد رحمه الله دا معتبر نه دی څکه چې ددې تعلق د اُخروي اُمورو سره دی. مګر دا چې هغه دومره ذلیل وي چې ماشومان ورپورې لاسونه پړق وهي. **قوله ومالاً الخ:** په مال کښې به برابر وي. یعنې خاوند به بطور رواج په مهر معجّل او په نفقه قادر وي (هدایه) دنفقې په مقدار کښې اختلاف دی، بعضو دیوې میاشتې او بعضو دشپږو میاشتو نفقه معتبر کړې ده. په تجنیس کښې د اول تصحیح ده. مجتبیٰ کښې دی که چیرې خاوند روزانه دښځې د کفاءت په اندازه په نفقه قادر وي نو هغه د هغې ښځې کفو دی. صاحب بحر

---

(۱) د نبي صلی الله علیه و سلم دولسم پشت نضر بن کنانه اولاد ته قریش وایي ۱۲.

دي ته اظهر قول وئيلي دی (۶) په پیشه کې به برابر وي ځکه چې خلک په عزت واله پیش باندې فخر کوي نو خاکروب د زرګر او رنګساز دبجاز او تیل فروش د عطر فروش کفو نه دی. ظاهر الروایة هم دا دی، لیکن شمس الائمه الحلواني د امام ابویوسف په روایت باندې فتوی ورکړې ده چې که چیرې پیشې متقاربې او مماثلې وي نو معمولي شان فرق معتبر دی. کفو ثابتیږي.

فصلٌ لابنِ العَمِّ ان یُزوّجَ بنتَ عمّه من نفسه وللوکیل ان یُزوج مُوکّلتَهُ من نفسه وَ
فصل دی. تره خوي ته اختیار دی چې د تره لور ځان ته واده کړي او وکیل ته اختیار دی چې هغه د خپلې مؤکلې نکاح خپل ځان سره وکړي
نکاحُ العَبْدِ و الامةِ بلا اذنِ السّیدِ موقوفٌ کنکاحِ الفضولیّ(۱) ولا یتوقّفُ شطرُ العقدِ علیٰ قبولِ ناکحٍ
او نکاح د غلام او وینځې بغیر د آقا داجازت نه موقوفه ده لکه نکاح د فضولي او نه دی موقوف نصف عقد په قبول د نکاح کوونکي غائب
غائبٍ و المامورُ بنکاحِ امرأةٍ مخالِفٌ بامرأتَیْنِ لا بأمةٍ.
پورې او مامور په نکاح کې د ورکولو د یو ښځې سره خلاف کوونکی دی په نکاح ورکولو د دوو ښځو سره، نه په نکاح د وینځې سره

(د توکیلِ نکاح وغیره بیان)

د فقهي تشریح: قوله ونکاح العبد الخ: د غلام او وینځې نکاح د آقا په اجازت سره موقوف ده. غلام مدبر وي او که مکاتب. او وینځه اُمِ ولده وي او که مکاتبه لکه فضولي نکاح کول په اذن د زوج یا زوجې باندې موقوف ده. د امام شافعي رحمه الله په نزد د فضولي ټول تصرفات باطل دي. امام احمد نه هم یو روایت دارنګ دی. ځکه چې وضع د عقد د هغه د اجازت په وجه سره کیږي. او فضولي په اثبات حکم قادر نه دی، لهذا د هغه تصرف باطل دی. مونږ دا وایو چې د ایجاب قبول صُدور بر محل د هغه د اهل نه شوی دی نو د هغه د لغو کیدو څه معنی نشته. زیات نه زیات به موقوفه شي. او فضولي اګر که په اثبات حکم قادر نه دی لیکن د هغه په وجه سره حکم نه معدوم کیږي صرف مؤخر شي لکه بیع بالخیار کې چې حکم مؤخر دی.

(۱) فضولی هغه سړي ته وایي چې نه اصیل وي نه ولي وي او نه وکیل وي او د بل لپاره تصرف کوي. د فضولی متعلق زمونږ په نزد قاعده کلیه دا ده چې دهغه هر عقد موقوف وي په دې شرط چې په وخت د عقد کې اجازت کوونکی موجود وي ګنې باطل دی. د فضولی احکام تفصیل سره کتاب البیوع کې راځي. انشاء الله.

قوله ولا يتوقف الخ: شطرِ عقد نه مراد ايجاب دى، مطلب دا چې يو سړى په مجلس عقد كې موجود نه وي نو د هغه په قبوليت باندې ايجاب موقوف نه دى بلكه ايجاب باطليږي. مثلاً يو ښځې ووېل اي خلكو، تاسو گواه شئ چې ما فلانى غائب سره نكاح وكړه، يا سړي ووېل چې ما فلانې ښځې سره نكاح وكړه نو دا ايجاب د فلانى غائب په قبوليت باندې موقوف نه دى، بلكه باطليږي. تر دې كه چيرې فلانى غائب ته ددې اطلاع وشي او هغه ئې جائز كړي نو بيا هم نكاح نه كيږي. هم په دې د فضولي مسئله قياس كړه. دا پوره تفصيل د طرفينو په نزد دى. د امام ابويوسف رحمه الله په نزد په دې ټولو صورتونو كې عقد موقوف دى، د اختلاف حاصل دا دى چې د جانبينو نه د يو سړي وكالت يا ولايت كول يا يو طرف نه اصيل كيدل او بل طرف نه ولي كيدل يا يو طرف نه وكيل كيدل او بل طرف نه اصيل كيدل يا يو طرف نه ولي كيدل او بل طرف نه وكيل كيدل د ائمه ثلاثو په نزد جائز دى او كه چيرې دواړو طرفونه فضولي وي يا جانب نه فضولي او بل طرف اصيل وي نو د طرفينو په نزد جائز نه دى. لهٰذا ايجاب باطل دى. او په نزد د امام ابويوسف رحمه الله جائز دى، لهٰذا ايجاب موقوف دى.

قوله والمأمور الخ: يو سړي بل ته ووېل چې ته يو ښځې سره زما نكاح وكړه، نو هغه په عقد واحد كې دوو ښځو سره نكاح وكړه، نو په امر باندې په دوئ كې يوه ښځه هم نه لازميږي. دواړه ښځې خو ځكه نه لازميږي چې دا د هغه د حكم خلاف دي. او غير معيّن طور باندې چيرته يوه خو ځكه نه لازميږي چې په هغې د نكاح فائده نه مرتب كيږي. ځكه چې وطي خو د معينې ښځې سره كيدى شي او دلته كې تعين نشته. دارنګې په هغوى كې د يوې تعين هم نشي كولى ځكه چې ترجيح بلا مرجح لازميږي فتعين التفريق. كه چيرې په صورت مذكوره كې هغه د يوې وينځې سره نكاح وكړي نو د امام صاحب په نزد جائز دي ځكه چې امر لفظ د امرءة مطلب ذكر كړى وو او ظاهره ده چې وينځه د امرءة يو فرد دى، د صاحبينو په نزد جائز نه دى، ځكه چې مطلق نه مراد د هغه فرد متعارف دى، يعنې كفو سره نكاح كول. ابو الليث د صاحبينو قول اختيار كړى دى. او اسبيجابي په شرح طحاوي كې وئيلي دي چې فتوى لپاره د صاحبينو قول ښه دى.

بَابُ الْمَهْرِ

باب دی په بیان د مهر کې

صَحَّ النكاحُ	بلا ذِكْره	و اقلُّه عشرة	دراهِمَ	فان سَمَّاهَا	اَوْ دونها	فلها عشرةٌ
صحیح ده نکاح	بغیر د ذکر د مهر	نه او کم مهر لس درهمه دي	که چیرې	مسمی	ئې کړو مهر لس درهمه یا د هغه نه کم	نو ښځې لپاره لس

بالوطيِ	اوِ الموتِ	او الخلوةِ	و	بالطلاقِ	قبلَ الدخولِ	يَتَنَصَّفُ
درهمه دي په وطي سره	یا په مرګ سره	په خلوت سره	او	په طلاق	قبل الدخول سره	مهر نصف کیږي.

د فقهي تشريح: قول بابٌ الخ: د نکاح د أرکانو او شرطونو نه پس مهر بیانوی، ځکه چې مهر مسمٰی یا مهر مثل په نفس عقد سره واجبیږي. پس مهر د عقد نکاح حکم شو. منثُور کې ددې تصریح ده. او د حکم وجود د عقد نه پس وي عنایه وغیره کې دي چې د مهر مختلفې نامې دي. مهر ، نحله، صُداق، عقد ، عطیه، أجر، صدقه، علائق، حباء.

قوله صَحَّ الخ: نکاح صحیح ده اګر که مهر ئې نه وي ذکر کړی یا ئې د هغې نفي کړې وي، ځکه چې نکاح د عقد انضمامي نوم دی ، چې د هغه په لغوي مفهوم کې مال داخل نه دی، آیت (لا جناحُ علیکم ان طلقتم النساء مالم تَمسّوهن او تفرضوا لهن فریضَةً) نه دا معلومیږي چې بغیر د تقدیر د مهر نه نکاح محقق کیدی شي ، او ظاهره ده چې د طلاق ترتب په عقدِ صحیح باندې دی، معلومه شوه چې صحت د نکاح د مهر په ذکر موقوف نه دی، بیا شرعًا مهر واجب دی، لقوله تعالی ان تَبْتَغُوا بأموالکم

قوله و اَقَلُّهُ الخ: د مهر کم مقدار زمونږ په نزد لس درهمه دی او د امام مالک رحمه الله په نزد رُبع دینار یا درې درهمه، امام شافعی رحمه الله او امام احمد رحمه الله فرمائي چې کوم څیز په عقد بیع کې ثمن ګرځیدی شي هغه په نکاح کې مهر ګرځیدی شي. ځکه چې مهر د ښځې حق دی، نو په کوم مقدار چې ښځه راضي شوه هم هغه مهر دی، زمونږ دلیل د نبي صلی الله علیه وسلم ارشاد دی، چې مهر لس درهمو نه کم نشته دی (۱).

---

(۱) دارقطني. سهقي. ابویعلی. ابن عدي. عقیلي عن جابر ۱۲.

سوال: حافظ بیهقي وئیلي دي چې دا روایت بالکل ضعیف دی. د دارقطني بیان دی چې (مبشر بن عبید راوي متروک الحدیث دی، امام احمد فرمائي چې دده روایات موضوع او دروغژن دی) **جواب:** اول خو دا روایت د اکثرت طُرق په وجه سره د حسن درجې ته رسیدلی دی، دې وجې نه لائق د حجت دی، دویم دا چې شیخ برهان الدین حلبي په شرح د بخاري کې علامه بغوي رحمه الله نه ددې تحسین نقل کړی دی، ځکه چې دا روایت په نورو طریقو سره هم نقل دی چې په هغه کې هیڅ کلام نشته. **سوال** (۱): په روایت کې دي چې نبي ﷺ یو انصاري ته د مهر لپاره وفرمایل چې (ته څه مهر تلاش کړه اګر که د اوسپنې یو ګوته وي هم (۲)) دارنګ د نبي صلی الله علیه وسلم ارشاد دی چې (کوم سړي خپلې ښځې ته په مهر کې دوه لپې ډکې ستوان یا کجورې ورکړې نو هغه وطي حلاله کړه (۳)) دارنګ نبي صلی الله علیه وسلم فرمائي (علائق ورکوي) پوښتنه وشوه یا رسول الله، علائق څه دي؟ نبي ﷺ وفرمایل، چې کوم باندې اهل راضي شي، اګر چې مسواک د ونې ښاخ وي (۴)، حال دا چې د اوسپنې ګوته د مسواک ښاخ او دومره مقدار ستوان یا کجورې، د هغې قیمت لس درهمه نشي کیدی. **جواب:** اول خو ړومبنی روایت نه علاوه دغه روایات ضعیف دي. دویمه دا چې دغه په مهر معجل باندې محمول دی، ځکه چې د عربو دا عادت وو چې هغوی به قبل الدخول څه نه څه مهر ادا کولو، تر دې چې حضرت ابن عباس رضی الله عنه، ابن عمر رضی الله عنه، زهری او قتاده نه نقل دي چې ښځې ته د څه ورکولو نه بغیر هغې سره دخول کول نه دي پکار، تمسکا بمنع النبي صلی الله علیه وسلم عن الدخول علی فاطمة حتی یعطیها شیئًا فاعطاها درعهُ ثم دخل بها. هذا مما یقنع فی الدرایة من طلب الحق و ترک الغوایة.

و ان لم یُسمه او نَفَاه فلها مهرُ مثلِها ان وَطِیَ او مَاتَ عنها و المتعة
او که چیرې مهر ئې نه وو مسمی کړی یا ئې نفي وکړه نو ښځې لپاره مهر مثل دی که چیرې وطي کړې وي یا ترینه مړ شوی وي او متعه به

---

(۱) د دې سند په واسطې د ابن حجر عسقلاني دارنګ دی، قال ابن ابي حاتم: حدثنا عمرو بن عبدالله الاودي ثنا وکیع عن عباد بن منصور قال ثنا القاسم بن محمد قال سمعتُ جابراً یقول قال رسول الله صلی الله علیه و سلم و لامرا قل من عشرة دراهم، حافظ موصوف فرمایي چې دې سند سره روایت حسن دی.

(۲) صحیحین عن سهل بن سعد ۱۲

(۳) ابوداؤدا عن جابر رضی الله عنه ۱۲

(۴) دارقطني، طبراني عن ابن عمر ۱۲.

اِنْ طَلقها قبلَ الوطي ءِ و هِيَ دِرْعٌ و خمارٌ و مِلحَفةٌ و ما فُرِضَ بَعْدَ العقدِ

ملاوېږي که چیرې د وطي نه مخکې ئې طلاق ورکړی وي او مُتعه قمیص او لوپټه او څادر دی، او کوم څیز چې پس د عقد نه مقرر شي

اَوْ زِيْدَ لا يَتَنَصَّفُ وصَحَّ حَطّها و الخلوةُ بلا مرضِ احدِهِما و حيضٍ

یا زیاتی شي نو هغه به نه نصف کیږي، او صحیح دي کمول د ښځې د مهر نه او خلوت کول بغیر د مرض د أحدهما نه او دحیض نه

و نفاسٍ و احرامٍ و صومِ فرضٍ كالوطيِ و لو مجبوبًا اَوْ عنِّينًا اَوْ خصيًّا.

او د نفاس نه او د احرام نه او د روژې نه، په حم د وطي کې دي، اګر که مقطوع الذکر وي یا نامرده وي یا خصي شوی وي.

وتجبُ العِدّةُ فيهَا وتستحِبُّ المتعَةُ لكلِّ مطلّقةٍ الا المفوِّضَةِ قبلَ الوطيِ ويجبُ مهرُ المثلِ

او واجب دی عدت په دې کې . او مستحب ده مُتعه د هرې مطلقې لپاره سوا، د مفوضې قبل الوطئ نه، او واجب دی مهر مثل په

فى الشغارِ و خدمةِ زوجٍ حُرٍّ للامهارِ وتعليم القرانِ و لها خدمتُهُ

شغار کې او په خدمت د آزاد خاوند کې لپاره د مهر ورکولو او په تعلیم د قرآن کې. او ښځې لپاره خدمت اخیستل جائز دي

لو عبدًا وَ لو قبضتُ الفَ المهرِ و وهبتْ لهُ فطُلِّقتْ قبل الوطيءِ

که چیرې خاوند ئې غلام وو او که چیرې ښځې قبضه وکړه په زر روپو د مهر باندې او بیا ئې خاوند ته هبه کړې او وطی نه مخکې طلاقه کړې

رجَعَ عليها بالنصفِ فان لم تقبضْ الالفَ اوقبَضَت النصفَ

شوه نو رجوع به کوي خاوند په نصف مهر سره د ښځې نه او که چیرې ښځې په زر روپو قبضه نه وه کړې یا ئې په نصف قبضه کړې

و وَهَبتِ الالفَ اَو وهبتْ عرضَ المهرِ قبلَ القبضِ اَو بعدَهُ فطلّقتْ

وه او هبه ئې کړې زر روپۍ یا ئې سامان مهر هبه کړو مخکې د قبضه کولو نه یا وروسته د قبضه کولو نه او طلاق ورکړې شو ښځې

قبلَ الوطيِ لم يرجعْ عليها بشيءٍ ولو نكحَها بالفٍ

ته مخکې د وطي نه نو رجوع به نه کوي خاوند په ښځې باندې په هیڅ څیز سره او که چیرې سړي نکاح وکړه د ښځې سره په زر روپو

على ان لا يُخرجَها او على ان لا يتزوجَ عليهااو

په دې شرط سره چې ښځه به د وطن نه نه بهر کوي یا په شرط ددې سره چې هغه به په دې موجوده ښځه بله نکاح نه کوي یا بې

على الفٍ ان اقامَ بها و على اَلفَيْن ان اخرجَها فان

نکاح وکړه په زر روپۍ که چیرې ښځه په وطن کې او سوی او په دوه زره باندې که چیرې ښځه د وطن نه بهر اوباسي نو که چیري

و	فِيْ	و	اقَامَ	فلهَا	الالفُ	و	الّا	مهر	المثلِ

شرط ئې پوره کړو او وطن کې ئې اوسوله نو ښځې ته به زر روپۍ ورکوي ، ګنې مهر مثل به ورکوي.

د فقهې تشريح قوله وان لم يسمه الخ: که چيرې په وخت د عقد کې ئې مهر ذکر کړی نه وو يا د هغې نفي کړې وي نو ښځې ته به مهر مثل ملاويږي. که چيرې خاوند ورسره وطي کړې وي يا په دوی کې د يو کس انتقال شوی وي. حضرت ابن مسعود رضي الله عنه نه پوښتنه وشوه چې يو سړي پس د نکاح نه او مخکې د وطي نه بغير دمهر مقرر کولو نه وفات شونو د هغه ښځې لپاره څه حکم دی؟ هغوی وفرمايل. مهر مثل به ورکړی کيږي.په دې باندې حضرت معقل بن يسارا شجعي وفرمايل چې نبي صلی الله عليه وسلم بُرده بنت واشق لپاره[۱] هم دا حکم فرمايلی وو .

قوله والمتعة الخ: که چيرې مهر مقرر نه وي او د وطي نه مخکې طلاق ورکړی شي نو ښځې ته به مُتعه يعنی قميص . څادر او لوپټه ورکړی کيږي د مُتعې دا مقدار د حضرت عائشې . ابن عباس رضي الله عنه. ابن المسيب. حَسن. عطاء او شعبي نه نقل دی[۲]، چې کوم زمونږ په نزد واجب ده د حق تعالی ارشاد دی.(او متعوهُن علی الموسع قدره[۳] و علی المُقتر قدره اهـ) د امام مالک په نزد مُتعه مستحب ده. ځکه چې الله تعالی دی نه تعبير په احسان سره کړی دی، مونږ دا وايو چې آيت کې متعوا أمر او کلموا د علی متاعًا مصدر مؤکد او لفظ د حقًا ټول په وجوب دلالت کوي لهذا په محسنين کې به تاويل کيږي. ای يقيمون الواجب ويزيدون علی ذلک احسانًا منهم **قوله والخَلْوَةُ الخ:** خلوت صحيحه (بغير د مانع نه تنهائي اختيار کول . په حکم د وطي کې دي. لکه څنګه چې په وطي سره مهر ثابتيږي او نان ونفقه اداء کول او عدت واجبيږي دغه رنګ په خلوت صحيحه سره دا ټول څيزونه لازميږي اګر که مقطوع الذکر يانا مردوي د نبي صلی الله عليه وسلم ارشاد دی چې (کوم سړی دخپلې ښځې لوپټه ښکاره کړه يا هغې طرف ته ئې نظر وکړو نو په هغه

---

(۱) ابوداؤد . ترمذي. نسائي . ابن ماجه. حاکم. بيهقي. احمد . ابن حبان. ابن ابي شيبه عن ابن مسعود ۱۲.

(۲) بيهقي عن ابن عباس ۱۲

(۳) او دوی ته يوه جوړه ورکړئ. په مالدار باندې دهغه د طاقت موافق او په غريب باندې دهغه د طاقت مطابق ده. جوړه ورکول د قاعدې موافق ۱۲

باندې مهر واجب شو دخول وي او که نه وي (۱) لیکن خلوت صحیحه لپاره موانع اربعه به نه وي ګني خلوت به صحیح نه وي (۱) مانع حسّي لکه یو کس چې بیمار وي (۲) مانع طبعي لکه د زوجینو مینځ کې د یو دریم عاقل سړی حائل کیدل (۳) مانع شرعي لکه د فرضي یا نفلي حج احرام وتړل (۴) شرعي او طبعي مانع لکه حیض او نفاس.

قوله وتستحبُ الخ: د مطلقي مفوّضي (چې د هغې نکاح بغیر د مهر نه شوی وي او مخکې د وطي نه طلاقه شوي وي) نه علاوه (۲) هر مطلقي ته متعه ورکول مستحب دي. او هغه درې دي (۱) مُطلقه موطوءة چې د هغې مهر تعین نه وي (۲) مُطلقه موطوءة چې مهر ئې معین وي (۳) مطلقه غیر موطوءة چې د هغې مهر معین وي محیط، مبسوط، حصر. او تاویلات ټولو کې دا دی، هم دا د صاحب تیسیر، صاحب کشاف او د صاحب مختلف روایت دی لیکن د قدوري او د تحفې په لحاظ سره دریم قسم مُطلقي ته متعه ورکول مستحب نه دي (بحرو کافي)

قول ویجبُ الخ: شغار دې ته وایې چې یو سړی د خپلې خور یا لور نکاح بل چا سره په دې شرط وکړي چې هغه سړی به د خپلې لور یا خور نکاح ما سره بغیر د مهر نه کوي، په دې کې زمونږ په نزد دواړه عقده صحیح دی، او په دوی کې هر یوې ته مهر مثل واجب دی، سوال: نبي صلی الله علیه وسلم خو د نکاح شغار نه منع کړي ده. نو بیا د صحت (۳) عقد څه مطلب شو؟ جواب ممانعت خو ځکه دی چې مهر پکې نه وي، اودلته چې مهر مثل واجب شو نو بیا شغار پاتې نه شو. امام شافعي رحمه الله فرمائي چې دواړه عقده باطل دي، مونږ وایو چې په دې کې داسې څیز مهر مقرر کیږي چې هغه د مهر ګرځیدو صلاحیت نه لري او په داسې صورت کې عقد باطل نه دی بلکه مهر مثل واجبیږي، لکه یو سړی په مهر کې شراب یا خنزیر مقرر کړي نو ددې تعین باطل دی او مهر مثل واجب دی.

قوله وخدمة زوجٍ الخ: که چیرې د خاوند مهر ټول کال د ښځې خدمت کول یا د قرآن تعلیم ورکول وګرځي نو خاوند به د ښځې خدمت نه کوي ځکه چې په دې کې قلب موضوع دی بلکه مهر

---

(۱) دارقطني ۱۲.
(۲) و اما اللمفوّضة فواجب و قد مرّ ۱۲.
(۳) صحاح ستّه عن ابن عمر ۱۲.

مثل به ورکړی کیږي. د امام شافعي رحمه الله په نزد مهر به هغه وي کوم چې مقرر شوی وي. د هغه په نزد قاعده دا ده چې په ذریعه د شرط سره کوم څیز عوض ګرځي هغه مهر هم ګرځي. مونږ دا وايو چې نکاح په ذریعه د مال سره طلب کول ضروري دی کما قال تعالی أحل لکم ما وراء ذلکم ان تبتغوا بأموالکم) او تعلیم د قرآن یا خدمت کول مال نه دی. لهٰذا په دواړو صورتونو کې مهل مثل واجب دی. البته که چیرې غلام د خپل آقا په حکم سره نکاح کړې وي او خدمت ئې مهر مقرر ګرځولی وي نو ښځه ترینه خدمت اخیستی شي ځکه چې ده د آقا په حکم سره نکاح کړې ده نو د ښځې خدمت کول لکه د آقا خدمت کول دي.

قوله ولو قبضت الخ: د خپل مهر زر روپۍ قبضه کړې او بیا ئې دغه درهم خاوند ته هبه کړې، خاوند قبل الوطي طلاق ورکړو نو خاوند به د ښځې نه نصف مهر واپس واخلي ځکه چې د طلاق قبل الوطي په صورت کې نصف مهر واجب دی. او ښځې پوره مهر واخیستو. پاتي شوی هغه زر روپۍ کوم چې ښځې خاوند ته هبه کړی وي نو د هغې اعتبار نشته، څه چې عقودو کې نقود نه متعین کیږي نو د خاوند چې کوم حق وه ، هغه بعینه هغه ته ونه رسیدو، او که چیرې ښځې دمهر قبضه کولو نه بغیر پوره یو زر روپۍ هبه کړي یا ئې نصف باندې قبضه وکړه او باقي ئې هبه کړي، یا مهر نقد نه وو، بلکه څه سامان وو او هغه ئې هبه کړو خواه که د قبضي نه مخکې ئې هبه کړی وي، یا د قبضي نه پس، بیا قبل الوطي طلاق واقع شو نو په دغه صورتونو کې خاوند ته په ښځه باندې د رجوع کولو حق نشته ځکه چې خاوند ته بعینه خپل حق ملاؤ شو.

قوله ولو نکحها الخ: یو سړي ښځې سره په عوض د زر روپو په دې شرط سره نکاح وکړه چې هغه به د وطن نه بهر نه بوځي یا د هغې ښځې په موجودګۍ کې به بله نکاح نه کوي، یا که په وطن کې ئې اوسیږي نو مهر به زر روپۍ وي، ګني مهر به دوه زره روپۍ وي نو په شرط پوره کیدو سره ښځې ته به زر روپې ملاویږي ځکه چې ښځه په مهر مسمّٰی سره راضي ده ،ګني مهر مثل به واجبیږي، ځکه چې ښځه د منفعت په فوت کیدو سره په مهر مسمّٰی باندې راضي نه ده، لیکن په آخري صورت کې به مهر مثل د زر روپو نه زیاتیږي نه او د زر روپو نه به کمیږي نه.

ولو نكحها على هٰذا العبدِ أو على هٰذا العبْدِ حُكِّم مهر المثل و على فرسٍ او حمارٍ
که چیرې نکاح ئې وکړه ښځې سره په دې غلام یا په دې غلام سره نو حکم به ګرځولی شي مهر مثل او په اس یا خر باندې نو

يَجِبُ الْوَسَطُ اَوْ قِيمَتُهُ وَعَلٰى ثَوْبٍ اَوْ خَمْرٍ اَوْ خِنْزِيرٍ اَوْ عَلٰى هٰذَا الْخَلِّ فَاِذَا هُوَ خَمْرٌ اَوْ عَلٰى هٰذَا
واجبيږي اوسط يا قيمت د هغې او په جامو باندې يا شرابو باندې يا خنزير باندې يا په دې سرکه باندې او هغه شراب وو، يا په دې غلام
الْعَبْدِ فَاِذَا هُوَ حُرٌّ يَجِبُ مَهْرُ الْمِثْلِ وَاِذَا اَمْهَرَ عَبْدَيْنِ وَاَحَدُهُمَا حُرٌّ فَمَهْرُهَا الْعَبْدُ وَ
باندې او هغه آزاد وو واجبيږي مهر مثل، او که چيرې مهر ئې وګرځولو دوه غلامان او يو يکې آزاد وو نو مهر د هغې غلام دی او
وَفِي النِّكَاحِ الْفَاسِدِ اِنَّمَا يَجِبُ مَهْرُ الْمِثْلِ بِالْوَطْيِ وَلَمْ يَزِدْ عَلَى الْمُسَمّٰى وَيَثْبُتُ النَّسَبُ وَالْعِدَّةُ وَمَهْرُ مِثْلِهَا يُعْتَبَرُ
په نکاح فاسده کې واجب دی مهر مثل په وطي سره او زياتي به نه کوي په مسمٰی باندې او ثابتيږي نسب او عدت او مهر مثل معتبر
بِقَوْمِ اَبِيهَا اِذَا اسْتَوَتَا سِنًّا وَجَمَالًا وَمَالًا وَبَلَدًا وَ
دي ، دښځې د پلار د قوم نه،چې کله دواړه برابر وي په عمر کې په حسن و جمال کې او په مال کې او په ښاريه کې او
عَصْرًا وَعَقْلًا وَدِيْنًا وَبَكَارَةً فَاِنْ لَمْ تُوْجَدْ فَمِنَ الْاَجَانِبِ وَ
په زمانه کې اوپه عقل کې او په دين کې او په پيغلتوب کې او که چيرې ونه موندی شي نوبيا د اجنبيانو نه معتبر دی، او
صَحَّ ضَمَانُ الْوَلِيِّ الْمَهْرَ وَتُطَالِبُ زَوْجَهَا اَوْ وَلِيَّهَا وَلَهَا مَنْعُهُ مِنَ الْوَطْيِ
صحيح دی ضامن کيدل د ولي مهر لره او مطالبه به کوي ښځه د خپل خاوند نه يادولی خپل نه او ښځې ته د منع کولو اختيار شته د وطي نه
وَالْاِخْرَاجِ لِلْمَهْرِ وَاِنْ وَطِئَهَا.
او دبهر بوتلونه لپاره د مهر که چيرې خاوند ورسره صحبت کړی وو.

(په کومو صورتونو کې چې مهر مثل واجبيږي)

(د هغې بيان)

د فقهي تشريح قوله ولو نكحها الخ: که چيرې نکاح ئې وکړه په دې غلام يعني مهر کې د دوو داسې څيزونو نوم واخيستو چې هغه قيمةً مختلف وي نو مهر مثل به ورکولی شي ، د صاحبينو په نزد چې کوم کم وي هغې به ورکړی کيږي ځکه چې چې متيقن دی،او که چيرې مهر کې ئې د يو حيوان نوم واخيستو او د هغې ئې صرف جنس بيان کړو نوعه ئې بيان نه کړه، مثلاً دا ووايي چې په اس باندې نکاح کوم نو خاوند ته اختيار دی که خوښه ئې شي نو درميانه قسم هغه ښاروي دې ورکړي او که خوښه ئې شي نو د هغې حيوان قيمت دې ورکړي او که چيرې مجهول الجنس وي مثلاً دا ووايي چې په کپړه باندې نکاح کوم يا څه حرام څيزئې مهر وګرځولو لکه شراب او خنزير

وغیره یا ئې مهر کې داسې یو څیز ته اشاره وکړه چې هغه مهر ګرځیدلی شي. او بیا هغه خلاف ظاهر شي. مثلاً یو سړي وویل چې زه تا سره په سرکه نکاح کوم او هغه شراب وو. یا ئې وویل چې زه تا سره په غلام نکاح کوم او هغه ازاد وو نو په دې صورتونو کې د امام صاحب په نزد تسمیه صحیح نه ده لهذا مهر مثل واجبیږي. **قوله واذا أمهر الخ** که چیرې مهر کې دوه غلامان مقرر شول حال دا چې په هغې کې یو ازاد وو نو په نزد د امام صاحب د ښځې هم هغه یو غلام به مهر وي. په شرط ددې چې هغه د اقل مهر برابر وي یعني د لسو درهمو برابر وي، مثلاً غلام د اووه درهمو دی نو درې درهمه به ورسره نور هم ورکړي چې لس درهمه شي. په نزد د امام ابویوسف مهر هم هغه غلام دی او د ازاد به قیمت وي یعنې دا به کتلی شي که چیرې دا غلام وي نو دده به څومره قیمت وي نو هغه قیمت به هم ورکیدلی شي

قوله وفي النكاح الفاسد الخ نکاح فاسد هغه ده چې په هغې کې د صحت د شرطونو نه یو شرط مفقود وي مثلاً د ښځې خاوند ایجاب قبول کول بغیر د ګواهانو نه په نکاح کې دوه خویندې جمع کول د یوې په عدت کې د بلې خور سره نکاح کول، د څلورمې ښځې په عدت کې پنځمې سره نکاح کول وغیره. دلته د نکاح فاسد درې احکام ذکر دي (۱) وجوب د مهر مثل، په دې شرط چې وطي شوې وي ځکه چې نکاح فاسد کې نفس عقد سره مهر نه واجبیږي.
بلکه بعضې نه منافع حاصلولو سره مهر واجبیږي، نو خلوت سره مهر نه واجبیږي. ځکه چې نکاح فاسد کې ښځې سره جماع کول حرام دي. نو ددې مانع شرعیه په وجه سره خلوت صحیح نه دی چې هغه د وطي قائم مقام وګرځولی شي. مهر مثل به د مهر مسمی نه زیات نه وي ځکه چې د مهر په قلت باندې ښځه پخپله راضي ده. تر دې که چیرې مهر مثل د مهر مسمی نه کم وو نو بیا هم مهر مثل لازم دی (۲) ثبوت د نسب. اګر که خاوند د هغې مدعي نه وي (۳) وجوب د عدت که چیرې خاوند د وطي نه پس نکاح فسخ کړي یا مړ شي نو په ښځه د طلاق عدت واجبیږي، یعنې درې حیضه یا درې میاشتې یا وضع د حمل

فائده: عقود فاسده یوویشت (۲۱) دي [۱] نکاح [۲] بیع فاسد، [۳] اجاره فاسده، [۴] رهن فاسده [۵] صلح فاسد [۶] هبه فاسده، [۷] قرض سد، [۸] مضاربة فاسده، [۹] کتابت فاسده، [۱۰] مزارعة فاسده [۱۱] صدقه فاسده، [۱۲] خلع فاسده، [۱۳] شرکت فاسده، [۱۴] سلم فاسده، [۱۵] کفاله فاسده، [۱۶] وکالت فاسده، [۱۷] وقف فاسده، [۱۸] اقاله فاسده، [۱۹] صرف فاسد، [۲۰] وصیت فاسد، [۲۱] قسمت فاسده ددې ټولو احکام قع نه موقع وړاندې راځي و قد نظم ابن العابدین فقال

عقود اتت احدى وعشرين قد ترى	فواسد فاحفظها تكن ذا جلالة
مضاربة بيع نكاح اجارة	مكاتبة رهن وصلح كفال
كذا هبة قرض وعلم وصية	مزارعة صرف ووقف اقالة
كذا سلم مع شركة ثم قسمة	كذا صدقات والعتام والوكالة

قوله و مهر مثلها الخ مهر مثل د ښځې د پلار د قوم د ښځو په لحاظ سره معتبر دى لكه پلار شريكې خويندې او د پلار خويندې، ځكه چې حضرت عبدالله بن مسعود رضى الله عنه فرمائي لها مهر مثل نساءها و هن اقارب الاب، او مماثلت په اتو صفتونه كې معتبر دى (۱) عمر كې (۲) حسن وجمال كې (۳) حالې كې (۴) په ښاريه كې (۵) په هم زمانه كې (۶) په عقل كې (۷) ديانت كې (۸) په باكره توب يا ثيبه توب كې، صاحب د تبيين په علم او ادب پاكيزه اخلاق او د عدم ولد څلورو صفتونو اضافه كړې دده. كه چيرې د ښځې د پلار په قوم كې دغه رنګ ښځه پيدا نه شي نو بيا د دغې صفتونو اجنبيه ښځې سره به د مهر مثل اعتبار كيدى شي په شرح مجمعه او برجندي كې دي كه چيرې ټول اوصاف مذكوره د پلار په قوم كې نه وي نو چې څومره موجودوي د هغې اعتبار به كيږي ځكه چې د دې ټولو صفتونو اجتماع په ښځو كې متعذره ده

قوله وصَحَّ الخ: په باب د نكاح كې ولي د ښځې د مهر ضامن كيدى شي اګر كه ولي پخپله عاقد وي خواه كه هغه د خاوند ولي وي يا د ښځې دا رنګه كه زوجين ماشومان وي او ځوانان، وجه دا ده چې په باب د نكاح كې ولي عاقد سفير محض دى، د نكاح د حقوقو رجع هغه طرف ته نه كيږي ، تر دې چې شخص واحد عاقد او ضامن لازميږي په خلاف د عقد بيع نه چې په هغې كې ولي عاقد او مباشر وي نو په دې كې د ولي عاقد او ضامن كيدل صحيح نه دي، ليكن د ضمان صحت لپاره دوه شرطونه دي

(۱) دا چې ولي د خپل صحت په حالت كې ضامن وي نو كه چيرې مرض موت كې ضامن شو نو دا نه صحيح كيږي

(۲) دويم دا چې كه چيرته ښځه بالغه وي نو هغه پخپله په مجلس د ضمان كې د ولي ضمانت قبلوي او كه چيرې صغيره وه نو د هغې يو ولي به په مجلس ضمان كې ضمانت د ولي قبلوي دي شرطونو سره ضمانت كيدونه پس ښځې ته اختيار دى كه خوښه ئې شي د ولي ضامن نه دې د مهر مطالبه وكړي او كه خوښه ئې شي نو خاوند نه دې وكړي ليكن كه چيرې خاوند نابالغ وي نو مطالبه به صرف د ولي نه كيږي نه چې د خاوند نه بيا كه چيرې ولي د خاوند په حكم سره ضامن شوى وي او

هغه مهر د خپل طرف نه ادا كړې وي نو هغه به ئې دخاوند نه وصول كړي او كه چيرې بغير د حكم د خاوند نه ضامن وي نو بيا د خاوند نه دوصول كولو حقدار نه دى.

قوله ولها منعهُ الخ ښځه د خپل مهر معجل اخيستو په لحاظ سره خاوند د وطي او دواعي دوطي يعني خكلول وغيره او ځان سره ئې په سفر كې د بوتلو نه منع كولى شي، اګر كه دې نه مخكې د ښځې په رضا سره يو ځل وطي شوى وي، د صاحبينو په نزد په رضا سره وطي كولو نه پس ښځې ته منع كولو حق نشته.

هغوى فرمائي چې يو ځل وطي كولو سره پوره معقود عليه خاوند ته حواله شو هم دا وجه ده چې وطي نه پس پوره مهر ثابتيږي لهذا ښځې ته د منع كولو حق نشته. امام صاحب دا فرمائي چې وطي مستقل تصرف دى، او د هر يو وطي په مقابله كې جدا جدا مهر لازم دى، نو دبعضې معقود عليه په حواله كولو سره د باقي حواله كول په هغې لازم نه دي.

ولو اختلف في قدرِ المهرِ حُكِّمِ مهرِ المثلِ و المتعةُ لو طلقها قبلَ
كه چيرې اختلاف وكړو ښځې خاوند په اندازه د مهر كې نو حكم به جوړيږي مهر مثل، او متعه ده كه چيرې طلاق ني وركړو مخكې
الوطئ و لو في اصلِ المسمّى يجبُ مهرُ المثلِ و ان مَاتَا و لو في القدرِ
وطي نه او كه چيرې اختلاف پيدا په اصل مسمى كې نو واجب دى مهر مثل، او كه چيرې ښځه خاوند مړه شول او اختلاف اګر كه په مقدار د
فالقولُ لورثته ومن بعث الى امرأته شيئًا فقالتْ هو هَدِيةٌ وقال
مهر كې وي نو قول د خاوند د وارثانو معتبر دى، او چا چې خپلې ښځې ته څه څيز وليږلو او ښځې وويل چې دا هديه وه، او خاوندوويل
هو من المهرِ فالقولُ له في غيرِ المهيأ لِلاكلِ و لو نكح ذميّةً
چې دا مهر وو نو قول د خاوند معتبر دى، كه چيرې دغه څيز د خوراک لپاره نه وو تيار شوى او كه چيرې نكاح وكړه ذمي د
بميتةٍ او بغيرِ مهرٍ و ذا جائزٌ عندهم فَوُطِئَتْ أو طُلِّقَتْ قبلَهُ
د ذميې سره په مرداري سره يا بغير د مهر نه او دا جائز وو ددوى په نزد بيا هغې سره وطي وشوه يا طلاقه شوه مخكې د وطي
او مَاتَ عنها فلا مهرَ لها و كذا الحربيّانِ ثمّهْ ولو تزوّجَ ذِمّيٌّ
نه يا خاوند مړ شونو ښځې لپاره مهر نشته، او هم دا حكم د دوو حربيانو دى چې دارحرب كې كه چيرې نكاح وكړه ذمي سړي
ذِمّيّةً بخمرٍ او خنزيرٍ عَيْنٍ فَأسْلَمَا او اَسْلَمَ اَحَدُهُمَا لها الخمرُ والخنزيرُ
ذميې ښځې سره په شرابو يا معين خنزير سره بيا دواړه مسلمان شول يا يو د هغوى نه مسلمان شو نو ښځې لپاره شراب او خنزير

وَفِي غَيْرِ الْعَيْنِ لَهَا قِيمَةُ الْخَمْرِ وَمَهْرُ الْمِثْلِ فِي الْخِنْزِيرِ.


دي ،اوپه غير معين صورت کې ښځې لپاره قيمت د شرابو دی، او مهر مثل په صورت دخنزير کې دی.

(د مهر په مقدار کې دښځې خاوند اختلاف)

د فقهي تشريح: قوله ولواختلف الخ: که چيرې دمهر په سلسلې کې اختلاف پيدا شي نو د هغې څو صورتونه دي، اختلاف به دزوجينو په ژوند کې وي يا بعد الممات، د يو تن د مرګ نه پس به وي يا به د دواړو د مرګ نه پس بهر تقدير اختلاف به دمهر په مقدار کې وي، يا به په اصل مهر کې ، بهر صورت اختلاف به په حالت د قيام د نکاح کې وي يا به پس د طلاق نه وي. طلاق به قبل الدخول وي يا بعد الدخول نو که چيرې اختلاف دزوجينو د مهر په مقدار کې په حالت د قيام د نکاح کې وي نو د طرفينو په نزد مهر مثل به حکم جوړيدی شي او ظاهر حال چې د چا لپاره شاهد وي د هغه قول به معتبر وي يعنې که چيرې مهر مثل د خاوند د دعوی مطابق وي يا کم وي نو قول د خاوند معتبر سره دقسم نه. او که چيرې دښځې د دعوې موافق وي يا د هغې نه زيات وي نو د هغې قول معتبر سره د قسم نه او که چيرې په دوی کې يو تن بينه پيش کړه نو بينه به قبلولی شي که چيرې مهل مثل د ښځې موافق وو ځکه چې مشروعيت د ګواهانو خلاف ظاهر ثابتولو لپاره دی او خلاف ظاهر دعوی د هغه چا ده چې مهر مثل د هغه موافق نه وي او که چيرې مهر مثل د دواړو دعوو په مينځ کې وو نو دواړه به قسم خوري او فيصله به په مهر مثل کيږي. په نيزد امام ابويوسف رحمه الله بناء په هر تقدير قول د سړي سره د قسم نه معتبر دی، او که چيرې د ښځې خاوند اختلاف په مقدار کې د مهر مخکې ددخول نه او پس د طلاق وي نو متعه به ورکولی شي يعنې متعه مثل د چا د دعوی مطابق وه هم د هغه قول به معتبر وي سره دقسم نه. په دې شرط چې مهر مسمی دين وي يعنې درهم يا دينار وي او که چيرې مهر مسمی عين وو، يعنې مثلي او قيمتي څيز وو نو بغير د تحکيم نه به متعه ورکړی کيږي او که چيرې څوک ګواهان قائم کړي نو بناء بر تفصيل مذکوره ګواهان به قبول وي. په نيزد د امام ابويوسف دلته کې هم قول دخاوند معتبر دی البته که هغه چيرې د مهر دومره کم مقدار ذکر کړي چې هغه مهر متعارف نه ګرځي او که چيرې اختلاف په حالت د حيات کې په اصل مهر کې وي نو په اتفاق د ائمه ثلاثه مهر مثل دی، او که چيرې زوجين کې د يو تن د مرګ نه پس اختلاف وي خواه که په اصل مهر کې اختلاف وي يا ئې په مقدار د هغې کې نو ددې حکم هم هغه دی چې کوم د زوجينو د حيات په صورت کې د اختلاف

کوم حکم ذکر شو، ځکه چې د یو تن په مرګ سره مهر مثل نه ساقطیږي او که چیرې اختلاف اختلاف دزوجینو د مرګ نه پس د مهر په مقدار کې وي نو د امام صاحب په نزدد خاوند د وارثانو قول سره د قسم نه معتبر دی، د قلیل او کثیر هیڅ استثناء نشته. او د امام ابویوسف په نزد قول د خاوند دوارثانو معتبر دی خو د قلیل استثناء شته دی یعنې که چیرې وارثان دومره کم مقدار ذکر کړي چې هغه په عرف کې مهر نه ګرځي نو هغه به نشي قبلیدی او په نزد د امام احمد مهر مثل واجبیږي. لکه ځنګه چې په حالت د حیات د زوجینو کې په وخت د اختلاف کې مهر مثل واجبیږي او که چیرې اختلاف په اصل مهر کې وو نو په نزد د امام صاحب قول د منکر د تسمیې معتبر دی لیکن د خاوند د وارثانو. لیکن ځو پورې چې په مهر مسمی باندې ګواهان قائم نه شي هغه وخته پورې هیڅ فیصله به نه کیږي ځکه چې د زوجینو دوفات نه پس د امام صاحب په نزد د مهر مثل حکم نشي کیدی، او په نزد د صاحبینو فیصله به په مهر مثل سره کیږي امام شافعی، او امام احمد هم ددې قائل دي، او هم په دې فتوی ده ، ددې ټولو صورتونو او دپوره اختلاف تفصیل دې نقشې نه ذهن کې کینوی.

نقش په بل مخ وګورئ:


(مَهرکښې دَ زوجینو دَ اختلاف نقشه)
دَ زوجینو په حیات کښې به وی
یا دَ مرګ نه پس به وی
په حالت دَ قیام دَ نکاح کښې به وی
یا طلاق نه پس به وی
دَ یو تن دَ وفات نه پس وی
یا دَ دواړو دَ مرګ نه پس
قبل از دخول به وی
یا بعد از دخول
قبل از دخول به وی
یا بعد از دخول
په اصل مهر کښې به وی
یا به په مقدار کښې
اصل مهر کښې به وی
یا په مقدار کښې
مقدار کښې به وی
یا اصل مهر کښې
اصل مهر کښې به وی
یا مقدار کښې
یا مقدار کښې
یا اصل مهر کښې
اصل مهر کښې به وی یا مقدار کښې
په اتفاق مهر مثل دے
په اتفاق مهر مثل دے
دَ طرفینو په نزد مهر مثل به حکم جوړولے شی
دَ طرفینو په نزد مهر مثل به حکم کړے شی
دَ امام ابو یوسفؒ په نزد قول دَ خاوند معتبر دے.
دَ امام ابو یوسفؒ دَ خاوند قول معتبر دے.
دَ امام صاحب په نزد دَ منکر تسمیه یعنی دَ خاوند دَ وارثانو قول معتبر دے.
دَ طرفینو په نزد متعه به حکم کړے شی او په نزد دَ امام ابو یوسفؒ با ستثناء قلیل دَ خاوند قول معتبر دے.
او دَ صاحبینو په نزد مهر مثل دے، دَ امام صاحبؒ په نزد بغیر دَ استثناء دَ قلیل او کثیر نه او په نزد دَ امام ابو یوسف سره دَ قلیل او کثیر نه او په نزد دَ امام ابو یوسف سره د استثناء دَ قلیل نه دَ زوج دَ ورثه قول معتبر دے او په نزد دَ امام محمدؒ مهر مثل واجبیږی.

قوله ومن بعث الخ: خاوند ښځې ته څه څیز ولیږلو او د ورکولو په وخت کې هیڅ بیان ونه کړو چې آیا دغه څیز دمهر په عوض کې دی یا که هبه ده، دې نه پس زوجینو کې اختلاف شو ښځې وویل چې دغه څیز تا بطور تحفه او هدیه رالیږلی وو، خاوند وویل چې هغه په عوض د مهر کې وو نو په دې صورت کې د خاوند قول معتبر دی خو په شرط ددې چې دغه څیز عادةً د خوراک څښاک لپاره تیار شوی نه وي لکه غنم، وربشې، ژوندی چیلئ، غوړي او شهد وغیره ځکه چې خاوند مالک جوړونکی، پس جهت تملیک نه به هغه ښه خبر وي، او که چیرې دغه څیز عادةً خوراک څښاک لپاره تیار شوی وي لکه روټئ، اوریته غوښه وغیره نو په دې صورت کې دښځې قول معتبر دی، ځکه چې دې وخت کې ظاهر حال د ښځې شاهد دی.

قوله ولو تزوج ذمیٌّ الخ یو ذمي سړي د ذمیې ښځې سره نکاح وکړه او مهر کې ئې داسې یو څیز مقرر کړو چې د هغوی په نزد مال وو اوزمونږ په نزد مال نه وو نو دغه څیز مقرر کول صحیح دي اوښځي ته به هغه څیز ملاویږي چې کوم مقرر شوی دی، نو که چیرې ښځې په هغه قبضه وکړه نو قبضه ئې صحیح ده او که چیرې قبضه ئې پرې نه وه کړې چې دې دواړو یا یو تن پکې اسلام راوړونو اوس به کتلې شي چې مقرر شوی شی معین دی که غیر معین، که چیرې معین وو مثلاً شراب یا خنزیر یو طرف ته ئې اشاره وکړه چې زه په دې سره نکاح کول غواړم نو هغه به په عوض دشرابو یا د خنزیر کې ورکړی کیږي، او که چیرې غیر معین وي نو په صورت د شرابو کې د هغې او په صورت دخنزیر کې به مهر مثل ورکړی کیږي په نزد د امام ابویوسف رحمه الله په دواړو صورتونو کې به مهر مثل ورکړی کیږي. او په نزد دامام محمد رحمه الله د هغې قیمت به ورکړی کیږي.

بَابُ نکاحِ الرّقیقِ
باب دی په بیان د نکاح د غلام کې
لم یَجُز نکاحُ العَبْدِ و الأمَةِ والمکاتبِ و المُدَبَّرِ و اُمِّ الولدِ اِلّا باذن السّیِّدِ فلو نَکَحَ عبدٌ
نه ده جائز نکاح د غلام وینځې او دمکاتب او د مدبر او د ام ولدې مگر په اجازت د آقا سره. که چیرې نکاح وکړه غلام په اجازت د
باذنه بِیْعَ فِیْ مَهْرِهَا وَ سَعَی المُدبَّر و المکاتبُ و لم یُبَعْ فِیْهِ وَ طَلِّقْهَا
آقا سره نو خرڅولی به شي په مهر دښځې کې، او سعي به کوي مدبر او مکاتب او نشي خرڅیدلی دوی په دې کې او د اقا دلوینا چې دې ښځې

رجعية اِجَازَةٌ لِلنِّكَاحِ الموقوفِ لا طَلِّقْهَا او فَارِقْهَا و الاِذْنُ بِالنِّكَاحِ يتناولُ الفاسِدَ
ته دي طلاق رجعي ورکړه دا اجازت دی، نه دا قول د آقا چې طلاق ورکړه یا ئې جدا کړه، او اجازت د نکاح ورکول شامليږي نکاح فاسدې
ايضًا و لو زوّجَ عَبْدًا ماذونًا له امراَةً صحّ و هى اُسْوَةٌ لِلغُرمَاءِ فى مهرِ هَا و مَنْ
ته هم او که چيرې نکاح وکړه عبد ماذون د يوې ښځې سره نو صحيح ده، او دا برابره حقداره ده د قرض خواهانو سره په حق مهر کې، او چا چې
زوّجَ اَمَتَهُ لا يجبُ عليهِ تَبْوِيتُهَا فتَخدِمهُ و يطاَءهَا الزوجُ
په نکاح ورکړه خپله وينځه نو نه ده واجب په ده باندې شپه تيرول په هغې باندې خاوند سره، نو خدمت به کوي د آقا او وطي به ورسره
ان ظَفِرَهَا و له اِجبَارُهُمَا عَلَى النّكَاحِ وَ يَسقُطُ المهرُ بقتلِ السيّدِ اَمَتَهُ
خاوند کوي که موقع ئې پيا مونده، او اقا دوی دواړو له مجبوره کولی شي په نکاح کولو باندې او ساقطيږي مهر په وژلو د آقا خپلې ښځې
قبل الوطيِ لا بقتلِ الحرّةِ نفسَهَا قبلهُ وَ الاِذنُ فى العَزلِ لسَيّدِ الامَةِ
له مخکې د وطي نه، او نه ساقطيږي په وژلو د ازادې ښځې ځان له مخکې د وطي نه، او اجازت نه په سلسله د عزل کولو کې لپاره وينځې د آقا دی

د لغت وضاحت: **رقيقٍ** غلام **عبدٌ ماذون:** هغه غلام چې هغه ته د آقا د طرف نه د اخيستلو خرڅولو اجازت حاصل وي. **اِسْوَةٌ** برابر حقدار. **غُرماء:** جمع د غريمٌ ده قرض خواهان. **تبويتٌ** شپه پرې کول. **ظَفرٌ** کاميابي حاصلول. **عزلٌ** د فرج نه بهر انزال کول.

د فقهي تشريح: **قوله بابٌ الخ:** د نکاح د اهل خلکو د نکاح د احکامو بيان نه پس د هغې خلکو د نکاح احکام بيانوي چې په هغوی کې د نکاح اهليت نشته. لکه وينځه، غلام وغيره دا رنګ که چيرې يوه ښځه نکاح وکړي او نکاح کې مهر غلام مقرر کړي نو غلام مهر جوړيدی شي په دې لحاظ سره باب المهر سره ئې مناسبت بالکل ښکاره دی.

قوله لم يجز الخ: عدم جواز نه مراد عدم نفاذ دی يعني زمونږ په نزد غلام وينځه، مکاتب، مدبر او د ام ولدې نکاح د هغوی د آقا اجازت نه بغير نه نافذ کيږي په اجازت د آقا موقوف ده. په نزد د امام مالک د غلام نکاح جائز ده هغه دا فرمائي چې کله غلام د طلاق مالک دی نو د نکاح هم مالک کيدی شي زمونږ دليل د نبي صلى الله عليه وسلم ارشاد دی چې کوم غلام د خپل آقا دا

جازت نه بغیر نکاح وکړي نو هغه عاهر یعنې زاني دی[۱].

قوله طلقها الخ: یو غلام د خپل آقا د اجازت نه بغیر نکاح وکړه آقا غلام ته وویل ، دي ته طلاق رجعي ورکړه نو د اقا دا قول دغه موقوف نکاح جائز یعنې نافذ کول دي، ځکه چې طلاق رجعي بغیر د نکاح صحیح نه نشي کیدی، او که چیرې آقا ورته وویل چې دې ته طلاق ورکړه یا ئې پریږده نو دا د نکاح اجازت نه دی ، ځکه دې کې احتمال شته چې ددې مقصد عقد نکاح رد کول دي، لهذا په عدم اجازت به حمل کیږي.

قوله والاذنُ بالنكاح الخ د آقا خپل غلام ته د نکاح اجازت ورکول نکاح صحیح او نکاح فاسد دواړو ته شامل دي، نو که چیرې غلام یو ښځې سره نکاح فاسد وکړه او وطي ئې هم ورسره وکړه نو غلام به د مهر په سلسله کې خرڅولی شي،د صاحبینو په نزد اجازت مذکوره کې نکاح فاسد نه داخلیږي، لهذا غلام به نشي خرڅولی، بلکه په ده به مهر ازادیدو نه پس لازمیږي ځکه چې د نکاح مقصد په لحاظ د مستقبل سره عفت او پاکدامني ده. او دا څیز په نکاح صحیح سره حاصلیدی شي. امام صاحب دا فرمائي چې هر کله د آقا په کلام کې لفظ دتزوج مطلق دی نو هغه به په خپل اطلاق جاری کیږي پاتې شوه د مقصد خبره نو ډیر مقاصد په فاسد سره حاصلیږي مثلا ثبوت د نسب ،وجوب دمهرو وجوب د عدت (علی اعتبار الوجود).

قوله ولو زوّج عبدًا الخ: که چیرې آقا خپل ماذون فی التجارة او مقروض غلام ته نکاح وکړه نو نکاح صحیح ده، اوس ښځه د نورو قرض خواهانو سره برابره ده. لکه څنګه چې نور قرض خواهان د غلام دمزدورې نه حصه اخیستی شي ، دغه رنګ به دا ښځه هم حصه اخلي.لیکن دا په هغه وخت کې چې کله ئې په مهر مثل یا د هغې نه په کم ئې نکاح کړې وي، او که چیرې مهر مثل نه ئې په زیات باندې نکاح کړي وه نو په دې صورت کې ښځه د مهر مثل نه زیاته مطالبه هغه وخت به کوي کله چې د قرض خواهانو قرض خلاص شي.

قوله ولو زوّج عبدًا الخ که چیرې آقا خپل ماذون فی التجارة او مقروض غلام ته نکاح وکړه نو نکاح صحیح ده، اوس ښځه د نورو قرض خواهانو سره برابره ده، لکه څنګه چې نور قرض خواهان د غلام د مزدورې نه حصه اخیستی شي. دغه رنګه به دا ښځه هم حصه اخلي لیکن دا په هغه

---

(۱) ترمذي. حاکم عن جابر. ابن ماجه عن ابن عمر مرفوفًا (فی معناه) عبدالرزاق موقوفًا و هو الصّواب ۱۲.

وخت کې چې کله ئې په مهر مثل یا د هغې نه په کم ئې نکاح کړي وي او که چیرې مهر مثل نه ئې په زیات باندې نکاح کړي وه نو په دې صورت کې ښځه د مهر مثل نه زیاته مطالبه هغه وخت به کوي کله چې د قرض خواهانو قرض خلاص شي.

قوله و من زوّج الخ: آقا د خپلې وینځې نکاح وکړه خواه که هغه ئې اُم ولده وي یا ئې مُدبره وي نو په آقا باندې د خاوند په کور کې په وینځه شپه تیرول لازم نه دي بلکه هغه به د خپل آقا خدمت کوي او کله چې خاوند ته موقع ملاویږي نو وطي دې ورسره کوي، وجه دا ده چې د آقا حق دخاوند د حق نه قوي دی، ځکه چې آقا د هغې د ذات او د هغې دمنافعو د دواړو مالک دی نو که چیرې شب باشي لازمه کړی شي نو د آقا حق باطلیږي.

قوله و یَسقُطُ الخ: آقا د خپلې وینځې نکاح و کړه او دهغې خاوند ورسره وطي (خلوت صحیحه) نه وه کړې چې آقا وینځه قتل کړه نو خاوند مهر ساقط شو دصاحبینو په نزد مهر نه ساقطیږي، بلکه په خاوند باندې د آقا لپاره مهر واجب دی ځکه چې اهل حق وائي چې مقتول په خپل مرګ مري، نو داسې شوه چې هغه لره څوک اجنبي قتل کړي نو په هغې سره مهر نه ساقطیږي، د امام صاحب دلیل دادی، چې آقا معقودٌ علیه مخکې د تقررئ نه هلاک کړو دې وجې نه په خاوند آقا لپاره مهر نه واجبیږي او سرې په خپل مرګ مري لیکن د بل چا قتل کول د دنیا د احکامو په لحاظ سره اتلاف شمار کیږي هم دغه وجه ده چې په قاتل قصاص او دیت لازمیږي، نو په وجوب دمهر کې هم دغه به اتلاف شمار کیږي او که چیرې ښځې قبل الوطي خپل ځان اووژلو نو په اتفاق سره مهر نه ساقطیږي، ځکه چې د انسان په خپل ځان باندې جنایت کول د دنیوي احکامو په حق کې معتبر نه وي.

قوله و الاذنُ الخ: یو سړي وینځې سره نکاح وکړه، نو اوس هغه عزل کولی شي کنه؟ د دې اختیار دوینځې آقا ته حاصل دی، نه چې وینځې ته، صاحبینو نه یو روایت دی چې د دې اختیار وینځې سره دی ځکه چې وطي د هغې حق دی، تر دې چې هغې ته دمطالبې حق شته دی او په عزل کې د هغې تنقیص دی لهٰذا د هغې رضا شرط ده، لکه حُرة سره عزل کولو د هغې رضا شرط ده، ظاهر الروایة دا دی چې د بچې حق د مولی دی او عزل مخل بالمقصود ، لهٰذا د آقا رضا به معتبره وي، دې تعلیل نه معلومه چې وینځه به بالغه وي، نابالغې سره عزل کولو کې د آقا اجازت ضروري نه دی، ځکه چې د نابالغې ماشوم نه کیږي، تأمل و تدبّر.

و لو أُعتِقَتْ امةٌ او مكاتبةٌ خُيِّرَتْ ولو زوجُهَا حرًّا ولو نكحتْ بلا ذنٍ
كه چيرې آزاده كړې شوه وينځه يا مكاتبه نو اختيار به وركړې كيږي اګر كه خاوند ئې آزاد وي او كه چيرې نكاح ئې وكړه بغير د اذن
فعُتقتْ نَفَذَ بلا خيارٍ فلو وطِئَ قبلهُ فالمهرُ لهُ و الّا فلها
نه بيا آزاده شوه نو نكاح نافذ ده بغير د خيار نه، كه چيرې وطي كړې وي مخكې ددې نه نو مهر به د آقا وي كنې وينځې ته به ملاويږي
و مَنْ وطِئَ امةَ اِبْنه فولدَتْ فالدَّعاه ثَبتَ نسبهُ منه وصَارتْ
او هغه چا چې وطي ئې وكړه وينځه د خوى خپل او د هغې ولد وشو او پلار ئې د هغې دعوىٰ وكړه نو ثابتيږي نسب د هغه نه، او كرځي
أُمَّ ولدِه و عليه قيمتُها لا عقرهَا و قيمةُ ولدِهَا ودعوةُ الجدِّ كدعوةِ الاَبِ
د هغه أم ولده، او په هغه باندې قيمت د هغې دى نه مهر د هغې، او قيمت د بچي د هغې، او دعوىٰ دنيكه په شان د دعوىٰ دپلار
حَالَ عدمِه و لو زوّجها اباه وَولدَتْ لم تصِرْ أُمّ ولدِه ويجبُ
ده په وخت دعدم د پلار كې او كه چيرې خوى په نكاح وركړه پلار ته او بيا ئې بچي وشو نو د هغه ام ولده نه كرځي اوواجب
المهرُ لا القيمةُ وَولدُها حرٌّ حرّةٌ قالتْ لِسيّدِ زوجِهَا اَعْتِقْه عَنِّي بالفٍ
كيزې مهر نه قيمت، او بچى ئې آزاد دى، يو ازادې ښځې دخپل خاوند آقا ته وويل چې دى زما د طرف نه په عوض زر روپو كې آزاد
ففعَلَ فسَدَ النِكاحُ ولو لم تقُلْ بالفٍ لا يفسدُ والولاءُ لهُ.
كړه نو هغه دغه شان وكړه نو نكاح فاسد ده، او كه چيرې ښځې بالف ونه ويل نو بيا نكاح نه فاسديږي، اوولاء د آقا لپاره ده

د فقهي تشريح : **قوله لو اعتقت الخ:** يوې وينځې چا سره نكاح وكړه، آقا هغې لره آزاده كړه نووينځې په نكاح باقي ساتلو كې اختيار دى، خواه كه وينځه وي يا مكاتبه وي. نكاح ئې په رضا سره كړې وي او كه بغير د رضا نه، خاوند ئې آزاد وي او كه غلام، حضرت طاؤس، حسن، ابن سيرين، شعبي، مجاهد ټولو نه دا نقل دي. امام شافعي رحمه الله فرمائي چې كه خاوند ئې آزاد وي نو بيا ورته اختيار نشته ليكن دا قول محجوج الحديث دى ځكه چې كله حضرت بريده آزاده شوه نو نبي صلى الله عليه وسلم ورته فرمايلي وو(قد اعتق بضعک معک فاختارى.) (دارقطني عن عائشة، ابن سعد فى ترجمة بريدة) په دې كې ملك بضعي سره تعليل مُطلق دي نو خاوند آزادوي او كه غلام دواړو صورتونو ته شامل دى.

سوال: نبي صلی الله علیه وسلم حضرت بریرة ﷺ ته چې کوم اختیار ورکړی وو هغه خو ځکه وو چې د هغې خاوند غلام وو لکه څنګه چې د روایاتو نه ثابته ده. (ائمه سته غیر مسلم عن ابن عباس، مسلم، ابوداؤد، نسائی عن عائشة، بیهقي عن صفیة) جواب: روایاتو نه د هغې دخاوند آزادوالی هم ثابت دي، کله چې روایات متعارض شي نو د تطبیق صورت به پیدا کولی شي. او هغه دا چې کله حضرت بریره ﷺ ته اختیار ملاؤ شو نو دغه وخت کې د هغې خاوند آزاد وو او دې نه مخکې غلام وو، او که چیرې دا ومنلی شي چې هغه غلام وو نو بیا هم د اختیار نفي نه کیږي، ځکه چې حدیث نه دا ثابت نه دی چې نبي صلی الله علیه وسلم اختیار ځکه ورکړی وو چې د هغې خاوند غلام وو. سوال: د مسلم او ابوداؤد په یو روایت کې تصریح ده چې (لو کان حُرًّا لم یخیرها) جواب دا د حدیث الفاظ نه دی، بلکه دا د حضرت عروه الفاظ دي، لکه چې د نسائی او ابن حبان په روایت کې ددې تصریح موجود ده (آئمه سته عن عائشة رضـ علاوه ددې نه ابن حزم د حضرت عروه نه ددې خلاف روایت کړی دی فانه روی عن هشام بن عروه عن ابیه عن عائشة قالت (کَانَ زَوْجُ بریرة حُرًّا)

قوله و لونکحت الخ: که چیرې وینځې د آقا د اجازت نه بغیر نکاح وکړه. بیا هغه آزاده شوه نو د هغې نکاح نافذ کیږي او دفسخ د نکاح اختیار ورته نشته. د نکاح نفاذ دې وجې نه دی چې وینځه کې د نکاح اهلیت شته دی، قصور صرف دومره دی چې د حق مولی په بناء د هغې نکاح نه نافذ کیږي. او چې کله هغه آزاده شوه نو حق د مولی ختم شو. لهٰذا نکاح نافذ کیږي، او عدم خیار دی دې وجې نه دی چې ددې نکاح پس د آزادئ نه نافذ شوې ده. نو خاوند ته په ملکیت د طلاق کې زیات حق نشته، یعني رومبنی صورت کې وینځې ته اختیار ځکه وو چې هغه د آزادئ نه مخکې صرف د دوو طلاقو محل وو او آزادیدو نه پس دهغې خاوند ته د یو زیاتي طلاق حاصلیدو. او دلته دا صورت نشته، لهٰذا وینځه به په نکاح فتح کولو کې اختیار منده نه وی بیا که چیرې خاوند د هغې د آزادیدو نه مخکې وطي کړې وي نو مهر مسمیٰ به آقا ته ملاویږي. ځکه چې ده د آقا دمملوکي نه نفع حاصله کړې ده. او که چیرې آزادیدو نه پس ئې وطي کړی وي نو مهر به ښځې ته ملاویږي.

قوله ومن وطئ الخ: یو سړي د خپل ځوئ وینځې سره جماع وکړه، او هغه حامله شوه، بیا ئې ماشوم هم وشو. او پلار ئې دماشوم دعوه هم وکړه نو پلار نه نسب ثابتیږي او وینځه د هغه أم ولده شوه، په دې شرط چې دوطي دوخت نه تر وخت د دعوې پورې په وینځه باندې د ځوی ملکیت وي وجه دا ده چې پلار په وخت د ضرورت کې د ځوي د مال مالک کیدی شي، حدیث کې دي (أنتَ و مالک لابیکَ) او دانسان نُطفه د هغه جُزء دی، چې د هغې حفاظت پکار دی، په دې ضرورت سره پلار د ځوئ د مال مالک گرځي، او وینځه د هغه أُم ولده شوه. بیا زمونږ په نزد پلار باندې صرف د وینځې قیمت واجبیږي مهر او قیمت د بچي نه دی واجب. په نزد دامام شافعي رحمه الله او امام زفر رحمه الله مهر واجبیږي.

فائده: د دې مسئلې شپږ نوي صورتونه دي ځکه چې کله د پلار په وطي سره دوینځې ماشوم وشو او پلار ئې دعوی وکړه نو د هغې څلور صورتونه دي (۱) ځوی، به د پلار تصدیق کوي یا به (۲) تکذیب کوي، یا به د پلار سره ځوی هم (۳) دعوی کوي یا به (۴) خاموش پاتي کیږي، بیا د هر یو څلور صورتونه دي یا به موطوءة (۱) وینځه وي یا به (۲) مدبره وي، یا به (۳) أُم ولده وي یا به (۴) مکاتبه وي، په دې شپاړس صورتونو کې د هر یو بیا درې صورتونه دي، ځوئ به د ټولې وینځې (۱) مالک وي یا ده سره چیرته بل (۲) اجنبي شریک وي یا به وینځه د ځوئ او پلار مینځ کې (۳) شریکه وي په دې اته څلویښت صورتونو کې د هر یو بیا دوه صورتونه دي. یا به پلار دولایت کامل اهل وي یا به نه وي د دې ټولو صورتونو نقشه لاندې ورکړی شوې ده. احکامو لپاره مطولاتو ته رجوع وکړی.

- پلار کې به د ولایت اهلیت وي
  - خوی به د کل وینځې مالک وي
  - یا به ورسره څوک اجنبي وي
  - یا به پلار خوی شریک وي
    - موطوءة وینځه به وي
    - یا به ام ولده وي
    - یا مدبره
    - یا مکاتبه
      - خوی به تصدیق کوي
      - یاتکذیب
      - یا به خوی هم دعوی کوي
      - یا به خاموش وي
        - وینځې سره د پلار د وطي کولو سره ماشوم پیدا شو او پلار یې دعوی وکړه نو د هغې شپږ نوي صورتونه دي
- یا به نه وي

قوله ولوزوّجها الخ: که چیرې ځوئ دخپلې وینځې نکاح د پلار سره وکړه او هغې نه بچی پیدا شو نو وینځه د پلار اُم ولده نه ګرځي. ځکه چې دا بچی دنکاح په ذریعې سره پیدا شوی دی نه په ذریعه د ملک سره ځکه چې کله ځوی هر حیثیت سره مالک دی نو من وجه د پلار ملکیت محال دی ، او هر کله چې اُم ولده نه شوه نو دنکاح د لزوم په وجه سره صرف پلار باندې مهر واجب دی. د ماشوم قیمت نه دی واجب. او ماشوم به آزاد وي ځکه چې دده رور دده مالک شو او د قرابت په وجه سره مملوک آزادیږي.

قوله حُرّة الخ : یوه آزاده ښځه د غلام په نکاح کې وه، هغې دخپل خاوند آقا ته وویل چې ده لره زما د طرف نه په عوض د زر روپو کې آزاده کړه. آقا آزاده کړو نو نکاح فاسد شوه. د امام زفر رحمه الله په نزد نکاح نه ده. فاسده. ددې اختلاف منشاء دا ده چې زمونږ په نزد آزادي دآمر طرف نه وي ځکه حق ولاء آمر ته رسیږي. تر دې که چیرې هغه په دغه عتق سره د کفارې د ادا کولو نیت وکړي نو کفاره

اداء كيږي، او په نزد د امام زفر رحمه الله آزادي د مامور طرف نه وي، ددې أصل په وجه سره امام زفر رحمه الله فرمائي چې آمر د مامور طرف نه د هغه غلام د خپل طرف نه آزادول غوښتي دي او سړى چې پخپله ديو څيز مالك نه وي نو هغه آزادول محال دى. لهٰذا عتق دمامور طرف نه شو. ځكه نكاح په خپل ځائې صحيح ده. مونږ دا وايو چې دلته كې اولاً په طريقې د اقتضاء سره ملكيت ثابتيږي ځكه چې د آمر د طرف نه د صحت عتق لپاره ملكيت شرط دى. نو داسې شوه لكه ښځې چې ورته اعتق وئيلى وي او د زر روپو په عوض ئې ملكيت طلب كړى وي هغې نه پس ئې بيا د آزادولو حكم كړى وي. په دې صورت كې آزادې د ښځې طرف نه شوه او اولاً د هغې هغه مالكه شوه نو نكاح فاسده شوه ځكه چې ملك عين او ملك نكاح دواړه نه جمع كيږي. البته كه چيرې ښځې لفظ دالف ذكر نه كړو او صرف دا ئې ووئيل چې زما د طرف نه ئې آزاده كړه نو نكاح نه فاسديږي. ځكه چې ښځه مالكه نه شوه. په دې صورت كې د ولاء حقدار مولى دى ځكه چې آزادونكى هغه دى په نزد د امام ابويوسف دا مسئله اوړومبئ مسئله برابرې دي

بَابُ نكاحِ الكافر
باب دى په بيان د نكاح د كافر كې
تزوّج كافرٌ بلاشُهُودٍ او فى عِدّةِ كافرٍ و ذا فى دينهم جائزٌ ثم اسلما
نكاح وكړه يو كافر بغيرد گواهانو ياپه عدت د كافر كې او په دين ددوى كې جائز دى بيا دواړه مسلمانان شول نو باقي
اُقِرّا عليه ولو كانت محرمةً فُرّقَ بينهما و لا ينكحُ
به پريښودى شي دواړه هم په دغه نكاح باندې، او كه چيرې د هغه محرمه وه نو جدائي به كولى شي په مينځ ددواړو كې او نكاح به
مُرتدٌ او مرتدةٌ اَحدًا والولدُ يَتْبعُ خيرَ الأبويْنِ دينًا و المجوسيُّ شرٌّ مِنَ الكتابي
نه كوي مرتد يا مرتده د هيچا سره او ولدتابع دى د خير الابوين په اعتبار ددين سره او مجوسي بد دى د كتابي نه، او كله چې
و اِذْ اَسْلمَ احدُ الزوجيْنِ عُرِضَ الاسلامُ عَلَى الأخرِ فانْ اَسْلمَ والّا
اسلام راوړو يو كس په زوجينو كې ،نو پيش كولى به شي اسلام په بل باندې نو هغه هم اسلام قبول كړو نو بهتره ده كني
فُرّقَ بينهما و اِباؤهُ طلاقٌ لا اباءُها ولو اسْلمَ
جدائي به كولى شي په مابين ددوې كې او انكار دسړي طلاق دى نه چې انكار د ښځې كه چيرې يو كس اسلام قبول كړو په

احدُهُما ثَمَّهُ لم تَبِنْ حتّٰی تَحیضَ ثلثًا و لو اسْلَمَ زوجُ الکتابیة بقِیَ نِکاحُهَا

د لوحرب کې نوښځه به نه جدا کيږي تر دې چې درې حیضه تیر کړي، او که چیرې لسلام قبول کړو خاوند د کتابیې نو باقي ده نکاح د هغې

د لغت وضاحت: شهود: جمع دشاهد ده ګواهان. **مرتدٌ:** اسلام نه ګرځیدونکی. **يتبع**: تابع کيږي. **اباء**: انکار کول. **لمْ تَبَنْ**: نه جدا کيږي.

د فقهي تشريح: قوله بابٌ الخ: د غلامانو او آزادو مسلمانانو د احکامو دنکاح د بیان نه پس د کفارو د نکاح بیان کوي، مصنف په عنوان کې چې کوم لفظ د کافر ذکر کړی دی دا بهتر دی، صاحب هدایه وغیره چې کوم (بَابُ نِکَاح أهل الشرک) نه تعبیر کړی دی، نو دغه تعبیر نکاح د کتابیې ته شامل نه دی، زمونږ په نزد په سلسله د نکاح د کفارو کې درې اصول دي(۱) چې کومه نکاح د مسلمانانو په نزد صحیح ده هغه په کفارو کې هم صحیح وي، امام مالک ددې خلاف دی د هغه په نزد صحیح نه ده. لیکن د قرآن او حدیث نه د هغه دقول تردید کیږي، حق تعالی په (وامرءتُهُ حمالة الحطب) کې د امرءی نسبت ابو لهب ته کړی دی چې په لحاظ د لغت او د عُرف دواړو سره په صحت د نکاح باندې دلالت کوي. دارنګې د نبي صلی الله علیه وسلم ارشاد دی چې (زه د نکاح نه پیدا یم نه چې د زنا نه.) (بیهقي، طبراني عن ابن عباس ﷺو ابن الجوزي عن عائشة ﷺ) معلومه شوه چې قبل الاسلام نکاح صحیح ده. (۲) چې کومه نکاح د یو شرط په فوت کیدو سره مسلمانانو لپاره حرامه وي هغه په حق د کفارو کې جائز ده، په شرط ددې چې هغوی ددې مُعتقد وي. نو نکاح د کافر پس د اسلام نه برقراره ساتلی شي ځکه چې کله کفار مسلمانان شول نو نبي صلی الله علیه وسلم د هغوي د نکاح تجدید ونه کړو او نه ئې چانه پوښتنه وکړه چې تاسو خپله نکاح څرنګه کړې وه، (۳) چې کومه نکاح د محل حُرمت په وجه سره حرامه وي لکه محارمو سره نکاح کول نو هغه د مشائخو د قول مُطابق په نزد د امام صاحب د هغه په حق کې جائز تصور کیږي. او مسلمانیدو نه پس د ښځې نان نفقه لازمیږي. که چیرې ددوی ته څوک زاني ووایې نو په هغه به حد جاري کیږي. مشائخ د عراق وایې چې نه ده جائز. والاول اصح وسیأتي.

قوله تزوّجَ الخ: یو کافر دکافرې ښځې سره بغیر ګواهانو نکاح وکړه یا ښځه د کافر په عدت کې وه، هغې سره ئې نکاح وکړه په داسې حال کې چې دا د هغوی په نزد جائز وي، دې نه پس ئې اسلام قبول کړونو د امام صاحب په نزد په نکاح مذکوره به قائم ساتلی شي. امام زفر ﷫ فرمائي چې په دواړو صورتونو کې نکاح فاسده ده او صاحبین په اولنی صورت کې امام صاحب سره

ملګرى دي او په دويم صورت كې امام زفر رحمه الله سره دى. امام زفر رحمه الله دا فرمائي چې خطابات مثلاً د آنحضرت صلى الله عليه وسلم ارشاد (لا نكاح الا بشهود) وغيره د ټولو په حق كې دى. لهٰذا هغوى باندې هم لازم دي. او قبل الاسلام چې هغوى سره كوم تعارض نشي كيدى نو هغه په دې وجه سره نه دى چې ګنې د هغوي دعقائدو تقرير او تثبيت مقصود دى. بلكه په دې وجه د هغوى نه اعراض كيدى شي لكه څنګه چې بت پرستو نه اعراض كيدى شي او هغوى خپله بت پرستي كوي. نه په دې وجه سره چې ګنې بت پرستي جائز ده. صاحبين فرمائي چې حُرمت د نكاح د معتدي مجمع عليه دى. لهٰذا هغوى به ئې هم التزام كوي، په خلاف د نكاح بلا شهود نه چې هغې كې اختلاف دى. لكه چې امام مالك رحمه الله او ابن ليلى هغه ته جائز وايې نو دا هغوى لپاره لازم نه دي. امام صاحب فرمائي چې كافر لپاره د حُرمت اثبات نه خو په دې وجه سره كيدى شي چې ګنې هغه حق د شرع دى ځكه چې كافر د حقوقو د شرع مخاطب نه دى، او نه په دي وجه سره كيدى شي چې ګنې هغه د زوج كافر حق دى. ځكه چې هغه ددې معتقد نه دى. نو لا محاله نكاح ته به صحيح وئيلى شي. او چې كله نكاح صحيح شو نو حالت د اسلام حالت د بقاء نكاح دى. او ظاهره چې حالت د بقاء نكاح لپاره شهادت شرط شوه نو حالت د اسلام د بقاء سره منافي نه دى، او كه چيرې كافر محرمې ښځې سره نكاح وكړه او بيا ئې اسلام راوړو نو د آئمه په اتفاق سره ددوي په مينځ كې به تفريق كيږي. په نزدد صاحبينو خو ظاهره ده ځكه چې د هغوى په نزد نكاح د محارمو په حق كفارو كې هم باطله ده. او په نزد د امام صاحب دكفارو په حق كې نكاح د محارمو اګر چې صحيح ده ليكن بيا هم محرميت د بقاء نكاح سره منافي دى. لهذا تفريق ضروري دى.

قوله ولا ينكحُ الخ: مرتد سړى د هيڅ ښځې سره نكاح نشي كولى. مسلمانه وي يا كافره يا كه كتابيه وي ځكه چې مُرتد واجب القتل دى، هغه ته چې كوم مهلت وركړى كيږي هغه صرف دې لپاره وي چې هغه غور او فكر وكړي. او په نكاح كولو سره هغه په غفلت كې واقع كيږي دغه رنګې مُرتده ښځه هيڅ كس سره نكاح نه شي كولى ځكه چې هغه هم دغور او فكر لپاره مقيد كيدى شي دې نه علاوه د هغوي په مينځ كې مصالح د نكاح هم قائم نه شي پاتي كيدى او حال دا چې د نكاح د مشروعيت لپاره ددې دې چې د هغې مصالح قائم پاتې شي.

قوله والوَلَدُ الخ: والدينو كې چې كوم يو په اعتبار ددين سره بهتر وي، بچى به د هغه تابع وي. كه چيرې پلار ئې مسلمان وي نو بچى د هغه پلار تابع وي او مسلمان ثابتيږي، او كه مور ئې مسلمانه وي نو د مور تابع به وي او كه چيرې والدين مجوسيان او كتابيان وي نو بچى به كتابي

شمار کيږي ځکه چې مجوسي د کتابي نه بد تر دی، ځکه چې د اهل کتابو دين د هغوی د دعوې په اعتبار سره آسماني دی ځکه خو د هغوی ذبيحه حلاله ده، او کتابيې ښځې سره د نکاح اجازت شته دی په خلاف د مجوسيې ښځې نه چې د هغې دين بالکل باطل دی.

قوله واذا أسلم الخ: زوجين که کتابيان وي او که مجوسيان. که چيرې په دوي کې يو تن مسلمان شي نو قاضي به بل تن ته هم اسلام پيش کړی، که چيرې هغه ئې قبول کړي نو ښځه به هم د هغه ښځه وي. او که چيرې قبول ئې نه کړي نو د هغوی په مينځ کې به جدائي وکړي امام شافعي رحمه الله فرمائي چې اسلام به ورته نشي پيش کيدی. بلکه که چيرې هغه قبل د دخول نه اسلام قبول کړی وی نو سمدستي به جدائي کولی شي او که چيرې پس د دخول نه ئې اسلام قبول کړی وي نو پس د دريو حيضو نه به تفريق کولی شي. زمونږ دليل دا دی چې دوليد بن مغيره لور ناجينه د حضرت صفوان بن أميه په نکاح کې وه او د مکې د فتح په ورځ ئې اسلام قبول کړی وو. او نبي صلی الله عليه وسلم ددوي به مينځ کې جدائي نه وه کړې، تر دې چې تقريبًا يو مياشت پس حضرت صفوان اسلام قبول کړو او هم په دغه نکاح برقرار پاتې شو (۱). بيا دقاضي جدائي کول په درجه د طلاق بائن کې ده که چيرې خاوند د اسلام قبلولو نه انکار وکړو نو په درجه د طلاق کې نه دی، په نزد د امام ابويوسف رحمه الله په دواړو صورتونو کې طلاق نه دی، هغه دا فرمائي چې ددې جدايي په سبب کې زوج او زوجه دواړه شريک دي لهذا جدائي به طلاق نه وي. امام صاحب دا فرمائي چې د خاوند د اسلام نه انکار کول امساک بالمعروف نه بنديدل دي او حال دا چې هغه د اسلام قبلولو په ذريعې سره ښځه په منع ساتلو باندی قدرت لرونکی دی. نو قاضي ښځې لره دخاوند نه په خلاصولو کې نيابت کولی شي او کله چې قاضي دخاوند د طرف نه نائب شو نو جدائي به دې طلاق په درجه کې وي. په خلاف د ښځې نه چې هغه د طلاق اهليت نه لري. لهذا قاضي د هغې طرف نه نائب نشي کيدی.

وتباين الدارين سبب الفرقة لا السبي و تنكح المهاجرة الحائل بلا عدة و ارتداد احدهما

او اختلاف د دارينو سبب د جدائي دی نه چې قيد کول، او نکاح کولی شي مهاجره غير حامله بغير د عدت تيرولو نه، او ديو کس مرتد کيدل

(۱) مالک ابن سعد. ابن حجر عن الزهري

فسخٌ (۱) في الحالِ (۲) فلِلموطوءةِ (۳) المهرُ و لغيرِهَا النصفُ إنْ ارتدَّ (۴) و إنْ ارتدَّتْ
في الحال دنكاح فسخ ده او لپاره د موطوءې كامل مهر دى او د غير موطوءې لپاره نصف مهر دى، كه چيرې سرى مرتد شو او كه ښځه مرتده
لا والإباءُ نظيرَهُ ولو ارتدّا و أسلما معًا لم تَبِنْ
شوه نو د هغې لپاره مهر نشته، او انكار نظير د هغې دى او كه چيرې دواړه مرتد شول او دواړو يو ځائې اسلام قبول كړو، نو ښځه به نه جدا
وبانت لو اسلما مُتعاقِبًا
كيږي او جدا كيږي به كه چيرې دواړو يوبل پسې اسلام قبول كړو.
بَابُ القَسْمِ
باب دى په بيان د وارِيْ كې
البِكرُ كالثيبِ و الجديدةُ كالقديمة والمسلمةُ كالكتابيَّةِ فيه و لِلحرّةِ ضِعفُ الامَةِ
باكره په شان د ثيبې ده او نوى په شان د زړې ده او مسلمانه په شان د كتابيې ده په وارِيْ كې او حُرې لپاره دوچند دوينځې دى
و يُسَافِر بمَنْ شاءَ منهنّ و القرعةُ احبُّ و لها ان ترجعَ إن
او سفر كې بوتللى شي هغه چې كومې له ئې خوښه شي ددوى نه او خسرى بهتر دى او اختيار شته ښځې له چې هغه رجوع وكړي كه چيرې
وهَبَتْ قَسْمَهَا للاخرٰى
هغې هبه كړې وي وارِيْ خپل بلې ښځې ته

د لغت وضاحت: **سبيٌ:** قيدكول. **حائل:** غير حامله. **اباءٌ:** انكار كول. **لم تَبِنْ:** نه جدا كيږي. **متعاقبًا** پرله پسې. **قَسْمٌ** وارِيْ. **ضُعفٌ** دو چند

---

(۱) فلو ارتد مراراً وجدد الاسلام في كل مرة وجدد النكاح على قول الامام تحل امرأته من غير اصابة زوج ثان ۱۲ طحاوي

(۲) يعني لا يتوقف على مضى ثلثة قروء في المدخول بها و لا على قضاء القاضي لان وجود المنافي يوجبهُ كالمحرمية بخلاف الاسلام لانه غير مناف للعصمة ۱۲ بحر.

(۳) اى للمرءة المدخول بها المهر كله سواء كانت المرءة منها او منه لانه تاكد بالدخول فلا يتصور سقوطه ۱۲ زيلعي

(۴) لان الفرقة عن جهة قبل الدخول توجب نصف المهر هذا اذا كان سمي و الاهليه المتعة ۱۲ مجمع

د فقهي تشریح: قوله وتباین الدارین الخ: که زوجینو کې یو مسلمان شو او دارِ حرب نه راووتو، یا چیرته یوتن قید کړی شو نو په دواړو کې به جدائي کولی شي. امام شافعي رحمه الله فرمائي چې جدائي نه راځي. او که چیرې دواړه قید کړی شو نو بیا نه جدا کیږي. په نزد د امام شافعي رحمه الله ئې جدایي کیږي. حاصل دا شو چې زمونږ په نزد د جدایي تباین د دارینو دی نه قید. او په نزد د امام شافعي رحمه الله ددې عکس. هغه دا فرمائي چې د تباین دارین اثر په انقطاع د ولایت کیږي او دا جدائي کې اثر نه کوي په خلاف د سبي نه چې د هغې تقاضا دا ده چې څوک قید کړی شو هغه به د قید کوونکي وي او دا هغه وخت کیدی شي چې کله نکاح ختمه شي. او زمونږ دلیل دا دی چې تباین دارین حقیقتًا او حکمًا دواړو اعتبارو سره مصالح د نکاح ختموي نو دمُحرمیت سره مشابه شو (چې د هغه ذکر مخکې وشو) په خلاف د سبي نه چې هغه موجب د ملک رقبي دی او ابتداءً مِلک رقبي د نکاح منافي نه دی، لهذا بقاءً به هم منافي نه وي.

قوله وتنکح الخ: که چیرې ښځه هجرت وکړي دار الاسلام ته راشي او حامله نه وي نو د امام صاحب په نزد هغه د خپل خاوند نه بغیر عدته جدا کیږي لهذا هغې سره فوراً نکاح کول پکار دي د صاحبینو، امام شافعي رحمه الله او امام مالک رحمه الله په نزد څو پورې چې د هغې عدت نه وي تیر شوی نکاح کول ورسره جائز نه دي. دا حضرات دې لره په حامله قیاس کوي چې څو پورې وضع د حمل نه وي شوی نو هغه وخته پورې حاملې سره نکاح کول صحیح نه دي. د امام صاحب دلیل دا آیت دی (ولا جناح علیکم ان تنکحوهن اذا اٰتیتموهُن اجورهُن) په دې کې مُهاجرې سره مطلقًا د نکاح کولو اجازت ورکړی شوی دی، نو انقضایې عدت سره مقید کول زیادت علی الکتاب دی.

قول بابٌ الخ: څو پاڼې وړاندې مصنف ذکر کړي وو چې یو څو ښځو سره (څلور ښځو) سره نکاح کول جائز دي او ددوی په مینځ کې اوس د عدل بیان کول ضروري شو ځکه چې د شارع په نظر کې د نفس عقد په لحاظ سره هر یو ښځې ته برابر حق حاصل دی. قَسَمٌ: په فتحې د قاف او په سکون د سین سره مصدر دی، په معنی د عطیې رایې، شک، باران، اوبه او قدر سره، او قِسم په کسری د قاف سره په معنی د حصې او نصیبې سره (قاموس) دلته کې په منکوحاتو کې تسویه مُراد ده چې خاوند په هغه مامور دی. قال تعالی (ولن تستطیعوا ان تعدلوا بین النساء ولو حرصتم فلا تمیلوا

کل المیل ای لن تستطیعوا (۱) التسویة فی المحبة فلا تمیلوا فی القسم) دنبي صلی الله علیه وسلم ارشاد دی چې د چا په نکاح کې دوه ښځې وي او هغه یوې ښځې طرف ته مائل وي نو هغه به دقیامت په ورځ په داسې حال کې پیش کړی شي چې د هغه نیم بدن به کوږ (فالج (۲) وهلی) وي. دغه نصوصونه ثابته شوه چې په واري کې عدل واجب دی. یعنې منکوحاتو کې، په لباس کې، شپه تیرولو کې. محبت او په خوراک څښاک کې برابري پکار ده، پاتې شوه د جماع نو هغه په طیب خاطر باندې موقوف ده. دې وجې نه چې په هغې کې برابري ضروري نه ده. بلکه مستحب ده. او قضاءً صرف یو ځل او دیانتهً کلهُ کله جماع کولو سره د ښځې حق ساقطیږي، او محبت چونکه دا شان په اختیار کې نه دی، دې وجې نه په دې کې هم تسویه ضروري نه ده.

قوله البکرُ الخ په تسویه او واري کې باکره. ثیبه. جدیده .قدیمه. مُسلمه. کتابیه. صحیحه. مریضه. حامله. حائله. حائضه. نافسه. محرمه. مظاهره. عاقله. مجنونه، رتقاء، قرنا، صغیره (چې هغې سره وطي ممکنه وي او کبیره زمونږ په نزد ټولې برابرې دي. ځکه چې آیت او حدیث مذکوره مُطلق دی چې په هغې کې د باکرې او ثیبې وغیره هیڅ فرق نشته. د آئمه ثلاثهؒ په نزد به باکرې سره اوه ورځې او ثیبې سره به درې ورځې او سیږي ځکه چې احادیثو نه دا تفصیل ثابت دی (۳). جواب دا دی چې کومو احادیثو کې اووه ورځې او درې ورځې ذکر راغلی دی نو د هغه مطلب دا نه دی چې په واري کې به کمي یا زیاتی نه کوي بلکه مطلب دا دی چې د واري ابتداء جدیدې نه کول پکار دي یعنې که چیرې باکرې سره اوه ورځې تیروي نو نورو بیبیانو سره به هم اوه ورځې او سیږي او که چیرې باکرې سره درې ورځې تیروي نو نورو بیبیانو سره به هم درې ورځې تیروي.

قوله وللحُرة الخ که چیرې د چا په نکاح کې ازاده او وینځه وي (امته یا مکاتبه، ام ولده وي یا مدبره) نو وینځې لپاره د آزادې په مقابله کې نیم وار دی یعنې که حرې سره دوه شپې کوي نو وینځې سره به یوه شپه کوي و علی هذا القیاس بذلک ورد الاثر (۴).

---

(۱) او تاسو هیڅکله برابر نه شي کولی ښځو کې اگر چې حرص نې وکړی نو پس مکمل میلان هم مه کوئ.
(۲) اصحاب سنن، احمد، ابن راهویه. بزاز. ابن حبان. حاکم عن ابي هریرة، ابو نعیم (فی التاریخ) عن انس ۱۲.
(۳) صحیحین، ابن ماجه عن انس، مسلم عن ام سلمة ۱۲.
(۴) ابن ابي شیبه. عبدالرزاق، دارقطني، بیهقي عن علي ۱۲.

قوله ويُسافر الخ په سفر کې د واري اعتبار نشته. سړي ته اختيار دی چې کومه غواړي په سفر دې ځان سره بوځي ليکن ښه ږي اچول بهتر دی. چې طريقه ئې دا ده چې په يو کاغذ په سفر او په بل کاغذ به حضر وليکي او گولۍ به ترينه جوړه کړي او د يو ماشوم په ذريعه به ئې ازواجو ته ورسوي، نو چې کومي ته سفر والا گولۍ ورسي هغه به سفر کې بوځي. د امام شافعی رحمه الله په نزد قرعه اندازي واجب ده ځکه چې نبي صلى الله عليه وسلم چې به کله د سفر اراده وکړه نو قرعه اندازي به ئې کوله [1] جواب دا دی چې قرعه اندازي د زړه د خوشحالۍ لپاره ده لهذا قرعه اندازي مستحب ده نه چې واجب

قوله ولها الخ: که چيرې يوې ښځې خپل واري بل چاته هبه کړو نو دا صحيح دی ځکه چې حضرت سوده رضى الله عنها خپل واري حضرت عائشه رضى الله عنها ته هبه کړی وو [2]، د ښځې حق واجب نه دی نو د هغې په ساقط کولو سره هم نه ساقطيږي ځکه چې د اسقاط تحقق په هغې کې کيږي چې هغه مخکې نه ثابت وي.

كِتَابُ الرَّضَاعِ
هو مصُّ الرضيعِ منْ ثَدْيِ الآدميةِ فى وَقْتٍ مخصُوصٍ و حَرُمَ به و ان قَلَّ فى
دارودل دئ د يو رودونكي ماشوم د سينې د ښځې په يو خاص وخت کې او حراميږي په رضاعت سره اگر چې کم وي په
ثلثين شهرًا ما حَرُمَ بالنسبِ.
ديرشو مياشتو کې هغه ټولې رشتې چې کومې حرامې نسبي لحاظ سره.

د فقهي تشريح: قوله كتَابُ الخ: دنكاح اصلي مقصد ولد حاصلول دي شهوت پوره کول نه دي. او د ماشوم بقاء په روميې دور کې بغير د رضاعت نه عادةً ناممکن دي، دې وجې نه دلته کې د رضاعت احکام بيانوي. او شوده رودل هر کله چې اثر د نكاح دی او اثر د دې اثر نه مؤخر دی، نو دې وجې د نكاح نه پس رضاعت ذكر كوي، رضاع په اصل کې د رافتحې سره دی، او يو لغت د راء د كسرى هم دی (عنايه) فتح القدير کې دي چې رضاع او رضاعت څلور لغتونه دي. او پنځم لغت

---

(1) صحيحين عن عائشة.

(2) صحيحين عن عائشة و ابن عباس. حاكم عن عائشة ۱۲.

رضع دی لیکن امام اصمعي په رضاعة کې د راء د کسرې نه انکار کړی دی. مصباح کې دي چې رضع الصبي رضعًا د اهل نجدیه لغت کې د باب د تعب نه دی او د اهل تهامه او اهل مکې په نزد ضَرَبَ باب نه دی، لیکن شیخ شر بنلالي په غنیه کې ذکر کړي دي چې ددې فصیح فعل د باب د علم نه دی، او اهل نجد دې لره د باب د ضَرَبَ نه لولي وعلیه قول السلول.

هذم علماء زمانه: و ذموا النا الدُنا و هم یرضعونها اهـ قاموس نه معلومیږي چې ضاد کې درې حرکتونه جائز دي، ځکه صاحب قاموس وئیلي دي. ان رَضع من باب سمع و ضرب و کرم

قوله هو مَصُّ الخ رضاع په لغت کې مص الثدي یعني سینه رودل دي و شرعًا دشیر خوار یو خاص مودې پورې دښځې سینې رودل دي مص نه مراد وصول یعني د ښځې د سینې نه د ماشوم خیټې ته شوده رسیدل دي، په خوله او که پوزه. نو که چیرته ښځه خپل شوده په یوه شیشه کې راولشي او د ماشوم په خوله کې ئې واچوي نو دې سره هم حرمت ثابتیږي. اګر چې رودل موجود نه شو، نو مص او صب او سعوط او جور (یعني رودل، اړول، ورخیژول، او څاڅکي کولو) کې هیڅ فرق نشته. رودل هر کله چې د رسیدو سبب دی، نو ددې وجې مصنف په مص سره تعبیر وکړو، ګویا ذکر د سبب مراد ترینه مسبب دی، او صاحب د نهر تر دې وئیلي دي چې رودل مستلزم دي، رسیدو لره، ځکه چې صاحب د قاموس د مص نه په شرب رقیق سره تعبیر کړی دی. مونږ د خولې او پوزې قید لګولی دی، په دې وجه سره چې په غوږ او احلیل وغیره کې شوده اچولو سره حرمت نه ثابتیږي. **الأدمیة** په قید سره ترینه سړی او چارپایه ځناور خارج شو چې ددوی په شودو سره رضاعت نه ثابتیږي بیا ادمیه مطلق دی لهذا باکره ثیبه ژوندئ او مړه ټولو ته شامل دی.

قوله و حَرُمَ الخ د رضاعي رشتې په وجه سره هغه ټولې ښځې حرامیږي کوم چې د نسب په وجه سره حرامې دی (چې د هغې ذکر د محرماتو په ذلیل کې تیر شول) اګر چې شوده ئې کم څښلي وي لوی صحابه حضرت علی رضی الله عنه، ابن مسعود رضی الله عنه، ابن عباس او ابن عمر ددې قائل دی، امام شافعی رحمه الله او امام احمد رحمه الله فرمائي چې پنځو د کو ګوټونو نه بغیر د رضاعت نه ثابتیږي ځکه چې د نبي ارشاد دی یو ځل یا دوه ځل رودل یا یو ځل یا دوه ځل تی په

خوله کې ورکول حرمت نه پيدا کوي(۱)، زمونږ دليل دا دی چې ايت و أمهاتكم اللتى ارضعنكم. او حديث يحرم من الرضاع ما يحرم من النسب(۲) کې تفصيل نشته، او ه خبر احد په ذريعه زيادت بكتاب الله جائز نه دی، پاتې شو حديث مذكوره نو هغه منسوخ دی، او دنسخ تصريح د حضرت ابن عباس رضى الله عنه نه ثابته ده. چا ترينه پوښتنه وكړه چې خلک وائي چې يو ځل رودل حرمت نه راولی، نو هغه وفرمايل، دا مخكې حكم وو وروسته بيا منسوخ شو (بحر الرائق). سوال: د حضرت عائشې رضى الله عنها حديث چې هغې باندې حضرت امام شافعى رحمه الله او احمد رحمه الله استدلال هم كوي يعني أنزل فى القرآن عشر رضعات معلومات فنسخ من ذلک خمس وصار الى خمس رضعات فتوفى رسول الله صلى الله عليه وسلم والامر على ذالک(۳). نه صفا معلوميږي چې د خمس رضعات حكم منسوخ نه دی بلكه د نبي صلى الله عليه وسلم نه پس هم دا حكم پاتې شو، جواب: دا محاله ده چې دا قران نه وي او بيا خلفاء راشدين دې جمع نه كړي، گنې بيا خو لازم ده چې كومه مجموعه بين الدفتين ده په هغې كې هم څه حصه منسوخ ده. او دارنگ قران به مشكوک شي. نعوذ بالله منه.

قوله فى ثلاثين الخ: په موده د رضاعت كې سخت اختلاف دی، په نزد د امام صاحب دوه نيم كاله دی، او د امام شافعى رحمه الله او صاحبينو په نزد دوه كاله د امام زفر رحمه الله په نزد درې كاله دی، بعضو پنځلس كاله او بعضو (۴۰) څلويښت كاله او بعضو ټول عمر موده د رضاعت گرځولې ده. امام زفر رحمه الله فرمائي چې په كال كې د يو حال نه بل حال ته د متحول كيدو صلاحيت موجود دی او د دوو كالو زياتيدل ضروري دي (چې د هغې وجه د امام ابوحنيفه د دليل په ذيل كې راروانه ده) د صاحبينو دليل دا آيت دی و حمله و فصاله ثلثون شهرا په دې كې د حمل او فصل دواړو موده ديرش مياشتې گرځولې شوې ده، او د حمل كمه موده شپږ مياشتې ده نو د فصل لپاره موده دوه كاله پاتې شوه. دارنگې د نبي صلى الله عليه وسلم ارشاد دی چې دوه كاله پس رضاعت نشته(۴)،

---

(۱) ابن حبان عن الزبير، مسلم عن عائشة و ام الفضل مفرقًا ۱۲.

(۲) تقدم اول النكاح ۱۲.

(۳) مسلم عن عائشة ۱۲.

(۴) دارقطني عن ابن عباس (مرفوعًا و موقوفًا) عبد الرزاق، مالک عن ابن عباس (موقوفًا) ابن ابي شيبة عن ابن عباس و ابن مسعود و على (موقوفًا) ۱۲.

دليل د امام ابوحنيفه هم دا ايت دی. وجه د استدلال دا ده چې حق تعالى شانه په آيت كې دوه څيزونه ذكر كړي دي او دواړو لپاره ئې موده مقرر كړې ده نو دغه موده به په دواړو كې د هر يو لپاره پوره وي لكه يو سړی ووائي لفلان عَلَيّ الف درهم و خمسة اقفزة حنطة الى شهرين نو په دې كې زر درهمه او پنځه قفيزه غنمو كې د هر يو موده دوه مياشتې ده. نو موده د رضاعت هم دوه نيم كاله دي او موده د حمل هم دوه نيم كاله شو ليكن په موده د حمل كې كمی د حديث نه ثابت دی. او په موده د رضاعت كې كمی ثابت نه دی، دې وجې نه د هغې موده به پوره دوه نيم كاله وي حديث دا دی حضرت عائشه رضی الله عنها فرمائي په خيټه كې دوو كالو نه زيات نه پاتي كيږی (۱) ظاهره ده چې دا قسم مضمون په سماع د شارع سره معلوميدی شي. نو يقينًا حضرت عائشې رضی الله عنها به دنبي صلی الله عليه وسلم نه اوريدل كړي وي. نو دا قول په درجه د حديث مرفوع كې دی. امام صاحب د طرف نه عقلي دليل دا دی چې د ماشوم غذا بدليدل ضروري دي، چې هغې لپاره دومره موده يكار ده چې په هغې كې ماشوم د شودو نه علاوه د بل قسم غذا ګانو عادي شی. نو دې لپاره به د حمل ادنی موده فرض كيدی شي. ځكه چې په ادنی موده د حمل كې د اصلاحيت موجود دی، لكه چې د جنين غذا د رضع او فطيم د غذا نه جدا وي.

سوال: دحضرت عائشې رضی الله عنها حديث ظني دی او آيت قطعي دی. او تخصيص د قطعي په ظني سره نشي كيدی، بيا امام صاحب حديث مذكور په ذريعه سره د آيت تخصيص ئې ولې وكړو؟ جواب آيت مذكوره په خپله ظاهري معنی باندې حمل نه دی لكه چې امام شافعی رحمه الله وغيره ديرشو مياشتو كې شپږ مياشتې موده د حمل منلې ده او دوه كاله ئې موده د فصال نو آيت مؤول شو او دمؤول دلالت قطعي نه وي ظني وي. لهذا دظني تخصيص په ظني سره او شو چې بلا تردده صحيح دي.

فائده: مصنف رحمه الله موده د رضاع په ثلثين سره مقيد كړو او دا ئې وښودله چې د رضاعت موده تيريدو نه پس په شودو رودو سره حرمت نه ثابتيږي. او موده د رضاعت يې د حَرُمَ لپاره ظرف وګرځوله اشاره شوه دې خبرې ته چې په موده د رضاعت كې چې دحنافو كوم اختلاف دی هغه د حرمت په باره كې دی. د شودو وركولو د اجرت په لزوم كې اختلاف نشته، هغې لپاره بالاتفاق دوه كاله دي. نو كه چيرې سړي ښځې ته طلاق وركړو او ښځې طلاق نه پس ماشوم ته شوده وركول نو

---

(۱) دار قطني. بيهقي عن جميلة بنت سعد ۱۲

په اتفاق د علماؤ سره صرف د دوه کالو اجرت به اخلي بیا د ثلثین موده ئې مطلق ذکر کړه، اشاره شوه. که چیرې رضاعت د شودو بندولو نه پس وي نو بیا هم حرمت ثابتیږي مثلاً شپږ میاشتې پس ماشوم دوه دئ. دال وغیره خوړل شروع کړه او هغه د شودو نه بند شوی وو بیا هغه دوه کاله کې دننه دننه د چا ښځې شوده او څښل نو حرمت ثابتیږي ظاهر الروایة دا دی (قاضیخان په دې فتوی ده (والواجیة) کذا فی الفتح معزیاً الهی واقعات الناطفی.


تنبیه: علامه زیلعي د حضرت حسن چې کوم روایت ذکر کړو چې که چیرې موده د رضاعت تیریدو نه مخکې ماشوم د شودو نه علاوه د غذا خوړلو عادي شو نو د امام صاحب په نزد حرمت نه ثابتیږي او وائي چې دې فتوی هم ده. نو دا قول معتمد علیه نه دی ځکه چې دروایاتو د اختلاف په صورت کې ترجیح ظاهر الروایة نه وي. او ظاهر الروایة دا دی چې په موده د رضاعت کې دننه دننه مطلقاً حرمت ثابت دی.

اِلّا اُمَّ اختِه : و اختُ ابنه مُرضِعةٍ لبَنُها منه ابٌ للرضیع و ابنُهُ
مگر مور د رضاعي خور او خور د رضاعي خوی او خاوند د رضاعي مور چې شوده د هغې خاوند نه وي هغه پلار د رضیع او خوی
اخٌ و بِنتُهُ اختٌ و اخوه عَمٌّ و اختُهُ عَمَّةٌ
د هغه نې ورور دی او لور ئې خور ده او د هغه ورور ئې تره دی او د هغه خور ئې ترور ده.

د فقهې تشریح: **قوله الّا اُمّ اُخته الخ** دا د سابقه قول یعني د حَرُمَ نه استثناء ده یعنې په سبب د رضاعت ټولې هغه رشتې حرامیږي کومې چې د قرابت او نَسَب په سبب سره حرامې دی، سواء د رضاعي خور د مور نه او د رضاعي ځوی د خور نه چې دا حلالې دي ځکه چې دنسبي خور مور خپله مور ده یا د خپل پلار مدخوله ده او دا دواړه حرامې دي، په رضاعت کې دا خبره نشته، فقهاء د حدیث یحرم من الرضاعة ما یحرم من النسب نه د اُمّ الاخت او اُخت الابن چې کوم استثناء کوي په هغې اعتراض واردیږي چې دا صحیح نه ده ځکه چې دې کې عقلي دلیل سره د حدیث په عموم کې تخصیص لازمیږي؟


جواب دا دی چې د مستثنٰی صورتونه حرمت د مصاهرت په وجه سره دي نه چې د نسب په سبب سره. او استثناء منقطعه ده. نو کوم صورتونه نه چې فقهاؤ مستثنٰی کړي دي هغې ته حدیث مذکوره شامل نه دی، کنې چې تخصیص بالعقل به لازم شي.

فائده: الاّ اُمّ اخته او اُخت ابنه کې شپږ صورتونه داخل دي. درې ام اخته کې او درې اخت ابنه کې. رومبنی درې صورتونه دادي (۱): مور رضاعي وي او خور نسبي وي مثلاً د زید حقیقي خور ته حافظې شوده ورکړه نو د زید د حافظي سره نکاح کول صحیح دي.




زید د خپلې نسبي خور سعیدې رضاعي مور حافظې سره نکاح کولی شي

(۲): خور رضاعي وي او مور نسبي وي لکه د زید رضاعي خور رشیده، نو زید لپاره د رشیدې نسبي مور حلاله ده.




زید د خپلې رضاعي خور رشیدې د نسبي مور نعیمې سره نکاح کولی شي

(۳): دواړه رضاعي وي مثلاً رشیدې د سعیدې او ناصرې دواړو شخو شوده اورودل نو د زید لپاره د رشیدي رضاعي مور ناصره حلاله ده. نور درې صورتونه دا دي




زید د خپلې رضاعي خور رشیدې رضاعي مور ناصره سره نکاح کولی شي

(۴): خور رضاعي وي او ځوی نسبي وي مثلاً د زید ځوی دی خالد او د هغه رضاعي خور فریده ده یعنې خالد او فریدې د اجنبي ښځې شوده اورودلې نو د زید لپاره فریده حلاله ده.



زید د خپل حقیقي ځوی خالد رضاعي خور فریدې سره نکاح کولی شي


(۵): ځوی رضاعي وي او خور نسبي وي مثلاً د زید رضاعي ځوی ناصر دی او د ناصر نسبي خور زینب ده نو زید لپاره زینب حلاله ده.



زید د خپل رضاعي ځوی ناصر نسبي خور زینب سره نکاح

کولی شي

(۶): دواړه رضاعي وي، دا شپږ صورتونه د مصنف په کلام کې داخل دي، بعضې حضراتو یوویشت (۲۱) صورتونه مستثنی کړی دی. شپږ دا چې کوم ذکر شو.



زید د خپل رضاعي ځوی ناصر رضاعي خور رقیه سره نکاح

کولی شي


او پنځلس نور دي دا ټول په دې شعر کې ذکر دي

یفارق النسب الارضاع فی صور، کام نافلة[1] او جدة الولد[2]

و اُمّ اختٍ[3] واخت[4] ابنٍ و اُم اخ[5]. و اُمّ خالٍ[6] و عمة ابن اعتمر[7]


په کومو الفاظو چې لکیرې راخکلی شوی دی په هغې کې هر یو دریو دریو صورتونو ته شامل دی. اول دا چې مضاف رضاعي وي او مضاف الیه نسبي وي دویم دا چې مضاف نسبي وي او مضاف الیه رضاعي وي.

(۱): د نسبي نمسئ رضاعي مور مثلاً د زید ځوئ دی محمود او د محمود ځوی دی خالد، او خالد ته یو اجنبي ښځې کریمې شوده ورکړه نو د زید کریمې سره نکاح کول حلال دي.




زید د خپل نسبي نمسی خالد رضاعي مور کریمه سره نکاح کولی شي

(۲): د رضاعي نمسی نسبي مور مثلاً د زید ځوی دی محمود، او د محمود ښځې بکر ته شوده ورکړه نو بکر د زید رضاعي نمسی شونو د زید د بکر نسبي مور سره نکاح کول حلال دي.




زید د خپل رضاعي نمسي بکر نسبي مور زینب سره نکاح کولی شي

(۳): د رضاعي نمسي رضاعي مور مثلاً بکر ته د محمود د ښځې نه علاوه حلیمې شوده ورکړه نو د زید لپاره حلیمه حلاله ده.




زید د خپل رضاعي نمسی بکر رضاعي مور حلیمه سره نکاح کولی شي

(۴): د نسبي خوی رضاعي نیا مثلاً د زید خوی عبدالله ته حمیدې شوده ورکړه نو د حمیدې مور چې د عبدالله رضاعي نیا ده، د زید لپاره حلاله ده.




(۵) د رضاعي خوی نسبي نیا مثلاً د زید خوی دی، نو د خالد نسبي نیا د زید لپاره حلاله ده



زید د خپل رضاعي خوی خالد د نسبي نیا ام کلثوم سره

نکاح کولی شي

(۶): د رضاعي خوي رضاعي نیا هم د زید لپاره حلاله ده چې د هغې تخریج مثال نمبر ۵ نه پس ډیر اسان دي. د خور مور او د خوی د خور هم دغه درې درې صورتونه دي، چې د هغې بیان د مصنف په قول الا أمّ اخته و اخت ابنه کې سره د مثالونو تیر شو. د ورور د مور هم دغه شان درې صورتونه دي




(۷): مور رضاعي وي او ورور نسبي وي




زيد دخپل حقيقي ورور رضاعي مور حافظې سره نکاح کولی شي

(۸): مور نسبي وي او ورور رضاعي وي:




زيد د خپل رضاعي ورور رشيد دحقيقي مور نعيمې
سره نکاح کولی شي.

(۹): مور هم رضاعي وي اوورور هم رضاعي وي. د ماما د مور هم دغه دري صورتونه دي




زید د خپل رضاعي ورور رشید رضاعي مور ناصري سره نکاح کولی شي

(۱۰): ماما نسبي وي او مور ئې رضاعي وي مثلاً د زید نسبي ماما هارون ته زبیدې اجنبیې شوده ورکړه نو زید لپاره د ماما رضاعي مور زبیده حلاله ده.




زید خپل نسبي ماما هارون د رضاعي مور زبیدې سره
نکاح صحیح ده

(۱۱): ماما رضاعي وي او مور نسبي وي نو زید لپاره د رضاعي ماما رضاعي مور حلاله ده. د خوی د ترور هم دري صورتونه دي



زید د خپلې رضاعي ماما هارون د د نسبی مور حمیدې سره نکاح کولې شي


(۱۲): دوارہ رضاعي وي نو زيد لپاره د رضاعي ماما رضاعي مور حلاله ده. د خوى د ترور هم دري صورتونه دي.



زيد د خپل رضاعي ماما هارون د رضاعي مور بريرة

سره نکاح کولى شي


(۱۳): خوى نسبي وي او ترور رضاعي وي مثلاً د زيد حقيقي خوى حسن دى هغه د اجنبيې ښځې عابدې شوده او ځښل چې هغه د خالد ښځه ده او د خالد خور عظيمه ده نو زيد لپاره عظيمه حلاله ده چې کومه د حسن رضاعي ترور ده.



زيد د خپل حقيقي خوى حسن رضاعي

ترور عظيمې سره نکاح کولى شي


(۱۴): خوى رضاعي وي او ترور نسبي وي مثلاً قاسم د زيد رضاعي خوى دى نو د قاسم نسبي ترور دزيد لپاره حلاله ده.



زيد د خپل رضاعي خوى قاسم نسبي ترور سالمه سره

نکاح کولى شي

(۱۵): دواړه رضاعي وي مثلاً قاسم د زيد د ښځې نه علاوه د بلې ښځې اجنبيې کريمې شوده او څښل نو د کريمې د خاوند خور د زيد لپاره حلاله ده. دې ځای پورې د يوويشتو صورتونو مفصل بيان ختم شو.



علامه طحطاوي ذکر کړي دي چې ابن وهبان په شرح منظوم کې مسائل د استثناء د رضاعت څه لپاسه اويا ذکر کړي دي. صاحب بحر وايي چې دا د هغه د کتاب خاصه ده. بيا صاحب د بحر مسائل مذکوره يو اتيا پورې رسولی دی اوويلي يې دي چې دا زما د کتاب خاصه ده. دي نه پس صاحب نهر يوسل اتو پورې رسولي دي او ويلي ئې دي چې دا زما خاصه ده صاحب در مختار يو سل شلو ته رسولي دي او وئيلي ئې دي
چې دا زما دکتاب خاصه. شيخ عابد مدني دوه سووته رسولي دي او وئيلي ئې دي چې دا زما د کتاب خاصه ده. زه وايم چې هر يو پيچيده مسئله نقشو سره په هغې پوهول زما د کتاب خاصه ده. والله الموفق. چا ډير رشتيا قول کړی دی، الصناعة تتکامل بتلاحق الافطار.

قوله وزَوجُ الخ: لبن نه مراد هغه شوده دي چې د يو سړي دو طي کولو سره د ولادت په سبب سره پيدا شوي وي خواه هغه سړی د دغه ښځې خاوند وي د کومې چې شوده را پيدا شوي دي يا د هغې آقا وي نو په متن کې د زوج قيد احتراز نه دی، اتفاقي دی، مطلب دا دی چې کله ښځه په ماشوم باندې شوده وڅښول نو هغه د ماشوم مور وګرځيده او دهغې خاوند د ماشوم پلار شو (و لا يحل لکل منهما موطوءة الاخر) په دې شرط چې د هغې شوده دغه خاوند نه وي، که چيرې شوده د مخکې د خاوند نه وي نو دويم خاوند د ماشوم پلار نه دی بلکه دغه شيرخوار ماشوم د هغه رضاعي سبب شو (حتی جاز لذلک الولد ان يتزوج بأولاد الثانی من غيرها)

وَتَحِلُّ أُخْتُ اَخِيهِ رِضَاعًا وَ نَسَبًا وَلَا حِلَّ بَيْنَ رَضِيعَيْ ثَدْيٍ وَ بَيْنَ مُرْضَعَةٍ وَوَلَدِ مُرْضِعَتِهَا
او حلاله ده د ورور رضاعي خور او نسبي خور او حلاله نه راځي په مابين د دوو شودو څښونکو د يوې سينې نه، او نه د شيرخوار ماشومې
وَ وَلَدِ وَلَدِهَا وَ اللَّبَنُ الْمَخْلُوطُ بِالطَّعَامِ لَا يُحَرِّمُ وَ يُعْتَبَرُ الْغَالِبُ لَوْ بِمَاءٍ
او د ولد د مرضعي کې او هغه شوده چې مخلوط بالطعام وي هغه حرمت نه راولي. او اعتبار به غالب لره وي که شوده اوبو سره
وَدَوَاءٍ وَلَبَنِ شَاةٍ وَامْرَأَةٍ اُخْرٰى
او دوايې سره او د چيلۍ شودو سره او د بلې ښځې شو دوسره مخلوط شوي وي

دلغت وضاحت: حِلٌّ حلت، حلال کيدل رَضِيعٌ شيرخوار ثَدْيٌ سينه مُرْضَعَةٌ په فتحې د ضاد سره اسم مفعول دی. لَبَنٌ شوده.

د فقهي تشريح: قوله وتحِلُّ الخ: د رضاعًا تعلق أُخْتُ اخيهِ د مضاف سره هم کيدی شي او مضافٌ اليه سره هم، او د مضاف او مضافٌ اليه دواړو سره هم، مضاف سره د رضاعًا د تعلق صورت دا دی چې د هغه د نسبي ورور رضاعي خور وي او د مضاف اليه سره د تعلق صورت دا دی چې د هغه د رضاعي ورور نسبي خور وي. او دواړو سره د تعلق صورت دا دی چې د رضاعي ورور رضاعي خور وي، او دنَسَبًا تعلق په مضاف اليه کې يو سره نه دی بلکه دواړو سره دی، ځکه چې که چيرې د نسبًا تعلق صرف مضاف سره شي نو مضاف اليه رضاعي ګرځي او که صرف مضاف اليه سره وي نو مضاف نسبي ګرځي، په هر صورت تکرار لازميږي ځکه چې دا دواړه صورتونه په مسئله سابقه کې داخل دي. دنسب صورت دا دی چې د يو سړي دوه ځامن د دوو ښځو نه وي او په دغه ښځو کې د يوې ښځې لور هم وي ليکن د بل خاوند نه نو دا جينۍ د بلې ښځې د ځوی لپاره حلاله ده. ځکه چې دوی کې هيڅ قرابت نشته. ليکن هم د دغې ښځې ځوی ته جائز نه ده. ځکه چې هغه د هلک اخيافي خور ده.

قوله ولا حِلَّ الخ: که چيرې دوو ماشومانو د يوې ښځې شوده او څښل نو هغوی په خپلو کې رونړه خويندې دي، په هغوی کې د حلت هيڅ صورت نشته ځکه که چيرې د دغې ښځې شوده د دوو خاوندانو نه وي نو دوی په خپلو کې مادر شريک خويندې وروڼه دي او که چيرې شوده ئې د يو خاوند نه وي نو بيا هغوی مادر پدر شريک رونړه خويندي دي. دغه رنګه د شسير خواري جينۍ او د رضاعي مور د نسبي ځوی په مينځ کې هم حلت نشته. ځکه چې دوی خپلو کې رضاعي ورونه

خويندې دي. دارنګې د شير خوارې جينئ او د رضاعي مور دنمسي په مينځ کې هم حلت نشته ځکه چې د رضاعي مور نمسی وراره وي.

قوله واللبن الخ: که چيرې شوده د خوراک سره مخلوط وي نو که غالب وي او که مغلوب وي د امام صاحب په نزد دې سره حرمت نه ثابتيږي. د صاحبينو په نزد دشودو د غلبې په صورت کې حرمت ثابتيږي. ليکن دا اختلاف هغه وخت دی چې کله شوده د خوراک سره په اور نه وي پاخه شوي. که چيرې پاخه شوي وي نو بيا بالاتفاق حرمت نه ثابتيږي. دليل د صاحبينو دا دی چې په مخلوط کې د غالب اعتبار وي. امام صاحب دا فرمايي چې د مقصود يعنې د غذائيت په لحاظ سره خوراک اصل دی او شوده تابع دي ، نو د تابع کيدو په وجه سره شوده به مغلوب وي اګر که غالب هم وي.

قوله ويعتبرُ الخ: که چيرې شوده د اوبو دوا سره يا د چيلئ شودو سره يا چيرته د بلې ښځې د شودو سره مخلوط شول نو اعتبار به غالب له وي. اوبو سره مخلوط کيدو کې د امام شافعي رحمه الله اختلاف دی، هغه دا فرمائي که چيرې اوبو کې د پنځو ګوتو په مقدار شوده مخلوط وي نو حرمت ثابتيږي. ځکه چې هغه کې حقيقةً شوده موجود دی. مونږ دا وايو چې مغلوب شی حُکماً موجود نه وي. په آخري صورت کې عدم ثبوت حرمت په نزد د امام ابويوسف رحمه الله دی، او يو روايت د امام صاحب نه دا هم دی، ځکه چې هغه دواړه يوځائې شونو شی واحد ترينه جوړ شو. لهٰذا اقل به د اکثر تابع وي. د امام محمد او امام زفر رحمه الله په نزد حرمت ثابتيږي. هغوی فرمائي چې جنس په جنس نه غالب کيږي. فان الشيئ لا يصير مُستَهلكًا فی جنسه لا تحاد المقصود.

و لبنُ البكرِ و الميتةِ مُحرِّمٌ لا الاِحتقانُ و لبنُ الرّجلِ والشاةِ لو ارضعَتْ
او شوده د باکرې او د مړې ښځې حرمت پيدا کوونکې دي نه حُقنه کول او شوده د نارينه او د ګډې، او که چيرې شوده ورکړه
ضَرَّتَها حُرمَتَا و لا مهرَ لکبيرةِ اِن لَم يَطأها و للصغيرةِ نصفُهُ
ښځې خپلې بنې ته نو دواړه حراميږي او مشرې ته به مهر نه ملاويږي که چيرې هغې سره نې وطې نه وي کړي،او کشرې لپاره نيم

و يَرجعُ به على الكبيرةِ إن تعمّدتِ (۱) الفسَادَ و إلّا لا
مهر دى او رجوع به کوي خاوند په نيم مهر سره په مشره باندې که چيرې فساد په ارادې د هغې سره وو. ورنه رجوع پرې نشته.
ويثبُتُ بما يثبُت به المالُ
او ثابتيږي رضاعت په هغه سره چې کوم سره مال ثابتيږي.

د فقهي تشريح: قوله ولبنُ الخ: د نهو کالو باکرې جينئ شودو سره او د مړې ښځې شودو سره هم حرمت ثابتيږي. په نزد د امام شافعي رحمه الله د مړې ښځې په شودو سره حرمت نه ثابتيږي. هغه دا فرمايي چې د ثبوت په سلسله کې اصل ښځه ده، ددې په وجه سره حرمت نورو ته متجاوز کيږي او د مرګ نه پس هغه محل د حرمت پاتې نه شوه. هم دا وجه ده چې مړې ښځې سره جماع کولو سره حرمت د مصاهرت نه ثابتيږي. مونږ دا وايو چې سبب د حرمت رضاع شبه د جزئيت ده. او شودو کې په دې معنى سره دى چې ماشوم هغې سره نشو نما أخلي، او دا څيز په شودو کې بهر حال موجود دى، په خلاف د مسئلې نه چې هلته کې چې کوم وطي کې شبه د جزئيت ده نو هغه په دې معنى سره ده چې هغه موضع حرث سره ملاقي کيږي او مرګ نه پس هغه محل د حرث پاتې نه شو. فافترقا.

قوله ولو ارضَعَتْ الخ: د يو سړي په نکاح کې دوه ښځې وې يوه کبيره بله صغيره، کبيرې دا حرکت وکړو چې صغيرې ته ئې خپل شوده ورکړه نو په خاوند دواړه حرامې شوې، ځکه چې اوس هغه دواړه ښځې خپلو کې رضاعي مور او لور شوي، او د رضاعي مور او لور په نکاح کې جمع کول ناجائز دي. اوس که چيرې خاوند کبيرې سره وطي کړې وې نو بيا خو مهر لازم دى، او که وطي ئې نه وي کړې نو کبيرې ته به مهر نه ملاويږي ځکه چې جدايي ددې د طرف نه راغلې ده. او صغيرې ته به نصف مهر ملاويږي ځکه چې جدائي ددې طرف نه نه ده راغلې. او اګر چې شوده څښل ددې فعل دى ليکن اسقاط حق کې دا معتبر نه دي، البته خاوند چې کوم نصف مهر صغيرې ته ورکړي

---

(۱) لتعمد الفساد شروط الاول ان تكون عاقلة فلا رجوع على المجنونة الثاني ان تعلم بالنكاح الثالث ان تعلم ان الرضاع مفسد، الرابع ان يكون من غير حاجة بان كانت شبعانة فان ارضعتها على ظن انها جائعة ثم ظهر انها شبعانة لا تكون متعمدة الخامس ان تكون متيقظة فلو ارتضعت منها و هى نائمة لا تكون متعمدة و القول قولها مع يمينها انها لم تتعمد ۱۲ بحر بحذف و زيادة

دی هغه به د کبیرې نه وصول کړي په شرط د دې چې کبیرې د فساد نکاح قصد کړی وي. او که چیرې د هغې مقصد فساد نکاح نه وو بلکه د هغې ولږه ختمول وو نو بیا د رجوع حق ئې هم نشته.

قوله ویثبت الخ: زمونږ په نزد د رضاعت ثبوت هم په هغه حجت سره کیږي کوم سره چې د مال ثبوت کیږي. یعنې د دوو عادلانو سړو یا د یو عادل سړي او دوو عادلانو ښځو په ګواهي سره. امام مالک رحمه الله فرمائي چې صرف د یوې عادلې ښځې په ګواهي سره هم رضاعت ثابتیږي، ځکه چې حرمت د رضاعت منجمله د شرع د حقوقو نه یو حق دی، نو په خبر واحد سره ثابت کیدی شي. لکه یو سړي غوښه واخیسته او چا ورته خبر ورکړو چې دا د مجوسي ذبیحه ده نو هغه لپاره خوراک جائز نه دی، مونږ دا وایو چې په باب د نکاح کې ثبوت د حرمت په ملک زائله کیدو سره نه جدا کیږي ځکه چې بقا د نکاح سره د ثبوت د حرمت دائمي نه نه شي متصور کیدی، او بطلان د نکاح د دوو عادلانو سړو یا د یو عادل سړي او دوو عادلانو ښځو نه بغیر نشي کیدی نو د حرمت ثبوت هم دی نه بغیر نشي کیدی، په خلاف د غوښې د مسئلې نه چې حرمت د خوراک په ملک زائله کیدو سره جدا کیږي لکه شراب چې د حرمت باوجود په هغې کې ملک عین ثابتیږي

كتابُ الطلاق
هو رفع القيد الثابتِ شرعًا بالنكاحِ تطليقها واحدةً فى طهرٍ لا
دا رفع د قید هغه ده چې ثابت وي شرعًا په ذریعې د نکاح سره، طلاق ورکول دې ښځې ته یو طلاق په دلسې طور کې چې هغې کې
وطئ فيه وتركها حتى تمضى عدّتها أحسنُ
وطي نه وي او پریښودل د هغه وخته پورې چې تیر شي عدت د هغې، دا احسن دی

قوله كتابُ الخ: هر کله چې نکاح په طلاقو مقدمه ده نو دې وجې نه د نکاح د احکامو نه پس طلاق ذکر کوي، لپاره د دې چې وضع او طبع دواړه متوافق شي، او د نکاح او طلاق په مینځ کې ئې رضاع په دې مناسبت سره راوړه چې رضاعت سره هم حرمت ثابتیږي ، او طلاق سره هم ، لیکن فرق صرف دومره دی چې رضاع سره حرمت مؤبده ثابتیږي او طلاق سره غیر مؤبده، فقد مر الاشد علی الاخف ، طلاق اسم مصدر دی په معنی د تطلیق سره. لکه سریح په معنی د تسریح سره ، سلام معنی د تسلیم سره ، ومنه قوله تعالی ، الطلاق مرّتان (معراج) یا طلقت (د لام ضمې او فتحې سره) د طلاقاً مصدر دی او اګر چې أخفش نه د مضموم اللام نفي مروي ده لیکن دیوان

الادب كې دي چې دا هم يو لُغت دی، طلاق په لغت كې مُطلق بند پرانستو ته وئيلی شي يُقال اطلق الناقةُ هغه د اوښې د خپو تړلو رسۍ پرانيستی، شرعي معنی مخكې راروانه ده.

فائده: په ټولو مباحو اشياؤ كې زيات نا خوښه څيز طلاق دی، د نبي صلی الله عليه وسلم ارشاد دی، (ان ابغض المباحات عند الله الطلاق) ليكن د اطلاقو دتبايُن او د زوجينو د ناموافقت په وخت د جدائي نه ما سوا هيڅ علاج نشته. په دې وجه سره شريعت طلاق جائز كړی دی. حديث كې چې كوم مبغُوض كيدو سره ئې صفت هم كړی نو دې سره كراهت نه لازميږي لكه څنګه چې بعضو حضراتو ذكر كړي دي. ځكه چې حديث كې پخپله ددې مضاف اليه مباحات موجود دی، او افعل التفضيل د خپل مضاف بعضې دی، دارنګې آيت (لا جناح عليكم ان طلقتم النساء مالم تمسوهن) دليل ددې چې په وخت د ضرورت كې طلاق مكروه نه دی(۱).

قوله وهو رفع الخ: د فقهاؤ په نزد طلاق د هغه قيد لرې كولو نوم دی چې په شريعت كې په ذريعه د نكاح ثابتيږي. په قيد دې شرعًا سره قيد حسی خارج شو او په قيد د نكاح سره ترينه عتق خارج شو. ليكن په دې تعريف دا اعتراض دی، چې دا جامع نه دی. ځكه چې د احد الزوجين په ارتداد او خيار بلوغ او عتق كې د قاضي تفريق كول فسخ نكاح ده. نه چې طلاق دی، حال دا چې د طلاق تعريف پرې صادق دی، او په رجعت كې دفع د قيد نه وي حال دا چې طلاق واقع كيږي. پس د طلاق بهتر تعريف دا دی چې هو رفعُ قيد النكاح حالاً او مالاً بلفظٍ مخصوص. يعني طلاق مخصوص الفاظو سره رفع د قيد د نكاح ته وئيلی شي خواه كه رفع د قيد في الحال وي يا آخر كار وي. پس په قيد د نكاح سره قيد حسي او عتق خارج شو او په لفظ مخصوصٍ سره ترينه فسخ يعني تفريق ارتدادِي او خيارِ بلوغ او خيار عتق خارج شو او په قيد د مالاً سره ترينه طلاق رجعي خارج شو، تأمل.

قوله تطليقُها الخ: د طلاق درې قسمونه دي (۱) أحسن، (۲) حسن (سُني) (۳) بدعي. طلاق احسن دا دی چې په كوم طُهر كې وطي نه وي شوي په هغه كې يو طلاق وركړی او پريږدي تر دې چې د هغې عدت تير شي. ځكه چې صحابه كرامو به دا مُستحب ګڼړلو. د دې طلاق أحسن كيدل په دې معنی سره دی چې د نورو طلاقو يعنې د حسن او بدعي په لحاظ سره أحسن دی نه چې دی

---

(۱) و اما ما روي لعن الله كل ذواق مطلاق، و اشباهه فمحمول على الطلاق بغير حاجة بدليل ما روى انه عليه السلام قال ايما امرأة اختلعت من زوجها بغير نشوز فعليها لعنة الله و الملائكة و الناس اجمعين ۱۲.

اعتبار چې ګڼې دا فی نفسه أحسن دی، حتی یرَوا أنه ابغض المباحات فکیف یکون أحسن.

و ثلثًا فی اَطهارٍ حَسَنٌ و سُنِّيٌّ و ثلثًا فی طُهرٍ او بکلمةٍ بِدْعِيٌّ و غيرُ الموطوءَةِ تُطلَّقُ
او درې طلاقه په درې طهرو کې حسن او سُنّي دی، او درې په یو طهر کې یا په یو کلمې سره بدعي دی او غیر موطوءه ته به طلاق ورکولی
للسنةِ ولو حَائِضًا و فرّقَ عَلَى الاشهرِ فیمنْ لا تحیضُ و صَحَّ
شي سُنّي طلاق اګر که حائضه وي. او تفریق به کوي په میاشتو سره په حق د هغې ښځه کې چې حیض ئې نه راځي او صحیح
طلاقُهنّ بَعْدَ الوطْءِ و طلاقُ الموطوءةِ حَائِضًا بدعِيٌّ فیُراجِعُها و یُطلِّقُها
دي طلاق ددوی پس د وطي نه او طلاق د موطوءې په حالت د حیض کې بدعي دی، نو رجوع به ورته او طلاق به ورکوي.
فِی طُهرٍ ثانٍ و لو قال لموطوءَته انتِ طالِقٌ ثلثًا للسُّنةِ وَقَعَ عِندَ کلِّ طهرٍ
په دویم طهر کې، که چیرې یوسړي خپلې موطوءې ته وویل چې ته دې طلاقه ئې په درې طلاقو سُنّي، نوواقع کیږي په هر طهر
طلقةٌ و ان نوی ان یَقعَ الثلثُ السَّاعةَ اَو عندَ کلِّ شهرٍ وَاحدةٌ صَحّتْ
کې یو طلاق، او که چیرې نیت ئې کړی وو چې واقع دې شي درې واړه هم په دې وخت کې یا په هره میاشتې کې یو طلاق نو دا هم صحیح دی
وَیَقعُ طلاقُ کلِّ زوجٍ عاقلٍ بالغٍ ولو مُکرَهًا و سَکرانَ وَاخرسَ باشارته حرًّا اَو
اوواقع کیږي طلاق د هر خاوند عاقل بالغ اګر که مُکره وي یا په نشه کې وي اود ګونګاه طلاق په اشاره سره دی آزاد وي تو که
عبدًا لا طلاقُ الصبيِّ و المجنونِ و النائِمِ والسَّیِّدِ علی امرأةِ عَبدِه و اعتبارُهُ بالنساءِ
غلام وي نه واقع کیږي طلاق د ماشوم او د مجنون او دویده او د آقا د خپل غلام په ښځه باندې، اود طلاق اعتبار په ښځو سره دی
فطلاقُ الحرّةِ ثلثٌ والامةِ ثنتانِ.
نوطلاق د آزادې ښځې درې دي او د وینځې دوه دي

﴿ د طلاق د قسمونو بیان ﴾

د لغت وضاحت: اطهار: د طهر جمع ده، زمانه د پاکئ. **مکرَه:** چا باندې چې په زبردستئ طلاق اچولی شوی وي. **سُکران** نشه **اَخرس،** ګونګا

د فقهي تشریح قوله وثلثًا الخ: طلاق حسن دا دی چې په درې طهرو کې جدا جدا درې طلاقه ورکړي، که چیرې د ښځې حیض راځي، او که چیرې حیض ئې نه راتلو لکه آئسه او صغیره او

حامله نو هغې ته به په درې مياشتو كې دري طلاقه وركوي. مصنف رحمه الله چې حسنٌ سره كوم د سُنّيٌ لفظ ذكر كړی دی، د هغې وجه دا نه ده چې ګنې صرف طلاق حسن سُني دی او طلاق أحسن سُني نه دی ځكه چې كله طلاق حسن سُني يعنې مسنون شونو طلاق أحسن به په طريقه اولی سره مسنون وی. بلكه وجه دا ده چې په دې كې په امام مالك رحمه الله رَدْ مقصود دی، ځكه چې هغه دې ته بدعت وايې او فرمائي چې په طلاق كې اصل د هغې منع كول دي، ليكن بعض اوقات د هغې ضرورت واقع شي دې وجې نه دا مُباح كړی شو. او ضرورت په يو پوره كيږي، نو د يو طلاق نه زيات به مسنون نه وي. وجه د رَددا ده چې نبي صلى الله عليه وسلم حضرت ابن عمر رضي الله عنه ته فرمايلي وو چې سنت دا دی چې د طُهر انتظار به كوي او په هر طُهر كې دې طلاق وركړي (۱). طلاق بدعي دا دی چې يو طُهر كې دري طلاقه وركړي يا په يو كلمې سره درې طلاقه وركړي بان يقول أنت طالق ثلثًا.

فائده: د طلاق بدعي اته صورتونه دي (۱) په يو طُهر كې جدا جدا (۲) يا په يو لفظ سره دري طلاقه وركول (۳) په يو لفظ سره دوه طلاقه وركول (۴) په دوو لفظونو سره دوه طلاقه وركول، او په اول طهر كې وركول چې په هغه كې رجوع نه وي (۵) په حالت د حيض كې طلاق وركول (۶) په هغه طهر كې طلاق وركول چې په هغه كې وطي شوی وي (۷) يا د طهر نه مخكې په حيض كې وطي شوي وي (۸) په حالت د نفاس كې طلاق وركول.

قوله و طلاق الموطوءة الخ: مدخولې ښځې ته په حالت د حيض كې طلاق وركول بدعي يعنې حرام دي او بناء بر قول أصح رجوع كول واجب دي، دې نه پس كله چې حيض نه پاكه شي نو كه غواړي په نكاح كې دې وساتي، او كه غواړي نو په طهر كې دې طلاق وركړي ځكه چې ابن عمر رضي الله عنه كله چې خپلې (۲) ښځې ته په حالت د حيض كې طلاق وركړو نو نبي صلى الله عليه وسلم حضرت عمر رضي الله عنه ته وفرمايل چې ځوئ ته دې ووايه چې رجوع (۳) وكړي.

قوله و لو قال الخ: يو سړي خپلې مدخولې ښځې ته چې هغه ذوات الحيض نه وه وويل چې تا ته په طريقې د سنت سره دري طلاق دركوم نو په هر طهر كې يو يو طلاق واقع كيږي، ځكه چې للسُنّة كې

---

(۱) دارقطني، طبراني، هيثمي (في مجمع الزوائد) عن ابن عمر ۱۲.

(۲) آمنه بنت غفار ۱۲

(۳) آئمه سته عن ابن عمر ۱۲

لام د توقيت لپاره دى فكأنه قال وقت السنة او د طلاق سني وخت طهر دى چې هغې كې جماع نه وي ، يا لام لپاره د اختصاص دى يعنې درې طلاقه چې هغه د سنتو سره خاص وي او طلاق مطلق دى پس دي سره به فرد كامل مراد وي او د طلاق سني فرد كامل هغه دى چې هغه د عدد او وخت په دواړو اعتبارو سره سنت وي، لهذا درې طلاقه به په درې طهرو كې واقع كيږي، او كه چيرې هغه فى الحال د درې طلاقو واقع كيدو نيت وكړي يا د هرې مياشتې په شروع كې د يو طلاق واقع كيدو نيت وكړي نو دا هم صحيح دى، ځكه چې كلام كې ددې احتمال شته دى.

قوله ويقع الخ: زمونږ په نزد طلاق د هر عاقل ، بالغ خاوند واقع كيږي چې هغه مُكره وي يعنې چا په زبردستى پرې طلاق غورځولې وي يا خاوند د بهنګو ، افيون يا د خراسانى أجوائن وغيره نشه مست وي، بهر حال طلاق واقع كيږي، ابن عمر، شعبي، زهري، قتاده، ابو قلابة ، سعيد بن جبير، ابن مسيب او شريح هم ددې قائل دي، امام شافعي رحمه الله ، احمد او د امام مالك په نزد ددوئ طلاق نه واقع كيږي. حضرت عمر ، على ﷺ ، ابن عباس ﷺ ، زبير، عمرو بن عبد العزيز، حسن، ضحاك او قتاده نه دا نقل دي. ددې حضراتو دليل د نبي صلى الله عليه وسلم دا ارشاد دى چې زما د امت نه خطا او هيره او هغه څيز پورته كړى شوى دى چې هغوي باندې په زبردستئ وكړى شي [۱] دارنګې د نبي صلى الله عليه وسلم ارشاد دى لا طلاق و لا عتاق فى اغلاق [۲] ابن قتيبه وئيلي دي چې دا غلاق معنى اكراه ده، عقلي دليل دا دى چې د تصرفات شرعيه اعتبار سره د اختياره دى او اختيار د اكراه سره نه جمع كيږي زمونږ دليل د نبي صلى الله عليه وسلم ارشاد دى ثلاث جدهن جدٌّ و هذلهُنّ جدٌّ النكاح والطلاق [۳] والرجعة ، بله دا چې په نورو رواياتو كې دي چې يوې ښځې توره راوښكله او خاوند ته ئې ووېل، يا خو ماته طلاق راكړه ګنې قتلوم دې. هغه طلاق وركړو او معامله حضرت عمر ﷺ ته پيش شوه نو هغه دده طلاق نافذ كړو [۴]. دارنګې فتح القدير كې د حضرت عمر قول منقول دى چې أربع مبهمات مقفلات ليس فيهن ردٌّ النكاح و الطلاق والعتاق و الصدقة. عقلي دليل دا دى چې اكراه كې د مكره قصد او اختيار نه سلب كيږي، ځكه چې كله په شرّينو كې اهون اختيار وي نو دا ښكاره دليل دى چې دده اختيار نه دى سلب شوى، زيات نه زيات دا ده چې

---

(۱) ابن حبان ابن ماجه، حاكم عن ابن عباس ۱۲.

(۲) ابو داؤد، ابن ماجه حاكم عن عائشة.

(۳) حاكم. ترمذى. عن ابى هريرة. ۱۲

(۴) ابن حزم و اخرج في معناه محمد بن حسن و العقيلى عن صفوان بن عزوان وفى آخره لا قيلولة فى الطلاق ۱۲.

هغه به پري راضي نه وي او د طلاقو وقوع په رضاء موقوف نه ده، په هر صورت د مُكرَه طلاق واقع کيږي. پاتې شو مخکې ذکر شوی استدلالات نو د اول حديث جواب دا دی چې په دې کې بالاجماع حکم اخروي مراد دی نه حکم دنيوي، او په دويم حديث کې ابوداؤد او امام احمد د اغلاق تفسير په غضب سره کړی دی حال دا چې دې ته هيڅ څوک قائل نه دي.

فائده: په شل معاملاتو کې چې کوم په حالت د اکراه هم کيږي. صاحب نهر هغه په دې اشعارو کې جمع کړي دي.

(۱) طلاق و (۲) ايلاء (۳) ظهار و (۴) رجعة: (۵) نکاح مع (۶) الاستيلا
(۷) عفو عن العمد: (۸) رضاع و (۹) ايمان (۱۰) و في و (۱۱) نذرة:
(۱۲) قبول لا يداع کذا (۱۳) تصلح عن عمد: (۱۴) طلاق على جعل (۱۵) يمين به اتت کذا:
(۱۶) العتق (۱۷) و الاسلام (۱۸) تدبير للعبد: (۱۹) و ايجاب احسان و عتق
(۲۰) فهذه: تصح مع الاكراه عشرين فى العدد.

قوله لا طلاق الخ: د ماشوم د ليوني او د غلام په ښځه باندې د آقا طلاق نه واقع کيږي، ځکه چې د نبي صلى الله عليه وسلم ارشاد دی چې هر طلاق جائز دی سواء د مغلوب (۱) العقل د طلاق نه، دارنګې حديث کې دي چې د ماشوم طلاق نه دی جائز (۲).

قوله واعتبارُهُ الخ: زمونږ په نزد په عدد د طلاقو کې د ښځې د حال اعتبار دی، که چيرې هغه ازاده وي نو خاوند د دريو طلاقو مالک دی، خاوند ئې غلام وي يا که آزاد وي، حضرت علي ، ابن مسعود ، ابن عباس (يو روايت کې) نخعي ، حسن بن حيي ، ابن سيرين، ثوري او مجاهد د ټولو هم دا قول دی، د ائمه ثالثه په نزد د سړي د حال اعتبار دی، دليل ئې د حضرت ابن عباس رضى الله عنه قول دی چې د طلاقو اعتبار د سړو په لحاظ سره دی او د عدت اعتبار د ښځو په لحاظ (۳) سره دی زمونږ دليل د نبي صلى الله عليه وسلم ارشاد دی چې د وينځې طلاقو نه دوه دي.

---

(۱) ترمذى عن ابى هريرة. ۱۲.

(۲) ابن ابى شيبة، عبد الرزاق عن ابن عباس، بخارى عن على تعليقا ۱۲.

(۳) ابن ابى شيبة، عبد الرزاق عن ابن عباس، طبرانى عن ابن مسعود، عبد الرزاق عن عثمان وزيد بن ثابت كليهم موقوفًا ۱۲.

او د هغوی عدت دوه حيضه دي (۱) او د ائمه ثلاثه د استدلال جواب دا دی چې په دې كې ايقاع د طلاق مراد دی ، نه د عدد د طلاقو.

بابُ الطلاق الصريح
باب دی په بيان د طلاق صريح كې
هو كَانَتِ طَالِقٌ و مُطَلَّقةٌ و طَلَّقتُكِ و تقعُ واحدةٌ رجعيّةٌ و ان نَوى الاكثَر او الابانةَ
طلاق صريح لكه أنت طالقٌ يا أنت مطلقةٌ يا ماتا ته طلاق دركړو نو يو رجعي طلاق واقع كيږي، اګر كه نيت ئې د اكثر وي يا د جدايئ
اولم يَنوِشيئًا و لو قال انتِ الطلاقُ او انتِ طالِقٌ الطلاقَ او انتِ طالِقٌ طلاقًا
يعنې د بائن نيت ئې كړی يا نيت ئې نوی د هيڅ څيز او كه چيرې وئې ويل ته طلاق ئې ، يا خاص طلاقه ولا ئې يا طلاقه ئې په يو طلاق سره
تقعُ واحدةٌ رجعيّةٌ بلا نيةٍ اونوی واحدةً او ثنتين و ان نوی ثلثًا فثلثٌ
نو واقع كيږي يو طلاق رجعي بغير د نيت نه، يا ئې نيت د يو طلاق اوكړو يا د دوو طلاقو، او كه چيرې نيت ئې كړی وو د دريو نو دري
و ان اضافَ الطلاقَ الى جملتها او الى ما يُعبَّر به عنها كالرَقبةِ (۲) و العنقِ و الرّوحِ
واقع كيږي لو كه چيرې مضاف ئې كړو طلاق د ښځې كل طرف ته يا هغې حصې طرف ته چې هغې نه بغير كيدی شي په كل سرد، لكه څټ، مرۍ،روح
والبدنِ والجسدِ و الفرجِ و الوجه او الى جزءٍ شائعٍ منها كنصفها او ثُلثِها تُطلّقُ والى اليدِ اَوِ الرّجلِ
بدن، جسد، فرج، مخ ياد هغې جز شائع طرف ته لكه نصف يا دريمه حصه نو طلاق واقع كيږي ، او لاس يا پښې يا د بر طرف ته
اَوِ الدبُرِ لا و نصفُ التطليقةِ او ثلثُها طلقةٌ وثلثةُ انصافِ تطليقتين ثلثٌ
مضاف كولو سره نه واقع كيږي، او نصف طلاق يا دريمه حصه د طلاق يو طلاق دی، او دري انصافه د دوو طلاقو دري طلاقه دي.
و من واحدةٍ او مابين واحدةٍ الى ثنتين واحدةٌ والى ثلثٍ ثنتانِ وواحدةٌ فى ثنتين و واحدةٌ ان لم ينوِ
او د يو نه يا د يو نه د دوو تر مينځه يو طلاق دی، او دري پورې دوه طلاقه دي، او يو په دوو كې يودی كه چيرې نيت ونه كړي يا نيت د

(۱) ابوداؤد ، ترمذی، ابن ماجه، حاكم، دارقطنی، بيهقی عن عائشة، ابن ماجه، بزاز، طبرانی، دارقطنی عن ابن عمر، حاكم، ابوداؤد ، نسائی، ابن ماجه، عن ابن عباس. ۱۲ .

(۲) قال تعالى: فتحرير رقبة، فظلّت اعناقهم لها خاضعين و قولهم هلكت زوجه ای نفسه جسد فلان يخلص من ذل الرّق و قوله عليه السلام لعن الله الفروج على السّروج، و قال تعالى: و يبقى وجه ربك ای ذاته ۱۲.

او نَوى الضربَ وان نَوٰى واحدةً و ثنتينِ فثلثٌ و ثنتَين فى ثنتَين ثلثانِ و ان نوى الضربَ

ضرب وكړي، او كه چيرې نيت ئې وكړو د يو او دوو طلاقو نو درې واقع كيږي، او دوه په دوو كې دوه دي اګر كه د ضربِ نيت ئې كړى دي

و مِن هُنا الى الشامِ واحدةٌ رجعيةٌ و بمكةَ او فى الدار تنجيزٌ و اذا دَخَلتِ مَكةَ تعليقٌ

او ددې ځاې نه تر شامه يو طلاق رجعي دى، او په مكه كې يا په كور كې طلاق تنجيزي دى او كله چې ته داخله شوې مكې ته نو دا تعليق دى.

د فقهي تشريح: قوله باب الخ: أصل طلاق او د وصف د طلاقو نه بعد د هغې انواع بيانوي چې طلاق يا به صريحي الفاظو سره وي يا به كنائي الفاظو سره وي. طلاق صريح هغه الفاظو سره وي چې په وجه د غالب استعمال په طلاقو كې مستعمليږي. لكه أنت طالق الخ په دې الفاظو سره طلاق وركوونكى د زياتو نيت وكړي يا د بائن يا د سر نه هډو نيت ونه كړي، بهر حال يو طلاق واقع كيږي، ځكه چې آيت(مه) د طلاق كې د طلاق صريح نه پس د رجوع اجازت وركړى شوى دى، معلومه شوه چې طلاق صريح سره طلاق رجعي واقع كيږي، او كه چيرې طلاق وركوونكى داسې يو تركيب اختيار كړي چې په هغې كې خبر مصدر وي يا تاكيد وي خواه كه مصدر نكره وي يا مصرفه وي لكه أنت الطلاق اهنو په دې كې هم يو طلاق رجعي واقع كيږي. اګر كه هغه د دوو نيت وكړي يا هډو د سر نه نيت ونه كړي ځكه چې طلاق صريح كې نيت كولو ته ضرورت نه وي، دارنګي په مصدر صريح كې د عدد احتمال نه وي، البته كه چيرې د دريو نيت وكړي نو بيا درې واقع كيږي، ځكه چې مصدر اسم جنس دى، لهذا كل جنس مراد كيدى شي. پس درې فرد حكمي دي، يعنې د دريو عدد د طلاق نه فرد كامل دى، په خلاف د دوو نه چې هغه نه فرد حكمي دى و نه فرد حقيقي لهذا د دوو نيت نه صحيح كيږي.

قوله و ان أضاف الخ: كه چيرې طلاق وركوونكى د طلاق نسبت د ښځې كل ته وكړو بأن قال أنت طالقٌ يا داسې يو جزء طرف ته ئې وكړو چې هغې نه تعبير په كل سره كيدى شي لكه لفظ د رقبې وغيره، يا اضافت ئې جزء غير معين ته وكړو لكه نصف يا ثلث وغيره نو په دې درې واړو صورتونو كې طلاق واقع كيږي، وجه ئې ظاهره ده.

قوله والى اليد الخ که چيرې داسې جزء ته ئې اشاره وکړه چې هغې نه په کل سره تعبير نه کيږي لکه لاس ، پښې وغيره(۱) نو طلاق نه واقع کيږي، سوال: په لفظ يد سره د کل نه تعبير کيدل د قران نه ثابت دي، قال تعالى : و لا تُلقوا بأيديكم الى التهلكة. جواب دا دی چې محض استعمال کافي نه دی، بلکه د هغې شائع ذائع کيدل ضروري دي. د امام زفر او امام شافعي رحمه الله په نزد جزء معين غير شائع طرفته اضافت کولو سره طلاق واقع کيږي ، ځکه چې په عقد نکاح سره دغه جزء نه هم فائده حاصليږي پس په دې اعتبار سره چې هغه محل د نکاح دی محل طلاق واقع کيږي، او په دغه جزء کې حکم د طلاق ثابتيدو نه پس به کل کې سرائيت کوي ، مونږ دا وايو چې محل د طلاق هغه جزء کيدی شي چې په هغې کې معنی د قيد متصوره وي او په اجزاء مذکوره کې دا څيزونه نشته، نو طلاق نه واقع کيږي، لکه ويښته، نوکان، او غاښونه وغيره طرف ته اضافت کولو سره طلاق نه واقع کيږي

قوله و نصفُ الخ: د طلاق حصې لک نصف ، ثلث ، ربع، او عشر ذکر کولو سره پوره يو طلاق واقع کيږي، ځکه چې طلاقو کې تجزي نه کيږي او په أنت طالقٌ ثلثه انصاف تطليقتين کې درې طلاق واقع کيږي، ځکه چې د دوو طلاقو نصف يو طلاق دی، او هغه درې نصفه جمع کړه نو لازماً به درې طلاقه واقع کيږي، چا ښځې ته وويل چې ته دې د يونه تر دوو پورې طلاقه ئې نو يو طلاق واقع کيږي او که چيرې دا ئې وويل چې يو نه تر دريو پورې يا په مابين د يو نه تر درې پورې، نو دوه طلاقه واقع کيږي، دا د امام صاحب په نزد دی د صاحبينو په نزد په اولني صورت کې دوه او په دويم صورت کې درې واقع کيږي، د امام زفر په نزد صرف په دويم صورت کې يو طلاق واقع کيږي ځکه چې غايه په مغيا کې نه داخليږي مثلاً څوک دا وايې چې بعت منک من هذا الحائط الى هذا الحائط نو دواړه ديوالونه په بيع کې نه داخليږي صاحبين دا فرمائي چې دا قسم کلام نه په عرف کې کل مراد وي لکه څوک ووائي خذ من مَالِي من درهمٍ الى مائةٍ. امام صاحب دا فرمائي چې کله په کلام کې دوه عدد ده داسې ذکر شي چې د هغې په مينځ کې هم عدد وي لکه يو تر دريو پورې چې په دې کې دوه عدد دي نو په هغې کې به د اقل نه زائد مراد وي ، او که چيرې د هغې په مينځ

---

(۱) و هي الطلاق مرتان فامساک بمعروفٍ او تسريح باحسان ۱۲ عـه: مثلاً شرمګاه، ګوتې، سترګې، پوزه، سينه، غوږونه، پنډی، پتون وغيره.

كې عدد نه وو لكه يو نه تر دوو پورې نو په هغې كې د اكثر نه كم مراد وي، لكه وئيلي شي سني من ستين الى سبعين زما عمر د شپيتو نه زيات اود اويا و نه كم دى، نو په رومبي صورت كې يو طلاق او په دويم صورت كې دوه طلاقه واقع كيږي

لطيفه: امام اصمعي د هارون په دربار كې امام زفر نه پوښتنه وكړه چې كه څوك دا ووائي چې أنت طالقٌ ما بين واحدةٍ الى ثلثٍ نو څو طلاقه واقع كيږي؟ هغوى وفرمايل چې يو طلاق، ځكه چې دمابين په استعمال كې حدين داخل نه دي، بيا اصمعي وويل چې څوك ووايې ماسنک؟ په جواب كې مابين ستين الى سبعين ووائي نو ستا د قاعدې مطالق د هغه عمر نهه كاله شو. پس امام زفر حيران پاتې شو.

قوله و واحدة فى ثنتين الخ كه چيرې يو شخص وويل أنت طالق وحدة فى ثنتين نو يو طلاق واقع كيږي خواه كه هغه د ضرب او حساب نيت كړى وي يا نه، ځكه چې ضرب سره په اجزاؤ كې زيادت كيږي. د عدد افراد نه زياتيږي، كه چيرې ضرب سره افراد زياتيدى نو دنيا كې به هيڅ څوك فقير نه وو، او كه چيرې د يو او دوونيت ئې وكړو يعنې فى ئې په معنى د دوو عاطفه كې استعمال كړونو بيا درې طلاق واقع كيږي كه چيرې ښځه مدخول بهاوي، ګني بيا يو طلاق دى، او كه چيرې فى ئې په معنى د مع كې استعمال كړو نو درې واقع كيږي، ښځه كه مدخول بها وي او كه نه وي، ځكه چې كلمه دفى په معنى د مع كې مستعمله ده، قال تعالى فادخلى فى عبادى اى مع عبادى، او كه چيرې أنت طالقٌ ثنتين فى ثنتين ئې ويل نو بيا دوه طلاق واقع كيږي ځكه چې مخكې تير شو چې عدد اول معتبر دى.

فصلٌ فى اضافةِ الطلاق الى الزمانِ أنتِ طالقٌ غدًااو فى غدٍ تُطلقُ عند الصبح ونيةُ

فصل دى په اضافت د طلاق كې زماني ته، چې ته ددې طلاقه ئې سحر ته يا په سحر كې نو طلاقيږي په وخت د سحر كيدو كې اونيت

العصر تصِحُّ فى الثانيةِ و فى اليوم غدًا او غدًا اليوم يُعتبرُ الاوّلُ أنتِ

د عصر صحيح كيږي په دويم لفظ كې، او په دې الفاظو كې چې ته دې طلاقه ئې نن سحر يا سحر د نن ورځينو معتبر دى لفظ اول ، ته

طالقٌ قبلَ ان اتزوّجكِ او أمسِ و نكحها اليومَ لغوٌ

دې طلاقه ئې مخكې ددې نه چې زه تا په نكاح واخلم يا ته طلاقه وې پرون، حال دا چې نكاح ئې ورسره نن كړې ده نو دا لغوه دي.

و ان نكحها قبلَ امسِ وَقعَ الأنَ و أنتِ طالقٌ مالم أُطلقكِ أو

او كه چيرې نكاح ورسره وكړې مخكې د سحر نه نو اوس واقع كيږي،او ته دې طلاقه ئې څوپورې چې مانه ئې طلاقه كړې، يا

متی لم أُطلّقکِ او متی مَالم أُطلقکِ و سَکتَ طُلِّقتْ و فی اِنْ لم أُطلّقکِ
هغه وخته پورې چې ما طلاق نه وې ور کړی، او خاموش پاتې شو نو طلاق واقع کیږي او په دې الفاظو کې چې که چیرې زه طلاق
و اذا لم أُطلّقکِ او اذا مالم أُطلّقکِ لَا حتّٰی یموتَ
در نکړم یا هر کله چې زه طلاق درنکړم یا کوم وخت کې چې زه طلاق درنکړم نو طلاق نه واقع کیږي تر دې چې په دوی
احدهُما انتِ طالِقٌ مالم أُطلّقکِ انتِ طالِقٌ طُلّقتْ هٰذه الطلقةَ
کې یو کس وفات شي، ته دې طلاقه یې خو پورې چې ما تاته طلاق نه وې درکړی، ته دې طلاقه یې نو طلاقیږي په دې سره.
انتِ کذا یومَ تزوجُک فنکحهَا لَیْلًا حَنِثَ بخلافِ
نو ته دې داسې یې په کومه ورځ چې ماته په نکاح سره واخیستې او بیا یې د شپې په نکاح سره واخیسته نو حانث کرځي په خلاف
الأمرِ بالیَدِ انا منکِ طالِقٌ لغوٌ و ان نوی و تَبِینُ فی البائِن و
د امر بالیدو نه چې زه تانه طلاقه یم، لغوه دي، او که چیرې نیت د طلاقو یې وکړو او جداکیږي په لفظ د بائن کې او لفظ د
والحَرامِ انتِ طالِقٌ واحدةً أولًا أو مَعَ موتی او مع موتکِ لغوٌ و لو
حرام کې، ته دې طلاقه یې په یو سره یا نه، یا سره زما د مرګ نه یا سره د مرګ ستا نه نو لغوه دي، او که چیرې د هغې د کُل
مَلکهَا او شِقْصَها او مَلَکَتْهُ او شِقْصَهُ بَطلَ العقدُ فلو اشترٰها ثم
یاد جز مالک شو یا ښځه د خاوند د کل یا د جز مالکه شوه نو نکاح باطلیږي، او که چیرې منکوحه وینځه یې واخیسته او بیا
طلّقهَا لم یَقعْ أنتِ طالقٌ ثنتَین مع عتقِ مولاکِ ایاکِ فاعتقَ لهُ
یې طلاقه کړه نو طلاق نه واقع کیږي ته دې طلاقه یې دوه طلاقه سره د ازادولو د مولاتا لره او آقا ازاده کړه نو هغه ته
الرّجعةُ و لو تَعلّقَ عتقُها و طلقتَاهَا بمجیءِ الغدِ فجاءَ لَا
حتی د رجوع.شته دی اوکه چیرې معلق یې کړه آزادې د هغې اودوه طالقه د هغې په راتلو د سحر پورې او سحر راغلو نو رجوع نشي کولی
و عدّتُها ثلٰثُ حِیَضٍ انتِ طالِقٌ هٰکذا او اشارَ بثلٰثِ اصابعَ فهی ثلٰثٌ انتِ طالِقٌ
او عدت د هغې درې حیضه دي او ته دې طلاقه یې دارنګ اواشاره یې وکړه په دریو ګوتو سره نو دا درې طلاقه دي. ته دې طلاقه یې
بائنٌ او البَتّةَ او افحشَ الطلاقِ او طلاقَ الشیطٰنِ اوالبدعةِ او کالجَبَلِ او اشدَّ الطلاقِ
په طلاق بائن سره یا طلاق بته سره یا طلاق افحش سره او یا شیطاني طلاق سره یا بدعي سره یا د غر په شان یا سخت طلاق

او كالفٍ او ملأَ البَيتِ او تطليقةً شديدةً اَو طويلةً او عريضةً فهيَ واحدةٌ بائنةٌ
يا په مثل د زرويا په دكوالي دكور يا شديد ترين طلاق يا اوږد يا لندى نو په دي تولو صورتونو كي يو طلاق بائن واقع كيږي
ان لم ينوِ ثلثًا
كه چيرې نيت ئې ددريو طلاقونه وو.

د فقهي تشريح: قوله انت طالق الخ: خاوند وويل انت طالق غداً نو د صبا ختو په وخت كي طلاق واقع كيږي ځكه چي ده ښځه په جميع غد كي طلاق سره متصفه كړي ده، او دا هغه وخت كيدى شي چي كله طلاق د هغي په اول جزء كي واقع شي، او كه چيرې في غدٍ ئې ووئيلو نو بيا هم دا حكم دى ، ليكن په دي صورت كي د امام صاحب په نزد د عصر نيت كول صحيح دي ، د صاحبينو په نزد نه صحيح كيږي ، ځكه چي لفظ د فِيْ په هر صورت ظرف دى لهذا في ذكر كول او نه ذكر كول برابر دي، د امام صاحب په نزد فرق دا دى چي غداً مقتضي للاستيعاب دى، او فِي غدٍ مقتضى للاستيعاب نه دى. **قوله انت طالقٌ الخ** د طلاق وركوونكي دا كلام چي انت طالق قبل ان اتزوجك او انت طالقٌ أمس لغو دى ځكه چي ده كلام داسي يووخت طرف ته منسوب كړى دى چي په هغي كي دده ملكيت نه وو ځكه چي د طلاق ملكيت خو د نكاح نه پس وي نه چي د نكاح نه مخكي، كه چيرې تير شوي كالونو كي ئې نكاح كړي وي نو هم دا وخت طلاق واقع كيږي ځكه چي دده كلام تصحيح په صورت كي د اخبارٌ ناممكنه ده نو لا محاله دا به انشأ گرځولى شي، و الانشاء في الماضى انشاءٌ في الحال. **قوله مالم أُطلقك الخ** خاوند وويل انت طالق ما اطلقك اهـ او بيا خاموش شو نو طلاق واقع كيږي ، ځكه چي ده طلاق يو داسي زماني طرف ته منسوب كړى دى چي هغه د طلاق نه خالي وه او كله چي هغه سكوت إختيار كړونو طلاق نه وركول موجود شو لهذا طلاق واقع كيږي. او كه چيرې ان لم اطلقك الخ وويلو نو څو پورې چي د احد الزوجين موت نه وي واقع شوى نو طلاق نه واقع كيږي ، ځكه چي په دي صورت كي هغه د عدم طلاق پورې معلق كړو، او عدم طلاق هغه وخت متحقق كيدى شي كله چي زندگى نه نا اميدي اوشي د صاحبينو په نزد په دي صورت كي هم د خاموش كيدو سره سمدست طلاق واقع كيږي، ځكه چي كلمه د اذا د وخت استعمال لپاره راځي. قال تعالى اذا الشمس كورت. قال الشاعر:

و اذا تكون كريهة ادعى لها :: و اذا يحاس الحسيس يدعى جندب

پس اذا لم اطلقک دواړه برابر وي. امام صاحب دا فرمائي چې کلمه د اذا په طريقې د اشتراک سره شرط کې هم مستعمله ده، قال الشاعر و استغن ما أغناک ربک بالغنى :: و اذا تصبک خصاصةً فتحمل . اوس که چيرې وخت مراد وي نو فى الحال طلاق واقع کيږي او که چيرې شرط مراد وي نو بيا نه واقع کيږي، او قرينه خوشته دی نه ، نو په وجه د شک طلاق نه واقع کيږي.

قوله أنت كذا الخ: يو سړي ښځې ته وويل چې په کومه ورځ زه تاسره نکاح وکړم نو ته دې طلاقه ئې بيا هغه د شپې نکاح وکړه نو حانث ګرځي ، يعنې طلاق واقع کيږي، ځکه چې کلام کې مراد د يوم نه مطلق وخت دی، او که چيرې دا وواېي چې امرک بيدک يعني تا ته د طلاق اختيار دی، کوم وخت چې زيد راشي، او زيد د شپې راغلو نو ښځې ته د طلاقو اختيار نشته، وجه دا ده چې کوم يو د فعل ممتد سره مقرون نو مراد د هغې نه ورځ ، لکه امر باليد ، سيل، رکوب او صوم وغيره ، او چې کله فعل غير ممتد سره مقرون وي نو هغه نه مطلق وخت مراد وي. چې هغه شپې او ورځې دواړو ته شاملې دي لکه ايقاع طلاق ، تزوج، دخولو خروج او اعتاق وغيره اهـ

قوله انت طالق ثنتين الخ: د يو سړي په نکاح کې د چا وينزه وه، هغه خپلې ښځې ته ويل چې ته دې په دوو طلاقو طلاقه ئې کله چې ته آقا ازاده کړې، آقا هغه ازاده کړه نو دوه طلاقه واقع کيږي، او د رجوع کولو اختيار ورته حاصل دی، ځکه چې دلته کې طلاق لپاره آزادی شرط ګرځولې شوی ده، او مشروط په شروط مقدم وي. نو مخکې ښځه ازاده شوه بيا پرې طلاق واقع شو ، او آزادې ښځې ته د دوو طلاقو نه پس رجوع کول صحيح دی.

سوال کلمه دمع تقاضا د مقارنت کوي نو د تقديم او تاخير ګنجايش پاتې نه شو.

جواب: لفظ د مع کله د تاخير لپاره هم راځي. قال تعالى ان مع العُسر يُسراً اى بعد العُسر ، او که چيرې د وينځې آقا وويل چې صبا ورځ راشي ته دې آزاده ئې ، او خاوند وويل چې کله صبا ورځ راشي نو ته دې طلاقه ئې ، او بيا د صبا ورځ راغله نو خاوند ته د رجوع اختيار نشته، کله چې دې صورت کې آزادې او طلاق دواړه يو شرط پورې مشروط دی، ليکن عدت په دواړو صورتونو کې درې حيضه دي ځکه چې عدت کې احتياط کولی شي.

قوله انت طالق بائن الخ: خاوند ښځې ته وويل چې ته دې په طلاق بائن سره طلاقه ئې اهنو په دې ټولو الفاظو سره يو طلاق بائن واقع کيږي، ځکه چې په دې ټولو الفاظو کې صفت د بينونت موجود دی، او که چيرې قائل په حره کې درې او په وينځه کې ئې د دوو طلاقو نيت وکړو نو نيت صحيح

کیږي ځکه چې مصدر کې د فرد اعتباري احتمال شته دی، د امام شافعي رحمه الله په نزد په دې ټولو الفاظو کې یو طلاق رجعي واقع کیږي چې هغه په دریو کې ذکر دي، په دې شرط چې ښځه مدخول بها وي.

فصلٌ فی الطلاقِ قبل الدُّخول طَلّق غیر الموطوءَةِ ثلثًا وقَعن و ان فرّقَ بانَتْ
فصل دی په بیان د طلاق قبل الدخول کې، طلاق ئې ورکړو غیر موطوءې ته درې طلاقه نو واقع کیږي او که جدا جدا ئې ورکړه نو په یو
بواحدةٍ و لو ماتَتْ بعد الایقاعِ قَبْلَ العددِ لَغَا ولو قَالَ اَنتِ طالقٌ واحدةً
سره بائنه کرځي، او که چیرې مړه شوه پس د ایقاع طلاق نه او مخکې د عدد نه، نو لغو دی، او که چیرې وئې ویل چې ته دې طلاقه ئې په یو سره
وواحِدَةً او قبل واحدَةٍ او بعدَها واحدةً تَقَعُ واحِدةٌ و فی بعدَ واحَدةٍ او قبلَها
او یو یا مخکې د یو نه یا یو سره چې پس دهغې نه یو دې نو یو طلاق واقع کیږي او په دې قول کې چې ته دې طلاقه ئې په یو سره پس د یو
واحدَةٌ او مَعَ واحدَةٍ او معَها ثنتَانِ ان دَخلتِ الدّار فأنتِ طالقٌ واحدَةً و
نه یا مخکې د هغې نه یو دی یا سره دیو نه، یا سره د هغې نه دوه دي که چیرې ته داخله شوې کور ته نو ته دې طلاقه ئې په یو سره او
واحدةً فدَخلتْ تَقَعُ واحِدَةٌ
یو سره نو ښځه داخله شوه نو یو طلاق واقع کیږي.

د فقهي تشریح: قوله طلق الخ: که چیرې یو شخص خپلې ښځې غیر موطوءې ته درې طلاقه ورکړه نو درې واړه واقع کیږي، ځکه چې دا قاعده ده، چې کله طلاق نه پس عدد ذکر وي نو طلاق د عدد موافق واقع کیږي او طلاق ثلاثه د غیر مدخولې د حدیث مرفوع او د حضرت علی او ابن مسعود او د حضرت ابن عباس رضی الله عنه د آثارو نه ثابت دي. لکه څنګه چې امام محمد تصریح کړې ده. د حسن بصري او عطاء رحمهما الله په نزد غیر مدخوله د طلاق ثلاثه محل نه دی، د دې وجې نه د هغوی په نزد لفظ د ثلثًا لغو دی، ځکه چې ښځه په أنت طالق وینا سره بائنه کرځي.

قوله و ان فرق الخ: او که چیرې جدا جدا درې طلاقه ئې ورکړه چې د هغې څو صورتونه دي (۱) تفریق په ذکر کولو د وصف سره لکه انت طالق واحدة وواحدة (۲): تفریق په ذکر د خبر سره لکه انت طالق و طالق و طالق (۳): تفریق په ذکر د اقوالو سره خواه عطف سره وي لکه انت طالق و انت طالق یا بغیر د عطف نه وي لکه انت طالق انت طالق انت طالق نو په دې ټولو صورتونو کې یو طلاق بائن واقع کیږي . ځکه چې دغه وخت کې د هر یو طلاق واقع کول جدا جدا مقصود دي، ځکه چې د کلام

په آخر کې هيڅ يو داسې څيز ذکر نه دی چې هغه د کلام آغاز متغير کړي، مثلا عدد او شرط وغيره دې وجې نه يو طلاق واقع کيدو سره في الحال بائنه ګرځي، او هر کله چې ړومبي طلاق سره بائنه ګرځي نو دويم او دريم طلاق په خپله لغو شو.

قوله ولو ماتت الخ: که چيرې د طلاق نه پس او د عدد ذکر کولو نه مخکې مړه شي (خواه که مدخوله وي او که غير مدخوله) نو د خاوند کلام لغو ګرځي، يعنې طلاق نه واقع کيږي، ځکه چې طلاق ورکوونکې طلاق وصف عدد سره مقرون کړی دی، نو طلاق به د عدد موافق وي، او کله چې ښځه د عدد ذکر کولو نه مخکې مړه شوه نو هغه محل د طلاق پاتې نه شوه. لهذا کلام لغوه دی.

قوله ولو قال الخ: په مسئله مذکوره باندې پوهيدل په دوو قاعدو موقوف دي (۱) دا چې کله تفريق د طلاق په ذريعه د حرف عطف وي نو يو طلاق واقع کيږي، که چيرې حرف عطف واو وي نو هم ځکه چې واؤ مطلق جمعې لپاره راځي، عام ددې نه چې په طريقه د معيت سره وي يا په طريقه د تقدم او تأخر سره، نو اول به په آخر پورې موقوف نه وي بلکه هر لفظ به خپل عمل کوي. دې وجې نه ښځه په يو طلاق سره بائنه ګرځي. اوروستنی طلاق نه واقع کيږي (۲): دا چې لفظ د قبل او بعد دواړه طرف دی، لفظ قبل هغه زمانې لپاره اسم دی چې د هغې د مضاف اليه نه وړاندې وي. او لفظ د بَعْدُ هغه زمانې لپاره اسم دی چې د هغې د مضاف اليه نه مؤخر وي. او کله چې ظرف د دوو اسمونو په مينځ کې واقع وي او هاء د کنائې سره مقرون نه وي نو هغه د اسم اول صفت وي، تقول جاء في زيد قبل عمرو، په دې کې قبليت د زيد صفت دی، کله چې دا خبره ذهن کې کيناسته نو اوس په مسئله ځان پوهه کړه، زيد خپلې ښځې ته ووئيل انت طالق واحدة واحدة نو يو طلاق واقع کيږي ځکه چې واو مطلق جمع لپاره دی، نو د اولنې طلاق وقوع د ثاني طلاق په وقوع موقوف نه شو. بلکه طلاق واقع شو. او کله چې يو طلاق واقع شو نو هغه د دويم طلاق محل پاتې نه شوه، او که چيرې زيد ووئيل انت طالق واحدة قبل واحدة نو هغه د طلاق ثاني نه مُخکې طلاق واقع کړی دی، لهذا هغې سره بائنه شوه، او د دويم طلاق محل پاتې نه شوه، او که چيرې انت طالق واحدة بعدها واحدة ووئيل نو بيا هم يو طلاق واقع کيږي ځکه که چيرې هغه ئې بعديت سره نه وي متصف کړی نو بيا هم طلاق ثاني نه واقع کيدو نو اوس خو په طريقه اولی نه واقع کيږي، او که چيرې انت طالق واحدة قبلها واحدةٌ ئې ووئيلو نو دوه طلاقه واقع کيږي ځکه چې په ماضی کې طلاق واقع کول في الحال واقع کول دي پس دواړه يو ځائې واقع کيږي، وقس عليه البواقي.

قوله ان دخلت الخ: زید ښځې ته وویل ان دخلت الدار فانت طالق واحدة و واحدة او ښځه کور ته داخله شوه نو یو طلاق واقع کیږي، او که چیرې ان دخلت الدار شرط ئې مؤخر ذکر کړو نو دوه طلاقه واقع کیږي. د صاحبینو په نزد په دواړو صورتونو کې دوه طلاقه واقع کیږي، ځکه چې واو مطلق جمع لپاره دی نه چې ترتیب لپاره، او زید دواړه طلاقه په وخت د وجود د شرط کې واقع کړي دي. او دوجود شرط حالت حالت واحده دی، لهذا دواړه طلاقه به یو ځای واقع کیږي. امام صاحب دا فرمائي چې کله طلاق په شرط پورې معلق شو نو هغه په وخت د وجود د شرط کې په حکم د تنجیزي طلاق کې ګرځي، که چیرې زید حقیقةً تنجیزي طلاق ورکړی نو دویم طلاق نه واقع کیږي نو حکماً هم په صورت د تنجیزي کیدو کې دویم طلاق نه واقع کیږي بخلاف اذا اخر الشرط لان صدر الکلام توقف علی آخره لوجود المغیر.

بَابُ الْكِنَايَاتِ
باب دی په بیان د کنایاتو کې
لا تطلق بها الا بالنية او دلالة الحال فتطلق واحدة رجعية في
طلاق نه واقع کیږي په کنایاتو سره لیکن په نیت یا دلالة الحال سره، نو یو طلاق رجعي واقع کیږي په دې الفاظو سره
اعتدي و استبرئي رحمك و انت واحدة و في غيرها بائنة و ان
چې عدت تیر کړه او خپل رحم صفا کړه، او ته دې طلاقه ئې په یو طلاق سره او غیر ددې کې یو طلاق بائن واقع کیږي اګر
نوى ثنتين و تصح نية الثلث.
که نیت ئې کړی وي د دوه طلاقو، او صحیح دی نیت د دریو طلاقو

د فقهي تشریح: قوله الکنایات الخ: کنایه د کنی یکنو (ن) یا د کنی یکنی (ض) مصدر دی، په معنی د ذکر د لفظ او مراد ترینه غیر مدلول اخیستل، په اصطلاح کې کنایه هغې ته وایې چې د یو معین څیز نه په داسې لفظ سره تعبیر وکړی شي چې دغه لفظ صراحةً په هغې دلالت نه کوي. په باب د طلاق کې د فقهاؤ په نزد کنایه هغه لفظ دی چې هغه طلاق لپاره موضوع وي. اوس که چیرې قطع د تعلق د نکاح وي نو په معنی د طلاق سره دی، او که چیرې قطع د محبت مراد وي نو بیا په معنی د طلاق سره نه دی، د کنایه تعریف په طریقې د عموم سره ځکه وکړی شو چې په هغې کې د څه خاص لفظ تخصیص نشته، په شرح د ملتقي کې دي، چې الفاظ د کنایه د پنځه پنځوسو نه هم زیات دي.

قوله لاتطلق الخ: دا یو قاعده کلیه ده چې قضاءً بغیر د نیت د طلاق نه یا د دلالة الحال نه کنایاتو سره طلاق نه واقع کیږي (اګر چې دیانةً وقوع د طلاقو صرف په نیت موقوف دی) نیت یا دلالة الحال ځکه ضروري دی چې کنائي الفاظو کې د طلاقو او غیر طلاقو دواړو احتمال شته دی، او بغیر د دلیل مرجح نه یو متعین کول ناجائز دي، او مرجح نیت دی یا دلالة الحال، خفګان او مخالفت، غیظ د غضب او مذاکره د طلاق مثلاً د ښځې خاوند مینځ کې د طلاقولو خبرې شروع دي، ښځې خاوند ته وویل چې ماته طلاق راکړه، خاوند وویل، اعتدی یا استبرئ وغیره نو په دې الفاظو کې د طلاق او غیر طلاق دواړو احتمال شته مثلاً اعتدّي کې عدت یا نعم باري د دواړو شمار کولو احتمال شته دی، او د استبري مطلب دا هم کیدی شي چې ته د خپل رحم صفائي وکړه ځکه چې ته طلاقه شوې ئې، او دا مطلب هم کیدی شي چې ته رحم صفا کړه چې طلاق درکړم، دغه رنګ انت واحدةٌ کې هم دوه احتماله دي یو دا چې ته دې طلاقه ئې په یو طلاق سره، دویم دا چې ته زما په نزد د ښو صفاتو په اعتبار سره په ټول خاندان کې یوه ئې، بهر حال په دریو واړو مثالونو کې دواړه احتمال شته دی، لیکن حال د مذاکرې د طلاقو دلالت کوي چې د خاوند طلاق مراد دی، لهذا یو طلاق رجعي واقع کیږي.

و هِيَ بَائِنٌ بَتَّةٌ بَتْلَةٌ حَرَامٌ خَلِيَّةٌ بَرِيَّةٌ حبلکِ على غاربکِ اَلحِقِيْ بِاَهلِكِ
او کنائي الفاظ دا دي ته جدایې، حرامه یې، خالي یې، ازاده یې، رسۍ ستا په څټ ستا ده، خپلو سره یو ځائې شه
و هبتکِ لأهلِکِ سرّحتکِ فارقتِک امرُک بیدِکِ اختاري اَنتِ حُرّةٌ تقنعِي تخمرِي
ماته ستا خپلوانو ته هبه کړې، ما ته جدا کړې، اختیار ستا په لاس کې دی، ته ازاده ئې، پوره وکړه څادر په سر کړه پټه شه
استتري اُغرُبِي اُخرجِيْ اِذهبِيْ قُومِيْ ابْتَغِي الازوَاجَ و لو قَالَ اعتدِّي ثلثًا و نوٰی
لرې شه، او څه لاره شه پاڅه خاوند تلاش کړه، او که چیرې دا ئې وویل چې عدت تیره کړه درې ځله، او نیت ئې په اول
بالاول طلاقًا و بمَا بقِيَ حَیضًا صُدِّقَ و ان لَمْ ینْوِ بما بَقِيَ شیئًا فهِيَ ثلثٌ
سره د طلاق وو، او په باقي سره د حیض نو تصدیق به ئې کیدی شي، او که چیرې په مابقي سره ئې د هیڅ څیز نیت نه وونو بیا درې
و تطلُقُ بلَسْتُ لِيْ امرَءَةٍ او لَسْتُ لکِ بزَوْجٍ ان نوٰی طلاقًا
طلاق دي، او طلاق واقع کیږي په دې قول سره چې ته زما ښځه نه ئې یا زه ستا خاوند نه یم که چیرې نیت ئې د طلاق وو

و الصَّرِيحُ يَلحَقُ الصَّرِيحَ و البَائِنَ و البَائِنُ يَلحَقُ الصَّرِيحَ لا البَائِنَ اِلَّا
او طلاق صريح د صريحو او بائنو طلاقو سره ملحق كيږي اوطلاق بائن ملحق كيږي د طلاق صريح سره ، نه د طلاق بائن سره، مگر
اِذَا كَانَ مُعلَقًا بِان قَالَ اِنْ دَخَلتِ الدَّارَ فَأَنتِ بَائِنٌ ثُمَّ قَالَ اَنتِ بَائِنٌ
دا چې هغه معلق وي، مثلاً داسې روايې چې كه چيرې ته كور ته داخله شوې نو ته دې بائنه يې، بيا ئې وويل ته بائنه يې

﴿ د باقي كناياتو بيان ﴾

د لغت وضاحت: **بائن** د بينونت نه دى په معنى د جدا والي سره. **بَتَّ بَتَلَ** په معنى د قطع كولو سره، **خَلِيَّةٌ** د خالي والي نه دى. **بَرِيئَةٌ** د براءت نه دى. حَبلُک على غاربک: د تخليې نه استعاره ده، د عربو دستور دى چې كله اوښه پريږدي نو رسئ د هغې په ښټ كې واچوي. **سرحتک** تسريح نه ماخوذ دى، پريښودل، ازادول. تقنعي: قناع نه دى په معنى د پردې كولو سره. تخمرى خمار نه دى په معنى د څادر په سر كول **أعزُبِيْ** (ن) **الرَّجُلُ** لرې كيدل.

د فقهي تشريح: **قوله وهى بائنٌ الخ** حالات د زوجينو په درې قسمه دى (۱) حالت د رضا (۲) حالت د خفگان (۳) حالت مذاكره طلاقي او كنائي الفاظو كې هم درې احتمالات دي (۱): يو دا چې هغې سره د طلاق رد هم كيدى شي، او د طلاق جواب هم كيدى شي، لكه اُخرُجِي، اذهبى ، قومي، تقنعي، تخمري، استترى، انتقلى، انطلقى، (۲) دويم دا چې هغې كې د سَبُ شتم صلاحيت وي، او د جواب صلاحيت هم پكې وي لكه خلية، بريّة، حرامٌ، بائنٌ ، بتةٌ ، بتلةٌ وغيره (۳) دريم دا چې هغې كې نه د طلاق د رد صلاحيت وي او نه په هغې كې د سب وشتم صلاحيت وي ليكن د جواب صلاحيت پكې وي لكه اعتدى، استبرئ ، رحمک ، أنت واحدة ، انت حُرَّةٌ، اختارى ، امرک بيدک، سرحتُک ، فارقتک نو په حالت د رضا كې د درې واړو قسمونو كناياتو تاثير په نيت موقوف دى، او په حالت د خفگان كې رومبي دوه قسمه كنايات په نيت موقوف دي، كه چيرې نيت د طلاقو وي نو طلاق واقع كيږي، گني نه واقع كيږي او په مذاكره دطلاق كې صرف رومبى قسم كنايات په دې نيت موقوف دې، او اخري دوه قسمه كنايات په نيت موقوف نه دي.

قوله ولو قال اعتدی الخ:زید خپلې ښځې ته درې خله وویل : اعتدی ، اعتدی، اعتدی او په دویم او دریم سره ئې د حیض نیت وکړو نو قضاء تصدیق به ئې کیدی شي، ځکه چې هغه د کلام نه د هغې حقیقت اراده کړې دی، عادت هم دا دی چې انسان د طلاق نه پس د حیض شمار کولو لپاره ښځې ته داسې وایې .نو ظاهر حال ددې شاهد دی، او که چیرې دا ئې وویل چې مادویم اودریم لفظ سره د هیڅ څیز نیت نه دی کړی نو د طلاق او نه د حیض نو درې طلاقه به واقع کیږي، ځکه چې کله په رومبني لفظ سره ئې د طلاق اراده وکړه نو حال د مذاکره طلاق بیاموجود شو، په دې قرینې سره باقي الفاظ هم طلاق لپاره متعین حرځي.

فائده: لفظ د اعتدی درې ځله ویلو ځلیریشت صورتونه دي چې په هغې کې په شپږ صورتونو کې یو طلاق واقع کیږي، او په یوولسو صورتونو کې دوه او په شپږ صورتونو کې درې او په یو کې طلاق نه واقع کیږي ، دا ټول صورتونه سره د حکم نه د لاندیني نقشې نه معلوم کړی دی.

نمبر شمار	اعتدی اول	اعتدی دویم	اعتدی دریم	حکم	نمبر شمار	اعتدی اول	اعتدی دویم	اعتدی دریم	حکم
۱	په نیت د حیض	په نیت د حیض	په نیت د حیض	یو طلاق واقع کیږي	۱۳	په نیت د حیض	په نیت د حیض	په نیت ذ حیض	دوه طلاقه واقع کیږي
۲	x	x	په نیت د طلاق	ـــ	۱۴	ـــ	په نیت د طلاق	په نیت د حیض	ـــ
۳	x	x	په نیت د حیض	ـــ	۱۵	x	په نیت د حیض	x	ـــ
۴	x	په نیت د طلاق	ـــ	ـــ	۱۶	په نیت د طلاق	ـــ	په نیت د حیض	ـــ
۵	x	په نیت د حیض	ـــ	ـــ	۱۷	x	په نیت د طلاق	په نیت د طلاق	ـــ
۶	په نیت د طلاق	ـــ	ـــ	ـــ	۱۸	په نیت د حیض	x	x	دري طلاقه واقع کیږي

۷	x	په نیت د طلاق	x	دوه طلاقه واقع کیږي	۱۹	په نیت د طلاق	په نیت د طلاق	x	---
۸	په نیت د طلاق	په نیت د حیض	x	〃〃〃	۲۰	〃〃〃	〃〃〃	په نیت د طلاق	〃〃〃
۹	په نیت د حیض	〃〃〃	x	〃〃〃	۲۱	په نیت د	په نیت د طلاق	〃〃〃	〃〃〃
۱۰	〃〃〃	x	په نیت د حیض	〃〃〃	۲۲	په نیت د طلاق	〃〃〃	---	---
۱۱	په نیت د طلاق	په نیت د طلاق	〃〃〃	〃〃〃	۲۳	〃〃〃	x	x	---
۱۲	په نیت د حیض	په نیت د طلاق	〃〃〃	〃〃〃	۲۴	x	x	x	x

قوله و الصریح الخ: طلاق صریحي د صریحو او بائنو دواړو سره ملحق کیږي مثلاً یو سړی د أنت طالقٌ نه بعد بیاوویل انت طالق یا د مال په عوض کې ئې طلاق ورکړو نو دا دویم طلاق هم واقع کیږي، یا یو سړی انت بائنٌ وویل او بیا ئې أنت طالقٌ وویل نو دا دویم طلاق هم واقع کیږي، او ښځه بائنه ګرځي ځکه چې طلاق سابق بائن ګرځیدل د طلاق رجعي ګرځیدو نه مانع دی، یا یو سړی انت طالقٌ وویل او بیا ئې أنت بائنٌ وویل نو طلاق ثاني هم واقع کیږي لیکن یو طلاق بائن د بل طلاق بائن سره نه یوځائې کیږي، مثلاً یو سړی انت بائن وویل او بیا ئې انت بائنٌ وویل نو دا دویم طلاق بائن نه واقع کیږي، ځکه چې طلاق ثاني د اول نه اخبار منل ممکنَ دي، لهذا د انشاء ګرځولو ضرورت نشته، لکه چې ده اول کلام سره طلاق واقع کړی دی، دې نه پس په کلام ثاني سره د طلاق سابق د واقع کیدو خبر ورکوي، البته که چیرې اول طلاق بائن معلق بالشرط وي او دویم طلاق بائن منجز یعنې بغیر شرط نه وي دویم طلاق بائن هم واقع کیږي، مثلاً یو سړي وویل ان دخلت الدار فانت بائن، دې نه پس ئې وویل انت بائن بیا ښځه کور ته داخله شوه نو دویم طلاق هم واقع کیږي.

فائده: علماؤ دلحوق او د عدم لحوق تول صورتونه مع المستثنيات په دې قطعه کې جمع کړي دي کلا(۱) اخبرلا بائنا مع مثله : الا اذا علقه من قبله الا بکلّ امرءة و قد خلع: و الحق صريح بعد لم يقع و لبعضهم فی نظم المسألة ايضاً. صريح طلاق المرة يلحق مثله و يلحق ايضاً بائناً فان قبله: کذا عکسه لا بائن بعد بائن : سوى بائن قد کان علق فعله.

﴿بابُ تفويضِ الطّلاقِ﴾
باب دی په بیان د سپارلو د طلاق کې
وَ لو قَالَ لَهَا اِخْتَارِی ينوِیْ بِهِ الطَّلاقَ فَاخْتَارَتْ فِی مَجْلِسِهَا
که چيرې ښځې ته وويل ، اختيار حاصل کړه او نيت ئې په دې سره د طلاق وو او ښځې هم په دغه مجلس کې اختيار
بَانَتْ بِواحِدَةٍ و لم تَصِحَّ نِيَّةُ الثَّلٰثِ فَإِنْ قَامَتْ او أَخَذَتْ فِی عمَلٍ اُخرَ
حاصل کړو نو يو طلاق سره بائنه کړځي، او نه صحيح کيږي نيت د دريو طلاقو، که چيرې پاسيده يا ئې بل يو کار شروع کړو
بَطَلَ خِيَارُهَا و ذِکْرُ النَّفسِ او الاختِيارَةِ فی اَحَدِ کلا مِيهِمَا شرطٌ و لَو
نو اختيار ئې باطل شو، او ذکر کول د نفس يا د لفظ اختيار شرط دی په دواړو کلامو کې په يو کلام کې، او که چيرې ښځې
قَالَ لَهَا اختَارِیْ فقالَتْ اَنَا اختَارُ نَفْسِیْ او اخترتُ نَفْسِیْ تُطلَّقُ
ته ئې وويل اختيار حاصل کړه، پس هغې وويل زه خپل ځان اختياروم يا ما خپل ځان اختيار کړو نوطلاق واقع کيږي
و ان قَالَ لَا اِخْتَارِیْ اختارِیْ اِختارِیْ فَقَالَتْ اخترتُ الأُولٰی اوالوُسطٰی او الاخيرَةَ اَوْ
او که چيرې ښځې ته وويل، اختيار حاصل کړه درې ځله، او ښځې وويل ما اول يا دويم يا دريم اختيار کړو يا مې يو اختيار
اختِيارَةً وَقَعَ الثلٰثُ بلانِيَّةٍ ولو قَالت طلّقتُ نفسِیْ او اخترتُ نفسِیْ بتطليقةٍ
کړو نو واقع کيږي درې بغير د نيت کولو نه ، او که چيرې ښځې وويل ما خپل ځان طلاق کړو يا مې خپل ځان په يو طلاق اختيار

(۱) د صريحو او بائنو د هر صورت لحوق جائز کړه سوا د لحوق د بائن د بائن سره، ليکن کله چې بائن معلق وي د بائن سره مخکې، سوا د کل امرأة له طالق نه په داسې حال کې چې اول ئې خلع کړو ، او صريح ئې د خلع نه پس لاحق کړو نو دا صريح د بائن نه پس نه واقع کيږي

بَانَتْ بِواحدةٍ امرُكِ بيدكِ فى تطليقةٍ او اختارِى تطليقةً فاختارت نفسَها
کړونو په يو طلاق سره بائنه کرځي، اختيار په لاس ستا کي دی په يو طلاق کي يا اختيار کړه يو طلاق نو هغې خپل نفس اختيار
طُلِّقَتْ رجعيّةً
کړو نو په يو طلاق رجعي سره طلاقيږي

د فقهي تشريح: قوله باب الخ: کوم طلاق چې خاوند بذات خود واقع کوي د هغې د دوارو قسمونو (صريح او کنايه) نه فارغيدو نه پس هغه طلاق ذکر کوي چې هغې لره بل يو کس په حکم د خاوند سره واقع کوي، د هغې درې قسمونه دي (۱) تفويض يعني غير لره د طلاقو مالک ګرځول، (۲) توکيل يعني غير لره د طلاقو وکيل جوړول (۳) رسالت يعني د غير په ذريعې سره طلاق ليږل، بيا د تفويض الفاظ درې قسمه دي، اول تخير، دويم امر باليد، دريم مشيئت، مصنف رحمه الله تخير مقدم ذکر کړو ځکه چې دا صريح دليل نه ثابت دی.

قوله ولو قال لها يو سړی خپلې ښځې ته وويل چې ته خپل ځان اختيار کړه، په دې سره د هغه مقصد طلاق وو، ښځې هم په هغه مجلس کې خپل ځان مختار کړو نو ښځه په يو طلاق سره بائنه ګرځي. که چيرې خاوند د دريو طلاقو نيت وکړي نو نه صحيح کيږي ځکه چې اختيار کې تنوع نه کيږي بيا د قياس په مقتضیٰ باندې طلاق نه واقع کيدل پکار دي. ځکه چې پخپله خاوند په لفظ د اختياري سره د طلاق واقع کولو ملک نه دی، لهذا هغه بل کس لره هم مالک نشي جوړولی، ليکن استحساناً طلاق واقع کيږي ځکه چې مخيره ښځې ته په مجلس د تخير کې د خپل ځان اختيارولو حق په اجماع د صحابو رضی الله عنهم ثابت دی (۱)، البته که چيرې هغه د دغه مجلس نه پاڅيده نو اختيار ئې ختميږي، ځکه چې قيام دليل د اعراض دی.

قوله وقع الثلث الخ: زيد خپلې ښځې ته درې ځل وويل: اختاری، اختاری اختاری ښځې په جواب کې وويل: ما ړومبی يا دويم يا دريم طلاق اختيار کړو يا هغې وويل اختَرتُ اختيارةً نو د امام صاحب په نزد درې طلاقه واقع کيږي چې هغې کې د خاوند نيت کولو ته ضرورت نشته، ځکه چې لفظ د اختياري مکرر ذکر کول په طلاق دلالت کوي، په نزدد صاحبينو يو طلاق بائن واقع کيږي هم

---

(۱) عبدالرزاق، طبراني عن ابن مسعود، عبدالرزاق عن جابر، ابن ابي شيبة، عبدالرزاق عن عمرو عثمان، ابن ابی شيبة عن ابن عمر ۱۲

دا د امام شافعي رحمه الله قول دی، هغه دا فرمائي چې لفظ اول او وسطى وغيره ذكر كول كه چيرې په حيثيت د ترتيب سره مفيد نه دی نو كم نه كم په حيثيت د افراد خو مفيد دی لهذا اعتبار به افرادو لره وي پس لكه چې ښځې داسې وويل: اخترتُ التطليقة الأُولى امام صاحب دا فرمائي چې د ښځې وصف د اوليت وغيره ذكر كول بې فائدې دي، ځكه چې كوم څيز په ملكيت جمع شي په هغې كې ترتيب نه وي يعني ترتيب په ذواتو د افعالو كې وي ، نه چې ذواتو كې، او په كوم څيز كې چې ترتيب نه وي هغې لپاره ترتيب باندې دلالت كوونكى كلام كې هم ترتيب معتبر نه وي، پس هر كله چې دلته كې أصل ترتيب پاتې نه شو نو كوم څيز چې په كې دی يعني افراد ، نو هغې كې به هم ترتيب ضروري نه وي، او كله چې ... رو كې ترتيب لغو شو نو صرف اخترتُ باقي پاتې شو، او دا د دريو وارو الفاظو جواب هم كېدى شي لهذا دري طلاقه به واقع كيږي

فصلٌ في الامرِ باليَد : (فصل دی په بيان د امر باليد كې)

د فقهې تشريح: قوله فصلٌ الخ: دلته كې امر په معنى د حال سره دی او يد په معنى د تصرف سره دی يعني دا فصل د ښځې د هغه طلاق په بيان كې دی چې هغې لره خاوند د ښځې په تصرف كې وركړې وي مصنف رحمه الله امر باليد مؤخر كړو ځكه چې دې كې اګر چې اختلاف نشته ليكن اجماع د صحابۇ هم نشته، نيت ، تقييد بالمجلس او لفظ د نفس يا قائمقام د هغې ذكر كول لكه څنګه چې په تخيير كې ضروري دي، دغه شان دا څيزونه په امر باليد كې هم ضروري دي فرق ئې صرف دومره دی چې په اختيار كې د دريو طلاقو نيت كول نه صحيح كيږي، او په امر باليد كې صحيح كيږي.

امرُكِ بِيَدِكِ يَنوى ثلاثًا فقالَتْ اخترتُ نفسِىْ بِوَاحِدَةٍ وَ قَعْنَ
خاوندوويل، اختيار ستا په لاس ستا كې دی، چې نيت ئې د دريو طلاقوو نو ښځې وويل ما ځېل ځان مختار كړو يو طلاق سره ، نو دري
وَ فِىْ طَلَّقْتُ نفسِىْ واحِدَةً او اخترْتُ نفسِىْ بتطليقَةٍ بَانَتْ
طلاق واقع كيږي ، او په دې قول كې چې ما ځېل ځان په يو طلاق سره كړو يا ما ځېل ځان مختار كړو په يو طلاق سره نوبائنه كرځي
بواحدَةٍ ولا يدخُل اللّيلُ فى أُمرُكِ بيدكِ اليوْمَ و بَعْدَ غدٍ و ان رَدَّتِ الامْرَ
په يو طلاق سره ، او نه داخليږي شپه په دې قول د خاوند كې چې امرك بيدك اليوم و بعد غد، او كه چيرې ښځې رد وكړو اختيار
فِىْ يَوْمِهَا بَطَلَ اَمْرُ ذَالِكَ اليَوْمِ و كَانَ بيدِهَا بعدَ غَدٍ و فى امرُكِ اليَوْمَ و
د دغې ورځ ، نو باطل شو اختيار ددغې ورځې ، او د صبا اختيار ئې شته دی، او كه چيرې خاوندوويل چې اختيار ستا په لاس كې دی نن او

و غدًا يدخلُ و ان رَدَّتْ فی يَومهَا لم يبقَ فی الغدِ و لَوْ مكثَتْ
صبا و نو بيا شپه داخليږي، او كه چيرې رد ني كړو اختيار د دغې ورځ نو اختيار ني باقي پاتې نه شو، د صبا ورځ لو كه چيرې درنگ يي
بَعدَ التفويضِ يومًا و لم تَقُمْ او جَلَسَتْ عَنهُ او اتَّكَأتْ عن قعودٍ او عَكَسَتْ
تير كړو پس د تفويض نه يوه ورځ او پانه څيده، يا د ولاړې نه ني ناسته يا د ناستې نه ني تكيه ولګوله يا ني د هغې عكس وكړو يا ني
اودعَتْ ابَاهَا للمشوَرَةِ او شُهُودًا للأشهادِ او كانَتْ عَلى دابَّةٍ فوقَفَتْ بَقِيَ
راوغوښتو پلار خپل لپاره د مشورې، يا گواهان ني راوغوښتل لپاره د گواهي يا په سورلۍ وه په كيناسته نو اختيار ني باقي دی.
خيارُها و ان سارَتْ لَا و الفلكُ كالبَيْتِ.
او كه چيرې هغه روانه شوه، نو اختياز ني نشته او كشتۍ په شان د كور ده.

د فقهي تشريح: قوله امرک الخ خاوند د دريو طلاقو نيت كړی وو اوښځي ته ئې وويل امرک بيدک ښځې وويل .اخترتُ نفسی بتطليقةٍ وويل نو يو طلاق بائن واقع كيږي، يو خو ځكه چې لفظ د واحدةٌ د مصدر محذوف تطليقة صفت دی او بائنة خو ځكه ده چې په طلاق بائن او رجعي كې دخاوند تفويض معتبر دی نه چې د ښځې د واقع كولو. او خاوند د امر باليد په ذريعې سره د طلاق بائن تفويض كړی دی.

قوله ولا يدخل الخ: امرکِ بيدک اليوم و بعد غدٍ كې شپه داخله نه ده ،نوښځې ته په شپه كې د اختيار حق نشته، ځكه چې خاوند د داسې دوو وختونو تصريح كړې ده، چې د هغې په مينځ كې هم د هغې د جنسه يو بل وخت هم شته يعنې شپه، او امر هغې ته شامل نه دی. لهذا دواړه تمليكه جدا جدا شول. اوس كه چيرې ښځه د دغې ورځ اختيار رد كړې نو رد كولی شي، او د صبا اختيار ئې باقي پاتې كيږي، ځكه چې د يو په رد كولو سره د دويم رد نه لازميږي، او كه چيرې خاوند وويل امرک بيدک اليوم و غداً نو په دې كې شپه داخليږي، ځكه چې دلته كې په دوو وختونو مينځ كې هيڅ يو وخت داسې ذكر نه دی چې هغې ته امر شامل نه دی، اوس كه چيري ښځه د دغې ورځ اختيار رد كړي نو د صبا اختيار ئې هم ختميږي لان الامر واحدٌ.

فصلٌ فی المشيئَةِ و لَو قالَ لَها طَلِّقِیْ نفسَکِ و لَمْ يَنْوِ او نَوٰی وَاحِدَةً
او فصل دی په بيان د مشيئت كې كه چيرې ښځي ني ووېل، خپل ځان ته طلاق وركړه او نيت ني نه وه يا نيت ني دطلاق وو او ښځي

فَطَلَّقَتْ وَقَعَتْ رَجْعِيَّةٌ و ان طَلَقَتْ ثَلٰثًا و نواهُ و قَعْنَ

خپل خان طلاق کړو نو يو طلاق رجعي واقع کيږي، او که چيرې ښځې درې طلاقه واخيستل او خاوند د هغې نيت وکړو نو درې واقع کيږي

و بِأَبَنْتُ نَفْسِىْ طَلَقَتْ لا بِأَخْتَرْتُ

او په دې قول د ښځې کې ما خپل خان جدا کړو نو طلاق واقع کيږي او که چيرې ښځې وويل چې ما خپل خان مختاره کړو نو طلاق نه

و لا يملِكُ الرُّجُوْعَ و تقيَّدَ بِمَجْلِسِهَا اِلَّا اِذَا زَادَ متىٰ شِئْتِ

واقع کيږي او خاوند مالک د رجوع نه کرځي، او د اختيار د ښځې تر مجلسه پورې دى ،مګر دا چې خاوند د زياتي کړى چې کله ستا خوښه

و لو قَالَ لرجُلٍ طَلِّقْ امرأتِىْ لم يَتَقَيَّدْ بالمجلِس اِلَّا اذا زَادَ

شي، که چيرې خاوند يو سړي ته وويل چې زما ښځه طلاقه کړه نو دا په مجلس کې موقوف نه ده، هان که چيرې دوسره زياتى کړې چې

اِنْ شِئْتِ ولو قَالَ لَهَا طَلِّقِىْ نفسكِ ثلٰثًا فَطَلَّقَتْ واحِدَةً وقعَتْ

کله چې ستا خوښه شي، او که چيرې خاوند ښځې ته وويل خپل خان په دريو طلاقو کړه نو هغه په يو طلاق سره طلاق کړو نو يو طلاق

واحدةً لا فى عكسِه وَ طَلِّقِىْ نفسَكِ ثلثًا ان شِئْتِ فَطَلَّقَتْ وَاحِدَةً

واقع کيږي نه عکس د هغې ، او په دې قول کې چې طلاق کړه خپل ځان په دريو طلاقو کې ستا خوښ وي نو هغې په يو طلاق سره خان طلاق کړو

و عكسُهُ لَا ، و لو أَمَرَهَا بالبائِنِ او الرَّجْعِىِّ فعكسَتْ

او په عکس د هغې کې طلاق نه واقع کيږي، او که چيرې خاوند حکم وکړو ښځې ته په طلاق بائن يا رجعي سره نو ښځې د هغې عکسو کړو

وقَعَ ما أَمَرَ به و أَنتِ طَالِقٌ اِنْ شِئْتِ فقالت شِئْتُ اِنْ

نو هغه واقع کيږي د کوم چې خاوند حکم کړى وو او ته دې طلاقه ئې که ستا خوښه شي نو ښځې وويل چې زما خوښه ده که چيرې ستا

شِئْتَ فَقَالَ شِئْتُ يَنوِى الطلاقَ او قَالَتْ شئتُ اِنْ

خوښه وي نو خاوند وويل چې زما خوښه ده او په دې سره ئې نيت د طلاق وو، ياښځې وويل چې زما خوښه ده که چيرې

كَانَ كَذَا لِمَعْدُومٍ بَطَلَ و اِنْ كَانَ لِشَىْءٍ مَضٰى

داسې وي او دا قول ئې د يو معدوم څيز متعلق کړو نو دا قول باطل دى، او که چيرې دا قول ئې د يو تير شوي څيز متعلق کړو

طَلَقَتْ وَ اَنْتِ طَالِقٌ متىٰ شئتِ او متىٰ

نو طلاق واقع کيږي، او دا قول د خاوند چې ته دې طلاقه ئې کله چې ستا خوښه شي يا په کوم وخت د وختونو نه

ما شِئتِ او اذا شئتِ او اذا ما شئتِ فَردَّتِ الأمر لا يرتدُّ و لا يتقيد بالمجلسِ و لا تُطلّقُ
ستا خوښه شي، نو ښځې هغه رد کړو نو نه رد کيږي، او نه مجلس پورې مقيد کيږي، او نه طلاقيږي ښځه مگر په يو
الّا واحدةً و فى كلما شئتِ لَهَا اَنْ يفرّقَ الثّلثَ ولا تجمَعُ
طلاق سره. او په صورت د کلما شئتِ کې ښځې ته اختيار دى چې درې طلاقه جدا جدا واقع کيږي او يو ځاى نشي واقع کيدى
ولو طلقَتْ بعْدَ زوجٍ اٰخرَ لا يقعُ . و فِىْ حيثُ شئتِ وَ اَيْنَ شئتِ لم تُطلّقْ
پس د بل خاوند نو بې نه واقع کيږي ۱۲ او که چيرې طلاق ئې واقع کړو او په دې قول کې چې څنګه ستا خوښه شي او کوم ځائې چې ستا خوښه شي نو طلاق نه واقع کيږي
حتّٰى تَشَاءَ فى مجلِسِهَا و فى كيفَ شئتِ تَقَعُ رَجعيَّةٌ
تر دې چې هغه راشي هم په دغه مجلس کې،او په دې قول کې چې څرنګه ستا خوښه شي نو يو طلاق رجعي واقع کيږي، او
فان شاءَتْ بائِنَةً اَوْ ثلاثًا و نواهُ وَقَعَ و فى كَمْ شِئتِ او مَا
که چيرې بائن يا درې ئې خوښ کړه او د خاوند نيت وو نو واقع کيږي، او په دې قول کې چې څومره ستا خوښه وي يا هغه
شئتِ تُطلّقَ ما شَاءَتْ فيهِ و ان رَدَّتْ
مقدار چې ستا خوښ وي نو ښځه طلاق اخيستى شي چې څومره ئې خوښه وي هم په دغه مجلس کې لو که چيرې ښځه قول رد کړي نو
ارتدّ و فى طَلّقِى مِن ثلثٍ ما شئتِ تُطلّقُ مادونَ الثّلثِ.
رد کيږي او په دې قول د خاوند کې چې طلاق حاصل کړو د دريو نه څومره چې ستا خوښه وي نو ښځه کم د دريو نه طلاق حاصلولى شي.

د فقهي تشريح: قوله ولو قال لها الخ: خاوند ښځې ته ووَيل طَلِّقِي نفسک او خاوند هيڅ نيت نه وو کړى يا ئې صرف د يو طلاق نيت وکړو او ښځې طلاق کړو نو يو طلاق رجعي واقع کيږي، او که چيرې ښځې درې طلاقه واخيستل او خاوند د هغې نيت وکړو نو درې واقع کيږي، وجه دا ده چې طلقى أمر تقاضا د تطليق کوي او تطليق مصدر اسم جنس دى، چې په هغې کې د يو هم احتمال شته او د کل هم ، نو که چيرې د کل نيت ئې وو نو درې واره واقع کيږي ګنې يو به حمل کيږي، او طلاق رجعي خو ځکه واقع کيږي چې خاوند د طلاق صريح تفويض کړى دى، او که چيرې ښځې د طلقى نفسک په جواب کې أبَنْتُ نَفْسِي ووَيل نو بيا هم طلاق واقع کيږي ځکه چې لفظ د أبانت د طلاق الفاظ دي، هم دا وجه ده چې په دې لفظ سره طلاق واقع کيږي مثلاً خاوند ووَيل اَبنتُک يا ښځې ووَيل أبنتُ نفسِي او خاوند هغه جائز کړه نو طلاق واقع کيږي، نو د ښځې ابنتُ

نفسي ويل د تفويض طلاق خلاف نه شو ، ليکن که چيرې ښځې وويل اخترتُ نفسي نو طلاق نه واقع کيږي. ځکه چې لفظ اختيار د طلاق د الفاظو نه نه دی، نو دا د هغه د تفويض خلاف دی.

قوله و لو قال لها طلّق الخ: يو سړي خپلې ښځې ته وويل، طلقی نفسک ثلثًا ، او ښځې په ځای د درېو يو طلاق واخيستو ، نو يو طلاق واقع کيږي، او که چيرې خاوند يو طلاق ووېلو او ښځې درې طلاقه واخيستل ، نو طلاق نه واقع کيږي.د صاحبينو په نزد په دې صورت کې هم يو طلاق واقع کيږي. هغوی دا فرمائي چې ښځې د خپل ملکيت نه زيات واقع کړی دی نو دا داسې شوه لکه چې خاوند يو زر طلاقه ورکړي چې په دې صورت کې هغه هومره واقع کيږي د څومره چې هغه مالک دی، يعنې درې طلاقه ، دغه شان دلته کې ښځه د يو طلاق مالکه ده نو يو طلاق به واقع کيږي او زياتی به لغو وي. امام صاحب دا فرمائي چې ښځې د خاوند د تفويض خلاف کړی دی، ځکه چې خاوند د يو طلاق مالکه ګرځولې وه او يو د درېو خلاف دی، په خلاف د خاوند نه چې هغه په اعتبار د خپل ملکيت سره تصرف کوي. نو هر کله چې خاوند د درېو طلاقو مالک دی نو دې وجې نه درې واقع کيږي، او باقي لغو ګرځي، او دلته کې خاوند ښځې لره د درېو مالکه نه ده ګرځولې. او يو طلاق چې کوم ښځې واقع کړی دی ، خاوند د هغې تفويض نه دی کړی، لهٰذا طلاق نه واقع کيږي.

قوله و انت طالق الخ: خاوند ښځې ته وويل أنت طالق ان شئت ښځې وويل شئتُ ان شئتَ خاوند وويل شئتُ او د خاوند په دې سره د طلاق نيت وو يا ښځې په يو معدوم څيز پورې (چې هغه ممکن الوجود وو) معلق کړو اووئې ويل شئتُ ان كان كذا نو په دې صورتونو کې د ښځې کلام لغو ګرځي او طلاق نه واقع کيږي، ځکه چې خاوند طلاق په مطلق مشيئت پورې معلق کړی وو او ښځې خپل مشيئت په يو قيد پورې مقيد کړو، نو خاوند چې کوم شرط لګولی وو هغه موجود نه شو ، که چيرې ښځه د تفويض مذکور په جواب کې په يو ثابت الوجود امر باندې تعليق وکړي او وائي شئتُ ان كان كذا نو طلاق واقع کيږي، ځکه چې يو ثابت الوجود شي باندې تعليق حقيقت کې تعليق نه دی، تنجيز دی.

قوله و فی کلما شئت الخ: خاوند وويل انت طالق كلما شئت نو ښځې ته اختيار شته چې هغه په درېو مجلسونو کې جدا جدا درې طلاقه واقع کړي، په يو مجلس کې دوه يا درې طلاقه واقع کولو اختيار ورته نشته، ځکه چې په لفظ د کُلما کې عموم انفرادي وي نو چې اجتماعي ، اوس که چيرې ښځه درې طلاقه واقع کولو نه پس دويم خوند سره نکاح وکړي او هغه نه هم طلاق واخلي او اول

خاوند ته راشي او طلاق واقع کولو اراده وکړي نو طلاق نه واقع کيږي، ځکه چې د کلما شئت تعليق صرف ملک اول پورې، دې وجې نه هغه به ملک ثاني ته شامل نه وي

قوله و في حيث شئتِ الخ: خاوند وويل انت طالقٌ حيث شئتِ يا هغه وويل أنت طالق أين شئتِ نو ښځه هم په دغه مجلس کې طلاق واقع کولی شي که چيرې مخکې د مشيئت نه مجلس نه پاڅيده نو بيا د هغې مشيئت معتبر نه دی، ځکه چې حيثُ و أينَ اسماء مکان دی او ظاهره ده چې د طلاق تعلق د مکان سره نشته . دې وجې نه ذکر د مکان لغو شو او مطلق شئتِ باقي پاتي شو او مطلق شئتِ سره چې کوم اختيار ثابتيږي هغه په مجلس پورې موقوف دی.

بَابُ التّعليق

((باب دی په بيان د تعليق کې))

انّمَا يَصِحُّ فی الملکِ کقَوله لمنکوحته ان زُرتِ فَأنْتِ طَالِقٌ او مُضَافًا

تعليق صرف په ملک کې صحيح کيږي لکه دا قول د خاوند خپلې منکوحې ته که چيرې تا زيارت وکړو ته دې طلاقه يې . يا ملک ته مضاف

اَلَيْه كَانْ نَكَحْتُكِ فانْتِ طَالِقٌ فَيَقَعُ بَعْدَهُ فلو قَالَ لأجنبيّةٍ انْ

وي لکه دا ووايي که چيرې ماته په نکاح واخيستی نو ته دې طلاقه يې ،نو واقع کيږي پس د هغې که چيرې اجنبي ته يې وويل که تا

زُرْتِ فأنْتِ طَالِقٌ فنکحها فزارَتْ لم تُطلّقْ و الفَاظُ الشّرطِ

زيارت وکړو نو ته دې طلاقه يې پس هغه يې په نکاح واخيسته او هغې زيارت وکړو نو طلاق نه واقع کيږي، او الفاظ شرط دا دي:

انْ و اذا اذا مَا و کُلُّ الخ ففيهَا اِنْ وُجِدَ الشّرطُ انْتَهَتِ اليَمينُ اِلّا فی کلّمَا الاقتضائِه

انْ ، اذا، اذاما، کُلُّ، کلّما و متی ما الخ پس که دی که شرط بيا موجود شو نو قسم پوره شو ، مگر کُلما چې هغه تقاضاد عموم د افعالو

عمومِ الافعَالِ کاقتضَاءِ کُلِّ عمومَ الاَسْمَاءِ فلَو قَال کلّمَا تزوّجتُ اِمرءةٍ يحنثُ بکُلِّ امرءَةٍ

کوي لکه لفظ د کُلُّ چې تقاضا دعموم د آسما. کوي نو که چيرې ونې ويل هر وارې چې ما نکاح وکړه د يوښځې سره نو حانث کرځي هر يو ښځې

ولو بعد زوجِ اٰخَر و زوالُ الملکِ بعدَ اليَمينِ لَا يبْطِلُهَا فان وجد الشرطُ فی المِلکِ

سره په نکاح کولو سره، اګر که د بل خاوند نه پس وي، او زوال د ملک پس د قسم نه نه باطلوي هغې لره، که چيرې موجود شو شرط په ملک کې

طُلِقَتْ وانحلّتْ و اِلّا لَا ,و اِنِ اخْتَلَفَا فی وجود الشّرطِ

نو طلاق واقع کيږي او قسم پوره کيږي، او که شرط موجود نه شو نو بيا قسم نه نه پوره کيږي، او که چيرې ښځه خاوند مختلف شو په وجود د شرط

فَالقَوْلُ لَهُ اِلّا اِذَا بَرْهَنَتَ ، و ما لا يَعلَمُ اِلّا مِنهَا فَالقولُ لَها

كې نو قول د سړي معتبر دى، مګر دا چې ښځه حجت پيش كړى او هغه لاسور چې نه معلوميږي مګر د ښځې په بيان سره نو بيا هلته كې قول د

فى حقِهَا كَانْ حِضْتِ فَأَنْتِ طَالِقٌ و فُلَانَةُ و انْ كُنْتِ تُحِبِّيْنِيْ فأنتِ طالقٌ وَ

ښځې معتبر دى ليكن صرف په حق د هغې كې لكه دا قول چې كه ستا حيض راغى نو ته او فلانۍ دې طلاقه وې، يا كه ستاسو ما سره محبت وي نو ته او فلانۍ

فُلَانَةٌ فقالَتْ حِضْتُ او اُحِبُّكَ طُلِّقَتْ هِيَ فَقَطْ ، و بِرُؤيَةِ الدَّمِ لا يَقَعُ فإنِ

دې طلاقه وې نو هغې وويل چې زما حيض راغلى دى يا زما تا سره محبت دى نو صرف دا طلاقيږي، او په ليدو د وينې سره نه واقع كيږي كه چيرې

استمرَّ ثلثًا وَقَعَ من حينَ رَأَتْ و فِيْ اِنْ حِضْتِ حَيْضَةً

وينه درې جارې وه نو هغه وخت نه طلاق واقع كيږي كوم وخت نه ئې چې وينه ليدلې وې اوپه دې قول د خاوند كې كه چيرې ستا حيض

يَقَعُ حِيْنَ تطهُرُ و فِيْ ان ولَدْتِ ذكرًا افانْتِ طَالِقٌ واحِدَةً و اِنْ

راغى نو واقع كيږي په وخت د پاكوالي كې، او په دې قول كې چې كه چيرې تا اولاد نارينه راوړو نو ته دې په يوطلاق سره طلاقه ئې او كه چيرې

ولَدْتِ اُنثٰى فثنتين فولَدَتْهُمَا و لم يُدرَ الأوَّلُ تُطلَّقُ واحِدَةً قضاءًا

جينۍ دې راوړه نو په دوو طلاقو سره ئې ، نو ښځې دواړه راوړه، او د اول معلومات نه كيدل نو قضاءً به يو طلاق واقع كيږي، او

ثِنْتَيْنِ تَنَزُّهًا و مَضَتِ العِدَّةُ

احتياطًا به دوه واقع كيږي، او عدت به ئې هم تيريږي.

د فقهي تشريح: قوله باب الخ تعليق لُغةً د علق يعلق تعليقًا نه ماخوذ دى ، يعنې يو شى معلق كول، زوړندول (قاموس) په اصطلاح كې د فقهې كې په دوو كارونو كې د يو كار حصول مضمون د بل سره تړلو ته تعليق وئيلى شي لكه أنت طالق انت دخلت الدار كې حصول د طلاق په دخول د دار پورې تړلى شوى دى ، د تعليق د صحت لپاره څو شرطونه (۱) شرط په وخت د تكلم كې معدوم وي او جائز الوجود وي محال نه وي، نو أنت طالقُ ان كانت السماء فوقنا تعليق نه دى تنجيز دى. فى الحال طلاق واقع كيږي، ځكه چې شرط يعنې فوقيت سماء په وخت د تكلم كې معدوم نه دى ثابت الوجود دى، اوانت طالق ان دخل الجمل فى سمّ الخياط لغوه دى، طلاق نه واقع كيږي ځكه چې د شرط تحقق محال دى. (۲) شرط به د مشروط سره متصل وي نو كه أنت طالق ئې وويل او بيا چُپ شو، وروسته ئې شرط ذكر كړو نو دې سره تعليق نه صحيح كيږي، مګر دا چې سكوت د څه عذر په وجه سره وي مثلاً دا چې هغه چاړا وي پوره خبره په مشكل سره كولى شي (۳) د تعليق په ذريعه د

ښځې د کلام بدله ورکول مقصود نه وي، که چیرې ښځې خاوند ته وویل، بې غیرته، رذیله، نو خاوند ورته وویلو ان کنتُ کما قُلتِ فانت طالق نو دا تعلیق نه دی فی الحال طلاق واقع کیږي[۴]. شرط سره به مشروط ذکر وي، نو په انت طالق انْ سره طلاق نه واقع کیږي (فتویٰ هم په دې ده).

قوله انما یصح الخ: د تعلیق د لزوم لپاره ملکیت شرط دی، خواه که ملک حقیقي وي لکه آقا خپل غلام ته ووائي ان فعلتَ کذا فانت حُرٌّ، یا ملک حکمي وي لکه خاوند خپلې منکوحې یا معتدې ته ووائي، ان زُرتِ فانت طالق، یا ملک طرف ته منسوب وي لکه یو سړی اجنبیې ته ووایي ان نکحتُکِ فانت طالق، په دې تولو صورتونو کې زمونږ په نزد په وخت د وجود د شرط کې طلاق واقع کیږي، د امام احمد هم دا قول دی، د امام شافعی په نزد په صورت د اضافت الی الملک کې طلاق نه واقع کیږي، امام مالک رحمه الله فرمائي چې که چیرته سړي د ښځې نام و نسب ذکر کړو لکه داسې ئې وویل بان قال زینب بنت زید بن خالد یا د هغې قبیلهئې ذکر کړه بأن قال قرشیه او هاشمیه نو بیا طلاق واقع کیږي، ګنې تعلیق نه لازمیږي ځکه چې حضرت ابن مسعود نه روایت دی که چیرې یو سړی کُل امرأةٍ انکحها فهی طالق ووائي او د هغې نوم یا قبیله ذکر نه کړي نو په هغه هیڅ نه کیږي ([۱]) دلیل د امام شافعی رحمه الله دا حدیث دی چې نکاح نه مخکې طلاق نشته، دارنګ حدیث کې دي چې طلاق نشته ([۲]) لیکن نکاح نه پس ([۳]) زمونږ دلیل دا روایت دی چې که چیرې یو سړی یوې ښځې ته قسم د طلاق ورکولو وکړي او حال دا چې هغه دغه ښځې سره نکاح نه ده کړې نو د نکاح نه پس په هغه دغه قسم لازمیږي پاتې شول مستدلات د امام مالک رحمه الله او امام شافعی رحمه الله نو هغه د طلاق تنجیزي په نفي محمول دی، شعبي، زهري، مکحول، سالم، قاسم، عمر بن عبد العزیز، نخعی، اسود، ابوبکر بن عبد الرحمٰن تولو دا روایت نقل دی ([۴]).

قوله الا فی کلما الخ: الفاظ شرط اِنْ اِذا وغیره کې یو ځل شرط موجود کیدو نه پس قسم پوره کیږي ځکه چې دا الفاظ په اعتبار د لغت سره تقاضا د عموم او تکرار نه کوي، البته په لفظ د کلما کې صرف یو ځل شرط موجود کیدو سره یمین نه پوره کیږي، بلکه درې ځله موجود کیدل ضروري

([۱]) مالک عن ابن مسعود ۱۲.

([۲]) ابن ماجه عن المسور بن مخرمه و علی. ۱۲.

([۳]) حاکم، دارقطنی عن ابن عمر و عائشه و معاذ بن ابي شیبة عن جابر ۱۲.

([۴]) مالک عن ابن عمرو ابن مسعود.

دي، وجه دا ده چې لفظ د کُلما په افعالو کې تقاضا د عموم کوي قال تعالی کلما نضجت جلود هم بدلناهم جلوداً غیرها، او لفظ د کُلّ په اسماء کې تقاضا دعموم کوي نو که چیرې یو سړی دا ووائي چې کلما تزوجت امرءة فهی طالقٌ، نو هغه چې کله هم نکاح کوي طلاق واقع کیږي، اگر چې اویا ځله نکاح وکړي، ځکه چې ده لفظ د کلما په سبب د ملک یعنې په ترج باندې داخل کړی دی، نو کله چې فعل تزوج بیا موندی شي طلاق به واقع کیږي **قوله و زوال المِلک الخ** یمین نه بعد د ملک په زائله کیدو سره یمین نه باطلیږي مثلاً یو سړي ښځې ته ووېل ان دخلت الدار فانت طالق، بیا ئې هغه ته یو یا دوه طلاق بائن ورکړه او د هغې عدت تیر شو، بیا دویم خاوند نه پس دغه سړي هم دغې ښځې سره نکاح وکړه او شرط تعلیق موجود شو یعني ښځه کورته داخله شوه نو طلاق واقع کیږي، او یمین هم پوره شو او که چیرې شرط په ملک کې موجود نه شو نو بیا طلاق نه واقع کیږي لیکن یمین ئې ختمیږي، حاصل دا شو چې یمین په هر صورت کې ختمیږي، لیکن طلاق په ملک کې د شرط موجود کیدو سره مشروط وي.

قوله و مالا یعلم الخ: خاوند طلاق په یو داسې شرط پورې معلق کړو چې د هغې وجود د ښځې د جانب نه معلومیدی شي نو بیا په وجود د شرط کې اختلاف پیدا شو نو بیا قول د ښځې معتبر دی، لیکن صرف هم د دې ښځې په حق کې د غیر په حق کې معتبر نه دی، مثلاً خاوند طلاق د حیض په راتلو معلق کړو او وئې ویل ان حضت فانت طالقٌ و فلانة اوس ښځې ووېل چې زما حیض راغلی دی نو هم دا طلاقیږي او فلانې نه طلاقیږي، ځکه چې د بل چا په حق کې د هغې قول معتبر نه دی، بیا قیاس دا تقاضا کوي چې د هغې په حق کې دي هم معتبر نشي، ځکه چې هغه په خاوند باندې د حانث کیدو دعوی کوي اوخاوند منکر دی، او قول د منکر معتبر دی، وجه د استحسان دا ده چې د شرط د وجود علم صرف د ښځې د طرف نه کیدی شي، دغه شان آیت ولا یحل لهن ان یکتمن ما خلق الله فی ارحامهن، کې مامور به بالاظهار هم دغه دی، که چیرې د ښځې قول معتبر نشي نو بیا د وجوب اظهار فائده نشته. بیا طلاق صرف په وینه لیدو سره نه واقع کیږي ځو پورې چې وینه درې ورځو پورې جاري نه وي ځکه چې درې ورځو نه کمه وینه کې احتمال د استحاض دی.

و المِلکُ یَشترطُ لأخرِ الشرطین و یُبطل تنجیزُ الثلثِ تعلیقه ولو
او ملک شرط دی په دوو شرطو کې د آخري شرط لپاره او باطل کوی تنجیز د دریو طلاقو تعلیق د هغې لره

عَلَّقَ الثلثَ اَوِ العِتقَ بالوَطیِ لم یجب العُقرُ باللُّبثِ ولم یَصِرِبه
که چیرې معلق ئې کړه درې طلاق یا آزادی له په وطې پورې نو عقر نه واجبیږي په درنګ تیرولو سره اونه ګرځي په هغې
مراجعًا فی الرجعیِ الّا اذا اَولَجَ ثانیًا و لا تُطلَّقُ فی ان نکحتُها علیکِ
سره رجوع کوونکی په طلاق رجعي کې مګر دا چې دوباره ئې داخل کړي، او طلاق نه واقع کیږي په دې قول دخاوند کې که چیرې
فهیَ طالِقٌ فنکحَ فی عدّةِ البائنِ ولا فِی انتِ طالِقٌ اِن
زه فلانۍ سره ستا دپاسه نکاح وکړم نو هغه دې طلاقه وي بیا ئې نکاح وکړه په هغې باندې په عدت د طلاق بائن کې او نه په انت طالقٌ نه پس متصل
شاءَ اللهُ متصلاً و انْ ماتتْ قبل قوله ان شاءَ الله و فی اَنْتِ طالِقٌ
انشاء الله ویلو سره اګر که ښځه مړه شي د خاوند ان شاء الله ویلو نه، او په انت طالقٌ ثلثًا الا واحدةً سره
ثلثًا الا واحدةٌ تقعُ ثنتانِ و فی اِلّا ثنتین وَاحدةٌ و فی الّا ثلثًا ثلثٌ
دوه طلاقه واقع کیږي، او په استثناء د دوو کې یوواقع کیږي. او په استثناء د دریو کې درې واقع کیږي

د فقهي تشریح: قوله والملک الخ: که چیرې شرط د دوو صفتونو یا دوو شرطونو سره مشروط وي نو د طلاق د وقوع لپاره د آخري شرط په ملک کې وجود ضروري دی، مثلاً یو سړي وویل که چیرې ته د زید او عمر کور ته داخله شوې نو ته دې طلاقه یې، اوس که چیرې شرط ثاني په ملک کې وموندی شي، نو معلق طلاق واقع کیږي ، ګنې نه واقع کیږي اوس د هغې څلور صورتونه دي (۱) دواړه شرطونه په ملک کې موجود شو په دې صورت کې په اتفاق سره طلاق واقع کیږي (۲) دواړه شرطونه په ملک کې موجود نه شي نو په اتفاق سره طلاق نه واقع کیږي (۳) چې شطر اول په ملک کې او شرط ثاني په غیر ملک کې موجود شي، په دې صورت کې د ابن ابي لیلی نه علاوه د هیچا په نیزد طلاق نه واقع کیږي (۴) چې شرط ثاني په ملک کې او شرط اول په غیر ملک کې موجود شي. مثلا خاوند ورته وویل ان دخلت دارَ زید و دارَ عمر و فانت طالقٌ دې نه پس خاوند طلاق ورکړو او د هغې عدت تیر شو. عدت تیریدونه پس یو شرط موجود شو بیا خاوند هغې سره نکاح وکړه ، اوس دویم شرط موجود شو نو زمونږ په نیزد طلاق معلق واقع کیږي، په نیزد امام زفر رحمه الله طلاق نه واقع کیږي

قوله ویُبطل الخ: حالاً درې طلاق واقع کول یا درې یا دریو نه کم طلاقو نو تعلیق باطله وي، یعني اولاً خاوند درې یا دریو نه کم طلاق معلق کړه، او وئې ویل ان دخلت الدار فانت طالقٌ ثلاثًا او ثنتین

او واحدة ، هغې نه پس ئې دري طلاق بلا تعليق يعنې فی الحال واقع کړه نو اوس د معلقو طلاقو اعتبار نشته.

که چیرې مطلقه ښځه زوج ثاني نه پس د اول زوج په نکاح کې راشي او شرط تعليق بيا موجود شي نو طلاق نه واقع کيږي (البته که چيرې تعليقي طلاق ملک ته مضاف وي او تعليق په لفظ د کلما سره وي نو هغه دې نه مستثنى دى، په دې کې نه باطليږي لکه څنګه چې مخکې تير شو) او که چیرې د دريو تعليق نه پس فی الحال ئې يو يا دوه طلاقه ورکړه نو تعليق نه باطليږي، وسيأتی فی باب الرجعة ان شاء الله تعالى.

قوله ولو علق الخ: يو سړي د خپلې ښځې دري طلاق يا د وينزې آزادی په جماع سره معلق کړه او وئې ويل که چیرې ما تا سره جماع وکړه نو ته دې په دريو طلاقو طلاقه ئې، يا ته دې ازاده يې، بيا هغه جماع وکړه نو په التقاء د ختانين سره متصل طلاق او آزادي واقع کيږي، اوس که چيرې هغه آله تناسل داخلولو نه پس توقف وکړو نو د توقف په وجه سره عقر مهر مثل نه واجبيږي تر هغه وخته پورې چې دوباره ئې داخل کړي. څکه چې توقف ته وطي نه وئيلی کيږي، دغه شان که چيرې يو سړی عضو تناسل داخل کړو بيا ئې طلاق رجعي ورکړو او توقف ئې وکړو نو د امام محمد په نيز رجوع نه ثابتيږي د امام ابويوسف په نيز رجوع ثابتيږي، څکه چې طلاق رجعي نه پس توقف کول مساس نه خالي نه دی او مساس سره رجوع ثابتيږي.

قوله لا تطلق الخ: يو سړي ښځې ته وويل که چيرې زه د فلانې سره ستا په موجودګئ کې نکاح وکړم نو هغه دې طلاقه وي ، هغې نه پس ئې ښځې ته طلاق بائن ورکړه، هغه په عدت کې وه چې هغه خاوند ئې فلانۍ سره نکاح وکړه نو دغه ښځه نه طلاقيږي، څکه چې طلاق بائن نه پس نکاح باقي پاتې نه شوه نو د طلاق شرط موجود نه شو البته که چيرې ښځې ته ئې طلاق رجعي ورکړی وي او هغه دده په عدت کې وي او بيا فلانۍ ښځې سره نکاح وکړي نو طلاق واقع کيږي څکه چې طلاق رجعي نه پس نکاح باقي وي.

قوله ولا انت طالق الخ: که چيرې يو سړی طلاق نه پس فوراً استثناء وکړه مثلاً داسې ووائي انت طالق ان شاء الله نو د طرفينو ، ابن ابی ليلی، ابو عبيده او د شوافع په نيز طلاق نه واقع کيږي. امام مالک فرمائي چې انشاء الله ويلو سره طلاق ، عتاق او صدقه نه باطليږي، البته يمين او نذر باطليږي. امام احمد رحمه الله فرمائي چې صرف طلاق نه باطليږي ، زمونږ دليل

هغه احادیث دی چې هغې نه معلومیږي چې طلاقو عتاقو وغیره کې متصلاً استثناء کولو سره طلاق نه واقع کیږي (۱).

قوله وفي انت طالق الخ: په مسئله باندې د پوهیدو نه مخکې په یوه قاعده ځان پوهه کول پکاردي. قاعده دا ده چې د کل نه د بعض استثناء صحیح ده، استثناء نه پس چې څه باقي پاتې شي هغه به معتبر وي. لیکن د کل استثناء صحیح نه ده، ځکه چې استثناء نه پس څه نا څه باقي پاتې کیدل ضروري وي، او کل نه د کل استثناء کې هیڅ باقي نه پاتي کیږي، کله چې په دې قاعده پوهه شوې نو په انت طالقٌ ثلثًا الا واحدةً کې د یو په استثناء سره دوه باقي پاتي شو نو دوه طلاقه واقع کیږي، او أنت طالقٌ ثلثًا الاثنتین کې استثناء نه پس یو باقي دی نو یو طلاق واقع کیږي، او أنت طالق ثلثًا الا ثلثًا کې استثناء نه پس هیڅ باقي نه پاتې کیږي، دې وجې نه استثناء صحیح نه ده، لهذا درې طلاق هو اقع کیږي.

بَابُ طَلاقِ الْمَرِيْضِ
باب دی په بیان د طلاق د بیمار کې
طَلَّقَهَا رَجْعِيًّا اَوْ بَائِنًا فی مرضه وَ مَاتَ فِي عِدَّتِهَا وَرِثَتْ و بَعْدَهَا لَا.
خاوند ښځې ته طلاق رجعي یا بائن په مرض خپل کې ورکړه او وفات شو په عدت د ښځې کې نو ښځه وارثه ګرځي او عدت نه پس وارثه نه ګرځي

د فقهي تشریح: قوله باب الخ: د صحت مند سړي د طلاق او د هغې اقسام سُني، بدعي، تنجیزي، تعلیقي، صریح او کنائي بیانولو نه پس د بیمار طلاق ذکر کوي، ځکه چې صحت او تندرستي اصل ده او بیماري عارض سماوي ده.

قوله طلقها الخ: زید خپلې ښځې ته طلاق رجعي ورکړه یا مرض موت کې هغې ته طلاق بائن ورکړه او د هغې د عدت زمانه کې زید وفات شو نو ښځه د زید وارثه ده، او که چیرې د زید انتقال د ښځې د عدت نه پس وشو نو بیا وارثه نه ده، د امام احمد، ابن ابی لیلی، اسحاق، ابو عبیده په نیز عدت نه پس هم وارثه ګرځي، کله چې هغه دویم خاوند سره نکاح ونه کړي، د امام مالک رحمه الله او لیث په نیز

(۱) ائمه اربعه عن ابن عمر، ترمذي، نسائی، ابن ماجه عن ابي هريرة رضی الله عنه، ابن عدی عن ابن عباس رضی الله عنه عبدالرزاق. دارقطنی عن معاذ ۱۲.

که چیرې ښځه سل خاوندانو سره نکاح وکړي بیا هم وارثه ده. د امام شافعي رحمه الله په نیز مطلقه ثلاثه او مختلعه وارثه نه ده.

خواه که د خاوند وفات دعدت په زمانه کې وي یا عدت نه پس، هغه فرمائي چې سبب د میراث زوجیت دی او طلاق بائن سره زوجیت ختم شو لهذا ښځه وارثه نه ګرځي. مونږ دا وایو چې زوجیت سبب د وراثت دی او خاوند مرض وفات کې طلاق ورکړو او دغه سبب ئې زائله کول او غوښتل ،دې وجې نه دده د قصد تاثیر ښځې نه د ضرر دفع کولو په خاطر د عدت ختمیدو پورې مؤخذ وي، ځکه چې د بعضې حقوقو په لحاظ سره په عدت کې نکاح باقي وي، دې وجې نه په حق ارث کې هم نکاح باقي پاتې کیدی شي عدت نه پس بیا د هغې امکان نشته.

وانْ اَبَانَهَا بِاَمْرِهَا اَوْ اخْتَلَعَتْ منه اَوْ اختارتْ نفسَها بتفویضه

او که چیرې بائنه ئې کړه، په حکم د هغې سره یا ښځې خلع وکړه خاوند سره ئې درمختاره کړو نفس خپل په تفویض د سړي سره

لم ترثْ و فی طَلِّقْنِي رجعیّةً فطلّقها ثلثًا ورثتْ و انْ اَبَانَهَا

نو وارثه نه ګرځي، او په دې قول کې چې ماته طلاق راکړه نو هغه درې طلاق درکړه، نو وارثه ګرځي او که چیرې بائنه کړه په حکم د هغې

بامْرِهَا فی مرضه او تصادَقَا علیها فی الصحةِ و مُضِيِّ العدّةِ فاَقرّ

سره په خپل مرض وفات کې یا دواړو تصدیق وکړو په جدائي او په عدت تیریدلو په صحت کې، پس خاوند اقرار

اَوْ اَوْصٰی لَهَا فلهَا الاقلُّ منه و منْ اِرْثِهَا وَ مَنْ بَارَزَ رَجُلًا

وکړو یا ئې وصیت وکړو ښځې لپاره نو ښځې لپاره اقل دی، د اقرار او وصیت او ترکې نه، او چا په بل کې سره مقابله وکړه

اَوْ قُدِّمَ لِیُقْتَلَ بقَوَدٍ اَوْ رَجْم فاَبانَهَا ورثتْ اِنْ مَاتَ فی

یا قتل لپاره پیش کړی شو په قصاص کې یا رجم کې او هغه ښځه بائنه کړه نو هغه به وارثه وي، که چیرې وفات شو

ذلک الوجهِ او قُتِلَ ولو محصورًا او فی صَفِّ القتالِ لَا و لو علّقَ

په دغه صورت کې یا ووژلی شي، او که چیرې قید کړی شوی وو یا په صف د جنګ کې وو نو ښځه وارثه نه ګرځي که چیرې معلق

طلاقهَا بفعل الاجنبیِّ اَوْ بمَجِیْءِ الوقتِ و التعلیقُ والشرطُ فی

ئې کړو طلاق د ښځې په فعل د اجنبي پورې یا په راتلو د وخت پورې ، او تعلیق او شرط دواړه په بیمارئ کې وي،

مرضه او بفعلِ نفسِه و هُمَا فی مَرَضه اَوِ الشرطُ فقط او

یا ئې خپل فعل پورې معلق کړو او تعیق او شرط دواړه په مرض کې وي یا صرف شرط په مرض کې وي، یا ئې

بفعلِهَا ولا بُدّ لهَا منه و هُمَا فی المرضِ اَوِ الشرطُ ورثتْ وفِي

معلق کړو په فعل د ښځې پورې چې هغې نه خلاصی نه وو ښځې لپاره ، او تعلیق او شرط دواړه په مرض کې وو یا شرط په مرض کې وو نو

غيرِهَا لَا وَ لَوْ اَبَانَهَا فِی مَرَضِه فَصَحَّ فَمَاتَ او اَبَانَهَا فَارتَدَّتْ

ښځه وارثه گرځي لو په نورو صورتونو کې وارثه نه گرځي لو که چيرې بائنه ئې کړه په خپل مرض کې بيا جوړ شو او وروسته وفات شو، يا ئې بائنه کړه او مرتده شوه

فَاَسْلَمتْ فَمَاتَ لم ترِثْ و ان طَاوَعَتْ ابنَ الزوجِ

بيا ئې اسلام قبول کړو او سړی وفات شو نو ښځه وارثه نه ده، که چيرې ښځې د خاوند ځوي ته په خپل ځان قابو

اَو لَا عَنَ او اٰلیٰ مَرِيضًا ورِثَتْ و ان اٰلیٰ فی

ورکړو يا ئې لعان وکړو يا خاوند ايلاء وکړه په حالت دمرض کې، نو ښځه وارثه ده او که چيرې ايلاء ئې وکړه په

صحته و بَانَتْ بِه فِی مَرَضِه لا.

حالت د صحت کې او ښځه بائنه شوه په هغې سره په مرض کې، نو وارثه نه گرځي

د لغت وضاحت: **اُبَانَهَا اِبَانَةً** جدا کول **اختلعت** خلع ئې وکړه. **تفويض** حواله کول **بَارَزَ مُبَارَزَةً**، جنگ کول. **قَوَدٌ** قصاص. **رَجْمٌ** سنگسار کول. محصوراً قيد شوی. راگير شوی. **طَاعَتْ** ښځې په خپل قابو ورکړو.

د فقهي تشريح: **قوله و ان اُبَانَهَا الخ:** زيد خپلې ښځې ته د هغې د حکم موافق طلاق بائن ورکړه. يا زيد ورته اختيار ورکړو او ښځې خپل ځان اختيار کړو. يا ښځې خاوند سره خلع وکړه، هغې نه پس خاوند وفات شو نو په دې دريوواړو صورتونو کې ښځه وارثه نه ده، ځکه چې هغې خپل حق پخپله باطل کړو. او که چيرې ښځې وويل چې ماته طالق رجعي راکړه او خاوند درې طلاقه ورکړه نو ښځه وارثه ده، ځکه چې طلاق رجعي سره نکاح نه ختميږي. نو د ښځې د خپل حق بطلان لازم نه شو.

قوله بِأمرِهَا فِی مرضه الخ: د زيد ښځې زيد ته ووېل ته ماته طلاق بائن راکړه، زيد طلاق بائن ورکړه. يا زيد په حالت د مرض کې ووېل چې ما په خپل صحت کې تاته طلاق درکړی وو اوس ستا عدت تير شو، نو ښځې ئې تصديق وکړو هغې نه پس زيد ښځې لپاره د څه اقرار وکړو يا ئې هغې لپاره وصيت وکړو او بيا زيد وفات شو، نو په دې دواړو صورتونو کې ښځې ته ميراث او اقرار يا د وصيت د مال نه کم مقدار به حاصليږي. يعني که چيرې وصيت يا د اقرار مال کم وي نو هغه او ميراث به کم وي، نو ميراث د امام زفر رحمه الله په نزد د وصيت او د اقرار د کل مال نه به ملاويږي، ځکه چې کله د ښځې د طلاق د سوال په وجه سره ميراث باطل شو نو د صحت د وصيت او د صحت د اقرار نه چې کوم څيز مانع وو يعني شبه د تهمت هغه زائله شو، دويمه مسئله کې د صاحبينو په نزد

صورتونه د تعليق

د وخت په راتلو سره وي اذا جاء رأس الشهر فانت طالق.	د اجنبي په فعل سره وي ان فعل فلان كذا فانت طالق	د خاوند په فعل سره وي ان فعلت كذا فانت طالق	د ښځې په فعل سره وي ان فعلت كذا فانت طالق

شرط او تعليق په صحت کې وارثه نه گرځي.	په بيمارۍ کې وارثه گرځي	صرف شرط په صحت کې وارثه نه گرځي	صرف تعليق په صحت کې وارثه نه گرځي	شرط او تعليق په صحت کې وارثه نه گرځي	مرض کې وي وارثه گرځي	صرف شرط په صحت کې وارثه نه ده	صرف تعليق په صحت کې وارثه ده

شرط او تعليق په صحت کې وي وارثه نه گرځي	په بيمارۍ کې وي وارثه گرځي (۱)	صرف شرط په صحت کې وي وارثه نه گرځي.	صرف تعليق په صحت کې وي وارثه گرځي (۲)

قوله ولو أبانها الخ: زيد خپلې ښځې ته د بيمارۍ په حالت کې درې طلاقه ورکړه او بائنه ئې وګرځوله بيا صحت مند شو، دې نه پس دوباره بيمار شو او وفات شو نو ښځه وارثه نه ګرځي، ځکه چې صحت ياب کيدو نه معلومه شوه چې هغه مرض موت نه وو نو دده مال پورې د ښځې حق لاحق نه شو، دغه رنګ که چيرې زيد طلاق بائن ورکړو او ښځه مرتده شوه او بيا مسلمانه شوه، هغې نه پس زيد وفات شو نو بيا هم وارثه نه ده ځکه چې ښځه مرتده شوه نو هغې خپل اهليت د ميراث باطل کړو نو نکاح سبب د حق ارث باقي پاتې نه شوه او وروسته بيا مسلمانيه و سره د هغې سبب رامعاد کيدل ممکن نه دي.

قوله وان طاعت الخ: دلته کې درې مسئلې ذکر دي (۱) زيد خپلې ښځې ته طلاق بائن ورکړه ښځې د خاوند خوئ ته په خپل ځان باندې په خوشحالئ سره قابو ورکړه نو ښځه وارثه ګرځي، ځکه چې په

---

(۱) فى الهداية ان كان لها بد من الفعل ككلام زيد لم ترث و ان كان الفعل لا بد لها من كاكل الطعام و صلوة الظهر ترث لانها مضطرة فى المباشرة (۲)

(۲) فى الهداية ان كان الفعل مما لها بد منه فلا ميراث و ان كان مما لا بد لها منه فكذا عند محمد و قول زفر و عند الشيخين ترث ۱۲.

قابو ورکولو کې محرميت ثابتيږي او محرميت سره اهليت د ميراث نه باطليږي. او كه چيرې طلاق رجعي نه پس ښځې قابو ورکړو نو وارثه نه ګرځي، ځکه چې اوس په زوجينو کې جدائي واقع کيږي او دا جدايي دښځې طرف نه راغلې ده (۲) زيد خپلې ښځې باندې د صحت په زمانه کې د زنا تهمت ولګولو او دمرض په وخت کې ئې لعان وکړو نو ښځه وارثه ګرځي، ځکه چې جدايې د سړي د طرف نه شوې ده نه چې د ښځې د طرف نه (۳) زيد په حالت د بيمارئ کې خپلې ښځې سره ايلاء وکړه يعنې څلور مياشتو پورې د وطي نه کولو قسم ئې وکړو او د بيمارئ په حالت کې د ايلاء موده تيره شوه نو ښځه وارثه ګرځي، او كه چيرې ايلاء ئې د صحت په زمانه کې کړې وي او په حالت د بيمارئ د ايلاء موده تيريدو په وجه سره ښځه بائنه شوه نو وارثه نه ګرځي، و التفصيل فى المطولات.

بَابُ الرَّجْعَةِ

باب دى په بيانِ د رجوع کولو کې

هِيَ اسْتِدامَةُ الْمِلْكِ الْقَائِمِ فِى الْعِدَةِ وَ تَصِحُّ فِى الْعِدَّةِ اِنْ لم

دا باقي ساتل دي د ملک دې چې هغه قايم وي په زمانه د عدت کې او صحيح کيږي په عدت کې كه چيرې نه وه

يُطَلِّقْ ثَلاثًا. وَ لو لم ترضَ بِرَاجعتكِ او رَاجَعْتُ امرأتى و بِمَا يوجبُ

طلاقه کړې شوې په دريو طلاقو سره، اګر چې ښځه راضي نه وي په دې الفاظو سره چې ما تا ته رجوع وکړه يا ما خپلې ښځې ته رجوع

حُرمَةَ المصَاهرةِ وَ الاِشهادُ مندوبٌ عليها و لو قَال بعد العدّةِ

وکړه او په هغه افعالو سره چې واجبوي حرمت د خسرګنې او ګواهان قائم کول په رجعت باندې مستحب دي او که چيرې خاوند ووېل چې ما تا ته رجوع

رَاجَعْتُكِ فيها فصَدّقَتْه تَصِحُّ و اِلّا لَا كرَاجَعْتُكِ فقالتْ مجيبةً لهُ

کړې وه په عدت کې او ښځې تصديق وکړو نو صحيح ده ګنې نه صحيح کيږي، لکه دا قول چې ما تاته رجوع وکړه نو ښځې په جواب کې

مَضَتْ عِدّتِى و لو قَال زوجُ الاَمَةِ بعدَ العِدّةِ راجَعْتُ فيهَا فصَدّقه

خاوند ته ووېل چې زما عدت تير شوى دى كه چيرې د وينزې خاوند ووېل پس د عدت نه چې ما رجوع کړې ده په عدت کې او د هغې وينځې مالک

سَيِّدُهَا و كذَّبتْه او قالتْ مَضَتْ عِدّتِى و انكرَ فالقولُ لهَا و تنقطعُ اِنْ

ې تصديق کړو او وينزې تکذيب يا ئې ووېل زما عدت تير شوى دى او خاوند او مالک انكار وكړو نو قول د وينزې معتبر دى، او ختميږي رجوع

طَهرَتْ مِنَ الحيضِ الاخيرِ لعشرةٍ و ان لم تغتسِلْ ولاقلّ لا
كول كه چيرې پاكه شوه ښځه د حيض آخرې نه په لسو ورځو باندې اګر چې غسل ئې نه وي كړى ، او چې د لسو نه كم وي
حتّٰى تغتسِلَ او يمضِى وقت صلٰوةٍ او تتيمّم وَ
نو بيا رجوع نه ختميږي تر څو چې غسل ئې نه وي كړى او د يا د لمانځه وخت پرې تير شوى نه وي ياتيمم نه وي كړى او
تصَلِّي و لو اغتسلتْ و نسيَتْ اقلّ مِنْ عضوٍ تنقطِعُ ولو عضوًا لا
لمونځ ئې نه وي كړى او كه چيرې ښځې غسل وكړو او ديو اندام نه كم ترې نه هير شو نو ختميږي رجعت، او كه چيرې مكمل اندام
و لو طلّقَ ذاتَ حملٍ اوولدت وقال لم اطأهَا راجعَ
وو نو ختميږي، كه چيرې طلاق ئې وركړو حاملې ښځې ته بيائې ماشوم پيدا شو او خاوند وويل چې ما نه ده وطې كړې
وان خَلَابهَا و قال لم أُجَامِعهَا ثُمّ طلّقهَا لَا
نو رجوع كولى شي او كه چيرې خلوت ئې ورسره وكړو او وې ويل چې ما نه ده وطې كړې او بيا ئې طلاق وركړو نو رجوع
و ان راجعهَا ثم ولدتْ بعدها لا قلّ مِنْ عامين صَحّتْ تلك
نه شي كولى او كه چيرې رجوع ئې وكړه بيا ئې اولاد پيدا شو كم د دوه كالو نه نو صحيح ده دغه رجوع كول كه چيرې ستا اولاد
الرّجعةُ ان وَلَدْتِ فانتِ طالِقٌ فولدَتْ ثمّ ولدتْ مِنْ بطنٍ اٰخرَ فهِيَ رجعةٌ
وشو نو ته دې طلاقه ئې . نو اولاد ئې وشو د بلې خيټې نه، نو دا رجوعت ده ، هر څله چې تا اولاد راوړو نو ته دې طلاقه ئې نو اولاد
كلمّا ولدتِ فَانت طالقٌ فولدت ثلثةً فى بطونٍ فالولدُ الثانى و الثالثُ رجعةٌ و
يې شو درې اولاده، د جدا جدا احمل نه، نودويم او دريم اولاد د رجوع سبب دى، او مطلقه په طلاق رجعيو سره بدول سينګار
المطلقةُ الرجعيّةُ تَتَزَيّن و نُدِبَ ان لا يَدخل عليهَا حتّٰى يُؤذنَهَا و لا يُسَافِرُ بهَا
به كوي او مستحب دى چې خاوند به نه داخليږي په هغې باندې بغير د اذن نه، او نه به ئې چيرته په سفر بوځي ، تر دې چې رجوع ورته
حتّٰى يُراجعهَا والطلاقُ الرجعى لا يُحرم الوطئَ.
وكړي او طلاق رجعي وطې نه حراموي.

د فقهي تشريح: قوله باب الخ: مشروعيت د رجعت لپاره د رفع كولو طلاق دى، او ښكاره خبره ده چې رفع د شئ پس د وقوع نه وي. نو طلاق طبعًا مقدم شو او رجعت مؤخر شو. مصنف رحمه الله رجعت پس د طلاق ذكر كوي، دې لپاره چې وضع او طبع دواړه موافق شي رجعت كې د راء فتحه او

کسره دواړه جائز دي، ليکن فتحه زياته فصيحه ده مصباح. رجعت لغةً رجع (ض) رجوعًا او مرجعًا نه اسم مصدر دی په معنی د واپس کيدلو سره، په اصطلاح د فقهاؤ کې رجعت د مطلقې ښځې په عدت کې دوام د ملکيت استمتاع باقي ساتلو ته وئيلی کيږي چې کوم ملکيت استمتاع قائم بالنکاح وي، مراد د عدت نه عدت د وطي دی، ځکه چې د خلوت په عدت کې رجوع نه وي (ذکره ابن الکمال) قيد د عدت دې وجې نه دی چې آيت و بُعُولتهنّ أحقُ بردّهِنّ کې حق د رجوع خاوند ته ورکړی شوی دی او عدت نه پس خاوند ته بعل نه وايي.

قوله وتصح الخ: که چيرې يو سړي ښځې ته د دريو نه کم يعني يو يا دوه طلاقه ورکړي وي او عدت باقي وي نو رجوع کول صحيح دي اګر چې ښځه راضي نه وي ځکه چې رجوع د سړي حق دی، د ښځې حق نه دی، لهذا رضا د ښځې ضروري نه ده. بيا رجوع په قول او فعل دواړو سره کيدی شي. اول لکه راجعتُکِ راجعت امرأتی، دا د رجوع صريح الفاظ دي دويم لکه هغه افعال چې هغې سره حرمت مصاهرت ثابتيږي مثلاً وطي کولو چپې اخيستل، لاس وړل په شهوت سره، پيشاب ګاه طرف ته شهوت سره نظر کول وغيره. د امام شافعي رحمه الله په نيز رجوع د ابتداءِ نکاح په درجه کې ده، او زمونږ په نيز ابتداءِ نکاح کې نه ده.

قوله والاشهاد الخ زمونږ په نيزد رجوع کولو وخت کې دوه عادلان ګواهان مقرر کول مستحب دي د امام مالک رحمه الله په نيز واجب دی، هم دا يو قول د امام شافعي دی دا حضرات آيت واشهدوا ذوی عدل منکم کې امر لپاره د وجوب اخلي زمونږ دليل دا دی چې د رجوع په سلسله کې نصوص مطلق دي. مثلاً فامسکُوهُنّ بمعروفٍ، الطلاق مرتان فامساک بمعروفٍ، و بعولتهنّ احقّ بردهنّ، فلا جناح عليهما ان يتراجعا، و فی الحديث و مُرابنکَ فليراجعها، معلومه شوه چې آيت مذکوره کې امر وجوب لپاره نه دی، استحباب لپاره دی.

قوله ولو قال الخ: خاوند د عدت تيريدو نه پس وويل: ما تا ته په عدت کې رجوع کړې وه، ښځې د هغې تصديق وکړو نو رجوع صحيح ده، ځکه چې کله په تصادق د زوجينو سره نکاح صحيح کيږي نو رجوع خو په طريقه اولی صحيح کيږي البته که چيرې ښځه انکار وکړي نو بيا رجوع نه صحيح کيږي، ځکه چې خاوند د داسې څيز اخبار کوي چې فی الحال د هغې د انشاء مالک نه دی، او ښځه د هغې انکار کوي نو د هغې قول معتبر به وي.

قوله ولو طلّق الخ: یو سړي خپلې حاملې ښځې ته طلاق ورکړو او مخکې د وضع د حمل نه ئې رجوع وکړه بیا د وخت د طلاق نه د شپږو میاشتو نه کم وخت کې یا د نکاح د وخت نه شپږ میاشتې یا د هغې نه زیاته موده کې د ښځې ماشوم پیدا شو او خاوند وایې چې ما ورسره وطي نه ده کړي نو رجوع سابقه صحیح کیږي، وجه دا ده چې کله حمل په دومره موده کې ظاهر شي چې هغه د خاوند د مادې نه متصور کیدی شي نو هغه حمل به د هغه نه ثابت کیدی شي ځکه چې د نبي کریم صلی الله علیه وسلم ارشاد دی الولد للفراش (١) او نسبت د حمل خاوند ته کیدل دلیل د وطي دی دغه رنګ کله چې د ماشوم نسب د هغه نه ثابت شو نو لا محاله هغه وطي کوونکی ثابت شو، ځکه چې بغیر د وطي نه د ولد تصور نه شي کیدی، او چې کله وطي ثابته شوه نو ملکیت مؤکد شو، او ملکیت مؤکده کې طلاق نه پس رجوع کیدی شي، نو خاوند چې کوم انکار کوي د هغه انکار باطل دی، ځکه چې شریعت د هغه تکذیب وکړو او که چیرې ښځې سره ئې خلوت وکړو او د وطي نه ئې انکار وکړو، هغې نه پس ئې ښځې ته طلاق ورکړو نو رجوع نه شي کولی، ځکه چې ملک د وطي په ذریعه سره مؤکد کیږي، او د وطي نه کولو هغه په خپله اقرار وکړو نو رجوع چې کوم د هغه حق دی په هغې کې به د هغه تصدیق کیدی شي، او که چیرې خلوت نه پس د وطي نه ئې انکار وکړو او طلاق ئې ورکړو او بیا ئې رجوع وکړه، پس د هغې نه د وخت د طلاق نه دوه کالو نه کمه موده کې د ښځې ماشوم پیدا شو نو رجوع سابقه صحیح کیږي ځکه چې د ولادت په وجه سره په انکار د وطي کې د خاوند شرعاً تکذیب وشو پس عدت سابقه کې دننه دننه رجوع واقع شوه، دې وجې نه رجوع صحیح کیږي.

قوله ان ولدت الخ: یو سړي خپلې ښځې ته وویل که چیرې ستا ماشوم وشو نو ته دې طلاقه ئې، د ښځې ماشوم وشو نو طلاق واقع شو، او هغه معتده شوه، شپږ میاشتې بعد د بل حمل نه ماشوم پیدا شو نو ولادت ثانیه به رجوع وي، ځکه چې د ولد ثاني علوق په زمانه د عدت کې وطي جدید نه به ثابتیږي او که چیرې خاوند لفظ د کلما استعمال کړو او د ښځې درې ماشومان مختلف حملونو نه پیدا شو نو د هر ماشوم به پیدایش سره یو یو طلاق واقع کیږي، او دویم ماشوم ولادت په طلاق اول کې به رجوع ثابتیږي ځکه چې د هغې علوق په زمانه د عدت کې وطي جدید نه شوی دی، دغه

---

(١) آئمه سته عن ابی هریره وغیر الترمذی عن عائشه، ابوداؤد عن عبدالله بن عمرو بن العاص و عثمان، ترمذی عن ابی امامة ١٢.

رنګ دویم او دریم ولادت هم قیاس کړه، ځکه چې لفظ د کلما مقتضي د عموم افعال دی.

فَصْلٌ و يَنكِحُ مُبانَتَهُ فى العدّةِ و بعدَها لا المبانَةَ بالثلث لو حرّةً و
خپلې بائنې منکوحې سره نکاح کولی شي په عدت کې هم او پس د عدت نه هم نکاح نه شي کولی د بائنې بالثلث سره که چیرې ازاده
بالثنتَين لو اَمةً حتّٰى يَطأَها غيرُه ولومراهقًا بنكاحٍ صحيحٍ و تمضِى
لو د بائنې بالثنتین سره که چیرې وینځه وي تردې چې وطي کړی هغې لره غیر د هغه نه اګر که مراهق وي په نکاح صحیح سره او عدت ئې تیر
عدّتُهُ لا بملكِ يمينٍ و كرِهَ بشرطِ التحليلِ و ان حَلّتْ للاوّل و يَهدمُ الزوجُ
شي نه په ملک یمین سره او مکروه دی په شرط د تحلیل سره اګر چې اول لپاره حلالیږي، او ختموي زوج ثاني
الثانى مادونَ الثلث و لو اخبرتْ مطلّقةُ الثلث بمضيّ عِدّتهو عِدّةَ الزوجِ
کم ددریو طلاقو نه ، که چیرې خبر ورکړو د دریو طلاقو والا ښځې د تیریدو د عدت د زوج اول او د عدت د زوج
الثانى و المُدّة تحتمله له ان يصَدِّقَها ان غلبَ على ظنّه صدقُهَا.
ثاني او موده د هغې د تیریدو احتمال لرلو نو زوج اول د هغې تصدیق کولی شي که چیرې غالب ګمان ئې د هغې رښتینوالي وو.

(د حلالې احکام)

د لغت وضاحت: مُبانَةٌ هغه ښځه چې هغې ته ئې طلاق بائن ورکړی وي **مُراهِق** بلوغ ته نږدې، تحلیل: بل چا لپاره حلالول.

د فقهي تشریح: قوله وینکح الخ: که چیرې یو سړي خپله ازاده ښځه په یو یا دوو طلاقو سره بائنه کړه، یا ښځه وینزه وه، هغه ئې په یو طلاق سره بائنه کړه نو هغه د هغې سره نکاح کولی شي، په عدت کې هم او پس د عدت نه هم. ځکه چې د محل حرمت د دریو طلاقو سره ثابتیږي او دلته کې ئې خو په یو یا دوو طلاقو سره بائنه کړې ده، نو د محل حلال والی باقي دی، آو که چیرې آزاده ئې په دریو طلاقو سره یا وینزه ئې په دوو طلاقو سره بائنه کړه نو اوس ورسره نکاح نه شي کولی تر دې چې بل کس ورسره په نکاح صحیح سره وطي وکړی او بیا طلاق ورکړي او عدت ئې تیر شي، ځکه چې د الله تعالی ارشاد دی فان طلقها فلا تحل له من بعد حتی تنکح زوجًا غیره په لفظ د فان طلّقها کې طلاق نه مراد دریم طلاق دی، او تنکح نه مراد وطي کول دي، ځکه چې د عقد نکاح معنی د زوج لفظ د اطلاق نه حاصله شوه، که چیرې تنکح نه هم عقد نکاح مراد وي نو په کلام کې به صرف تاکید وي ، حال دا چې کلام په تاسیس محمول کول راجح دي، لان الافادة خیر من الاعادة یا دا وایه چې

د زوج ثاني وطي کول د احاديثو مشهورو نه ثابت دی، چې په هغې سره زيادت على الکتاب جائز دی، لکه چې په حديث کې دي چې يو سړي خپلې ښځې ته طلاق ورکړو هغه بل خاوند سره نکاح وکړه بيا هغې ته دويم خاوند هم طلاق ورکړو ليکن وطي ئې نه وه کړي، نبي عليه السلام نه پوښتنه وشوه، يا رسول الله! دغه ښځه د اول خاوند لپاره د دويم خاوند د وطي نه بغير حلاله ده؟ نبي عليه السلام وفرمايل چې نه ده حلاله، تر څو پورې چې دويم خاوند د اول خاوند په شان لذت د جماع حاصل نه کړي، نو اول خاوند لپاره حلاله نه ده، شيعه ګان او خوارج کوم چې د هغې نفي کوي هغه بالکل مردود دی، او حضرت سعيد بن المسيب نه چې کوم خلاف د هغې نقل دی هغه هم قابل اعتناء نه دی، ځکه چې د هغه ته رجوع ثابت ده، (کذا فى المنية) بيا دا ضروري نه ده چې دويم خاوند دي بالغ وي، بلکه مراهق سره هم کار چليږي بشرط تحرک آله و شهوت جماع شيخ الاسلام د هغې اندازه د لسو کالو عمر سره کړې ده د نکاح صحيح په قيد سره نکاح فاسد خارج شوه. که چيرې دويم خاوند د نکاح فاسد په ذريعې سره وطي وکړي نو اول لپاره نه حلاليږي.

فائده: که چيرې ښځه مفضاة وي نو بيا د دويم خاوند نه د هغې حامله کيدل هم شرط دي ځکه چې صرف وطي کې دا احتمال دي چې قبل کې به نه وي شوي، دُبر کې به شوی وي ذکره بعضهم و قد نظم الشيخ سراج لادين الها ملى نظماً جيداً فقال (۱) و فى المفضاة مسئله عجيبة: لذى من ليس يعرفها غريبة: اذا حرمت على زوجٍ و حلت: لثان نال من وطئٍ نصيبة: فطلقها فلم تحبل فليست: حلالاً للقديم و لا خطيبه لشک ان ذاک الوطئ منها: بفرج او شکيلته القريبه: فان حبلت فقد وطئت بفرج: و لم تبق الشکوک لنا مريبه.

قوله ولا يملک يمين الخ: که چيرې مطلق بائنه سره دويم خاوند په ذريعه د ملک يمين وطي وکړي نو په دې سره ښځه د اول خاوند لپاره نه حلاليږي، مثلاً اول خاوند په خپله منکوحه وينزې ته دوه طلاق بائن ورکړه او عدت نه پس د هغې آقا په ذريعې سره د ملک يمين هغې سره وطي وکړه نو هغه د اول خوند لپاره نه حلاليږي ځکه چې په نص د قران سره د حلت ثبوت په وطي د زوج ثاني سره ذی نه چې په وطي د مالک سره.

قوله و کره الخ: که چيرې دويم خاوند په شرط د تحليل سره نکاح وکړي او ووائي چې ما تاسره په دې شرط نکاح وکړه چې تا ته به طلاق درکوم نو اګر چې په داسې طريقې سره هم ښځه د اول خاوند

---

(۱) آئمه سته وغيرهم بالفاظ عن عائشة ۱۲.

لپاره حلالیږي لیکن داسې کول مکروه تحریمي دي. امام مالک، شافعی، احمد، ابویوسف (یوروایت کې) لیث، اسحاق او ابو عبیده فرمايي چې که چیرې د تحلیل شرط ئې ولګولو نو عقد فاسد ګرځي، او ښځه اول خاوند لپاره نه حلالیږي. د امام محمد رحمه الله په نزد عقد نه فاسدیږي، لیکن اول لپاره هم نه حلالیږي ددې حضراتو دلیل دا دی چې یو سړي د حضرت ابن عمر رضی الله عنه نه پوښتنه وکړه چې یو سړي خپلې ښځې ته طلاق ورکړو او تحلیل لپاره د هغه رور د هغې ښځې سره نکاح وکړه نو آیا ښځه هغې لپاره حلالیږي[۱] ؟هغوی وفرمایل، چې نه حلالیږي، دارنګ حدیث نه ثابته ده چې په محلل او محلل کې دواړو باندې د خدای لعنت[۲] دی مونږ دا وایو چې په دې حدیث کې د نبي صلی الله علیه وسلم زوج ثاني ته محلل ویل ددې خبرې دلیل دی چې اول خاوند لپاره ښځه حلالیږي. نو د لعن محلل تاویل به دارنګ کیدی شي چې لعنت د هغه کس په حق کې دی چې په تحلیل باندې څه اجرت او مزدوري واخلي (ذکره البزازي) او د حاکم د حدیث مذکوره جواب دا دی چې هغه مرفوع نه دی، په خلاف د حدیث: لعن الله المحلّل اهـ ، نه چې هغه مرفوع دی، پس حدیث د حاکم د هغې معارض نه شي کیدی.

تنبیه: که چیرې زوج ثاني په شرط د تحلیل سره نکاح وکړي نو آیا دا شرط لازمیږي؟ علامه بزاري وئیلي دي چې نکاح په شرط د تحلیل کې شرط او نکاح دواړه جائز دي، تر دي که چیرې دویم خاوند د طلاق ورکولو نه انکار وکړي نو قاضي به جبراً په هغه باندې طلاق ورکوي صاحب د غایة البیان روضة الزندوسي نه هم دا نقل کړي دي لیکن علامه ابن الهمام فرمائي چې دا قول قابل اعتماد نه دی او نه د هغې فیصله کیدی شي ځکه چې دا قول ظاهر الروایة کې ثابت نه دی. دارنګ د قواعدو هم خلاف دی ځکه چې دا شرط د عقد تقاضی نه خلاف دی پس اصل نکاح صحیح ګرځي او شرط باطل دی.

قوله ویهدم الزوج الخ: زید خپله ښځه په دریو طلاقو سره بائنه کړه عدت تیرید و نه پس هغې بل چا سره نکاح اوکړه. دویم خاوند د وطئ نه بعد طلاق ورکړو او ښځې د عدت نه بعد بیا زید سره

---

(۱) حاکم عن عمر بن نافع عن ابیه ۱۲.

(۲) ترمذی، نسائی، احمد، ابن راهویه عن ابن مسعود، ابو داؤد، ترمذی، ابن ماجه عن علی، ترمذی عن جابر، ابن ماجه، دارقطنی عن عقبة بن عامر، ابن ماجه عن ابن عباس، احمد، بزار، ابویعلی ابن راهویه، ابن ابی شیبه، بیهقی عن ابی هریرة ۱۲.

نکاح وکړه نو اوس زید بالاتفاق د دريو طلاقو مالک شو. ليکن که چيرې زيد په يو يا دوو طلاقو سره بائنه کړه او بيا ښځه د تحليل نه پس د زيد په نکاح کې راغله نو د شيخينو په نزد اوس هم د دريو طلاقو مالک دی. حضرت عطاء، شريح، ابراهيم، ميمون، ابن مهران هم دا فرمائي ځکه چې ددوي په نزد دويم خاوند طلاق ثلاثه و مادون الثلث دواړه کأن لم يکن ګرځوي، ليکن د امام محمد، زفر، مالک، شافعي او احمد په نزد په دې صورت کې زيد د مابقي مالک ګرځي. يعنې که چيرې په يو طلاق سره ئې بائنه کړه. نو د دوو او که چيرې دوو سره سره ئې بائنه کړه نو د يو مالک ګرځي. ددې حضراتو دليل دا دی چې حضرت ابو هريرة ﷺ د حضرت عمر ﷺ نه پوښتنه وکړه چې بحرين والؤکې يو سړي خپله ښځه يو يا دوو طلاقو سره بائنه کړه، ښځې عدت نه پس بل چا سره نکاح وکړه، او هغه نه جدا شوه، او عدت نه پس بيا اول خاوند ته راغله، هغه وفرمايل چې ښځه د اول خاوند سره په ما بقی باندې ده. دارنګ آيت فإن طلقها فلا تحل له حتى تنكح زوجا غيره کې زوج ثاني د حرمت غاية ګرځيدلی دی. او چې کوم د حرمت غايت وي هغه منهي د حرمت وي پس زوج ثاني منهي د حرمت شو، او د حرمت انتها هغه وخت کيدی شي کله چې مخکې حرمت ثابت شوی وي، او ما دون الثلاث سره حرمت نه ثابتيږي لهذا ما دون الثلث کې زوج ثاني منهي د حرمت نه ګرځي. دې وجې نه زيد ته د يو يا د دوو طلاقو اختيار دی. **دليل** د شيخينو د حضرت سعيد بن جبير جيد اثر دی. هغه فرمايي چې زه د حضرت عبد الله بن عتبه ابن مسعود سره ناست وو م چې يو باندې چې راغلو او د هغه نه يې پوښتنه وکړه چې يو سړي خپله ښځه په يو يا دوو طلاقو سره بائنه کړه او د ښځې عدت تير شو نو هغې د بل کس سره نکاح وکړه دويم خاوند د وطئ نه پس طلاق ورکړو يا هغه وفات شوه او د هغې عدت هم تير شو اوس اول خاوند د هغې سره نکاح کول غواړي نو په ښځه باندې هغه د څومره طلاقو مالک ګرځي.؟ حضرت عبد الله، د حضرت ابن عباس رضی الله عنه طرف ته متوجه شو، او پوښتنه يې ترينه وکړه چې ستا څه رايه ده.؟ هغوی وفرمايل چې زوج ثاني يو، دوه او دري واړه طلاقونه نيست ونابود کوي، لاړ شه د حضرت ابن عمر ﷺ نه پوښتنه وکړه. هغوی د حضرت ابن عمر رضی الله عنه نه پوښتنه وکړه نو هغه هغه شان وفرمايل. حافظ بيهقی هم د حضرت ابن عمر، ابن عباس او حضرت علی رضی الله عنهم نه روايت کړی دی. انها تكون على طلاق مستقبل دارنګ حديث (لعن الله اه) کې زوج ثاني ته محلل ويلی شوی دی، او محلل هغه وي چې هغه حلت ثابت کړي اوس دا حلت به د دوو حالونو نه خالي نه وي، يا به حلت سابقه وي يا به حلت جديده، حلت سابقه خو کيدی نشي، ورنه تحصيل د حاصل لازميږي نو

لا محاله حلت جدیده به وي د حلت جدیده د حلت سابقه نه تغایر لازمي دی. او حلت سابقه ناقص وو حلت جدیده کامل کیږي، او حلت کامل هغه دی چې په هغي کي مالک د دریو طلاقو مالک وي. لهذا زید د دریو طلاقو مالک ګرځي.(۱)

قوله و لو اخبرت الخ: مطلقه ثلاثه خبر ورکړو چې د زوج اول او زوج ثاني دواړو عدت تیر شو. او په موده کې د عدت تیریدو ګنجایش هم وي، نو که چیري د زوج اول د ښځي په رښتینوالی باندي غالب ګمان وي نو هغه یې تصدیق کولی شي. یعني هغي سره نکاح کولی شي، ځکه چي دا خو یا یوه معامله ده په دي معنی په وخت د دخول کي بضع یو شی متقوم ګرځي یا امر دیني دی، په دي معنی سره چي دي سره حلت متعلق دی. په دي کي چي کوم یو وي، بهر حال د یو قول معتبر دی. خاص کر کله چي موده کي د هغې ګنجائش هم وي.

فائده: د زوج اول او زوج ثاني دواړو عدتونو د هر یو د عدت اقله موده چي په هغي کي د ښځي تصدیق کیدی شي د امام صاحب په نزد په حق د حري کي دوه میاشتي او په حق د وینځي کي (۴۰) ځلویښت ورځي دي. په دي طریقه سره چي اول خاوند ښځي ته په اول طهر کې طلاق ورکړو نو د اقل طهر

یعني د پینځلسو ورځو اعتبار به کیدی شي ځکه چي د اکثر طهر هیڅ حد نشته نو د دریو طهر پنځه ځلویښت ورځي شوی، او چي یو حیض موده پنځه ورځي فرض کړی شي ځکه چې هر اقل وي، او حیض هم اقل وي، په یوه ښځه کي ددي دواړو جمع کیدل نادر دي، نو د دریو حیضو پنځلس ورځي شوي، نو پنځه ځلویښت او پنځلس ټولي شپیته ورځي شوي، د صاحبینو په نزد په حق د حري کي یو کم ځلویښت ورځي او دری ساعاته دي، او د وینځي په حق کي یوویشت ورځي دي، او د امام مالک په نزد ځلویښت ورځي او د امام شافعي رحمه الله په نزد دوه دیرش ورځي او د امام احمد په نزد یو کم ځلویښت ورځي. **والتوجیه فی المطولات.**

---

(۱) قال ابن الهمام فاخذ المشائخ من الفقهاء (وهم ابو حنیفة و ابو یوسف و غیرهم) بقول شبان الصحابة کابن عباس و ابن عمرو شبان الفقهاء (یعني محمد او غیره) بقول مشائخ الصحابة (کعمرو علی) و الترجیح بالوجه ۱۲.

بَابُ الایلاءِ

باب دی په بیان د ایلاء کې

هو الحلفُ علیٰ ترکِ قِربانِها (۱) اربعةَ اشهرٍ اَو اکثر کقوله واللہ لا اقربکِ اربعةَ

دا قسم خوړل دي په پرېښودلو د نزدیکت ښځې ته څلور میاشتې یا زیات د هغې نه، لکه دا قول د خاوند چې قسم په خدای زه به نزدې نه شم تا ته څلور

اشهرٍ اَو وَاللّٰهِ لا اقربکِ فاِنْ وَطِیَٔ فی المدّةِ کفَّرَ و سقَطَ الایْلَاءُ وإلّا بَانَتْ.

میاشتې یا قسم په الله زه به تا ته نزدې نه شم نو که چیرې وطې یې وکړه په موده کې نو کفاره به ورکوي، په دې صورت کې ایلاء ساقطېږي کنې ښځه بائنه ده

دفقهي تشریح: قوله باب الخ: ابواب سابقه سره د ایلاء وجه د مناسبت دا ده چې خاوند طرف نه کوم حرمتونه حاصلېږي، هغه څلور دي، طلاق، ایلاء، ظهار، لعان، مصنف د بیان د طلاق نه فارغ شو نو اوس ایلاء ذکر کوي، ځکه چې ایلاء کې د طلاق حکم فی الفور نه ثابتېږي بلکه د مودې تېرېدو پورې مؤخر وي، بیا ازرویې قیاس ایلاء نه وړاندې خلع ذکر کول پکار وو ځکه چې مخلع هم د طلاق یو قسم دی، لیکن هر کله چې په خلع کې طلاق په عوض د مال کې وي ځکه چې هغه د طلاق نه جدا شو.

قوله هو الحلف الخ: ایلاء په اعتبار د لغت سره مصدر **آلیٰ ایلاءً کاعطیٰ اعطاءً** په معنی د قسم خوړلو سره دی. **اَلِیّه** قسم جمع یې **اَلَایَا** لکه عَطَایا. قال الشاعر [۱] قیل الا لَا یا حافظ لیمینه :: و ان بدت منه الالیه بدت. په شریعت کې ایلاء دې ته وایې چې خاوند څلور میاشتې یا د هغې نه زیات وخت پورې د وطئ نه کولو قسم وخوري. مثلاً داسې ووایې: **واللّٰه لا اقربك اربعة اشهر**. پس که چیرې خاوند په مذکوره موده کې وطئ وکړه نو کفاره لازمېږي او ایلاء ساقطېږي. د حضرت حسن بصری رحمه الله په نزد کفاره نه واجبېږي. ځکه چې ایلاء په اخر کې دی. **فان فآءُوا فان اللّٰه غفور**

---

(۱) قوله قربانها ای الزوجة قید بالزوجة لان الشخص لا یکون مولیا من امته لان قوله تعالی للذین یولون اه لا یتناول الا الزوجات و یصح الایلاء من المطلقة الرجعیة لقیام الزوجیة و لقوله تعالی و بعولتهن و البعل الزوج حقیقةً و قال مالک و الشافعی ازید من اربعة اشهرلنا ان النص علی اربعة اشهر یمنع الزیادة علیهما کالنص علی اربعة اشهر و عشر فی عدة الوفاة و علی ثلاثة فی عدة الحیٰوة وروی الواحدی فی اسباب النزول بسنده عن ابن عباس قال کانا ایلاء اهل الجاهلیة السنة و السنتین و اکثر فوقت الله اربعة اشهر اهـ ۱۲ شرح نقایه.

رحیم. مونږ دا وایو چې ایت کي مراد د مغفرت نه اسقاط د عقوبت اخروي دی، نه چي اسقاط د کفاري، او که چیري مذکوره موده کي یې وطي ونه کړه نو ښځه په یو طلاق سره بائنه شوه. د امام شافعی په نزد ښځه په مذکوره مودې تیریدو سره نه جدا کیږي بلکه تفریق د قاضي ضروري دی ځکه چې خاوند د ښځې حق د جماع منع کوونکی دی پس د ښځې په خلاصولو کې قاضي د هغې قائم مقام به وي. مونږ دا وایو چې خاوند د ښځې حق منع کولو سره ظلم کړی دی، پس شریعت د هغه د ظلم بدله دا ورکړه چې مودې تیریدو سره هغه ددې نعمت عظمی نه لاس ووینځل حضرت عثمان، حضرت علی، حضرت زید بن ثابت، او عبادلۀ ثلاثو نه دا نقل دي (۱). او ابوبکر بن عبدالرحمن، ابن المسیب، اوزاعي، مکحول، ثوري، حسن بن صالح، عطاء، جابر بن زید، محمد بن الحنفیة، ابن سیرین، عکرمه، مسروق، قبیصه بن ذویب، حسن، نخعي، مروان بن الحکم، ابو سلمه او سالم د ټولو دا قول دی. (کذا فی الاستذکار)

وَسقَطَ الیمینُ لو حَلفَ علیٰ اربعَةِ اشهُرٍ وَ بَقِیَتْ لو علیَ الابَدِ فلوَ نَکحهَا ثانیًا
او ساقط شو یمین که چیرې قسم ئې کړی وو په څلور میاشتو باندې او باقي پاتې کیږي که چیرې قسم ئې کړی وي همیشه لپاره، نو که چیرې
و ثالثًا و مَضَتِ المدّتانِ بِلا فی بَانَتْ بأخریَیْنِ فانْ نکحهَا بعدَ زوجٍ اٰخرَ
نکاح ئې ورسره وکړه دوباره او دریم ځل او تیری شوې دواړه مودې بغیر د رجوع نه، نو بائنه کرځي په وروستي دوو سره که چیرې نکاح ئې ورسره وکړه پس
لم تطلّقْ فلو وَطئَها کَفَّرَ لبقاءِ الیمینِ و لَا ایْلاءَ فِیمَا دُونَ اربعَةِ اشهُرٍ
د بل خاوند نه نو طلاق نه واقع کیږي نو که چیرې وطئ ئې وکړه نو کفاره به ورکوي د وجې د بقاء د یمین نه، او نشته ایلاء کم د څلورو میاشتو نه
واللّٰهِ لا اقربکِ شهرَیْن و شهرَیْنِ بعدَ هٰذَیْنِ الشهرَیْنِ اِیْلاءٌ وَ
د خاوند دا قول چې په خدایٔ مې دي قسم وي زه به تا ته نه نژدې کیږم دوه میاشتې پس ددې دوو میاشتو نه، نو ایلاء ده، او
لو مَکثَ یومًا ثم قالَ واللّٰهِ لا اقربکِ شهرَیْن بَعْدَ الشهرَیْنِ الاوَّلین
که چیرې درنګ ئې وکړو یوه ورځ بیا ئې ووئیل چې قسم په الله، زه به نه نژدې کیږم تا ته دوه میاشتې پس د اولنو دوو میاشتو نه

(۱) بیهقی، عبد الرزاق عن زید بن ثابت، مالک عن علی و ابن مسعود و ابن عباس، دارقطنی عن عمر، ابن ابی شیبة، عن ابن عباس و ابن عمر رضی الله عنهم ۱۲.

او قَالَ وَاللهِ لا اقربک سنةً اِلَّا يَوْمًا او قَالَ بالبصرةِ واللهِ لا اَدخلُ
يا ئې وويل چې قسم په الله زه به نه نږدې كيږم تا ته يو كال مګر يوه ورځ، يا ئې وويل په بصره كې چې قسم په الله ، زه به
مَكَّةَ و هي بهَا لا وَ اِنْ حَلفَ بِحجٍّ اَوْ صَوْمٍ اَو صَدقَةٍ او عتقٍ او طلاقٍ او
نه داخليږم مكې ته او ښځې ئې هلته كې وه نو ايلاء نه واقع كيږي، او كه چيرې قسم ئې وكړو په حج سره يا په روژې سره يا په صدقې
اٰلٰى مِن المطلّقةِ الرجعيّةِ فهو مُولٍ و منَ المبانةِ و الاجنبيةِ لا
سره يا په آزادئ سره يا په طلاق سره، يا ئې ايلاء وكړه، د مطلقې رجعي سره نو دې ايلاء. كوونكى دى او مطلقې بائنې او اجنبيې سره ايلاء نه واقع كيږي
و مُدّةُ ايلاءِ الاَمةِ شهرَانِ و اِنْ عَجزَ المُولِي عن وَطئِهَا بمرضه او مرَضِهَا
او موده د وينځې د ايلاء دوه مياشتې دي، كه چيرې عاجز شو ايلاء. كوونكى دوطئ كولو نه په خپلې بيمارئ سره يا د ښځې په بيمارئ سره
او بالرتَقِ اَو بالصغرِ اَوْ بُعْدِ مُسَافَةٍ ففيئُوهُ ان يقُول فِئتُ اليهاَ و اِنْ
يا په بنديدو د شرمګاه سره يا په وړوكوالي سره، يا د وجې د بعد مسافت نه نو رجوع د هغه دا ده چې ووايي چې ما ورته رجوع وكړه، او كه
قَدرَ فى المدةِ ففيئُوهُ الوطئُ انتِ عَلَيَّ حَرامٌ اِنْ نَوى التحريمَ
چيرې قادر شو په موده كې نو رجوع د هغه وطي ده او دا قول د خاوند چې ته په ما حرامه ئې ايلاء. اده كه چيرې نيت ئې د تحريم وو يا يې
اَو لم يَنوِ شَيْئًا وَ ظِهارٌ ان نواهُ و كذِبٌ اِنْ نَوى الكذبَ وَ بَائِنةٌ اِنْ نَوى
هيڅ نيت نه وو او ظهار دى كه چيرې نيت د هغې ئې وو او دروغ دي كه چيرې نيت ئې د دروغو وو او طلاق بائن دى كه چيرې نيت د
الطلاقَ و ثلاثٌ اِنْ نواهُ و فى الفتاوٰى اِذ قَال لاِمْرأته انت عَلَيَّ حَرَامٌ
طلاق ئې وو او درې طلاقه دي كه چيرې نيت د هغې وو او فتاوي كې دي چې كله ئې ښځې ته وويل ته په ما حرامه ئې او حرام
والحرامُ عندهُ طلاقٌ ولٰكن لم يَنوِ طلاقًا وَقعَ الطلاقُ
په نيز د هغه طلاق وي ليكن نيت د طلاقو ئې پرې نه وي نو طلاق واقع كيږي.

د ايلاء د احكامو تفصيل

د لغت وضاحت: **فئ** رجوع **مكث** درنګ ئې تير كړو. **مُولى** ايلاء نه اسم فاعل دى. **وتَق** د هډوكي وغيره په وجه سره رحم بنديدل

د فقهي تشريح: **قوله وسقط الخ:** كه چيرې يو سړي څلورو مياشتو پورې د وطي نه كولو قسم

وکړو نو څلور میاشتو نه پس یمین ساقطیږي ځکه چې یمین یو وخت پوره مقرر وو نو چې کله هغه موده تیره شوه نو یمین ساقطیږي لیکن که چیرې یمین دائمي او ابدي وي نو صرف یو ځل ښځه بائنه کیدو سره یمین نه ساقطیږي بلکه باقي به وي پس که چیرې خاوند عدم قربت دائمي قسم کړی وو، او په مودې تیریدو سره ښځه بائنه شوه بیا ئې هغې سره دوباره نکاح وکړه او بغیر وطي نه څلور میاشتې تیرې شوې نو دوباره طلاق واقع کیږي. او که دریم ځل ئې نکاح وکړه او بیا څلور میاشتې بغیر وطي نه تیرې شوې نو دریم ځل سره طلاق بائن واقع کیږي اوس که چیرې هغه دویم خاوند سره نکاح کولو نه بعد بیا هغه سره نکاح وکړي نو طلاق نه واقع کیږي لیکن هغې سره وطي کولو سره کفاره لازمیږي ځکه چې یمین باقي دی.

قوله ولا ایلاء الخ: په اتفاق د څلورو امامانو د ایلاء موده څلور میاشتې ده. دې نه په کمه موده کې ایلاء نه کیږي، لقوله تعالی للذین یولون من نسآءهم تربص اربعة أشهر. دارنګ د حضرت ابن عباس رضی الله عنه قول دی چې څلور میاشتو نه کم کې ایلاء نشته (۱).

قوله و لو مکث الخ: دلته کې درې مسئلې دي چې هغې کې ایلاء ثابتیږي (۱) یو سړي ووئیل والله لا اقربک شهرین ددي وینا نه پس یوه ورځ خاموش شو، هغې نه پس یې ووئیل والله اقربک شهرین بعد الشهرین الاولیین نو ایلاء نه ثابتیږي. ځکه چې دلته د دواو قسمونو موده څلور میاشتې شوه، او په مینځ کې د یوې ورځې توقف ساقط شو، نو یوه ورځ کم څلور میاشتې باقي پاتې شوې حال دا چې موده د ایلاء څلور میاشتې مکمل دي (۲) یو سړي بصرې کې مقیم دی او د هغه ښځه مکه کې ده، اوس هغه وایې چې والله لا ادخل مکة نو هغه ایلاء کوونکی نه ګرځي، ځکه چې هغه د مکې نه ښځې رابللی شي او وطي کولی شي.

قوله و من المبانة الخ: مطلقی بائنی یا اجنبي سره ایلاء نه کیږي ځکه چې په ایت د ایلاء کې دا هم ضمیرونه مونږ طرف ته راجع دي، او ښځه چې کله بائنه شوه نو هغه زمونږ پاتې نه شوه. پس هغه محل د ایلاء نه دی، او د اجنبی مسئله خو بالکل ښکاره ده.

قوله و ان عجز الخ: یو سړي خپلې ښځې سره ایلاء وکړه، بیا په څه وجه سره د وطي نه عاجز شو مثلاً په دې وجه سره چې هغه بیمار وي یا مقطوع الذکر دی یا عنین دی یا په دار حرب کې ناحقه

---

(۱) ابن ابی شیبة، بیهقي عن ابن عباس ۱۲.

مقيد دی يا د هغه او دښځي په مينځ کي د څلور مياشتو سفر دی يا په دي وجه چي ښځه بيماره ده يا د هغي رحم په هډوکي وغيره سره بند دی يا هغه ډيره وړه ده، پس ددي په حق کي قولي رجوع کافي ده مثلاً دا ووايي فئت اليها رجعتُ اليها، راجعتها، ابطلت ايلاءها، په دي صورت کي زمونږ په نزد ايلاء ساقطيږي. البته حانث هغه وخت ګرځي چي کله وطي وکړي او که چيري هغه په موده د ايلاء کي په وطي کولو قادر شي نو بيا رجوع په وطي سره کيږي، سعيد بن جبير رضی الله عنه فرمايي چي رجوع صرف په جماع سره کيږی، ابو ثور نه هم دا روايت دی، او دا د امام طحاوی مختار قول دی، هم دا د امام شافعی او امام مالک رحمه الله قول دی، ځکه چي ايلا نه رجوع کول دوه حکمونه لره مستلزم دی يو وجوب د کفاري او دويم انتفاء د فراقت او په وجوب د کفاري کي د قولي رجوع اعتبار نشته، نو په حکم ثاني يعني په انتفاء د فراقت کي هم پکار دي چي هغه معتبر نشي مونږ دا وايو چي خاوند په وخت د ايلاء کي د جماع کولو نه عاجز دی، پس په ايلاء سره دده مقصد دښځي حق منع کول نه دي بلکه ايذاء رساني مقصود ده، نو څرنګه چي ده په ژبي سره تکليف ورکړی دی هم دغه شان زباني رجوع سره به يې راضي کړي او چي کله هغه راضي کړه نو قصور ختم شو فلايجازی بالطلاق.

قوله انت علی حرام الخ: يو سړي ښځي ته ووېل ته په ما حرامه يې، نو د هغه نيت ته به کتلی شي چي څنګه يې نيت دي هغه شان به حکم وي. که چيري د هيڅ څيز نيت يې نه وو يا يې د حرمت نيت وو نو ايلاء ګرځي. ځکه چي د حلالو تحريم يمين وي. قال تعالی لم تحرم ما احل الله لك ثم قال قد فرض الله لكم تحلة ايمانكم. که چيري نيت يې د ظهار و نو ظهار به وي، د شيخينو په نزد د (۴۳۹) امام محمد رحمه الله په نزد ظهار نه کيږي، ځکه چي ظهار کي د محرمي تشبيه ضروري ده، او دلته تشبيه نشته، شيخين دا فرمايي چي دلته مطلق تحريم دی او ظهار کي يو خاص قسم حرمت وی.

والمطلق يحتمل المقيد، او که چيری کذب مراد وي نو کلام به لغو وي، او که چيري د طلق نيت يې وي نو طلاق بائن به وي ځکه چي انت علی حرامٌ د کناياتو نه دی او که چيري د دريو طلاقو نيت يې وي نو دري طلاقع واقع کيږي. ځکه چي انت علی حرامٌ کي د دريو طلاقو نيت کول صحيح دي.

بابُ الخُلع

باب دی په بیان د خلع كي

هو الفصلُ مِن النكاح والواقِعُ به وَ بالطلاقِ على مالٍ طلاقٌ بائنٌ

دا جداوالی دی د نكاح نه، او په خلع سره او په عوض د مال كي طلاق سره طلاق بائن واقع كيږي او په

و لزِمَهَا المالُ و كُرِهَ له اخذُ شيٍ ان نَشَزَ وَ اَن نَشزَتْ لَا وَ مَا صَلُحَ مهرًا

ښځه مال لازم دی، او مكروه دی خاوند له اخيستل د څه حيز كه چيري مخالفت دده د طرف نه وو، او كه چيري مخالفت د ښځي دطرف

صَلُحَ بَدَلَ الخلعِ فاِنْ خالَعهَا او طَلَّقها بخمرٍ او خنزيرٍ اَو مَيتةٍ وَقَعَ

نه وو نو بيا اخيستل مكروه نه دي، او كوم څيز چي صلح د مهر كرځي هغه د خلع بدل هم كيدی شي كه چيري ښځي سره ئې خلع وكړه يا ئې طلاقه كړه

بائنٌ فی الخلعِ رَجعيٌّ فی غيره مَجّانًا كخالِعْنِيْ على ما فِي يَدِي و لا شيَ فی

عوض د شرابو يا د خنزير يا د مردارې سره، نو په خلع كي طلاق بائن او په غير خلع كي طلاق رجعي مفت واقع كيږي لكه دا قول د ښځي ما سره خلع وكړه په

يَدِهَا وَ اِنْ زَادَتْ مِنْ مالٍ اَو مِنْ دَراهِمَ رَدَّتْ عليه مَهرَهَا اَوْ ثلثةَ

هغه څه چي زما په لاس كي دي حال دا چي په لاس كي ئې هيڅ نه وو او كه چيري لفظ د من مالٍ يا من دراهم ئې زياتي كړو نو ښځه يا خپل مهر واپس كوي

دَراهِمَ و اِنْ خالَعهَا على عَبدٍ اٰبِق لهَا على انهَا بَريئَةٌ مِنْ ضمانه لم تَبرأْ

يا به دري درهمه وركوي او كه چيري خلع وكړه خاوند ښځي سره په تښتيدلي غلام باندي په دي شرط چي ښځه به د هغه د ضمان نه بري وي نو نه به بري كيږي

قالتْ طَلِّقْنِيْ ثلاثًا بالفٍ فطَلَّقَ واحدةً له ثُلُث الالْفِ و بانَتْ و فی على الفٍ

ښځي ووېل ماته دری طلاق راكړه په عوض د زر روپو كي، خاوند يو طلاق وركړونو په دي صورت كي خاوند لره دريمه حصه د زرو روپو ده او ښځه

وقعَ رَجعيٌّ مَجانًا طَلِّقِي نفسَكِ ثلاثًا بالفٍ او على فطلّقت وَاحِدَةً

بائنه كرځي او په صورت د على الف كي يو طلاقه رجعي مفت واقع كيږي، خاوند ووېل ته خپل ځان په عوض د زرو روپو كي په دريو طلاق

لَمْ يَقعْ شيٌ انتِ طَالِقٌ بالفٍ اَو على الفٍ فقَبِلتْ لزِمَ و بَانَتْ

كړه او په زر باندي نو ښځي په يو طلاق ځان طلاق كړو نو په دي صورت كي هيڅ څيز نه واقع كيږي ته دي طلاقه ئې په عوض د زر روپو كي يا

أَنْتِ طَالِقٌ وَ عَلَيْكِ الفٌ أَوْ انت حرٌ و عليك الفٌ طُلِّقتْ وَ عتقَ مجانًا

په زرروپئ بانديې او ښځې قبول کړو نو زر روپئ پرې لازم شوې او ښځه بائنه شوه، نه دې طلاقه يې او په تا زر دي يا ته ازاد يې او په تا زردي نو ښځه طلاقه شوه او غلام مفتو كې ازاد شو.

د فقهې تشريح: قوله باب الخ: ايلاء سره ئې مناسبت دا دى چې په دې دواړو كې كله معصيت وي او كله مباح وي ليكن په خلع كې تعيين د مال يو زياتى څيز دى، دې وجې نه هغه ئې دايلاء نه وروسته كړو، خلع لغةً مصدر دى، په معنى د ليرې كولو سره. يقال خلعت النعل، ماموزه لرې كړه، په اصطلاح كې ازالې د ملك ته وايې. كوم لفظ چې خلع يا د هغې هم معنى الفاظو سره وي نو د هغې صحت د ښځې په قبلولو موقوف دې. د ملك نكاحې په قيد سره نكاح فاسد كې خلع كول دارنګ طلاق بائن او مرتد كيدو نه پس خلع كول شرعي خلع نه ووتل. څكه چې هغه د عدم ملكيت په وجه سره لغو وي، كه چيرې خاوند ښځې ته په نيت د طلاق دا ووايې: خلعتك، نو دا طلاق بائن دى نه چې خلع، پس دا د ښځې د قبوليت د قيد نه خارج شو، څكه چې طلاق د ښځې په قبوليت موقوف نه دى، د خلع په لفظ سره طلاق په عوض د مال سره خارج شو، څكه چې طلاق مذكور مسقط زوجيت نه دى او د خلع هم معنى الفاظو قيد سره مبارات او خلع په لفظ د بيع و شراء سره داخل شو څكه د خلع په شان دا هم مسقط د زوجيت دى، مصنف د خلع تعريف هو الفصل من النكاح سره كړى دى مونږ دې نه جدا دويم تعريف اختيار كړى دى، څكه چې د مصنف تعريف هو الفصل من النكاح سره كړى دى مونږ دې نه جدا دويم تعريف اختيار كړى دى څكه چې د مصنف تعريف په طلاق بالمال سره منقوض دى، څكه چې هغې كې هم فصل نكاح دى، حال دا چې دا خلع نه ده دې وجې نه بعضو شارحينو وئيلي دي چې دا تعريف نه دى بلكه تفسير دى، لكنه بعيد، دارنګ صاحب د بحر او زيلعي دغه عبارت نه دى ذكر كړى، و لعلها ساقطه عن ما نقلا عنه.

قوله فان خالعها الخ: زيد خپلې ښځې سره په شرابو يا خنزير يا په مرداره وغيره سره خلع وكړه يا ئې طلاق وركړو، پس كه چيرې هغه لفظ د خلع استعمال كړى نوي نو طلاق بائن به وي او كه خلع نه علاوه بل لفظ ئې استعمال كړى وي نو طلاق رجعي به وي او په دواړو صورتونو كې بدل نه واجبيږي څكه چې د هغې التزام نه دى شوى بيا په رومبي صورت كې طلاق بائن څكه واقع كيږي چې ايقاع د طلاق معلق بالقبول دى او هغه دلته موجود دى، او عوض باطل شو نو لفظ د خلع عامل شو كوم چې د كناياتو نه دى، او كناياتو سره طلاق بائن واقع كيږي، په دويم صورت كې طلاق رجعي وجود هم ښكاره دى، څكه چې عامل صريح لفظ د طلاق دى، د

امام مالک رحمه الله او احمد رحمه الله په نزد دلته طلاق رجعي واقع کيږي په نزد د امام زفر مهر به ورکړی کيږي او په نزد د امام شافعی به مهر مثل وي.

قوله كخالعني الخ دا بلا بدل په طلاق نه واقع کيدو کې تشبيه ده. يعنې يوې ښځې خاوند ته وويل چې زما لاس کې څه دي د هغې په عوض کې ما سره خلع وکړه، حال دا چې د هغې په لاس کې هيڅ نه وو نو دلته کې هم طلاق بغير بدل به وي، ځکه چې ښځې مال متعين نه کړو ځکه چې کلمه د ما مال وغيره ټولو ته شامله ده، البته که چيرې هغه لفظ د من مال يا من دراهم وغيره ذکر کړي نو د من مال په صورت کې به ښځې ته مهر واپس کولی شي ځکه چې، کله ښځه د مال تصريح وکړه نو خاوند بلا عوض د خپل ملکيت په زوال راضي نه دی، اوس دلته ما وجب کې درې احتماله دي مهر به واجب وي يا قيمت بضع يعنې مهر مثل، يا مال مسمی مال مسمی خو ځکه واجب نه دی چې هغه مجهول دی. او قيمت د بضع ځکه واجب نه دی چې په حالت د خروج کې د بضع هيڅ قيمت نه وي پس مهر متعين شو. او د من دراهم په صورت کې درې درهمه به ورکوي ځکه چې دراهم جمع ده او د جمع اطلاق کم نه کم په دريو باندې کيږي.

سوال: دلته کې يو يا دوه درهمه پکار دي، ځکه من تبعيضيه هم کيدی شي.

جواب: کوم ځائې چې بغير د من نه کلام تام کيږي هلته کې من بيانيه وي نه تبعيضيه لکه فاجتنبوا الرجس من الاوثان.

قوله و ان خالعها الخ: يوې ښځې د خپل تښتيدلي غلام په عوض خلع وکړه او ضمان نه د پريکيدو شرط ئې ولګولو نو ښځه بري الذمه نه ګرځي بلکه که چيرې هغه د غلام نيولو قادره وي نو هغه خاوند ته حواله کول لازم دي. ګنې د هغه قيمت به واجب وي ځکه چې خلع عقد معاوضه دی چې هغه د سلامتی د عوض مقتضي دی او د براءت شرط فاسد دی، پس شرط باطل شو او خلع جائز شوه.

قوله قالت طلقني الخ: ښځې وويل چې ما ته د يو زر روپو په عوض کې درې طلاقه راکړه، خاوند يو طلاق ورکړو نو باء، چونکه په اعواضو داخليږي او په مفوض تقسيميږي، دې وجې نه د زرو دريمه حصه به لازميږي، او ښځه به په يو طلاق سره بائنه ګرځي. او که چيرې ښځې د باء په ځائې کلمه د علی استعمال کړه نو په نزد د صاحبينو د هغې حکم هم دغه دی ځکه چې معاوضاتو کې باء او علی دواړه برابر دي. ليکن د امام صاحب په نزد يو طلاق رجعي واقع کيږي، ځکه چې علی شرط

لپاره استعماليږي. قال تعالى يبايعنك على ان لا يشركن او مشروطو په اجزاؤ د شرط باندې نه تقسيميږي پس مال واجب نه شو و لهذا طلاق رجعي به واقع كيږي، او كه چيرې د ښځې په ځائې د كلام مذكور قائل خاوند وي او ښځه يو طلاق باندې ځان طلاق كړي نو هيڅ نه واقع كيږي ځكه چې خاوند د زرو نه په كم عوض كې راضي نه دى، په خلاف د ښځې نه چې كله هغه په عوض د زرو كې په جدايې راضي ده نو ددې نه په كم كې خو په طريقه اولى راضي ده.

قوله انت طالق بالفٍ الخ خاوند ښځې ته وويل چې ته دې د يو زر په عوض كې يا د يو زر په شرط باندې طلاقه ئې ښځې قبول كړو نو زر روپئ به وركول لازم وي او طلاق بائن به واقع كيږي ځكه چې د بألف په صورت كې عقد معاوضه دى او د على الف په صورت كې تعليق دى. په دواړو صورتونو كې عوض لازم دى. او كه چيرې خاوند ښځې ته وويل انت طالق و عليك الف. يا خپل غلام ته ئې وويل انت حر و عليك الف نو كه ښځه او غلام قبول كړي يا نه د امام صاحب په نزد طلاق او ازادي واقع كيږي او د بدل نه واجبيږي ځكه چې وعليك الف مستقل جمله ده، ددې وجې نه د ماقبل سره به بلا دليل مربوط نه وي د صاحبينو ، ائمه ثلاثه او امام زفر په نزد د هغوي په قبوليت باندې موقوف ده هغوي دا فرمايې چې وعليك كې دا واو حاليه دى او پوره يوه جمله ده.

وَ صَحَّ خيارُ الشرطِ لها فى الخلعِ لا لهُ طلّقتُكِ اَمسِ بالفٍ فلم تَقبلى

او صحيح دى خيار شرط ښځې لره په خلع كې نه چې سړي لره. ته ما طلاقه كړې پرون په عوض د زرو كې ليكن تا قبول نه

فقالتْ قَبِلتُ صُدِّقَ بخلافِ البَيْعِ و يُسقِط الخلعُ و المباراْةُ كلَّ حقٍّ

كړو ښځې ووېل ما قبول كړو نو د خاوند تصديق به كيدى شي په خلاف د بيع نه او ساقطوي خلع اومباراة هر هغه حق

لكلٍ واحدٍ عَلى الأخر مما يتعلق بالنكاحِ حتى لَو خالعها اَو بَارأَهَا بمالٍ

لره چې وي د هر يو دښځې او خاوند په يو بل باندې د حقوق د نكاح نه تر دې چې كه چيرې خاوند ورسره خلع وكړه يا مباراة وكړي

مَعْلومٍ كَانَ للزوج ما سَمَّتْ لهُ و لم يَبقَ لاحَدِهما قبل صاحبه

په مال معلوم سره نو وي به خاوند لپاره هغه څه چې ښځه ورله مسمى كړي، او نه به وي په دواړو كې هيڅ يو كس ته مخ د صاحب د خپل نه

دعوى فى المهرِ مقبوضًا كَانَ اَو غيرَ مقبوضٍ قبلَ الدّخولِ بهَا او بعدَهُ وَ انْ

دعوى په مهر كې، برابره ده كه مهر مقبوض وي او كه غير مقبوض، قبل از دخول وي يا بعد از دخول وي او كه چيرې خلع وكړه.

خَلَعَ صغيرتَهُ بِمَالِهَا لم يَجُزْ عليهَا و طُلِّقتْ و لو بِالفٍ على
ولي د صغيري خاوند د صغيري سره په مال د صغيري سره نو دا جائز نه ده په صغيره باندي او طلاق واقع کيږي، او که چيري د زرو په عوض
انهُ ضامِنٌ طُلِّقتْ و الالفُ عَلَيْهِ.
کي خلع وکړي په دي شرط چي هغه به ضامن وي نو طلاق واقع کيږي او زر روپئ په ولي باندي لازم دي.

((د خُلعي باقي احکام))

د فقهي تشريح: قوله وصحّ الخ: که چيري عقد خلع کي خيار شرط ښځي لره وو نو د امام صاحب په نزد صحيح ده ، او که چيري سړي لپاره وي نو صحيح نه دي. په نزد صاحبينو دواړو لپاره صحيح نه دي. مثلاً خاوند ښځي ته وويل انت طالق بالفٍ على انک بالخيار ثلثه آيام او ښځي هغه قبول کړو نو د امام صاحب په نزد صحيح ده. او که چيري خاوند داسي وويل : انت طالق بالفٍ على انى بالخيار. نو صحيح نه ده. بر تقدير صحت که چيري ښځي درى ورځو کي دننه هغي لره رد کړو نو باطل ګرځي. او که رد يې نه کړه نو بيا طلاق ګرځي. په نزد د صاحبينو په دواړو صورتونو کي خيار باطل دى، پس طلاق هم واقع کيږي او زر روپئ هم واجبيږي ځکه چي خيار د انعقاد عقد نه پس د فسخ لپاره وي، او دلته د زوجينو په تصرفاتو کي يعني ايجاب او قبول کي د فسخ احتمال نشته، ځکه چي خلع د سړي د طرف نه يمين وي، او د ښځي د طرف نه شرط وي، او په يمين او شرط کي د فسخ احتمال نه وي، د امام صاحب په نزد د ښځي د طرف نه خلع د بيع په درجه کي وي، تر دي که چيري ښځه رجوع کول اوغواړي نو رجوع يې صحيح ده، په دي وجه سره په خلع کي د ښځي لپاره خيار شرط صحيح دى.

قوله طلقتک اَمْسِ الخ: خاوند ښځي ته وويل، ما پرون تا ته د زرو په عوض کې طلاق درکړى دى، ليکن تا زر روپئ قبول نه کړي، ښځي وويل چي ما قبول کړى وي، نو په دي صورت کي د خاوند تصديق به کيږي، په خلاف د بيع نه، چي که چيري د غلام اقا چاته داسي ووايې چي ما دا غلام پرون ستا په لاس په عوض د زرو روپو کي خرڅ کړو ليکن تا قبول نه کړو، مشتري وويل ما خو قبول کړى وو نو دلته به د مشتري تصد يق کيږي، وجه د فرق دا ده چي د خاوند د طرف نه طلاق بالمال تعليق وي، او د طلاق تعليق د ښځي په قبوليت باندي موقوف نه وي، پس ښځه د خاوند د حانث کيدو مدعى شوه، او خاوند منکر شو، دي وجي نه قول د خاوند معتبر دى، او د بيع اقرار

کول بعینه د قبولیت اقرار کول دي، پس د اقرار بیع نه پس د قبولیت نه انکار کول گویا د بیع نه انکار دی، دي وجي نه د بائع قول به نښي اوریدلی کیدی.

قوله ویسقط الخ مباراة د مفاعلة مصدر دی، **یقال بارٔی الرجل امرءته،** د هر یو د بل نه بري کیدل. دلته د هغي صورت دا دی چي ښځه خاوند ته ووایې، ما په دومره مال سره بري کړه، خاوند وایې ما بري کړي، خلع او مباراة په زوجینو د هر یو حقوق ساقطوي چي د نکاح سره متعلق دی، لکه مهر، نان، نفقه، سکني وغیره، نکاح نه مراد هغه نکاح ده چي هغي نه پس خلع یا مباراة وي، پس که چیري ښځي ته یې طلاق بائن ورکړو بیا یې دوباره نکاح وکړه، او دویم مهر مقرر شو، بیا ښځی د خلع خواهش ظاهر کړو نو خاوند به د نکاح ثاني د مهر نه بري وي نه چي د نکاح اول د مهر نه د نکاح متعلقه حقوق په قید لگولو سره دین ترینه خارج شو، ځکه چي خلع سره په زوجینو کي د هیڅ یو کس قرض نه ساقطیږي. د امام محمد رحمه الله او ائمه ثلاثه په نزد خلع او مباراة سره هغه حقوق ساقطیږي چي د زوجینو مقرر شوی وي، دي نه علاوه نور حقوق نه ساقطیږي، امام یوسف رحمه الله په خلع کې د امام محمد رحمه الله سره دی او په مسئله د مباراة کي امام صاحب سره دی، امام محمد رحمه الله دا فرمایې چي خلع عقد معاوضه ده چي د هغي تاثیر صرف په استحقاق شروط کي وي هم دا وجه ده چي که چیري د زوجینو په خپلو کي په یو بل باندي څه قرض وي نو هغه نه ساقطیږي، امام ابو یوسف رحمه الله دا فرمایې چې مباراة اگر چي د جانبینو نه مطلقًا براءت غواړي لیکن دلته به حقوقو د نکاح پوري مقید کولی شي، ځکه چې مباراة نه د زوجینو مقصد دا وي چې کوم حقوق د معاشرت د وجي نه لازم وي د هغي نه بري شي په دي حقوقو سره براءت مقصود نه وي کوم چي د معاملي په وجه سره لازمیږي، امام صاحب دا فرمایې چي د مباراة په شان خلع هم د جانبینو نه براءت غواړي ځکه چي خلع په معنی د فضل سره وي، او د فصل اوجدائي تحقق هغه وخت کیدی شي چي کله په زوجینو کي د یو په بل هیڅ حق پاتي نه شي گني نزاع به پیدا کیږي.

فائده: د دي مسئلي شپاړس صورتونه دي ځکه چي بدل یا به معین وي یا به غیر معین وي نو مهر به وي یا به څه مال وي. که مهر وي نو یا به کل معین وي یا به بعضي په دي کي د هر یو بیا دونه قسمونه دي، قبل از دخول به وي یا بعد از دخول بیا مهر به مقبوض وي یا غیر مقبوض، دا تول قسمونه سره د احکامو لاندیني نقشونه معلوم کړی.

عوض خلع

مُعین به وی | یا غیر معین

مهر به وی | یا غیر مهر

کل به معین وي | یا بعض بان خالعها علی عشر | یا بعض مهرها والمهر الف مثلاً

خلع قبل از دخول وي | یا بعد از دخول

قبل از دخول به وي | یا بعد از دخول

قبل از دخول به وي | یا بعد از دخول

مقبوض به وي | یا غیر مقبوض

مقبوض به وي | یا غیر مقبوض

مقبوض به وي | یا غیر مقبوض

مقبوض به وي | یا غیر مقبوض

مقبوض به وي | یا غیر مقبوض

مقبوض به وي | یا غیر مقبوض

برئ کل منهما عن حق الآخر مما لزم في النکاح في الصحیح

لرد المسمی ویسقط عنه المهر بحکم الخلع۔

لرد المسمی لاغیر

لرد المسمی بالشرط ویسقط عنه المهر بحکم الخلع

لرد المسمی بالشرط ویسلم لها ما قبضت فلا یجب علیها رد شئ منه۔

یسقط الکل

رجع علیها بجمیعه

یرجع علیها بمائة درهم، یسقط کل المهر مائة بالشرط والباقي بحکم الخلع

یسقط عنه کله استحساناً العشر بالشرط والنصف بالطلاق قبل الدخول والباقي بحکم الخلع

لا یرجع علیها بشئ استحساناً۔

یرجع علیها بالمقبوض فقط استحساناً، یرجع علیها بخمسین درهماً استحساناً لان ذلک عشر مهرها قبل الدخول وبرئت عن الباقي بحکم لفظ الخلع۔

بَابُ الظِّهَارِ

((باب دی په بیان د ظهار کې))

هو تشبیهُ المنکوحةِ بمُحرَّمةٍ علیهِ علی التابیدِ حَرُمَ عَلَیْهِ الوطئُ و دَوَاعِیهِ بانت علیّ

ظهار: تشبیه ورکول د منکوحې په محرمې سره په ده باندې همیشه لپاره حرامیږي په خاوند باندې وطي کول او دواعي د وطي په دې قول سره چې ته په

کظهرِ اُمّي حتّی یکفر فلو وَطئ قبلَهُ استغفرَ ربَّهُ فقط وعودُهُ عَزْمُهُ

ما باندې په شان د شا د مور ئې تر دې چې کفاره ادا کړي ، که چیرې وطی ئې د کړه مخکې د کفارې نه ،نو صرف استغفار به وکړي او عود د خاوند عزم کول

علىٰ وطئِها و بطنُهَا و فخذُها و فرجُها كظهرِهَا واختهُ و عمتُهُ وَ
دي په وطي کولو باندې د هغې او خيټه دښځې او پټون د هغې او شرمګاه د هغې په شان د شاد هغې ده په حکم کې، او خور د خاوند او ترور دهغې او
اُمُّهُ رَضاعًا ورَاسُكِ و فرجُكِ و وجهُكِ و رَقبتُكِ ونصفكِ
رضاعي مور په شان د حقيقي مور ده په حکم کې، او دا قول د خاوند چې ستا سر، ستا شرمګاه، ستا مخ، ستاځټ، ستا نصف
وثلثكِ كانتِ و انْ نوٰى بانتِ علىّ مثل اُمّي برًا اَو ظهارًا
ستا دريمه حصه داسې ده لکه څوک ووايي چې أنت او که چيرې نيت ئې وکړو په أنت على مثل امى سره د ښه سلوک يا د ظهار يا
او طلاقًا فكما نوى وَ اِلّا لَغَاو بانتِ علىّ حَرَامٌ كامّي ظِهَارًا او طلاقًا فكما نوٰى
د طلاق نو هغه د نيت مطابق وي کنې لغو به وي او په انت على حرام کامي سره د طلاق نيت وکړي يا د ظهار، نو هم د نيت مطابق
و بانتِ عَلىّ حَرَامٌ كظهرِ امّي طلاقًا او ظهارًا فظهَارٌ ولا ظهارَ الّا من زوجته
به وي او په انت على حرام کظهر أمى سره که چيرې د طلاق يا د ظهار نيت ئې وکړو نو ظهار به وي او ظهار نه کيږي مګر د خپلې ښځې سرد
فلوْ نكحَ امرأةً بغير امرِها فظاهرَ منها فاجزاتُهُ بَطلَ
که چيرې نکاح ئې وکړه د يوې ښځې سره بغير د هغې د اذن نه، بيا ئې ورسره ظهار وکړو او هغې نه پس ښځې د نکاح اجازت وکړو نو ظهار باطل دی
اَنْتُنَّ علىّ كظهرِ اُمّي ظِهَارٌ منهنَّ و كفَّر لِكُلّ
او دا قول چې تاسو ټولې ښځې په ما باندې په شان د شاد د مور زمايئ، نو د اظهار دی ټولو سره، او هر يو لپاره به کفاره ادا. کوي.

د فقهي تشريح: قوله بابٌ الخ قوله بابٌ الخ خلع سره د ظهار مناسبت دا دی چې د دواړو ظهور په طريقې د نشوز سره کيږي. په خلع کې نشوز د ښځې د طرف نه وي، او په ظهار کې د سړي د طرف نه وي ظهار هر کله چې کذب محض دی او په خلع کې دا خبره نشته، دي وجې نه مصنف ظهار د خلع نه مؤخر کړو او په لعان د مقدم کولو وجه دا ده چې ظهار د لعان په نسبت سره اباحت ته نژدې دي، ځکه چې سبب د لعان يعنې تهمت د زنا د يو اجنبي طرف ته منسوب کول موجب د حد دی، او موجب حد بيشکه د اباحت محض نه معصيت دی.

قوله هو تشبيهٌ الخ ظهار د لغت په اعتبار د مصدر دی، يقال ظهار بين الثوبين ظهارًا لاندې باندې کيږې اغوستل، دارنګ اهل عرب ظاهر امرء ته هغه وخت وائي کله چې يو سړی خپلې ښځې ته داسې ووائي چې ته په ما داسې لکه زما د مور شا. (صحاح ، مغرب) د اظهار د حرمت يو باريکه

شان استعاره ده. او د لفظ ظهر د تخصيص وجه دا ده چې د سورلۍ شا ځائې د سورلۍ وي او د جماع په وخت کې ښځه هم مرکوبه وي، پس رکوب ام د رکوب دآبه نه مستعاره دی، بيا د رکوب زوجه تشبيه ئې د رکوب ام سره ورکړه فکانه قال رکوبک للنکاح حرامٌ علی (مصباح) په اصطلاح د شريعت کې ظهار د خپلې منکوحې د يو داسې ځيز سره تشبيه ورکولو ته وئيلی شي چې هغه په هغه باندې هميشه لپاره حرام وي د منکوحې په قيد سره وينزه خارج شوه ځکه چې هغې سره ظهار نه صحيح کيږي په قيدد محرمه سره غير محرمه خارج شوه ځکه چې يو حلال ځيز سره تشبيه ورکولو سره ظهار نه کيږي د علی التابيد په قيد سره ترينه ځيني او مطلقه ثلاثه خارج شوي. ځکه چې دا اگر چې حرامې دي ليکن ددوی حرمت ابدي نه دی مؤقت دی،

قوله حرم الخ: يو سړي خپلې ښځې ته دا ووايې أنت علی کظهر امی نو هغه مظاهر شو. اوس چې څو پورې هغه کفاره نه وي ورکړی هغه وخته پورې په ده باندې وطي کول د خپلې ښځې سره يا دواعي د وطي يعنې بوس وغيره ټول حرام دي لقوله تعالی و الذين يظاهرون من نساءهم اه د امام شافعی رحمه اله قول جديد او د امام احمد رحمه الله نه يو روايت دې چې وطي حرامه نه دي، ځکه چې د حرمت ثبوت د آيت مذکوره نه دی او آيت کې تماس د جماع نه کنايه ده، جواب دا دی چې د تماس حقيقي معنی مس باليد دی، او څو پورې چې د حقيقت امکان وي نو په مجاز باندې محمول کولو ضرورت نشته، امام محمد رحمه الله نه يو روايت دی چې که چيرې ظهار کوونکی د سفر نه واپس راغی نو هغه بغير شهوت نه (ازراه شفقت او مهرباني) چپې اخيستی شي. بحر الرائق کې دی چې روايت کې دسفر قيد تحريف دی ځکه چې بغير دشهوت نه چپې اخيستل په سفر او خضر دواړو کې صحيح ده.

قوله فلو وطئ الخ: که چيرې مظاهر د کفارې د ظهار ورکولو نه مخکې وطي وکړي نو هغه لره پکار دي چې توبه او استغفار وکړي، اود اظهار بهصرف يوه کفاره ادا کړي، ځکه چې روايت کې دي چې يو سړي د خپلې ښځې سره د ظهار نه پس د کفاره ظهار ادا کولو نه مخکې وطي وکړه، نبي صلی الله عليه وسلم وفرمايل داسې د ولې وکړل؟ هغه عرض وکړو يا رسول الله، د سپوږمی په رڼا کې ما د هغې د پيزار ښائست وليدو نو زه صبر نه شوم، نبی صلی الله عليه وسلم وفرمايل کفارې اداء کولو پورې د هغې نه جدا اوسيږه (١)

(١) ائمه اربعه ، عبد الرزاق ، حاکم عن ابن عباس ١٢.

مؤطا امام مالک رحمه الله کي يكف عنها حتى يستغفر الله ويكفر الفاظ موجود دي حضرت سعيد بن جبير رضى الله عنه د دوو كفارو او ابراهيم نخعي رحمه الله د دريو كفارو قائل دى، ليكن حديث مذكور په هغوى حجت دى.

قوله وعوده الخ يعنى په آيت د ظهار کي د عود نه مراد د مظاهر د مظاهر منها سره د وطي عزم او اراده ده. مصنف په دي عبارت سره د وجوب كفاره سبب بيانوي. سبب د وجوب د كفاري څه شى دى؟ په دي کي مختلف اقوال دي (۱) سبب د وجوب مجموعه د ظهار او دعود ده. د اكثر علماؤ رايې هم دا ده. ځكه چي آيت کي د فاء سببيه نه وړاندي هم دا ذكر دى، دارنګ كيدل ضروري دي پس د عقوبت تعلق محظور يعنى ظهار سره دى، اود عبارت تعلق مباح يعنى عزم وطي سره دى (۲) ظهار سبب دى او عود شرط دى (۳) د هغه عكس دى (۴) په دي دواړو کي هر يو سبب هم دى او شرط هم دى.

قوله والا لغا الخ: که چيري يو سړي انت علي مثل أمي ووايي د عزت، كرامت، او د د ظهار او طلاق د هيڅ څيز اراده ونه کړي نو د شيخينو په نزد كلام به لغو وي، د امام محمد رحمه الله په نزد ظهارت دى، ځكه چي هر كله د مور د يو اندام سره تشبيه وركول ظهار دي نو كل سره به په طريق اولى ظهر وي.

قوله وبانت علي حرام الخ يو سړي علي حرام كظهر أمي سره طلاق يا د ايلاء اراده وکړي نو د امام صاحب په نزد طلاق او ايلاء نه واقع كيږي بلكه ظهار به وي د صاحبينو په نزد دنيت اعتبار دى، ځكه چي كلام کي د دي تولو احتمال شته. امام صاحب رحمه الله فرمايې چي كلام مذكور سره په ظهار کي صريح دى، لهذا په دي کي نيت هيڅ عمل نشي كولى، پاتي شو لفظ د حرام نو مقتضى د لفظ د دتاكيد دى نه چي د تغيير.

قوله ولا ظهار الخ زمونږ په نزد ظهار صرف د خپلي ښځي سره كيدى شي، وينځي ام ولده يا مكاتبي سره ظهار صحيح نه دى، د امام مالک رحمه الله په نزد صحيح دى، ليكن ايت د ظهار د هغه حجت دى ځکه چي عرف کي نساء رجل د هغه ښځو ته ويل كيږي نه چي وينځي وغيره ته، که چيري يو سړي يوي ښځي سره د هغې د اجازت نه بغير نكاح وکړه، بيائې هغي سره ظهار وکړو، د هغې نه پس ښځي نكاح جائز کړه نو ظهار باطليږي ځكه چي كوم وخت هغه ظهار وکړو، هغه وخت هغه دده ښځه نه وه پس ركن ظهار يعني تشبيه محلله بالمحرمه اونه موندى شو.

قوله انتن الخ د یو سړي په نکاح کي څو ښځي وي هغه ټولو ته وویل «انتن علی کظهرامی» نو دا ټولو سره ظهار وشو او د هر یو کفاره به ورکوي. د امام مالک رحمه الله او امام احمد په نزد یوه کفاره کافي ده. دا حضرات یې په ایلاء قیاس کوي. چي که چیري څوک قسم وخوري چي زه به خپلو ښځو سره صحبت نه کوم، بیا یې د یوي سره صحبت وکړو نو د یوي په کفاري ورکولو سره ټولي ښځي حلالیږي، مونږ دا وایو چي په دوی کي په هر یو کي حرمت ثابت دی. او کفاره د حرمت ختمولو لپاره وي نو هر کله چي حرمت متعدد دی نو کفاره به هم متعدد وي، په خلاف د ایلاء نه چي په هغي کي د کفاري وجوب د وجي د حرمت د اسم د باري تعالی د حفاظت لپاره دی، او هغه متعدد نه دی.

فصلٌ وهو تحريرُ رقبةٍ و لَم يجُز الاَعمٰى و مقطوع اليَدَيْنِ او ابهَامَيْهما
کفاره د اظهار ازادول د غلام دي او نه دي جائز نابینا او دواړه لاسونه پریکړی شوي، یا یې دواړه کتي ګوتي پریکړی شوي
والرِّجْلَيْنِ و المجنونُ و المدبَّرُ و امُّ الوَلدِ والمكاتَب الّذِى اَدّى
یا دواړه پښي کټ شوي، او لیوني او مدبر او ام ولده او هغه مکاتب چي هغه څه ادا کړي، او
شيئًا فاِنْ لَمْ يُؤدِّ شيئًا اَو اشترىٰ قريبَهٗ ناوِيًا بالشِراءِ الكفّارةَ او
که چیري هیڅ یې نه وي ادا کړي یا چا خپل قریبي رشته دار د واخیستو په نیت د کفاري ادا کولو سره
حَرَّرَ نصفَ عَبْدِه عن كَفّارةٍ ثمَّ حَرَّ باقِيَهُ عنها صَحَّ و اِنْ
یا یې خپل نیم غلام ازاد کړو د خپلي کفاري نه او باقي یې نصف هم د کفاري د ظهار نه ازاد کړو نو صحیح ده، او که چیري
حَرَّرَ نصفَ عَبْدٍ مشترَكٍ و ضمِنَ باقِيهُ اَو حَرَّرَ نصفَ عَبْدِه ثم وَطِئَ
د غلام مشترک نه یې نصف ازاد کړو او د باقي ضامن شو یا یې خپل نصف غلام ازاد کړو بیا یې وطي وکړه
التى ظاهَرَ منها ثم حَرَّرَ بَاقيهُ لا فاِنْ لم يَجدْ ما يُعتقُ صَامَ شهرَيْنِ
هغي ښځي سره کومي سره یې چي ظهار کړی وو بیا یې باقي غلام ازاد کړو نو نه صحیح کیږي، که چیري بیایې نه موندل
مُتتابعَيْن ليسَ فيهما رَمَضانٌ و ايامٌ مَنهيّةٌ فان وَطِئها فيما لَيْلًا
هغه چي کفاره کي ازاد کړي نو روژي به نسي دوه میاشتي پی در پی چي په هغي کي رمضان او ایام منهیه نه وي، که چري وطي

أَوْ يومًا نَاسِيًا او أَفطرَ استأنَفَ الصَّومَ و لم يَجُزْ للعبدِ إلّا الصَّومُ وَ
يي وکړي په دې دواړو کې د شپې يا د ورځې په هېره سره پای روژه ماته کړه نو بيا استيناف کوي او نه جائز کيږي غلام سوا د روژې نه لو
إِنْ أَطعمَ أَو أَعتقَ عَنْهُ سَيِّدُهُ فَإن لم يستطع الصَّومَ اطعَم ستين
اګر که طعام ورکړي يا آزادي کړي دده د طرف نه مالک دده، که چيرې طاقت ئې د روژو نه وو نو طعام به ورکړي شپېتو
فقيرًا كالفطرةِ أَو قيمتَهُ فلو أمرَ غيرَهُ ان يُطعِمَ عنه عن ظِهارِه ففَعَل أجزاهُ
مسکيناتو ته يا قيمت د هغې، که چيرې بل چاته ئې دخپل ظهار د کفارې ادا کولو حکم وکړو او هغه دغه کار وکړو نو بيا هم جائز.
و تصِحّ الاباحةُ . فی الكفاراتِ و الفديةِ دونَ الصَّدقاتِ و العُشرِ.
کيږي او صحيح دی اباحت په کفاراتو کې او فديه کې نه په صدقاتو او عشر کې.

د ظهار د کفارې بيان

د فقهي تشريح: قوله وهوالخ: د هو مرجع په تاويل د تکفير سره کفاره ده يعنې کفاره د ظهار يو غلام ازادول دي چې په هغې کې زمونږ په نزد مسلمان او کافر، ماشوم او لوی، نارينه او زنانه ټول برابر دي . د ائمه ثلاثه په نزد کافر غلام په آزادولو سره کفاره نه ادا کيږي ځکه چې کفاره حق د الله دی، پس دغه د الله په دښمن باندې صرف کول نه دي پکار، لکه څنګه چې په کافر باندې د زکوة مال خرچ کول جائز نه دي. زمونږ دليل دا دی چې آيت کې لفظ د رقبة مطلق دی، چې د هغې مصداق هغه ذات دی چې هغه په هر اعتبار سره مملوک وي. او دا څيز په رقبه کافره کې موجود دی نو د ايمان قيد لګول په کتاب الله زياتی دی او هغه جائز نه دی، پاتې شوه دا خبره چې کفاره د الله حق دی نو په ازادولو سره د معتق مقصد داوي چې معتق د خپل آقا د خدمت نه فارغ شي او د مولی حقيقي اطاعت کې مشغول شي اوس که چيرې هغه په خپل کفر باندې ثابت پاتې کيږي نو دا به دده په سوء اعتقاد باندې حمل کولی شي.

قوله لم يجز الخ: کفاره کې داسې غلام ازادول نه کافي کيږي چې د هغه منفعت بالکل ختم شوی وي. لکه ړوند، چې هغه بالکل ليدل نشي کولی يا د هغه دواړه لاسونه پرېکړی شوی وي يا دواړه کتې ګوتې ئې پرېکړی شوي وي وغيره، دارنګ مدبر ام ولده او مکاتب چې هغه د بدل کتابت څه مال اداء کړی وي دوی ازادول هم نه کافي کيږي ځکه چې دوی من وجه د آزادئ مستحق ګرځيده نو په دوی کې تحرير رقبه کامله مفقود دی.

قوله فان لم يؤد الخ: دې ځای نه تر صحّ پورې درې مسئلې ذکر دي (۱) يو سړی په کفاره ظهار کې مکاتب غلام ازاد کړو چې هغه دغه وخته پورې بدل کتابت نه وو ادا کړی، نو دا زمونږ په نزد صحيح ده د امام زفر او امام شافعی په نزد صحيح نه دی، ځکه چې هغه د عقد کتابت په وجه سره د آزادئ مستحق شو مونږ دا وايو چې محل د رقيت او محل د ملکيت دواړه جدا جدا دي. ځکه چې محل د ملک د رقيت نه عام دی لکه چې ملکيت د انسان نه علاوه په نورو اشياؤ کې هم متحقق کيدی شي ليکن رقيت نشي متحقق کيدی، دارنګ د بيع په ذريعې سره ملکيت زائل کيدی شي او رقيت نه زائل کيږي او د کتابت په وجه سره د مکاتب په ملکيت کې نقصان راځي نه چې رقيت کې لکه چې د نبي کريم صلی الله عليه وسلم ارشاد دی چې څو پورې په مکاتب باندې د بدل کتابت څه څيز باقي وي نو هغه وخته پورې هغه به غلام وي (۱) پس مکاتب آزادول صحيح دي. (۲) يو سړی خپل نزدې رشته دار (پلار ځوی وغيره) د کفارې د ادا کولو په نيت سره واخيسته نو کفاره ادا کيږي ځکه چې د نبي کريم صلی الله عليه وسلم ارشاد دی لن يجزی ولد والده الا ان يجده مملوکًا فيشتريه فيعتقه. د امام زفر رحمه الله او ائمه ثلاثه په نزد کفاره نه ادا کيږي، ليکن حديث مذکوره په دوی حجت دی (۳) يو سړي په کفاره کې نيم غلام آزاد کړو، بيا د وطي کولو نه مخکې ئې باقي نصف هم په کفاره کې آزاد کړو نو کفاره ادا کيږي ځکه چې ازادي اګر چې په دوه کلامو سره موجود شوه ليکن بيا هم د رقبه کامله اعتاق موجود شو لهذا کفاره ادا کيږي.

قوله وان حرّر الخ: يو غلام په دوه کسانو کې شريک وو، په دوي کې يو کس خپله حصه په کفاره کې ازاد کړه او باقي حصې د قيمت د شريک وال لپاره ضامن شو، يا ئې خپل نصف غلام ازاد کړو او باقي نيم آزادولو نه مخکې ئې د مظاهر منها سره وطئ وکړه، هغې نه پس ئې نيم باقي ازاد کړو نو کفاره نه اداء کيږي، په اولنی صورت کې خو ځکه چې د نصف آخر په مملوکيت کې نقصان او استدامت رقيت کې فرق راغلو ځکه چې اوس دويم مالک هغه نشي خرڅولی نو د رقبه کامله اعتقاق موجود نه شو، او په دويم صورت کې خو ځکه چې د رقبي اعتقاد وطي نه مخکې پکار دی، او دلته کې قبل از وطي نصف ئې آزاد کړی دی.

فان لم يجد الخ: که مظاهر په ازادولو د غلام قادر نه وي نو پی در پی دوه مياشتې روژې به نيسي، ځکه چې آيت فمن لم يجد فصيام شهرين متتابعن کې د پی در پی کيدو شرط دی او دا دوه

---

(۱) ابو داؤد عن عمرو بن شعيب ۱۲.

میاشتې به داسې وي چې د هغې مینځ کې ماه رمضان نه وي ځکه چې ماه رمضان کې بله روژه نه اداء کیږي که چیرې د کفارې په نیت سره روژې نیسي نو بیا به هم د رمضان روژې حسابیږي دارنګ ایام منهیه یعنې عیدین او ایام تشریق به هم نه وي ځکه چې دده په ذمه باندې کاملې روژې واجب شوې وي او په دې ایامو کې دنهي په وجه سره روژه ناقصه ګرځي.

قوله فان وطئها الخ که مظاهر د روژو په مینځ کې دورځې یا د شپې په هیره سره یا قصداً مظاهر منها سره ئې وطي وکړه یا د څه عذر مثلاً سفر یا بیمارۍ په وجه سره ئې روژه ماته کړه نو د طرفینو په نزد به دوباره د سر نه روژې نیسي. امام یوسف رحمه الله فرمایي که چیرې د شپې ئې وطي وکړه نو د استیناف ضرورت نشته ځکه چې د شپې وطي کولو سره روژه نه فاسدیږي پس د روژو ترتیب علی حاله باقي پاتې شو دارنګ روژې به د وطي نه مخکې وي ، که چیرې استیناف ضروري شي نو دټولو روژو مؤخر کیدل لازمیږي او د عدم استیناف په صورت کې د بعضو روژو تاخیر لازمیږي ځکه عدم استیناف بهتر دی، طرفین دا فرمائي چې څنګه روژې د وطي نه مخکې نصاً شرط دی دغه شان د هغې دوطي نه خالي کیدل هم شرط دي. اوس که چیرې شرط تقدیم فوت شو نو کم نه کم د شرط ثاني تعمیل پکار دی.

تنبیه: ابن ملک په شرح د مجمع کې او قهستاني وغیره چې دا وئیلي دي چې د شپې قصداً او عمداً وطي کول کفارې لپاره مضر دي، او سهواً وطي کول مضر نه دي نو دا قول بالکل غلط دی ځکه چې معتمدو کتابونو لکه بدائع مختار، اختیار، غایه ، عنایه بحر او تحفه وغیره کې تصریح ده چې عمد او نسیان دواړه برابر دي او نظم مبسوط هدایه، کافي، قدوري، مضمرات، زهدي، او نتف وغیره کې د عمد چې کومه تصریح نو هغه اتفاقي ده نه چې احترازي.

قوله و تصح الخ: د جواز او عدم جواز د اباحت قاعده کلیه دا ده چې د کوم مشروعیت په لفظ د اطعام یا په لفظ د طعام سره شوی دی په هغې کې اباحت جائز دی لکه کفاره د ظهار ، کفاره د یمین ، کفاره د افطار ، کفاره د صید او فدیه، او دکوم مشروعیت چې په لفظ د ایتاء یا په لفظ د آداء سره شوی دی په هغې کې تملیک شرط دی، اباحت نه کافي کیږي لکه زکوة ، عشر، صدقه فطر.

والشرط غَدَاء انِ اَو عشاءَانِ مُشبِعَانِ او غداءٌ و عشاءٌ و انْ اَعْطٰی فقیرًا
او شرط دا دی چې هر فقیر ته به په مړه کیده دوه سحر یا دوه ماښامه یا یو سحر او یوماښام دوړئ ورکوي، او که چیرې یو فقیر ته یې

شهرَيْنِ صحَّ و لو فِي يومٍ اِلّا عَن يَوْمه و لا يستأنفُ
دوه مياشتې دودئ وركړه نو صحيح ده. ليكن په يوه ورځ كې پوره مقدار وركول صحيح نه دي، ليكن د هغې ورځې نه، او استيناف
بوَطْئِها فى خلالِ الاِطعَامِ ولو أطعَمَ عنْ ظهارَيْنِ ستّينَ فقيرًا
به نه كوي په وطي كولو د هغې سره په مينځ د اطعام كې او كه چيرې خوراك ئې وركړو د دوو ظهارونه شپېتو فقيرانوته هر فقير ته
كلَّ فقيرٍ صَاعًا صَحَّ عنْ وَاحِدٍ و عن افطارٍ وظهارٍ او حَرَّرَ عَبْدَيْنِ عن
يو يو صاع نو صحيح ده د يو ظهار نه، او كه چيرې كفاره ئې اداء كړه د يو افطار او يو ظهار نه يا ئې دوه غلامان آزاد كړل د دوو ظهارو
ظِهارَيْنِ و لَمْ يُعَيِّنْ صَحَّ عنهما و مثلهُ الصِّيامُ و الاِطعامُ و انْ حَرَّرَ عنهما رَقبةً او
نه او تعين ئې ونه كړو نو دواړه نه صحيح كيږي او دا حكم د روژو او اطعام هم دى، او كه چيرې دواړو طرف نه ئې يو غلام لزاد كړو يا يې
صَامَ شهرَيْنِ صَحَّ عن واحِدٍ و عن ظهارٍ و قتلٍ لَا.
دوه مياشتې روژې ونيوې نو د يو كفارې نه صحيح كيږي او دكفاره ظهار او كفاره قتل نه نه صحيح كيږي

د فقهې تشريح: قوله وان اعطى الخ: روزانه جدا جدا فقير ته دودئ وركول ضروري نه دي، كه چيرې يو فقير ئې دوه مياشتو پورې دودئ وركړه نو بيا هم كفاره اداء كيږي، د امام شافعي رحمه الله په نزد جدا جدا شپيته مسكينانو ته دودئ وركول ضروري دي. ځكه چې آيت كې د ستين مسكينًا تصريح ده مونږ وايو چې دا طعام مقصد د محتاج حاجت دفع كول دى، او په حاجت كې روزانه مجدد دي، يعنې روزانه انسان د خوراک محتاج دي، پس روزانه يو فقير ته دودئ وركول داسې دي لكه روزانه جدا جدا فقير ته دودئ وركول. البته كه چيرې يو فقير ته ئې په يوه ورځ كې ديرش صاعه غله وركړه نو دا جائز نه ده. بلكه صرف د يوې ورځ كفاره به اداء كيږي. ځكه چې دلته كې كې نه حقيقةً تجدد شته او نه حكمًا.

قوله ولو اطعم الخ يو سړي دوو كفارو طرف نه شپيتو مسكينانو ته يو يو صاع غنم وركړل نو په دې طريقې سره صرف يو كفاره ادا كيږي، ځكه چې دوو كفارو كې شپږ شلو مسكينانو ته دودئ وركول ضروري وو. اوس ده په مقدار كې اضافه وكړه چې د نصف صاع په ځائې ئې يو يو صاع وركړه ليكن په عدد كې ئې كمى وكړو. يعنې په ځائې د شپږو شلو ئې شپيتو ته وركړه. حال دا چې په عدد كې كمى كول جائز نه دي. دارنګ داتحاد جنس په صورت كې د نيت اعتبار نشته. په دې لحاظ سره د دواړو كفارو نيت كول لغو دي. او د مطلق ظهار نيت باقي پاتي شول، او ده چې كوم

مقدار ادا كړي دي هغه د يو ظهار كفاره كيدّي شي. لهذا يوه كفاره به ادا كيږي، پاتې شو دا سوال چې ده خو په ځائې د نصف صاع يو يو صاع وركړي دي، نو د هغې اعتبار نشته. ځكه چې د نصف صاع كوم مقدار مقرر شوى دى د هغې دا مطلق نه دى چې ګڼې نه زيات وركول جائز نه دي، بلكه ددې لپاره دى چې د نصف صاع نه دي كم وي.

قوله وعن افطار الخ كه چيرې د كفاره ظهار او كفاره افطار په نيت سره ئې شپيتو مسكينانو ته هر يو كس ته په يو ځل يو يو صاع وركړو نو د دواړو طرف نه ادا كيږي، ځكه چې د اختلاف جنس په صورت كې نيت معتبر دى، او كه چيرې د ظهار د دوو كفارو د طرف نه ئې دوه غلامان ازاد كړل او د يو تعيين ئې هم ونه كړو يا څلور مياشتې ئې روژې ونيوې يا ئې شپږ شلو كسانو ته دوه‌دې وركړه او تعيين ئې ونه كړو نو بيا هم جائز دى، ځكه چې جنس متحد دى، دې وجې نه د تعين د نيت ضروري نشته.

قوله وان حر الخ: كه چيرې د دوو ظهارو طرف نه ئې يو غلام ازاد كړى وو يا ئې دوه مياشتې روژې ونيوې نو دا به يو ظاهر طرف نه صحيح كيږي، اوس مظاهر ته اختيار دى چې د كوم ظهار طرف نه غواړي كفاره دې وګرځوي، او كه چيرې كفاره ظهار او كفاره ئې قتل طرف نه ئې يو غلام ازاد كړو نو د يو طرف نه هم نه صحيح كيږي البته كه چيرې غلام كافر وي چې هغه د كفاره ظهار طرف نه صحيح كيږي، ځكه چې كفاره قتل كې كافر غلام ازادول جائز نه دي، پس هغه به د كفاره ظهار لپاره متعين شي.

بَابُ اللِّعَانِ
باب دى په بيان د لعان كې
هِيَ شَهَادَاتٌ مُؤَكَّدَاتٌ بِالْاَيْمَانِ مَقْرُونَةٌ بِاللَّعْنِ قَائِمَةٌ مَقَامَ حَدِّ
لعان خو ګواهئ دي چې موكد وي په قسمونو سره چې مشتمل وي په لعنت سره لعان قائم مقام د حد قذف
الْقَذْفِ فِي حَقِّهِ وَ مَقَامَ حَدِّ الزِّنَا فِي حَقِّهَا فَلَوْ قَذَفَ زَوْجَتَهُ بِالزِّنَا وَ
دى په حق د سړي كې، او قائم مقام د زنا دى په حق د ښځې كې، پس كه چيرې تهمت د زنا ئې ولګولو په خپله ښځه باندې
صَلُحَا شَاهِدَيْنِ وَ هِيَ مِمَّنْ يُحَدُّ قَاذِفُهَا اَوْ نَفَى نَسَبَ الْوَلَدِ وَ طَالَبَتْهُ
او دواړه صالح د شهادت وو او ښځه د هغه قبيلې نه وه چې د هغې تهمت لګوونكي ته سزا ملاويدى شوه يا ئې نفي د نسب وكړه د ولد نه

بموجب القذف وجب اللعان فإن أبى حبس حتى يلاعن او يكذب نفسه
او ښځه مطالبه وکړي د تهمت د سزا نو لعان واجبيږي، که چيرې سړي انکار وکړو نو قيد به کړی شي تر دې چې لعان وکړي يا خپل ځان دروغژن ثابت
فيحد فإن لاعن وجب عليها اللعان فإن أبت حبست حتى تلاعن او تصدقه
کړي نو په حد به شي که چيرې سړي لعان وکړو نو په ښځه باندې لعان واجب شو که چيرې ښځې انکار وکړو نو قيد به کړی شي تر دې چې لعان وکړي يا د خاوند تصديق وکړي

د فقهي تشريح: لعان لغةً د مفاعل مصدر دی په معنی د بد دعايئ سره او د رحمت خداوندي نه لرې کول، په اصطلاح کې لعان د څلور شهادتونو نوم دی، چې په قسمونو باندې مؤکد وي، امام مالک رحمه الله او امام شافعي رحمه الله په نزد د څلورو د قسمونو نوم دی، چې په شهادتونو سره مضبوط وي. پس ددوی په نزد اهل لعان هغه خلک به وي کوم چې اهل د عين وي. او زمونږ په نزد اهل لعان به هغه څوک وي چې کوم اهل شهادت هم وي. او اهل يمين هم وي. يعنې آزاد مسلمان، عاقل، بالغ، پس غلام، کافر، صبي او مجنون اهل د لعان نه دي. هغوی دا فرمائي چې آيت فشهادة احدهم اربع شهادت بالله. کې لفظ د بالله يمين کې محکم دی، او لفظ د شهادت متحمل د يمين سره دی، پس محتمل په محکم باندې حمل کيدی شي. زمونږ دليل د نبي صلی الله عليه وسلم ارشاد دی چې د اهل کفر او اهل اسلام او د غلام او د هغه د ښځې په مينځ کې لعان نه کيږي، په دې کې نبي کريم ﷺ د شهادت د اهليت د اشتراط تصريح کړې ده. او هم دا آيت نه مفهوم دی څکه چې آيت و لم يکن لهم شهداء الا انفسهم کې شهداء نه د انفسهم استثناء شوې ده. معلومه شوه چې زوج شاهد دی بيا فشهادة احدهم اربع شهاداة بالله کې نوره تصريح هم ده. معلومه شوه چې رکن د لعان شهادة دی، چې هغه مؤکد باليمين وي، بيا دا شهادت د زوج د جانب نه مقرون باللعنة به وي او په حق دده کې به د حد قذف قائم مقام وي، او د زوجې د جانب نه به مقرون بالغضب او د هغې په حق کې د حد زنا قائم مقام وي.

فلو قذف الخ: که چيرې خاوند په خپله ښځه باندې د زنا تهمت ولګولو، او زوجين اهل د شهادت وي يعنې هغوی مسلمان، عاقلان، بالغان او آزاد وي، او ښځه د هغې قبيلې نه وي چې په هغې تهمت لګوونکي باندې حد قائم کيدی شي. يعنې فعل زنا او تهمت نه هغه پاکدامنه وي يا خاوند د هغې د ماشوم نه نفي وکړه، او دا ئې ووئيل چې دا ماشوم نه زما دی او نه د سابقه خاوند نه دی بلکه د زنا نه دی، او ښځه د حد قذف مطالبه وکړي نو لعان به واجب وي. او که چيرې خاوند د لعان نه

انکار وکړي نو قید به کړی شي، تر دې چې یا خو لعان وکړي او یا خپل ځان دروغژن ثابت کړي، اوس که چیرې خپل تکذیب ئې وکړو نو په هغه به حد قذف جاري کړی شي، یعنې اتیا دُرې به وهلی شي، او که چیرې هغه لعان وکړي نو په ښځه به هم لعان واجبیږي

تنبیه: شرح وقایه کې دي چې که چیرې ښځه د خاوند تصدیق وکړي نو هغه نه به د ماشوم نسب نفي کیږي شارح د نقایې هم ددې اتباع کړي ده، لیکن دا خبره صحیح نه ده. ځکه چې بحر وغیره کې دي چې د نسب نفي نه کیږي، بلکه ماشوم به د دواړو نه ثابتیږي. دارنګ د قدوري په بعضو نسخو کې دي چې که چیرې ښځې د خاوند تصدیق وکړو نو په هغې باندې به حد جاري کیدی شي، دا هم غلطه ده. ځکه چې حد خو په یو ځل اقرار کولو سره هم نه قائمیږي، نو د تصدیق په وجه سره کله قائم کیدی شي. نبه علیه فی مجمع الانهر ۱۲.

فَاِن لم يَصْلُحْ شاهِدًا حُدَّ و اِنْ صَلُحَ و هِيَ مِمَّنْ لا يُحَدُّ قَاذِفُهَا فلا حَدَّ

که چیرې خاوند د ګواهۍ قابل نه وو نو هغه ته به سزا ورکیدی شي او که چیرې خاوند لائق د ګواهۍ وو او ښځه د هغه قبیلې نه وه چې په هغې

عليه و لا لِعانَ وَ صِفَتُهُ مَا نَطَقَ به النصُّ فَاِنْ التعنا بانَتْ بتفريقِ الحاكِمِ

سره تهمت لګوونکې نه شو په حد کیدی نو په خاوند حد نشته او نه پرې لعان نشته او طریقه د لعان هغه ده کومه چې د هغې تصریح په نص د قران

وان قَذَفَ بولدٍ نفَى نسبَهُ والحقَهُ بأمّه و اِنْ اكذبَ نفسَهُ حُدَّ ولهُ اَن

سره شوې ده پس کله چې دواړو لعان وکړو نو ښځه بائنه کرځي په تفریق د حاکم سره او که چیرې هغه پرې سبب د بچي سره تهمت لګولی وو نو دهغه نسب به ختم کړي او مور سره به ئې ملحق کړي، او که چیرې هغه خپل تکذیب وکړي نو په حد به کړی شي او خاوند

ينكحها و كذا ان قَذَفَ غيرَهَا فحُدَّ او زَنَتْ فحُدَّتْ

ښځې سره نکاح کولی شي، دغه شان که چیرې تهمت ئې ولګولو په بله ښځه باندې او ده ته سزا ملاؤ شوه یا ښځې زنا وکړه او په حد

وَ لا لعَانَ بقذفِ الأخرسِ و نفي الحملِ و تلاعَنا بزَنَيْتِ و

شوه او نشته لعان په تهمت لګولو دګونګي سره او په نفي د حمل سره، او دواړه به لعان کوي په دې قول سره چې تا زنا کړې ده او دا

هٰذا الحملُ مِنْهُ و لم يَنْفِ الحملَ و لو نفَى الولدَ عِندَ التهنئةِ او ابتياعِ آلةِ

حمل د هغې نه دی، او حمل نه نفي کیږي، او که چیرې نفي د ولد ئې وکړي، په وخت د مبارکۍ کې یا په وخت د اخیستو د اسبابو د

الولادةِ صحَّ و بعدهُ لَا وَ لَا عَنَ فيهمَا وَ اِنْ نفَى اَوَّلَ التوأمَيْنِ

ولادت کې نو نفي صحیح ده نه پس د هغې نه او لعان به کوي په دواړو صورتونو کې، او که چیرې په برغو بچو کې ئې د اول ماشوم

و اقرَّ بالثانِي حُدَّ و اِنْ عکسَ لا عَن و ثبتَ نسبُهمَا فیهما.

نفي وکړه او دویم ئې اقرار وکړو نو په حد کولی به شي، او که چیرې عکس ددې وي نو لعان به کوي او نسب به دواړو صورتونو کې ثابتیږي.

د فقهې تشریح: قوله فان لم یُصلح الخ: که چیرې خاوند په وجه د کفر یا د غلامۍ سره د شهادت اهلیت نه لرلو او هغه په ښځه تهمت ولګوي، مثلاً په شروع کې زوجین کافران وو. هغې نه پس ښځه مسلمانه شوه، او خاوند د مسلمان کیدو نه مخکې په ښځه تهمت ولګولو یا خاوند محدود فی القذف دی، نو په خاوند به حد جاري کیدی شي ځکه چې کله د خاوند طرف نه لعان متعذر شو نو موجب اصلي یعنې حد طرفته به رجوع کیدی شي. او که چیرې خاوند اهل د شهادت وو او ښځه نه وه مثلاً وینزه وه یا کافره وه یا محدود فی القذف وه یا ماشومه وه یا لیونۍ وه یا زانیه وه نو په خاوند به حد جاري کیږي ځکه چې ښځه محصنه نه ده او نه به لعان کیږي ځکه چې ښځه اهل د شهادت نه ده.

قوله فان التعنا الخ: کله چې زوجینو کې هر یو لعان وکړو نو قاضي به په دوي کې تفریق وکړي، او د قاضي په تفریق سره به ښځه بائنه وګرځي. امام زفر رحمه الله فرمائي چې په نفس لعان سره جدائي واقع کیږي. هم دا امام مالک رحمه الله نه مشهور روایت دی، او هم دا امام احمد رحمه الله نه روایت دی ځکه چې د حضور صلی الله علیه وسلم ارشاد دی چې د لعان کوونکو مینځ کې کله هم اجتماع نشي کیدی[۱] زمونږ دلیل د حضرت سهل بن سعد اوږد حدیث دی چې د هغې په آخر کې د عویمر عجلاني قول دی. کذبت علیها یا رسول الله. نبي صلی الله علیه وسلم ورته وفرمایل چې هغې ته رجوع وکړه. عویمر وویل، که چیرې زه ورته رجوع وکړم نو هغه دې په دریو طلاقو طلاقه وي[۲]، وجه د استدلال دا ده چې عویمر نبي کریم ﷺ سره پس د لعان نه وویل: کذبت علیها یا رسول الله نو که چیرې محض لعان سره جدائي واقع کیدی نو نبي کریم ﷺ به ضرور پرې نکیر کړی وی.

فائده: په تفریق کې د قاضي ضرورت کوم ځای کې وي او کوم ځای کې نه وي؟ دغه ځایونه بعضو فاضلانو په دې لاندینی اشعارو کې راجمع کړي دي.

---

(۱) ابوداؤد عن سهل بن سعدا ، دارقطنی عن ابن عمر ، دار قطنی، احمد ، عبدالرزاق، ابن ابی شیبة عن علیؓ، ابن مسعود ، عمرو ابن عمر (موقوفا)

(۲) صحیحین، ابوداؤد عن سهل بن سعد ۱۲.

في خيار البلوغ و الاعتاق : فرقته حكمًا بغير طلاق: فقد كفوء كذا و نقصان. و نكاح فساده باتفاق:
ملك احد الزوجين او بعض. زوج و ارتدادٌ على الاطلاق : ثم حجب وعنته و لعان .
و اباء الزوج فرقته بطلاق: و قضاءِ القاضي في الكل شرط. غير ملك وردة و عتاق.

قوله وان قذف بولدٍ الخ: که چيرې خاوند د ماشوم نفي وکړه او په ښځه ئې تهمت ولګولو نو قاضي به د ماشوم نسب د پلار نه نفي کړي او د هغه نسب به د مور نه ثابت کړي ځکه چې نبي صلى الله عليه وسلم د هلال بن اميه نه د ماشوم نسب نفي کړو او هغه ئې د مور سره لاحق کړی وو (۱) او که چيرې لعان نه پس خاوند خپل تکذيب وکړي نو په هغه به حد جاري کولی شي ، ځکه چې په خپل نفس تکذيب کول په خپل ځان باندې د حد د وجوب اقرار کول دي.

(فائده) د ماشوم د نفي کولو لپاره څو شرطونه دي (۱) تفريق د حاکم (۲) قرب ولادت يعني خاوند د ماشوم نفي د پيدائش په وخت يا د هغې نه يوه دوه ورځې وروسته کړی وي (۳) د نفي نه مخکې ئې د ماشوم د نسب اقرار نه وي کړی نه صراحةً نه دلالةً دلالةً او د اقرار صورت دا دی چې مثلاً خلکو هغه ته مبارکي پيش کړه او هغه خاموش پاتې شو (۴) په وخت د تفريق کې ماشوم ژوندی وي، که چيرې د هغه د مرګ نه پس نفي وکړه نو نسب نه منقطع کيږي (۵) تفريق نه پس د ښځې هم دغه حمل نه دويم ماشوم پيدا نشي (۶) په څه وجه سره د نسب شرعًا حکم نه وي شوی، صاحب بحر څه نور شرطونه هم ذکر کړي دي، ليکن د هغې متعلق حموي وئيلي دي چې دا شرطونه د لعان دي، نه چې د نفي د ولد دي دې وجې نه صاحب د بدائع هغه حذف کړه.

قوله و ان ينكح الخ که چيرې زوج لا عن خپل تکذيب وکړو نو هغه پس د تفريق د طرفينو په نزد دغه ښځې سره نکاح کولی شي. امام زفر رحمه الله رحمه الله ، ابويوسف رحمه الله ، مالک او امام شافعي رحمه الله په نزد نکاح جائز نه ده. ځکه چې حديث نه ثابت ده چې لعان کوونکی پس د تفريق نه کله هم نشي جمع کيدی. طرفين دا فرمائي چې لعان شهادت دی او رجوع نه پس شهادت باطليږي ، دارنګ تکذيب نه پس لعان پاتې نه شو نو کوم حرمت چې د لعان په سبب سره راپيښ شوی وو هغه هم زائل شو ، دغه شان که چيرې يو سړی خپلې ښځې نه علاوه په يو اجنبي ښځې باندې تهمت ولګولو او د

---

(۱) ابن راهويه، بيهقي عن ابن عباس ۱۲.

هغې په وجه سره په هغې حد جاري شو يا ښځې زنا وکړه او په هغې حد جاري شو نو هغې سره هم نکاح صحيح ده.

قوله ولا لعان الخ: که زوجين گونگيان وي يا په دوي کې يو گونگی وي او په اشارې سره تهمت ولگوي نو لعان به نه کيږي، امام مالک، شافعي رحمه الله او حنابلـه کې ابو الخطاب فرمائي چې لکه څنگه چې د گونگيانو باقي تصرفات بيع او طلاق وغيره اشاره سره صحيح دی دغه شان تهمت د قذف هم صحيح دی، مونږ دا وايو چې په لعان کې د لفظ شهادت تلفظ رکن دی، تر دې که چيرې څوک ، د أشهد په ځای أحلف ووايې نو صحيح نه دی، او د گونگي نه تلفظ د أشهد نا ممکن دی، لهذا لعان نه واقع کيږي دغه شان که چيرې خاوند ښځې ته وويل چې ستا حمل زما نه، نه دی، نو په هغې کې هم لعان نشته، ځکه چې قيام د حمل خو متقين نشي کيدي او د بيمارۍ په وجه سره ئې خيټه پړسيدلې وي، د صاحبينو په نزد لعان به کيږي په دې شرط چې شپږ مياشتو نه مخکې ماشوم پيدا شوی وی

قوله وتلاعنا الخ: که چيرې خاوند ښځې ته وويل چې تا زنا کړې ده، او دا حمل د زنا دی نو دواړه به لعان کوي ليکن قاضي به د ماشوم د نسب نفي نه کوي، امام شافعي رحمه الله فرمائي چې نفي به کولی شي. ځکه چې هلال بن اميه خپلې حاملې ښځې سره لعان وکړو او نبي ﷺ په دواړو کې تفريق وکړو او وئې فرمايل چې د ښځې ماشوم ته به د هلال ماشوم نه وايې (ابو داؤد) مونږ وايو چې په حمل باندې د ولادت نه مخکې احکام نه مرتب کيږي، باقي پاتې شو حديث، نو نبي صلی الله عليه وسلم ته په ذريعه د وحي معلومه شوې وه چې د هغې په خيټه کې ماشوم دی.

قوله وان نفى اول التوأمين الخ: د يوې ښځې دوه ماشومان پيدا شو، خاوند د اول ماشوم نفي وکړه او د دويم اقرار ئې وکړو نو په هغه به حد جاري کيدی شي. ځکه چې د دويم ماشوم په اقرار خپل تکذيب کول دي. او که چيرې د هغې عکس وي يعنې د ثاني نفي او د اول اقرار وکړي نو لعان به کيدی شي. ځکه چې د اول اقرار کولو سره خاوند د ښځې د عفت اقرار وکړو او د دويم نفي سره په ښځه تهمت ولگولو، لهذا لعان به کيږي، ليکن په دواړو صورتونو کې نسب به نه نفي کيږي، بلکه ماشوم هم ده نه ثابتيږي، ځکه چې دغه دواړه هم دده د نطفې نه پيدا شوي دی.

بَابُ العِنّين وغيره

(باب دی په بیان د نامرد وغیره کښې)

هُوَ مَنْ لا يَصِلُ إِلَى النِّسَاءِ او يَصِلُ إِلَى الثَّيِّبِ دُونَ الأَبْكَارِ و جَدَتْ

دا هغه کس دی چې ښځو ته نشي رسیدی یعنې جماع نشي کولی یا په واده کړو ښځو باندې قادر وي نه چې په پیغلو یوې ښځې خپل خاوند

زوجها مَجْبُوبًا فُرِّقَ فی الحالِ و أُجِّلَ سَنَةً لو عِنِّينًا او خَصِيًّا فانْ وطئ

مقطوع الذکر بیا موندو نو فی الحال به تفریق کیدی شي، او مهلت به ورکیدی شي یو کال پورې که چیرې نامرد وو یا خصي وو که چیرې په وطې

وَ إِلَّا بانَتْ بالتفريق اِنْ طلبَتْ فلَوْ قَالَ وَطِئْتُ

قادر وو ، خو بهتره ده ورنه ښځه به د قاضي په تفریق سره بائنه وګرځي په دې شرط سره چې ښځه مطالبه وکړي که چیرې خاوند ووایي

وَ أَنكَرَتْ وقَلْتَ بِكْرٌ خُيِّرَتْ و اِنْ كانَتْ ثَيِّبًا صُدِّقَ

چې ما وطي کړی ده او ښځه انکار وي او نورې ښځې ووائي چې هغه باکره ده نو ښځه به په اختیار وي او که چیرې ښځه ثیبه وي نو د خاوند

بحلفه و انْ اختارتهُ بَطَلَ حَقُّهَا ولَمْ يُخَيَّرْ أَحَدُهُمَا بعَيْبٍ

تصدیق به کیږي په قسم سره او که چیرې ښځې خاوند خوښ کړو نو د ښځې حق باطل شو او په دوارو کې به یو کس ته هم اختیار نه وي په سبب د عیب سره

د لغت وضاحت: **عنّین** فعیل په معنی د مفعول سره، نامرد: ابکار جمع د باکرې ده پیغله **مجبُوب** چې آله تناسل ئې کټ شوی وي. **اجّل** تاجیل نه ماخوذ دی مهلت ورکول **خصّی** چې د هغې هګۍ نه وي.

د فقهي تشریح: **قوله باب الخ:** د عنین د نکاح او د فرقت دواړو سره نسبت دی، دې وجې نه مصنف رحمه الله د نکاح او طلاق د بیان نه پس د عنین وغیره احکام بیانوي. عنین په وزن سکین. لغت کې هغه کس ته وایې چې جماع نشي کولی او په شریعت کې عنین هغه دی چې ښځې سره په فرج کې په جماع کولو قادر نه وي یا صرف ثیبې سره جماع کولی شي او باکرې سره نشي کولی، جماع باندې قدرت نه لرل د بیمارئ د وجې نه وي یا د ضعیف الخلقة د وجې نه یا د بوډاوالي د وجې نه وي یا جادو وغیره په وجه سره وي.

قوله فوجدت الخ: ښځې خاوند مقطوع الذکر بيا موندلو نو ددوی په مينځ کې فوراً تفريق کيدی شي ځکه چې مهلت ورکول کې فائده نشته، په لفظ د وجدت سره دې طرف ته اشاره ده چې که چيرې ښځې ته د نکاح نه مخکې د خاوند د حال معلومات وي او هغه پرې راضي وي نو بيا مطالبه نشي کولی د تفريق. او که چيرې نامرد يا خصي وو نو يو کال به مهلت ورکيدی شي. حضرت علی ﷺ، حضرت عمر ﷺ او حضرت ابن مسعود رﷺ نه هم دا روايت دی [۱]. وجه دا ده چې کال په څلورو فصلونو باندې مشتمل وي که چيرې نامرد پيدائشي نه وي د څه بيمارئ په وجه وي نو د موسمونو د بدليدو په وجه سره په ټول کال کې لرې کيدی شي. نو که چيرې روغ شو خو بهتره خبره ده، ګنې بيا به د قاضي په تفريق سره ښځه بائنه شي.

(فائده): سنة تاجيل به شمسي وي يا که قمري؟ د ظاهر الروايت په لحاظ سره سنه قمري معتبره ده، واقعات او دا والجيه کې دې ته ترجيح ده او صاحب د هدايې هم دا قول مختاره کړی دی، امام صاحب ته د حسن په روايت سره شمس معتبر دی، شمس الائمه سرخسي، قاضي خان او ظهير الدين دا قول خوښ کړی دی خلاصه کې فتوئ هم په دې ده. قمري کال د دريو سوو ورځو او ثلث يوم اود ثلث عشر وي. که چيرې شپږ مياشتې د ديرشو وي او شپږ د يو کم ديرشو وي، که چيرې اووه د ديرشو وي نو يوه ورځ به زياتيږي. او که چيرې پنځه د ديرشو وي نو يوه ورځ به کميږي او شمسي کال د دريو سوو پنځه شپيتو ورځو او د ربع يوم وي.

قوله فلو قال الخ: د مهلت مودې نه پس خاوند دعوی وکړه چې ما وطي وکړه او ښځه انکار کوي نو قول به د ثقه ښځو معتبر وي، که چيرې هغوي معائنه وکړي او ووائي چې ښځه باکره ده نو ښځې ته به اختيار حاصل وي، او که چيرې هغوی ووايې چې ثيبه ده نو دخاوند قول به معتبر وي سره د قسم نه. پيژندګلو د باکرې او ثيبې دا ده چې ښځه به په ديوال متيازې وکړي که چيرې متيازې په ديوال پريوتې خو باکره ده او که چيرې په پتون ئې پريوتی نو ثيبه ده. يا د هغې په پيشاب ګاه کې د هګۍ زيړ واچولی شي نو که هغه داخل شو نو ثيبه ده ګنې باکره ده.

---

(۱) عبدالرزاق، دارقطنی. ابن ابی شيبه، محمد بن حسن عن عمر، ابن ابی شيبة عبدالرزاق عن علی. عبدالرزاق، ابن ابی شيبه، دارقطنی عن ابن مسعود ﷺ، ابن ابی شيبه، دارقطنی عن المغيرة ۱۲.

بَابُ العِدّةِ

باب دى په بيان د عدت تيرولو كې

هِيَ تربُّصُ يَلزم المرأةَ عدّةُ الحرّةِ للطلاق اَوِ الفسخِ ثلاثةُ اَقراءٍ اَىْ حِيَضٍ.

عدت انتظار كول دي چې لازميږي په ښځه باندې عدت د آزادې ښځې طلاق يا د فسخ د نكاح لپاره درې قرو. يعني درې حيضه دي.

د فقهي تشريح: قوله باب الخ: عدت هر كله چې د فرقت أثر دى نو ددې وجې نه د فرقت ټول انواع بيانولو نه پس د عدت احكام بيانوي ځكه چې أثر د مؤثر نه پس وي. عدت شمار او حساب كولو ته وايي. يقال عددت الشيئ، ما دغه ځيز شمار كړو. نبي صلى الله عليه وسلم نه پوښتنه وشوه متى تكون القيامة؟ نبي صلى الله عليه وسلم وفرمايل: اذا تكاملت العدتان يعني كله چې د دورخيانو او جنتيانو شمار پوره كړى شي، په شريعت كې عدت هغه انتظار ته وئيلى شي چې په ښځه يا سړي باندې د اسبابو د انتظار موجود كيدو په وخت كې لازم وي. اسبابو د انتظار نه مراد هغه شل ځايونه دي چې هغه سړي لره دوطي كولو نه مانع ګرځي هغه فقيه ابو الليث په خزانة الفقه كې تفصيلاً ذكر كړي دي په اصطلاح كې عدت هغه توقف ته وئيلى شي چې كوم په ښځه باندې پس د زوال د نكاح نه لازميږي.

قوله عدة الحرّة الخ: كه چيرې يو سړي خپلې آزادې ښځې ته رجعي يا بائن طلاق وركړى، يا په دوى كې بغير طلاق نه جدايي راشي او ښځې ته حيض راځى نو د هغې عدت درې قروء دي. قال تعالى والمطلقاتُ يتربصّنَ بانفسهنّ ثلثة قروء په دې آيت كې د ثلثة قروء نه مراد زمونږ په نزد درې حيضه دي. صحابو رضى الله عنهم كې خلفاء اربعه، عبادله ثلثه، ابى بن كعب، معاذ، ابو درداء، عباده، ابو موسى، معبد جهني، عبدالله بن قيس او تابعين وغيره كې ابن المسيب، ابن جبير، عطاء، طاوس، كرمة، مجاهد، قتاده، ضحاک، حسن، مقاتل، شريک، ثوري اوزاعي، ابن شبرمه، سدي او په اهل لغت كې اصمعي، كسائى، فراء، اخفش د ټولو دا قول دى، امام احمد رحمه الله په اول كې د طهر قائل وو، وروسته بيا هغه هم رجوع وكړه. د امام مالک رحمه الله، او امام شافعي رحمه الله په نزد درې طهره مراد دي. حضرت عائشه رضى الله عنها او ابن عمر رضى الله عنهما او زيد بن ثابت نه دا نقل دي د هغوى دليل دا دى چې آيت كې لفظ د ثلثة مؤنث دى او د عدد تانيث د معدود په تذكير باندې دلالت كوي او مذكر لفظ د طهر دى نه چې لفظ د حيض، كه چيرې حيض مراد وي

نو ثلث قروء به وئيلي شوي وي. مونږ دا وايو چې لفظ د قروء په حيض او طهر دواړو کې مشترک دی او په دواړو کې حقيقت دی (قاله ما عرف في الاصول) نو لا محاله په يو معنى به حمل کيدی شي. اوس په طهر خو نشي حمل کيدی ځکه چې مشروع طلاق دا دی چې هغه په طهر کې وي. اوس چې په طهر کې طلاق واقع شي نو يا به هغه شمار کيدی شي يا به نشي شمار کيدی که شمار شي نو درې طهره کامل نه پاتې کيږي او که شمار نشي نو په دريو زياتې لازميږي حال دا چې لفظ د طهر خاص دی چې په هغې کې کمی زياتی جائز نه دی پس ضرور به په حيض حمل کيدی شي چې د هغې وجې دی (۱) د ثلثة قروء په مقتداء عمل هم پهٔدې صورت کې ممکن دی (۲). د عدت مشروعيت لپاره د استبراء رحم دی، او د رحم د حيض په ذريعې سره کيږي، لکه چې امام احمد او ابوداؤد د سبايا أوطاس متعلق روايت کړی دی (۳) د وينځې د عدت متعلق د نبي کريم ﷺ ارشاد دی چې د هغې عدت دوه حيضه دی. او ظاهره ده چې د رقت تاثير په تنصيف کې دی نه چې لفظ طهر حيض لپاره نقل کولو کې دی. پس دا حديث د مشترک لفظ لپاره بيان دی، پاتې شو د امام شافعي رحمه الله استدلال په تانيث د عدد سره، نو د هغې جواب دا دی چې کله د يو شي لپاره دوه اسمه وي يو مذکر او بل مؤنث. لکه لفظ د بر او حنطه او تانيث حقيقي نه وي نو ذ مذکر لفظ طرف ته د اضافت په وخت کې به د هغې عدد مؤنث ذکر کيږي او مؤنث لفظ طرف ته د اضافت په وخت کې د هغې عدد مذکر کيږي. او په آيت کې لفظ د ثلثه قروء طرف ته مضاف دی او دا مذکر دی او حضرت ابن عمرو ابن زيد بن ثابت نه چې کوم طهر نقل دی، نو امام طحاوي رحمه الله دغه حضراتو د هغې خلاف هم نقل کړی دی فتعارضت الرواية عنهما.

او ثَلٰثَةُ اشهُرٍ ان لَمْ تَحِضْ و للموت اربَعة اشهُرٍ و عَشْرٌ لِلامَةِ قرءَانِ و
يا درې مياشتې دي که چيرې حيض ئې نه راتلو ، او وفات لپاره څلور مياشتې او لس ورځې دي، اووينځې لپاره دوه حيضه دي او
نصفُ المقدر وَ الحامِلِ وَضعُه وزوجَةُ الفَارِ اَبْعَدُ الاَجَلَيْنِ و مَن عتقَتْ
نصف مقدر دی ، او عدت د حاملې وضع د حمل دی، او د زوجة الفار عدت په دوو مودو کې بعيده موده ده او کومه ښځه چې د
في عدة الرّجعِيّ لَا البائِن و الموتِ كالحرَّةِ.
طلاق رجعي په عدت کې ازاده شي نه د بائن او د وفات په عدت کې، نو د هغې حکم په شان د آزادې دی.

د وفات د عدت بيان

د فقهي تشريح: قوله او ثلثة الخ: که چيرې د ښځې د زيات عمر په وجه سره حيض نه راځي نو د هغې عدت درې مياشتې دی، لقوله تعالیٰ **واللّٰئی یئسن من المحیض من نسآءکم ان ارتبتم فعدتهن ثلثة اشهر**. يا يې د کم عمرئ په وجه سره حيض نه راځي چې دغه وخته پورې د نهو کالو پورې نو د هغې عدت هم دغه دی، **لقوله تعالیٰ واللّٰئی لم یحضن**.

(**فائده**): په ظاهر الرواية کې د سن أياس هيڅ وخت مقرر نه دی. بلکه څومره عمر کې چې ددې په شان د ښځو حيض راتلل بند شي نو ددغه عمر اعتبار دی (اختيار) ليکن بعضو رواياتو کې د هغې متعلق وئيلی شي چې د امام محمد رحمه الله نه يو روايت دی (۲) درې شپيته کاله، دا د بعضو قول دی (۳) شپيته کاله، د امام محمد رحمه الله نه روايت دی چې هغه د غير رومي ښځو په حق کې دا موده متعين کړې ده (۴) پنځه پنځوس کاله، صدر الشهيد دا قول خوښ کړی دی، او هم په دې اکثر مشائخ دي منافع، مجمع الانهر، در المنتقی او قاضی خان کې دي چې دا د حضرت عائشی نه نقل دی، صاحب د مجمع الانهر ذکر کړي دي چې نن صبا فتوی په دې قول ده و هٰكذا نقل القهستاني عن المفاتح (۶) ديرش کاله، جامع صغير کې دي چې کله يوه ماشومه جينئ ديرش کالو ته ورسي او حيض ئې رانشي نو په هغې به داسې حکم لګولی شي.

قوله وللموت الخ: او که چيرې د ښځې خاوند وفات شوی وي نو د هغې عدت څلور مياشتې او لس ورځې دی، ښځه که مدخوله وي يا که غير مدخوله، صغيره وي يا که کبيره، مسلمانه وي يا که کتابيه. لقوله تعالی و الذين يتوفون منكم و يذرون ازواجًا يتربصن بانفسهن اربعة اشهر و عشرًا.

دارنګې د نبي ﷺ ارشاد دی چې کومه ښځه په الله او په ورځ د آخرت ايمان لري هغې لپاره جائز نه دي چې هغه په مړی باندې درې ورځو نه زيات خفګان وکړي، سواء د خپل خاوند نه چې په هغه به څلور مياشتې او لس ورځې خفګان وي (متفق عليه) امام مالک رحمه الله فرمايي چې که چيرې ښځه کتابيه يا مدخول بها وي نو په هغې صرف استبراء د رحم واجب ده او که چيرې مدخوله نه وي نو په هغې هيڅ واجب نه دي، ليکن آيت او حديث مذکوره په هغه حجت دی.

قوله وللأمة الخ: که چیرې د وینزې حیض راتلو نو د هغې عدت دوه حیضه دي ځکه چې د حضور ﷺ ارشاد دی طلاق الامة تطلیقتان و عدتها حیضتان (۱). دارنګه رقیت منصف د احکامو دی بدلیل قوله تعالی فعلیهن نصف ما علی المحصنات من العذاب په دې لحاظ سره د هغې عدت یو نیم حیض جوړیږي لیکن اصولو کې دا خبره فیصله شوې ده چې حیض تجزی او انقسام نه قبلوي. حضرت عمر رضی الله عنه لو استطعت لجعلتها حیضة و نسفًا (۲). سره هم دې طرف ته اشاره کړې ده. دې وجې نه د وینزې عدت دوه حیضه دی، او که چیرې وینزې ته حیض نه راتلو نو بیا د هغې عدت د حرې د عدت نصف دی، یعني طلاق یا د فسخ په صورت کې یوه نیمه میاشت او په صورت د فوات کې دوه میاشتې او پنځه ورځې.

قوله والحامل الخ: عدت د حاملې وضع د حمل ده ازاده وي که وینځه وي، مسلمانه وي، که کتابیه وي، مطلقه وي یا متوفی عنها زوجها، حمل زنا نه وي یا د نکاح نه لقوله تعالی و اولات الاحمال أجلهن ان یضعن حملهن. حضرت علی و ابن عباس نه روایت دی که چیرې حامله متوفی عنها زوجها وي نو د هغې عدت أبعد الاجلین دی. یعنې وضع د حمل او څلور میاشتې او لس ورځې تیریدل ضروري دي. ځکه چې آیت و أولات الاحمال اه د هغې تقاضا دا ده چې عدت دې وضع د حمل وي او آیت والذین یتوفون اه د هغې تقاضا دا ده چې عدت دې څلور میاشتې او لس ورځې وي نو احتیاطًا د دواړو په مینځ کې جمع کیدی شي لیکن عام صحابه او د عامو علماؤ دلیل دا دی چې د حضرت ابن عباس او ابو سلمه بن عبد الرحمن دواړو په مینځ کې د یو داسې ښځې باره کې اختلاف پیدا شو. حضرت ابو سلمه ووئیلې چې کله حمل وضع شو نو ښځه حلاله شوه. حضرت ابن عباس ؓ وویل چې ددې عدت ابعد الاجلین دی حضرت ابو هریرة وفرمایل چې زه ابو سلمه سره یم. کله چې مسئله خپلو کې حل نه شوه نو دې حضراتو حضرت کریب حضرت ام سلمه ته ولیږلو او پوښتنه ئې ترینه وکړه، نو هغه وفرمایل چې سبیعه بنت حارث اسلمیه د خپل خاوند د وفات نه څو ورځې پس ماشوم وشو د نبي ﷺ نه د عدت متعلق پوښتنه وشوه نو نبي صلی الله علیه وسلم وفرمایل قد حللت فتزوجی من شئت (مؤطا امام مالک) دارنګ حضرت ابن مسعود ؓ فرمائي

---

(۱) تقدم اول الطلاق،

(۲) عبدالرزاق، بیهقی، شافعی ابن ابی شیبه عن عمر ۱۲.

چې آیت و والادت الاحمال اهـ د والذین یتوفون منکم نه پس نازل شوی دی(۱) په در منثور کې د حضرت ابو سعید خدري ﷺ نه روایت دی چې اووه کاله پس نازل شوی دی ، حضرت أبی لعب، عمر، ابن عمر، ابو هریره، عائشه ، مسور بن مخرمه نه د حضرت ابن مسعود ﷺ په مثل قول نقل دی. معلومه شوه چې د حاملې په حق کې د آیت والذین یتوفون منکم اهـ حکم منسوخ دی، دارنګ حضرت عمر ﷺ فرمائي چې که چیرې د ښځې په داسې حال کې ماشوم پیدا شي چې د هغې خاوند دغه وخت په تخته د غسل هم وي نو بیا هم د هغې عدت تیر شو، نکاح کولی شي.

تنبیه: حضرت علی ﷺ و ابن عباس ﷺ نه چې کوم أبعد الاجلین روایت دی صاحب معراج د هغې په تفسیر کې وئیلي دي چې د هغې عدت لس ورځې او څلور میاشتې دی چې په هغې کې درې حیضه وي. او هم دغه ئې د فتاوی قاضي خان نه نقل کړي دي لیکن دا د موصوف سهو ده، ځکه چې دا عدت د زوجة الفار دی، د حاملې په عدت کې حیض لره هیڅ دخل نشته، دې وجې نه محیط کې ئې وئیلي دي چې عن علی تعتد بأبعد الاجلین و هما الاشهر و وضع الحمل هم دا فتح القدیر کې دي حیرانتیا ده چې شیخ الادب مرحوم په حاشیه د کنز کې په حواله د شرح نقایه هم هغه تفسیر نقل کړی دی کوم چې صاحب د معراج ذکر کړی دی او هیڅ تنبیه ئې نه ده فرمائیلې فتنبه

قوله زوجة الفار الخ: زوجة الفار هغه ښځې ته وایې چې د هغې د رضا نه بغیر د هغې خاوند په مرض وفات کې هغې ته طلاق ورکړی وي. د داسې ښځې عدت أبعد الاجلین دي. په دې طریقې سره چې د مرګ د وخت نه به لس ورځې او څلور میاشتې انتظار کوي او هم په دغه ورځ، کې د طلاق د شروع نه درې حیضه هم تیر شي. امام ابویوسف ﷺ ، مالک ﷺ او امام شافعی ﷺ فرمائي چې د هغې عدت درې حیضه دی.

ځکه چې عدت خو هغه وخت واجبیږي کله چې نکاح په وفات سره زائله شي اودلته خو نکاح د طلاق په وجه سره مخکې د مرګ نه زائله شوه، صرف په حق ارث کې باقي ده. دلیل د طرفینو دا دی چې هر کله نکاح په طرفیو ارث کې باقي ده نو احتیاطاً په حق د عدت کې به هم باقي پاتې کیدی شي دا تفصیل هغه وخت دی ، چې کله ئې طلاق بائن یا درې طلاقه ورکړي وي، که چیرې رجعي طلاق وي نو په اتفاق سره د هغې عدت لس ورځې او څلور میاشتې دی چې هغې کې درې حیضه وي او که نه وي.

---

(۱) بخاری، ابوداؤد ، نسائی، ابن ماجه، بزار، طبري. ۱۲. عـ نه: مالک، شافعي، عبد الرزاق، ابن ابی شیبه ۱۲.

(فائده) عدت د أبعد الاجلين په پنځو صورتونو کې وي (۱) عدت دزوجة الفار چې کوم مخکې تير شو (۲) د زيد په نکاح کې د ذوات الحيض نه دوه مدخوله ښځې وي، زيد په هغوی کې يوه متعين کړه او طلاق ئې ورکړوا و بيا زيد وفات شو، او دا معلومه نه وه چې په دوي کې مطلقه کومه يوه ده ،او د هر يو ښځې عدت أبعد الاجلين دی (۳) زيد په خپلو دوو ښځو کې په خپل صحت کې بغير يقين نه يوې ته درې طلاقه ورکړه او بغير تعيين نه د زيد انتقال وشو دهر يو ښځې عدت ابعد الاجلين دی (۴) په حالت د صحت کې په دوو کې ئې بلا تعين يوې ته طلاق ورکړو بيا په مرض د وفات کې مطلقه معين کړه، او عدت طلاق تيريدو نه مخکې دخاوند انتقال وشو نو د مطلقي عدت أبعد الاجلين دی (۵) د ام ولدي دآقا او د هغې د خاوند انتقال وشو او دا معلومه نه وه چې مخکې د کوم يو انتقال شوی دی، نو د ام ولدي عدت أبعد الاجلين دی.

قوله و من عتقت الخ: يوې وينځې د طلاق رجعي عدت تيرولو چې دغه دوران کې آقا ازاده کړه نو د هغې عدت به د حرې عدت طرف ته منتقل کيږي يعنې اوس به دهغې عدت درې حيضه وي. او که چيرې هغه د طلاق بائن يا د وفات زوج په عدت کې وه او بيا آزاده شوه نو د هغې عدت هم هغه د وينزې عدت دی وجه دا ده چې طلاق رجعي کې نکاح باقي وي. او طلاق بائن يا د خاوند په مرګ سره نکاح زائله کيږي.

و مَنْ عَادَ دَمُهَا بعدَ الأَشهُرِ الحِيَضُ و المنكوحةِ نكاحًا فاسدًا و الموطوءةِ
او د کومې ښځې وينه چې واپس راغله د مياشتو نه پس نو د هغې عدت حيض دی، او منکوحه په نکاح فاسد سره او موطوءة په
بشبهةٍ و أُمِّ الولدِ الحِيَضُ للموتِ وَغيرِه و زوجةُ الصَّغيرِ الحامِلُ عندَ
شبه سره او د ام ولدې عدت حيض دی د وفات او غير وفات دواړو لپاره، او عدت د ماشوم دښځې چې د خاوند د وفات په وخت
موته وضعُهُ وَالحامِلِ بعدهُ الشهُورُ و النسبُ منتَفٍ فيهما ولم تعتدَّ
کې حامله وي وضع د حمل ده،او د مرګ نه پس د حامله عدت مياشتې دی، او نسب نفي دی په دواړو صورتونو کې او نه به
بحَيْضٍ طُلِّقَتْ فيهِ و تجبُ عِدَّةٌ اخرٰى بوطىءِ المعتدةِ بشُبهةٍ وَ
شماري هغه حيض کوم کې چې طلاق ورکړی شوی وي ،او واجبيږي بل عدت په وطي کولو د معتدې په شبهې سره اودواړه عدته به
تداخلتا والمرئيُّ مِنهما و تُتِمُّ الثانيةَ اِنْ تمَّتِ
متداخل وي او کومه وينه چې ښکاره شوي وي هغه به د دواړو نه حسابيږي. او پوره کوي به دويم عدت که چيرې رومبی

الأُولٰى و مَبۡدَأُ العدةِ بعد الطلاقِ و الموتِ و فى النكاحِ الفاسدِ بعدَ التفريقِ
عدت ئې پوره کړې وي او شروع دعدت پس د طلاق او د مرګ نه به وي، او په نکاح فاسد کې پس د تفریق نه یا پس د
اَوِ العزمِ علٰى تركِ وَطۡئِهَا و ان قالتۡ مَضتۡ عِدَّتِى و كذَّبهَا الزوجُ فالقولُ لهَا مَعَ
عدم نه په ترک دوطئ د هغې باندې، که چیرې ښځې وویل زما عدت تیر شوی دی او خاوند ئې تکذیب کولو نوقول دښځې معتبر دی
الحلفِ و لونكحَ مُعۡتدَّتَهُ و طَلّقهَا قبلَ الوطئِ وَجبَ مهرٌ تَامٌ وَعِدَّةٌ
سره د قسم نه که چیرې نکاح ئې وکړه خپلې معتدې سره او مخکې دوطئ نه ئې طلاق ورکړو نوواجب شو مکمل مهر، او مستقل عدت
مُبۡتَدأةٌ و لو طَلّقَ ذِمّىٌّ ذِمِيّةً لَمۡ تَعۡتَدَّ.
که چیرې ذمي سړي ذمیه ښځه طلاقه کړه نو هغه عدت نه تیروي.

﴿ د عدت د احکامو تفصیل ﴾

د فقهي تشريح: قوله و من عَادَ الخ یو آئسې په میاشتو سره عدت تیرولو چې دغه دوران کې ئې حیض راغلو نو د هغې د میاشتو عدت باطل شو. اوس به دا د سر نه د حیضو نو په حساب سره عدت تیروي، ځکه چې عدت بالحیض اصل دی، او عدت بالاشهر نائب دی ، او نیابت لپاره شرط دا دی چې تر اختتام د حیات پورې داصل نه نا امیدي وي، او حیض راتلو نه پس نا امیدي پاتې نه شوه، دې وجې نه د عدت بالاشهر ، نائب کیدل باطل شول.

﴿ **فائده**﴾: د آئسې حیض جاري کیدو په مراد کې څو اقوال دي (۱) د حیض وینه دعادت قدیمه موافق په کثرت سره جاري شي یوه نیمه قطره یا لړه شان وینه لیدلو سره عدت بالاشهر نه باطلیږي (۲) کثرت سیلان سره سره وینه سره یا توره وي، که چیرې وینه شنه یا زیړه یا خورینه وي نو هغه به حیض نه وي. (۳) دویني څه رنګ متعین نه دی بلکه د ښځې په عادت باندې حمل ده. که چیرې مخکې د أیاس نه زیړه وینه راتله نو زیړه به حسابیږي، او که چیرې توره وینه راتله نو د تورې اعتبار به وي. علامه ابن الهمام په فتح القدیر کې دا دریواړه قولونه ذکر کړي دي لیکن یو ته هم ترجیح نشته. البته معراج الدرایه کې دي چې فتوی په اولني قول ده.

قوله بعد الاشهر الخ: د آئسې په حق کې د عدت بالاشهر بطلان به کله کیږي؟ آیا دعدت میاشتې تیریدو نه پس چې وینه ووینې نو بیا به عدت بالشهر باطل وي یا که هغې نه مخکې وینه لیدلو سره هم عدت باطلیږي، په دې کې څو اقوال دي (۱) مطلقًا وینه لیدلو سره عدت باطلیږي، د صاحب

هدایه او غایة البین په نزد هم دا مختار دی (۲) وینه لیدلو سره مطلقًا عدت نه باطلیږي، میاشتي تیریدونه مخکې وویني یا د هغې نه پس وویني د علامه اسبیجابي په نزد دا قول مختار دی (۳)، د میاشتو تیریدونه مخکې وینه وویني نو عدت باطلیږي گڼي نه باطلیږي صدر الشهید هم په دې فتوی ورکوله، جوهره او مجتبی کې دي چې دا صحیح ده او فتوی لپاره مختار قول دی دې لره شهید، بهنسي، ملا خسر او باقلاني خوښ کړی دی خلاصه وغیره کې هم ددې تصریح ده او تصحیح قدوري کې دي چې ددې قول تصحیح د هدایې د تصحیح نه بهتره ده. نهر الفائق کې دي چې په ټولو روایاتو کې دا قول معتدل تر دی (۴) د ظاهر الروایة په اعتبار سره چې په هغې کې دایاس هیڅ موده مقدر نه ده عدت باطلیږي او په کومو روایاتو کې چې دایاس موده مقرر ده،د هغې په لحاظ سره عدت نه باطلیږي، صاحب د ایضاح همدغه اختیار کړی دی او فتاوی قاضي خان کې هم په دې اکتفا شوې ده هم په دې باندې قدوري او جصاص جزم ظاهر کړی دی هم ددې صاحب بدائع نصرت کړی دی (۵) که چیرې تا حال دښځي په ائسه کیدو حکم نه وي لګیدلی نو عدت باطلیږي ګڼي نه باطلیږي، د محمد بن مقاتل رازي هم دا قول دی، او په اختیار کې دې ته صحیح وئیلي شوي دي (۶) د آینده زماني په لحاظ سره عدت بالاشهر باطلیږي یعني که چیرې زوج ثاني طلاق ورکړي نو ښځه به دحیض په ذریعې سره عدت تیروي. په نوازل کې ددې تصحیح ده.

قوله والمنکوحة الخ: کومې ښځې سره چې نکاح فاسده شوې وي په دې طریقې سره چې بغیر ګواهانو نکاح شوي وي یا د عدم حلت ورته علم وو او ذو رحم محرمه سره نکاح شوي وي ،دا رنګ کومي ښځې سره چې وطي بالشبه شوې وي چې د هغې یو صورت د دی چې ناپوهئ سره د غیر منکوحې سره نکاح شوی وي، اوام ولده چې د هغې آقا وفات شوی وي، یا اقا ازاده کړي وي، ددوی ټولو عدت د حَیض په حساب سره دی، عدت د وفات وي او یا که عدت د فراقت ، مقصد دا دی که چیرې منکوحه مذکوره او موطوءة مذکوره حره وي او ذوات الحیض نه وي نو د هغوی عدت درې حیضه دی او که وینځه وي نو دوه حیضه دی او که حامله وي،نو وضع د حمل ده. او که آئسه وي نو عدت په میاشتو په اعتبار سره دی، علی حسب مامر سابقًا.

قوله وزوجة الصغير الخ: د یو ماشوم ښځه حامله وه، ماشوم وفات شو نو ددې ښځې عدت د طرفینو په نزد وضع د حمل ده. امام ابویوسف رحمه الله ، امام مالک رحمه الله او امام شافعي رحمه الله فرمایي چې لس ورځې او څلور میاشتې دي ځکه چې ددې ښځې حمل ثابت النسب نه دی ځکه چې ماشوم نه علوق کیدی نشي، پس دا داسې شوه لکه چې د زوج صغیر د وفات نه پس حامله شوې وي ،

يعني د هغه د مرګ نه شپږ مياشتې پس يا د هغې نه زياته موده پس ماشوم پيدا چې په دې صورت کې بالاجماع عدت د وفات لازم دی، دليل د طرفينو دا دی چې آيت (و اولات الاحمال) مطلق دی حمل د خاوند نه وي يا که غير د خاوند نه، عدت د وفات وي يا د طلاق وي د دې هيڅ تفصيل نشته

قوله و تجب عدة أخرى الخ يوې ښځې د چا عدت تيرولو چې هغې سره وطئ بالشبه وشوه، مثلاً ښځه په بستره وي چا وويل چې دغه ستا ښځه ده، نو هغه ورسره وطئ وکړه يا هغه د چا په عدت کې وه چې هغې سره نکاح وشوه خاوند ته نه وه معلومه چې دا په عدت کې ده. بهر حال اوس په دې ښځه باندې دويم عدت تيرول هم واجب شول، او دواړه عدتونه به متداخل وي، او چې کوم حيض د عدت ثانيه واجب کيدو نه پس ظاهره شي هغه به په دواړو عدتونو کې شمار کيدی شي، او که چيرې مخکې عدت پوره شوی وي نو دويم عدت به پوره کول ضروري وي مثلاً ښځه په طلاق بائن سره طالقه شوه، او هغې ته يو ځل حيض راغلو، بيا هغې دويم خاوند سره نکاح وکړه او وطي نه بعد تفريق شو بيا دوه ځله حيض راغلو نو دا درې واړه حيضه به په دواړو پوره شو، او د دويم خاوند د عدت صرف دوه حيضه وشو، نو چې کله يو حيض بل راشي نو بيا به د دويم خاوند عدت پوره شي خلاصه دا شوه چې رومبی حيض د عدت سره خاص دی او آخري حيض دويم عدت سره خاص دی، او مينځ کې دوه حيضه دواړو عدتونو کې مشترک او متداخل دي. دا رنګ که چيرې دواړه عدتونه د مياشتو په ذريعه سره وي نو بيا هم تداخل وي. مثلاً د انسې په عدت کې وطي بالشبه وشوه، نو که چيرې اولنی عدت دويم عدت نه مخکې پوره شوی وي نو دويم عدت به هم د مياشتو په په ذريعې سره پوره کول ضروري وي، او که چيرې ښځه معتدة الوفاة وي او هغې سره وطي بالشبه وشي نو د هغې رومبی عدت د مياشتو په ذريعې سره دی يعني لس ورځې او څلور مياشتې، او دويم عدت د حيض په ذريعې سره دی، اوس که چيرې لس ورځې، څلور مياشتو کې درې حيضه هم راشي نو په سبب د تداخل سره دواړه عدتونه به پوره کيږي او که چيرې په دغه موده کې حيض جاري نه شو نو دغه مودې نه پس د دريو حيضو عدت ثانيه به جدا واجبيږي.

فَصْلٌ تُحِدُّ معتدَّةُ البَتِّ الموتِ بتَرْكِ الزِّينَةِ و الطِّيبِ والكحلِ والدُّهْنِ
خفګان به کوي معتده د طلاق بائن يا د وفات په پريښودلو د زينت او د خوشبوئي او د رانجو او د تيلو سره مګر په عذر
اِلّا بعُذْرٍ وَ الحناءِ و لُبْسِ المُعَصْفَرِ والمزعْفرِ انْ كانَتْ بالِغةً مُسلمةً لا مُعتدّة العتقِ
سره او په پريښودو دنګريزو او د زيرو او سرو جامو سره که چيرې ښځه بالغه مسلمانه وه، نه معتده د آزادئ او

والنكاحِ الفاسدِ و لا تخطبُ مُعتدّةٌ و صَحّ التعريضُ ولا تخرجُ مُعتدّةُ الطلاقِ
د نکاح د فاسد او پیغام به نشي لیږلی کیدی معتدي د نکاح لپاره ، او صحیح دي تعریض کول او نه به اوځي معتده
من بيتِهَا و معتدّةُ الموتِ تخرجُ يَومًا و بعضَ اللّيلِ و تعتدّانِ في
د طلاق د خپل کور نه. او معتده د وفات وتلی شي په ورځ اود شپې په بعضې خصه کې او دا دواړه به عدت تیروي په
بَيْتٍ و جَبتْ فيه الّا ان تُخرَجَ أو ينهدِمَ بانتْ اَوْ مَاتَ
هغه کور کې کوم چې عدت واجب شوی وي مګر دا چې دوی وویستلی شي یا هغه کور روان شي ښځه په سفر کې بائنه شوه
عنها في سفرٍ و بينها و بينَ مصرِها اقلُّ من ثلثةِ ايامٍ رَجعتْ اِليهِ لو
یا ترینه خاوند وفات شو اود ښځې او د ښار ئې په مینځ کې درې ورځو نه کم فاصله وه نو خپل خاوند ته به واپس راځي او که چیرې
ثلثة رَجَعْ أو مَضتْ مَعهَا وليٌّ او لا
درې ورځې فاصله وه نو که خوښه ئې شي نو واپس دې شي او کنې خپل مقصد طرف ته دې لاړه شي خواه که ولي ورسره وي او که نه.
و لو في مصرٍ تعتدُّ ثَمّهْ فتخرجُ بمَحْرمٍ.
او که چیرې دا شان اتفاق په ښاریه کې وشو نو هم هلته کې به عدت تیروي، بیا به د محرم سره اوځي

د خاوند په مرګ باندې د ښځې د خفګان کولو بیان

د فقهي تشريح: قوله تحدُّ الخ: احدت چون اعدتْ احداداً او حدّت (ن ـ ض) چون مدت وفرت حداداً ، المرءَة ، د خاوند په مرګ باندې د خفګان اظهار کول لیکن اصمعي صرف د رباعي نه منلی دی (مصباح) قاموس کی دي چې حار او محد هغه ښځه ده چې په سبب د عدت سره زینت ترک کړي خواه که طلاق بائن وي یا رجعي وي ښځه کافره وي او که مسلمانه ، ماشومه وي یا بالغه وي، لیکن شریعت کې معتده بائنه یا د معتدة الموت زینت او خوشبو وغیره پریښودلو ته حداد ویلی کیږي، ګویا چې لغوي معنی عام ده او شرعي معنی خاص ده.

قوله معتدة الخ معتده بائنه او معتدة الموت به د خاوند په وفات باندې د زینت څیزونه او خوشبو ، رانجه. نکریزي او معصفر او مزعفر لباس او تیل وغیره استعمال به نه کوي او خفګان به کوي ځکه

چې حديث نه ثابته ده (۱). د معتدة البت په قيد سره مطلقه رجعيه او د بالغې په قيد سره صغيره او دمسلمةٌ په قيد سره ترينه كافره خارج شوه، بحر الرائق كې دي چې په اووه قسمه ښځو خفگان كول نشته (۱) كافره (۲) صغيره (۳) مجنونه (۴) معتدة العتق (۵) معتدة النكاح الفاسد (۶) معتدة الرجعى (۷) معتدة موطوءة بالشبه.

قوله ولا تخطب الخ معتدې ته د نكاح پيغام وركول حرام دي، معتده بائنه وي يا رجعيه وي، معتدة الوفاة وي يامعتدة العتق وي. لقوله تعالى ولا تعزموا عقدة النكاح حتى يبلغ الكتاب اجله. دارنگه د نبي كريم صلى الله عليه وسلم ارشاد دى چې په تاسو كې هيڅ يو كس دخپل ورور په كوژدن باندې د نكاح پيغام نه ليږئ (۲)، البته د تعريض اجازت شته دى، په دې شرط سره چې ښځه معتدة الوفاة وي، يعنې گول مول د نكاح پيغام صحيح دى، مثلاً داسې ووايې چې زه د نكاح كولو اراده لرم، يا زما خواهش دى چې الله نيک بخته ښځه راكړي، بخاري كې د ابن عباس رضي الله عنه نه د تعريض هم دا تفسير نقل دى.

قوله ولا تخرج الخ معتده بائنه وي يا كه رجعيه هغه لپاره كور نه وتل جائز نه دي، په كوم ځائې كې چې د فراق په وخت كې وه هم هغه ځائې كې به عدت تيروي، لقول تعالى و لا تخرجوهن من بيوتهن و لا يخرجن الا ان يأتين بفاحشة مبينةٍ. د ابراهيم نخعي په نزد فاحشه نه مراد نفس خروج دى، او حضرت ابن مسعود نه روايت دى چې دې نه مراد زنا ده، نو د اقامت حد لپاره به ويستلى شي، البته معتدة الوفاة تو له ورځ او د شپې په څه حصه كې وتلى شي، ځكه چې د هغې نفقه په وارثانو نه وي. ۱۲

(۱) الجماعة غير الترمذى من ام عطيّة، الجماعة غير ابن ماجه عن ام حبيبه مسلم عن حفصة، صحيحين عن زينب بنت جحش ۱۲ .

(۲) صحيحين عن ابى هريرة ۱۲.

بَابُ ثبوت النَّسب

((باب دی په بيان د ثبوت د نسب کښې))

و لو قَالَ إِن نكحتُها فَهِيَ طَالِقٌ فَوَلَدَتْ لستَّةِ اشهرٍ

که چيرې يو سړي وويل که چيرې ما فلانۍ په نکاح واخيسته نو هغه دې طلاقه وي، بيا ئې هغې سره نکاح وکړه او شپږ مياشتې

مُذْ نَكَحَهَا لَزِمَهُ نَسبُهُ و مهرُهَا و يثبتُ نسبُ ولدِ مُعتدَّةِ الرَّجعِيِّ

پس ئې اولاد وشو نو د هغه نسب او د ښځې مهر ثابت شو، او ثابتيږي نسب د بچي د هغې ښځې چې هغه دطلاق رجعي په

وَ إِنْ وَلَدَتْهُ لِأكثر مِنْ سَنتَيْنِ مَالم تُقِرَّ بمُضِيِّ العِدَّةِ فكانت

عدت کې وي، اګر چې هغه د دوو کالونه په زياته موده کې پيدا شوی وي څو پورې چې ښځه د عدت تيريدو اقرار نه

رَجْعَةً فِي الاكثرِ منهما لَا فِي اَقَلَّ مِنهمَا.

کړي، نو دا اولاد به رجوع وي، دووکالونه په زياته موده صورت کې نه چې د هغې نه په کم صورت کې.

د فقهې تشريح: قوله بَابُ الخ: د عدت درې قسمونه، عدت بالحيض، عدت بالاشهر، او عدت بوضع الحمل د بيان نه پس ثبوت د نسب بيانوي چې پلار نه د بچي نسب په کومو صورتونو کې ثابتيږي او په کوم صورت کې نه ثابتيږي ځکه چې ثبوت د نسب د حمل د آثارو نه دې، دې وجې نه دې لره پس د عدت نه ذکر کول مناسب دی.

قوله من قال الخ: يو سړي وويل که چيرې ما د فلانۍ سره نکاح وکړه نو هغه دې طلاقه وي. بيا ئې هغې سره نکاح وکړه او نکاح نه شپږ مياشتې بعد د ښځې ماشوم پيدا شو نو د ماشوم نسب هم ثابتيږي او مهر هم لازميږي. نسب خو ځکه ثابتيږي چې ښځه د سړي مفروشه ده او د عقد نکاح په صورت کې وطې متصور کيدی شي ځکه چې امکان ئې شته چې عين د ايجاب او قبول په حالت کې ئې وطي کړې وي او اختتام د نکاح او انزال يو ځائې وي او ثبوت د نسب لپاره هم دومره احتمال کافي دی. پس وطي طلاق نه پس لازمه نه شوه، او مهر ځکه لازم دی چې کله نسب ثابت شو نو حکماً وطي متحقق شوه، لهذا مهر مؤکد شو.

قوله و يثبت الخ: معتده د طلاق رجعي چې څو پورې ئې دخپل عدت تيريدو اقرار نه وي کړی هغه وخته پورې به د هغې د بچي نسب ثابت ګڼلی شي، اګر که ماشوم دوه کاله پس پيدا شوی وي د دې

درې صورتونه دي (۱) دا چې د شپږو میاشتو نه په کمه موده کې پیدا شوی وي. (۲) دا چې شپږو میاشتو نه زیات او دوو کالو نه په کمه موده کې پیدا شوی وي (۳) دا چې دومره کاله بعد پیدا شوی وي په دریو واړو صورتونو کې ماشوم ثابت النسب گرځي په رومبی صورت خو ځکه چې په وخت د طلاق کې حمل موجود دی، پس علوق قبل د طلاق شوی وي ، لهذا نسب به ثابت وي او د ماشوم پیدا کیدو نه پس به هغه بائنه شي ، ځکه چې په وجه د وضع د حمل سره د هغې عدم ختم شو، په دویم صورت کې خو ځکه چې علوق یا خو په حالت د نکاح کې دی یا په حالت د عدت کې دی، په دواړو صورتونو کې نسب ثابتیږي، او په وضع د حمل سره بائنه گرځي، په دویم صورت کې خو ځکه چې علوق پس د طلاق نه شوی دی ،نو یو مسلمان د تهمت زنا نه د بچ کولو لپاره به دا وویلی شي چې هغه رجوع کړې وه په دې شرط چې ښځې د عدت تیریدو اقرار نه وي کړی که چیرې هغې اقرار وکړو چې زما عدت تیر شوی دی، او په دومره کې د عدت تیریدو احتمال هم وي یعنې د امام صاحب په نزد دوه میاشتې او د صاحبینو په نزد یو کم خلویښت ورځې پس ماشوم پیدا شوی وي نو نسب نه ثابتیږي، مگر دا چې د اقرار نه پس شپږو میاشتو نه په کمه موده کې ماشوم پیدا شوی وي، چې په دې صورت کې شرعاً د ښځې تکذیب وشو ، لهذا نسب ثابتیږي.

وَ	الْبَتِّ	لَا	قَلَّ	منهما	و	اِلَّا	لَا

او د معتده بائنه ماشوم که چیرې د دوو کالونه په کمه موده کې پیدا شو نو نسب ثابتیږي او که چیرې نه وو، نو نه

اِلَّا	اَنْ	يَدَّعِيَهُ	و	الْمُرَاهِقَةِ	لِاَقَلَّ	مِنْ	تسعةِ	اشهرٍ

ثابتیږي، مگر دا چې خاوند د هغې دعوی وکړي او د مراهقې ښځې د ماشوم نسب په کم د نهو میاشتو نه ثابتیږي

وَ	اِلَّا	لَا	و	الموتِ	لِاَقَلَّ	منهما	و	لُمقِرَّةٍ	بِمُضِيِّهَا	لِاَقَلَّ مِنْ

کنې نه ثابتیږي، اود معتدة الوفاه د ماشوم نسب کم د دوو کالونه ثابتیږي، او هغه ښځه چې د عدت تیریدو اقرار کوي د هغې د

ستةِ	اشهرٍ	مِنْ	وقتِ	الاقرارِ	وَ	اِلَّا	لَا	و	المعتدّةِ اِنْ

ماشوم نسب ثابتیږي په کمه موده کې د شپږو میاشتونه د وخت د اقرار نه، کنې نه ثابتیږي او که چیرې د معتدې دماشوم

جُحِدَتْ	ولادتُها	بشهادةِ	رجُلَيْنِ	اَوْ	رَجُلٍ	وامرأتَيْنِ	اَوْ	حَبَلٍ ظاهرٍ

د ولادت نه انکار وکړی شو په گواهۍ د دوو سړو سره یا د یو سړي او دوو ښځو په شهادت سره یا په حمل ظاهر سره یا د هغې په

أَو اقرارٍ به أَوْ تَصديقِ الورثةِ و المنكوحةِ لستةِ اشهرٍ فصَاعدًا
اقرار سره یا په تصدیق دوارثانو سره ثابتیږي ، او ثابتیږي نسب د منکوحې د ماشوم د شپږو میاشتو یا د هغې نه په
اِنْ سَكتَ وَ اِنْ جحدَ فبشهَادةِ امرأةٍ على الولادة
زیاته موده کې، که چیرې خاوند خاموش پاتې شو، او که چیرې خاوند انکار وکړو نو بیا په ګواهۍ د یوې ښځې سره په ولادت
فَاِنْ ولدتْ ثمّ اختلفَا فقالتْ نكحتَنِي مُذ ستةِ اَشهُرٍ و
سره او که چیرې د ښځې ماشوم پیدا شو او بیا دواړو اختلاف وکړو او ښځې وویل چې تا ما سره د شپږو میاشتو نه نکاح کړې ده
وَادّعى الاَقلَّ فالقولُ لهَا و هُو ابنُه
او خاوند د هغې نه د کمې مودې دعوی وکړه نو قول د ښځې معتبر دی او دغه ماشوم به د خاوند وي
و لو عَلّقَ طلاقَها بولادتِهَا و شهِدَتْ امرأةٌ عَلى الولادةِ
او که چیرې معلق ئې کړو طلاق دښځې په ماشوم پیدا کیدو سره او یوې ښځې ګواهي ورکړه په ماشوم پیدا کیدو سره
لم تُطلّقْ وَ اِنْ كَانَ اَقرّ بالحَبلِ طُلقتْ بلا شهَادةٍ
نو ښځه نه طلاقیږي ، او که چیرې خاوند اقرار وکړو د حمل نو ښځه طلاقیږي بغیر د ګواهۍ نه

(د نسب د ثابتیدو باقي احکام)

د لغت وضاحت: بَتٌّ پرېکول. مراد ترینه طلاق بائن دی، **مُراهقه** هغه ښځه چې بالغیدو ته نږدې وي. **جحد** جحود نه دی په معنی د انکار سره. **حَبلٌ** حمل.

د فقهي تشریح: قوله و البتّ الخ که چیرې د معتدې بائنې دوو کالونه په کمه موده کې ماشوم وشي نو د هغې نسب ثابتیږي ځکه چې د طلاق په وخت کې د حمل د وجود احتمال شته. او ثبوت د نسب لپاره احتمال کافي دی، او که چیرې پوره دوه کاله یا دوو کالونه په زیاته موده کې لازمیږي او هغه د حدیث خلاف ده پس دغه ماشوم د خاوند نشي کیدی. البته که چیرې خاوند دعوی وکړي نو بیا نسب ثابتیږي ځکه چې هغه په خپله په خپل ځان باندې لزوم راوستلو (فیه شئ فارجع الى المطولات)

قوله و المراهقة الخ مراد دا مرهقي نه هغه ښځه ده چې هغه د وطې لائقه وي لیکن علامات د بلوغ نه وي ښکاره شوي. نو که چیرې دا قسم جینۍ د نهو میاشتو نه په کمه موده کې ماشوم پیدا کړي (

او هغه مدخوله وي او هغې د عدت تيريدو اقرار نه وي کړی، او نه ئې د خپل حمل دعوی کړې وي، نو د هغې د ماشوم نسب ثابتيږي. او که چيرې نهه مياشتې يا د هغې نه په زياته موده کې ئې ماشوم وشونو نسب نه ثابتيږي.دا حکم په نزدد طرفينو دی. امام ابويوسف رحمه الله فرمائي که چيرې د هغې دوه کالو پورې ماشوم پيدا شو نو نسب ثابتيږي ګويا چې امام ابويوسف مراهقه په کبيره باندې قياس کړې ده. طرفين وايي چې د مراهقې د عدت تيريدو لپاره صرف يوه طريقه ده يعنې مياشتې، پس د مياشتو په تيريدو سره د شريعت د طرف نه د هغې د عدت تيريدو حکم به کيدی شي او په حق د دلالت کې د شرح حکم د هغې، د اقرار نه زيات دی، نو که چيرې د عدت تيريدو د اقرار نه پس شپږو مياشتو کې د هغې ماشوم وشي نو بيا هم نسب نه ثابتيږي. نو په دې صورت کې په طريق اولی نه ثابتيږي.

قوله والمقرة الخ: د عدت والا ښځې د خپل عدت تيريدو اقرار وکړو او بيا د وخت د اقرار نه ئې د شپږو مياشتو نه په کمه موده کې ماشوم پيدا شو نو نسب ثابتيږي ځکه چې د شپږو مياشتو نه مخکې هر کله ماشوم پيدا شو نو د هغې دروغ ګوئي ښکاره شوه. او دا معلومه شوه چې د اقرار په وخت کې په رحم کې نطفه نه وه نو د عدت تيريدو اقرار ئې باطل شو او نسب ثابت شو او که چيرې شپږ مياشتې يا د هغې نه زياته موده کې ماشوم پيدا شو نو نسب نه ثابتيږي.

قوله والمعتدة الخ يوه ښځه په عدت کې وه هغې دعوی وکړه چې زما ماشوم پيدا شوی دی اوخاوند (کله چې عدت د طلاق) يا وارثانو (کله چې عدت دوفات وي) د ولادت نه انکار وکړو نو په دې صورت کې د نسب د ثبوت لپاره د دوو سړو يا د يو سړي او دوو ښځو ګواهي ضروري ده بغير ددې نه نسب نه ثابتيږي يا د حمل وجود ضروري دی د حمل ظاهر مطلب دا دی چې شپږ مياشتو نه په کم عمر کې ولادت شوی وي. يا دا چې علامات د حمل دومره پورې ظاهر شوي وي چې هغې سره د حمل کيدو ظن غالب راشي، يا د خاوند اقرار ضروري دی چې دا حمل زما دی (که چيرې ژوندی وي) يا وارثانو طرف نه د ولادت تصديق ضروري دی، که چيرې دا شهادتونه نه وي نو د امام صاحب په نسب نه ثابتيږي د صاحبينو په نزد په ټولو صورتونو کې صرف د يوې ښځې يعنې دائي ګواهي کافي ده. ځکه چې د عدت د قيام په وجه سره فراش قايم دی او قيام د فراش نسب لره ثابتوي نو دلته کې د نسب د ثبوت لپاره د هيڅ څيز ضرورت نشته. هغه د قيام فراش په وجه سره په خپله ثابت دی ضرورت صرف ددې دی چې د دغه ماشوم تعيين دغه ښځې نه اوځي. او هغه د دائي په شهادت سره نسب ثابتيږي. امام صاحب دا فرمائي چې د عدت د قيام په وجه سره فراش قائم وي دا خو صحيح

ده. لیکن دلته کې عدت قائم نه دی ځکه چې کله ښځه د وضع حمل اقرار کوي نو عدت ختم شو، دې وجې نه دلته کې ابتداءً د نسب ثبوت ضروري دی. لهذا د شهادت مقصد پوره کیدل پکار دي.

قوله والمنکوحة الخ: زید یوې ښځې سره نکاح وکړه او شپږ میاشتو یا شپږو میاشتو نه پس د هغې ماشوم پیدا شو نو د هغه نسب ثابتیږي. خواه که خاوند اقرار وکړي یا خاموش پاتې شي. لیکن که چیرې خاوند د ماشوم نه انکار وکړي نو بیا د یوې ښځې په ګواهي سره نسب ثابتیږي او که چیرې د ماشوم د پیدا کیدو نه وروسته په زوجینو کې اختلاف پیدا شو. ښځې وویل چې تا ما سره شپږ میاشتې وړاندې نکاح کړې وه، او خاوند د هغې نه د کمې مودې دعوی کوي نو د امام صاحب په نزد د ښځې خبره معتبره ده بغیر د قسم نه، او د صاحبینو په نزد سره د قسم نه (په دې فتوی ده) او ماشوم به د سړي نه ثابتیږي. ځکه چې ظاهر حال د ښځې شاهدي کوي.

قوله ولو عق الخ: زید د خپلې ښځې طلاق په ولادت پورې معلق کړو او ورته ئې وویل: ان ولدت فأنت طالقٌ هغې نه پس یوې ښځې د اولاد کیدو ګواهي ورکړه نو د امام صاحب په نزد طلاق نه واقع کیږي، د صاحبینو په نزد واقع کیږي ځکه چې په کومو خبرو باندې سړی واقف نه وي په هغې کې د ښځو شهادت قبلیدل د حدیث نه ثابت دي[١]. دارنګ هر کله چې په ولادت د ښځې شهادت مقبول دی نو کوم شی چې په هغې باندې بناء وي یعني طلاق په هغې کې هم به مقبول وي. امام صاحب فرمائي چې ښځه د سړي د حانث کیدو دعوی کوي دې وجې نه د حجت تامه ضرورت دی. پاتې شو په ولادت کې د ښځو د شهادت قبلیدل نو هغه امور ضروریه دي او طلاق د ولادت د ضروریاتو نه نه دی ځکه چې طلاق د ولادت نه فی الجمله منفک کیدی شي. دې وجې نه ولادت کې شهادت مقبولیت سره دا نه لازمیږي نو بیا بغیر د شهادت نه طلاق واقع کیږي ځکه چې د حمل اقرار کول د ولادت اقرار کول دي د صاحبینو په نزد د دائې شهادت ضروري دی.

---

(١) ابن ابی شیبه، عبد الرزاق عن الزهري و روی الدار قطنی عن حذیفة رضی الله عنه انه صلی الله علیه و سلم اجاز شهادة القابلة ١٢.

و اكثرُ مُدّةِ الحمَلِ سَنتانِ و اقلُّها ستةُ اشهرٍ فلو نكحَ امةً
زياته موده د حمل دوه كاله دي او كمه موده ئې شپږ مياشتې دی كه چيرې يو سړي وينځه په نكاح واخيسته او
فطلّقها فاشترٰها فولدَتْ لِاقلَّ مِنْ ستةِ اشهرٍ منه لزِمَهٗ وَاِلّا
هغې ته ئې طلاق وركرو بيا ئې هغه واخيسته په بيعه سره، هغې ته پس ئې شپږو مياشتو نه كمه موده كې ماشوم پيدا شو نو هغه
لَا ومن قالَ لِامته اِنْ كَانَ فی بَطنِكِ وَلدٌ فهُوَ مِنّی فشهدَتْ
پرې لازم شو كنې نه لازميږي يوسړي خپلې وينځې ته ووېل كه چيرې ستا په خيټه كې ماشوم وو نو هغه به زما نه وي يا يوې ښځې گواهي وركړه
امراَةٌ بالولادةِ فهِیَ اُمُّ ولدِه و مَنْ قالَ لِغلامٍ هو ابنی
په ماشوم پيدا كيدو سره نو دغه وينځه دده ام ولده وگرځيده يو سړي د يو هلاک متعلق ووېل چې دا زما ځوی دی
و مَاتَ فقالَتْ امُّهٗ اَنَا امراَتُهٗ و هو ابنُهٗ يرثانه فاِنْ
او دا ئې ووېل چې وفات شو، نو دهلک مور ووېل چې زه د هغه ښځه يم او دا ئې ځوی دی نو دا دواړه به د هغې وارثان گرځي
جُهِلتْ حُرّيتُها فقال وارثُهٗ انتِ اُمُّ ولدِ ابی فلا ميراثَ لها
بيا كه چيرې مجهول وو ازادي د هغې ښځې او وارثانو د سړي ووېل چې ته زما د پلار ام ولده نو ښځې ته به ميراث نه ملاويږي

(د حمل د زياتې مودې او دكمې مودې او هغې سره دمتعلقه مسائلو بيان)

د فقهي تشريح: قوله و اكثر الخ: د حمل اقله موده خو په اتفاق سره شپږ مياشتې دي. ځكه چې د الله تعالى ارشاد دی و حمله و فصاله ثلثون شهراً دويم ځای كې دا ارشاد دی و فصاله فی عامين د فصال دوه كاله موده ويستلو نه چې دحمل اقله موده شپږ مياشتې پاتې كيږي دارنگ د حضرت ابن مسعود رضی الله عنه روايت دی چې ماشوم كې څلور مياشتې پس روح اچولی كيږي، هغې نه پس باقي دوه مياشتو كې باقي خلقت پوره كيږي، ليكن د حمل په اكثره موده كې اختلاف دی، د احنافو په نزد اكثره موده دوه كاله دي، ځكه چې د حضرت عائشې رضی الله عنها حديث دی چې حمل د دوه كالو نه زيات نه پاتې كيږي، اگر كه دومره وخت وي څومره وخت كې د څرخې سورې حصاريږي (١) ظاهره ده چې دا قسم مضمون په قياس سره نه معلوميږي نو لا محاله حضرت عائشې به د نبي صلى الله عليه وسلم نه اوريدلې وي، پس روايت اگر چې مرفوع نه دی ليكن په دې وخت

---

(١) دارقطنی، بيهقی عن عائشه ١٢.

کې قول د صحابي دحديث مرفوع په درجه کې دی کما حققه الحافظ في النخبة ، ليث بن سعد نه اکثره موده درې کاله مروي دي. د امام شافعي رحمه الله په نزد څلور کاله دي، هم دا د امام مالک او امام احمد مشهور مذهب دی. امام مالک رحمه الله نه يو روايت او د حضرت عمار مذهب دا دی چې اکثره موده اووه کاله دي حضرت ابو عبيده نه روايت دی چې د اکثر مودې هيڅ حد نشته، ددې حضراتو دلائل هغه حکايات دي چې کوم په دې باب کې منقول دي لکه چې په حکاياتو کې دي چې عبد العزيز ما جشوني ، هرم بن حبان او محمد بن عبد الله وغيرهم څلور څلور کاله دمور په خېټه کې پراته وو. دارنګ ضحاک څلور کاله پس د خندا په حالت کې پيدا شو ، دې وجې نه دده نوم ضحاک شو ، ليکن حديث مذکوره په دې ټولو حضراتو حجت دی.

سوال: حافظ بيهقي دوليد بن مسلم نه روايت کړی دی چې ما د حضرت عائشې حديث د امام مالک رحمه الله د وړاندې ذکر کړو ، نو هغوي وفرمايل سبحان الله، دا کله کيدی شي، وګوره د محمد بن عجلان د ښځې په دولس کاله کې درې بچي شوي دي، او هر يو ماشوم څلور څلور کاله کې شوی دي. معلومه شوه چې حمل څلور کاله پورې پاتې کيدی شي؟

جواب: چې دا حکايات دي ،او حکايات د روايات متعارض نشي کيدی.

قوله فلو نکح الخ: زيدد يوې وينځې سره نکاح وکړه او دخول نه پس ئې ښځې ته بائن يا رجعي طلاق ورکړو بيا ئې هغه په بيعه واخيسته ، نو اوس که چيرې په وخت د شراء نه شپږ مياشتې مخکې ماشوم پيدا شو نو نسب ثابتيږي ځکه چې دشراء په وجه سره د غير په حق کې د هغې عدت نه دی باطل ، پس هغه د معتدې ماشوم شو ، او علوق د شراء نه مخکې دی او که چيرې پوره شپږ مياشتې يا د شپږو مياشتو نه وروسته ماشوم پيدا شو نو بغير د خاوند د دعوې نه نسب نه ثابتيږي. ځکه چې دې وخت کې علوق د شراء نه بعد دی، نو ماشوم د مملوکې وينځې شو. دې وجې نه بغير دعوی نسب نه ثابتيږي.

قوله و من قال لامته الخ: زيد خپلې وينځې ته وويل که چيرې ستا په خېټه کې ماشوم وي نو هغه زما نه ده، هغې نه پس يوې ښځې د ولادت شهادت وکړو نو دغه ښځه د ده ام ولده شوه. ځکه چې دلته د شهادت ضرورت صرف تعيين د ولد لپاره دی، چې په هغې کې د دائې شهادت کافي دی.

قوله و من قال لغلام الخ: زيد د خپل غلام متعلق وويل چې دا زما خوی دی، بيا زيد وفات شو، اوس د غلام مور وايي چې زه د زيد ښځه يم او دا ماشوم د هغه ځوئ دی، نو دا دواړه به د زيد

وارثان وي، ليكن استحسانًا د قياس په روسره وارثان ګرځيدل نه دي پكار ، ځكه چې زيد خو صرف د نسب اقرار وكړو او د ثبوت نسب لپاره خو ډير اسباب كيدی شي، مثلاً نكاح صحيح ، نكاح فاسد ، وطی بالشبه ، ملک يمين، وجه د استحسان دا ده چې د مسئلې حكم چې په هغې صورت كې دی چې كله د دغې ښځې ازادي، او د ماشوم مور كيدل او نكاح صحيح كيدل متعين شي، تر دې كه چيرې د ښځې حريت متعين نه وي نو بيا وارثه نه ګرځي، ځكه چې ظهور د حريت د دفع د رقيت لپاره دی نه چې د مستحق كيدلو د وراثت لپاره.

بَابُ الحَضَانَةِ
(باب دی په بيان د پرورش كې)
احقُّ بِالْولدِ امُّه قبلَ الفُرقة وَ بعدَها ثمّ اُمُّ الاُمِّ ثمّ امُّ
د ماشوم زياته حقداره مور د هغې ده مخكې د جدايي نه وي يا كه وروسته د جدايي نه ، بيا د مور مور، بيا د پلار
الاَبِ ثمّ الاختُ لِاَبٍ و اُمٍّ ثمّ لِاُمٍّ ثمّ لاَبٍ ثمّ الخالاتُ كذٰلک ثمّ
مور ، بيا سكه خور، بيا ترور ، د مور د طرف نه، بيا ترور، د پلار طرف، بيا خاله ګانې دغه شان ، بيا
العمّاتُ كذلک و مَنْ نكحتْ غيرَ مَحرمه سقطَ حقُّها ثمّ يَعودُ بالفرقةِ.
ترورګانې دغه شان، او كومې ښځې چې د ماشوم غير محرم سره نكاح وكړه نو ساقط شو حق د پرورش د هغې بيا راګرځي پس د جدايي نه

د فقهي تشريح: قوله باب الخ: د منكوحې او معتدې ښځې نه د ثبوت د نسب نه پس د هغه ښځو بيان كوي، كومې چې د جدائي نه پس د ماشومانو پرورش كوي ځكه چې دې نه بغير د ماشوم بقاء ډيره سخته وي. حضانت په كسرې د حاء سره حضن (ن) نه د حضنًا مصدر دی په معنی د پرورش كولو سره په غيږه كې اخيستل (صراح ، قاموس، مصباح ، بحر الرائق او نهر الفائق كې د حاء په فتحې سره هم جائز ليكلي دي.

قوله احق الخ: د ماشوم د پرورش په سلسله كې د ټولو نه زيات مستحق د هغه مور ده. فرقت نه مخكې وي يا كه وروسته وي حديث كې دي چې يوه ښځه د نبي كريم صلى الله عليه وسلم په خدمت كې حاضره شوه او عرض ئې وكړو يا رسول الله ، زما خيټه ددې ماشوم لپاره د آرام ځائې وو او زما سينه دده لپاره مشكيزه وه او زما غيږه دده لپاره ځانګو وه، اوس دده پلار ماته طلاق راكړو او ماشوم زمانه جدا كول غواړي ، نبي صلى الله عليه وسلم وفرمايل چې ته د ماشوم زياده حقداره ئې

، ځوپوري چې بل چا سره نکاح ونه کړي (١)، دارنګ حضرت عمر رضی الله عنه خپله کور واله جمیله بنت ثابت ته طلاق ورکړو او خپل ځوئ عاصم ئې د هغې نه اخيستل وغوښتل، جميلې انکار وکړو او معامله حضرت ابوبکر صدیق ﷺ ته خدمت کې پیش کړی شوه، نو هغوی ﷺ وفرمايل عمر ﷺ ددې ښځې غيږه اوددې فراش د ماشوم لپاره تا نه څو چنده زيات بهتر دی (٢).

قوله و من نكحت الخ: که چیرې پرورش کوونکې ښځه د ماشوم د یو غیر محرم سره نکاح وکړي نو د هغه حق د پرورش ساقطيږي ځکه چې اجنبي سړی د خپلې ښځې د رومبنی خاوند د اولاد نه خوشحاله نه وي، بلکه که چیرې هغه ته ګوري نو د حقارت په نظر ورته ګوري، که په هغې باندې خرچ کوي نو په طریقه د شرارت کوي، پس ماشوم د دغې ښځې په پرورش کې پریښودل د ماشوم لپاره مضر دی، ابن المنذر وئیلي دي چې په دې د اهل علمو اجماع ده، سواء د حضرت حسن نه چې د هغه په نيز حق نه ساقطيږي. يوروايت امام محمد نه هم دی،د جمهورو دلیل روایت مذکوره دی، په هغې کې أنت احق به مالم تنكحی ، صراحت موجود دی، بیا که چیرې د پرورش مستحقې ښځې ته د هغې خوند طلاق بائن ورکړي نو د هغې حق بیا راګرځي.

ثُمَّ العَصَبَاتُ (٣) بِتَرتِيبِهِم وَالامُّ و الجَدّةُ احَقُّ بِه حتّٰى يَستغنِي و قُدِّر بسَبعِ
بیا عصبات دي په ترتیب د میراث سره او مور او نیا حقدار دي د بچي تر دې چې ماشوم مستغني شي چې هغه اندازه کیږي په اووه
سِنِينَ و بِهِا حتّٰى تَحِيضَ و غَيرُهما احقُّ بِهِا حتى تَشتَهِى و لا حَقَّ
کالو سره اود جینی حقدار دي تر دې چې حائضه شي، او ماسواء د مور او نیا نه نورې ښځې حقدارې دي چې د جینی نزدې

(١) ابوداؤد. حاکم. دارقطنی، عبدالرزاق، ابن راهویه، عن ابی عمرو. ١٢.
(٢) ابن ابی شیبه، عبدالرزاق، مالک، بیهقی عن عمر بالفاظ مختلفة ١٢.
(٣) لکن لا تدفع صبية الى عصبة غير محرم كمولى العتاقته و ابن العم تحرزا عن الفتنة و اذا لم يكن له عصبة يدفع الى الاخ لام ثم الى ولده ثم العم لام ثم الى الخال لابوين ثم لام لان لهولاء ولاية عند ابى حنيفة ثم الله بيرفى ذالک الى القاضى يدفعه الى ثقة تحضنة حتى يستغنى لا الى فاسق ماجن و هو من لا يبالى قولا و لا فعلا لانه غير مامون عليها و لا الى غير مامونة ايضاً من النساء و فى المبسوط لو اجتمعت اخوة و اعمام فى درجة واحدة فاء لاهم اكثرهم صلاحًا و روعًا فان استود فاكثرهم سنا ١٢. حاشيه.

لِلْأَمَةِ وَ أُمِّ الولدِ مَالَمْ تُعْتَقَا وَ الذِّمِّيَّةُ(۱) احق
چې لاتفه د خواهش شي، او وينځې او ام ولدې ته حق شته تر څو چې هغوی ازادې شوې نه وي او ذميه ښځه زياته حقداره ده
بولدِهَا المسلمِ مَالم يَعْقِل الأديانَ وَ لا خِيَارَ للولَدِ وَ لا تُسَافِرُ
د خپل مسلمان ماشوم تر څو چې هغه اديان نه وي پيژندلي او ماشوم ته هيڅ اختيار نشته. او سفر به نه کوي مطلقه ښځه په
مُطلّقةٌ بولدِهَا إلّا إلى وطنِهَا وقد نكحَهَا ثمّه.
خپل ماشوم سره ليکن خپل وطن طرف ته کوم ځائې چې د هغې نکاح شوې وه

د فقهې تشريح: قوله ثُمّ العَصَبَاتُ الخ: په متن کې د ذکر شوو حائضو ښځو نه پس د پرورش حقدار عصبات دي او د عصباتو ترتيب هغه دی کوم چې وراثت کې دی، يعنې د ټولو نه زيات مستحق پلار دی، بيا نيکه د نيکه دی (و هٰکذا) هغې نه پس بيا حقيقي ورور بيا پلار شريک ورور. بيا هغې نه پس د حقيقي ورور أولاد بيا د شريک ورور اولاد، بيا حقيقي تره بيا د تره اولاد دی.

قوله والأمُّ والجدّةُ الخ: مور او نيا يا د مور مور (يا څوک حاضنه ښځه) د ماشوم د پرورش هغه وخته پورې حقدار دی، تر څو چې ماشوم ښځو سره د اوسيدو نه مستغني نه وي. چې د هغې موده په قول د امام خصاف اووه کاله دي. عادةً اووه کاله کې ماشوم په خپل لاس سره خوراک، څښاک او د بول و براز نه پس پخپله حاصلولی شي. دې وجې نه هغه ته ښځو سره د اوسيدو ضرورت پاتې نه شو. اوس هغه دنارينو د اخلاقو د ادابو، د تعليم او تاديب او د لمانځه وغيره زده کولو محتاج دی، او ددې کارونو په حاصلولو باندې پلار زيات قادر دی.

قوله وَبِهَا الخ: مور يا نيا د جينۍ د پرورش مستحق دي، تر دې چې د هغې حيض راشي، يعنې بالغه شي خواه که د حيض په ذريعې سره وي يا د احتلام په ذريعه سره وي يا د عمر په ذريعه سره وي، ځکه چې جينۍ دحيض راتلو نه مخکې وخته پورې اداب نساء لکه او داخلي پخلي کارونو ته

---

(۱) اى اذا اسلم زوج الذمية و بينهما اولاد صغار فا الذمية احق بهٰذه الاولاد ما لم يعقل الاديان او يخاف ان يا لفوا الكفر لان الحضانة تبتنى على الشفقة و هى اشفق عليه فيكون الدفع اليها انظر له ما لم يعقل الاديان فاذا عقل ينزع منها لاحتمال الضرر ۱۲ زيلعي و مستخلص. محمد حنيف غفرله گنگوهي

محتاجه وي او د بالغ كيدو نه پس د عقت او عصمت محتاجه وي، او په دې پلار زيات قادر وي، او د مور او نيا نه علاوه نورې پرورش كوونكي ښځې خاله او ترور وغيره د جينئ د پرورش مستحق دي تر دې چې جينئ د شهوت او رغبت لائقه شي. چې د هغې موده په نزدد ابو الليث نهه كاله دي. امام محمد رحمه الله نه يو روايت دى چې مور او نيا يا د مور مور سره به جينئ د نهو كالو نه زياته نه اوسيږي په دې فتوىٰ ده.

بَابُ النَّفَقَةِ
(باب دى په بيان د نفقې كې)
تجبُ النفقةُ للزوجةِ على زوجها و الكِسوةُ بقدرِ حَالِهمَا و لو مانعةً نفسَها
واجبيږي نفقه د ښځې په خپل خاوند باندې او لباس د دوارو د حالت مطابق اګر كه ښځه منع كوونكې وي خپل ځان لره لپاره
للمهرِ لا ناشِزةً و صَغيرةً لا تُوطأ و محبوسةً بدَيْنٍ و مغصوبةً و حاجّةً مع غيرِ
د مهر نه دا چې سر كشه وي او نه وړوكې وي چې دوطې قابل نه وي او د قرض په وجه سره قيد وي يا مغصوبه وي او غير خاوند
الزوجِ و مريضةً لم تُزَفّ و لخادمِهَا لومُو سِرًا.
سره حج كوونكې او بيماره وي چې خاوند ته نه وي حواله شوې او نفقه د خادم د ښځې كه چيرې خاوند كې مالدار وو

د فقهې تشريح: قوله النفقةُ الخ: ماده د نفق په اعتبار د لغت سره په معنى د مضى دلالت كوي په ذريعه د بيع وي لكه نفق البيع خريد و فروخت رائج شو يا په ذريعه د مرګ سره وي لكه نفقة الدابةُ نفوقًا، سورلي مړه شوه، يا په ذريعې د فناء سره وي لكه نفقة الدراهم. دراهم ختم شو. و نفق الرجل سړى محتاج شو. صاحب د بحر وئيلي دي چې دلته كومه نفقه مراد ده هغه نفوق په معنى د هلاک نه مشتق دى نه د نفق او نفاق نه بلكه نفقه د هغه څيز نوم دى چې هغې لره سړى په خپل اهل و عيال باندې خرچ كړي او په شريعت كې د نفقې عامه معنى هغه معين خرچ دى چې په هغې باندې بقاء د شئ موقوف وي ليكن د دې غالب استعمال په طعام و لباس او مكان او سكونت كې كيږي لكه چې امام محمد نه نقل دي، د نفقې وجوب د قران او سنت او اجماع امت درې واړو نه ثابت دي. قال تعالى و على المولود له رزقهن و كسوتهن بالمعروف په حديث كې دي چې نبي صلى الله عليه وسلم د حجة الوداع په خطبه كې دا فرمايلي وو چې په تاسو باندې باندې د دستور مطابق د ښځو نفقه لازم ده و مسلم عن جابر الطويل.

قوله تجب الخ: د نفقې د وجوب اسباب درې دي (۱) زوجيت (۲) قرابت (۳) ملکيت، مصنف مخکې د ښځې نفقه بيانوي ځکه چې کتاب النکاح تر دې ځائې پورې اصالةً د ښځې احکام بيانيدل دې وجې نه ددې د ماقبل سره مناسبت دی، په خاوند د ښځې نفقه يعنې خوراک څښاک او لباس واجب دي خواه که ښځه کافره وي يا مسلمانه صغيره وي يا کبيره، غنيه وي يا فقيره، وينځه وي يا ازاده، موطوءه وي يا غير موطوءه، ځکه چې آيت و على المولودله کې څه تفصيل نشته، دارنګ که چيرې ښځه مهر معجل وصول کولو په وجه سره خپل ځان خاوند ته حواله نه کړي او وطي ونه کړي بيا هم نفقه نه ساقطيږي. بيا په نفقه کې د خاوند او ښځې د دواړو حال ملحوظ دی، که چيرې دواړه غنيان وي نو نفقه د يسار واجبيږي، او که دواړه غريبان وو نو نفقه د اعتبار واجبيږي او که چيرې خاوند مالدار وو او ښځه غريبه وي نو د مالدار ښځو د نفقې نه به کمه نفقه ملاويږي او د غريبو ښځو د نفقې نه به زياته ملاويږي هٰذا هو اختيار الخصاف و عليه الفتوىٰ.

قوله لا ناشزة الخ: که چيرې ښځه ناشزه وي يعنې خپل ځان د خاوند نه منع کوي او بغير د اجازت د خاوند نه کور نه وتلې وي يا دومره وړه وي چې هغې سره وطي ممکنه نه وي يا هغه په قيد خانه کې مقيده وي (د قرض په وجه سره وي يا چا ظلماً قيد کړي وي) يا هغې لره چا غصب کړي وي يا ښځه د خاوند نه علاوه بل چا سره حج ته تلې وي، اګر که هغه سړی ئې ذي رحم محرم وي يا ښځه د بيمارۍ په وجه سره خاوند ته نه وي حواله شوي، نو په دې ټولو صورتونو کې په خاوند باندې نفقه واجب نه ده، ځکه چې نفقه خو دې لپاره واجبيږي، چې ښځه د خاوند سره د هغې د حق په وجه سره محبوسه وي او په ذکر شوو صورتونو کې دا احتباس مفقود دی.

ولا يُفرّقُ بعجزه عن النفقةِ و تؤمرُ بالاستدانةِ عليه و تُتمُّ نفقةُ
او جدائي به نشي کيدی که خاوند د نفقې نه عاجز وو بلکه حکم به ورته کيدی شي د خاوند په نوم سره د قرض اخيستو او پوره کولی
اليسارِ بطُروه و ان قضى بنفقة الاعسارِ و لا تجبُ
به شي نفقه د مالدارۍ په مالدارۍ راپيش کيدو سره اګر که قاضي فيصله کړې وي په نفقې د مفلسۍ او نه واجبيږي
نفقةٌ مَضَتْ اِلّا بالقضاءِ اَوِ الرّضاءِ و بموتِ احدِهما تسقُط المَقضِيَّةُ
نفقه د تير شوي وخت مګر په قضاء يا رضاء سره او په مرګ د احدهما سره ساقطيږي مقرر شوې نفقه، او نشي واپس

و لا تُرَدّ المعجّلةُ و يُبَاعُ القِنُّ فى نفقةِ زوجته و نفقةُ الامةِ المنكوحةِ انما تجبُ
کیدی پیشکي نفقه او خرڅولی به شي غلام په نفقه دښځي دهغه کي او نفقه د منکوحي وينځي واجبيږي په شب باشي کولو
بالتّبوئةِ و السُّكنٰى فى بَيْتٍ خالٍ عن اهله و اهلِها و لهم النظرُ و الكَلَامُ
سره او ښځه اوسول په داسې کور کې واجب دي چې خالي وي د خاوند او دښځي د اهل و عيال نه، او د ښځې د کور والو ته د هغې
مَعهَا و فُرِضَ لزوجةِ الغائبِ و طفله و ابوَيْهِ فِي
سره د خبرو او د کتلو اجازت شته دی، او مقرر کولی به شي د غائب سړي دښځي او د هغه د ماشومانو او دپلار مور لپاره نفقه.
مالٍ له عندَ مَنْ يُقِرُّ بهٖ و بالزوجيّةِ و يُوخَذ كفيلٌ مِنها وَ
د هغه په مال کې چې هغه داسې سړي سره وي چې د مال او د زوجيت اقرار کوي او د ښځې نه به يو ضامن اخيستی شي او
لمعتدةِ الطلاقِ لا الموتِ و المعصيَةِ۔
نفقه واجب ده لپاره د معتدي د طلاق نه لپاره د معتده الوفاة او نه د داسې جدايئ عدت والا لپاره چې هغه د ښځې طرف نه وي

﴿ د نان نفقي تفصيلي احکام ﴾

د لغت وضاحت: **استدانة** قرض اخيستل. **يسار** مالداري. **طرو** راپيښ کيدل. **اسَارٌ** غريبي. **قِنٌ** غلام. **تبوئه** شب باشي. **سُكنٰى** ځائې د اوسيدو.

د فقهي تشريح: که چيرې خاوند دښځې دنفقې نه عاجز شي نو د هغې په وجه سره به زمونږ په نزد په ښځه خاوند کې جدائي نشي راويستلی کيدی، بلکه ښځې ته به ويلی شي چې هغه دې د خاوند په حواله سره د چا نه قرض راواخلي، حضرت حسن، عطاء، ثوری، ابن ابی ليلی، ابن شبرمه، حماد ظاهريه د ټولو دا قول دی، ائمه ثلاثه فرمائي چې که چيرې ښځه مطالبه وکړي نو جدائي به کيدی شي ځکه چې د الله تعالی ارشاد دی فامساکٌ بمَعْرُوفٍ أو تسريحٌ باحسان. او امساک بمعروف هم دا دی چې خاوند د ښځې تمام حقونه مهر، نان نفقه وغيره ادا کړي، او چې کله هغه دې نه عاجز شو نو د ضابطې مطابق د ښځې پريښودل متعين شو، بيا د امام مالک په نزد دا تفريق به طلاق وي، او د امام شافعی رحمه الله او احمد رحمه الله په نزد فسخ نکاح، زمونږ دليل دا دی چې وان کان ذُو عُسرة فنظرة الی ميسرة نه معلوميږي چې فقر و فاقه ابتداءً مانع دنکاح نه ده، نو بقاءً به په طريقه اولی سره مانع نه وي، علاوه دې نه په تفريق کولو کې د خاوند د ملکيت بطلان لازميږي او په قرض اخيستو کې د

هغه د حق تاخير راځي د حق په نسبت بطلان د حق آسان دی، لهذا دا بهتره ده.

قوله ولا تجب الخ: زيد يوې ښځې سره نکاح وکړه او څو مياشتې تيرې شوې او هغې ته ئې نان نفقه ورنکړه ، اوس ښځه مطالبه کوي نو د تيرې شوې مياشتې نفقه د زيد په ذمه نه واجبيږي مګر دا چې نفقه قاضي مقرر کړې وي، يا ښځې د نفقې په څه مقدار باندې خاوند سره صلح کړې وي. چې په دې صورت کې نفقه واجبيږي ائمه ثلاثه فرمائي چې د قاضي د قضاء او د مصالحت د زوجينو نه بغير هم نفقه د خاوند به ذمه دين دی، ځکه چې د مهر په شان نفقه هم يو حق واجبه دی، مونږ وايو چې نفقه يو قسم تبرع ده پس د قضاء يا د مصالحت د زوجينو نه بغير د هغې وجوب نه مستحکم کيږي، په خلاف د مهر نه چې هغه د بضع محترمه عوض دی، پس په دې کې د قضاء د قاضي او د تراضي ضرورت نشته.

قوله ولا ترد المعجلة الخ: زيد خپلې ښځې ته پيشګي د يو کال نفقه ورکړه، بيا په دوی کې د يو کس انتقال وشو نو د شيخينو په نزد پيشګي نفقه به واپس نشي اخيستی کيدی. امام محمد او امام شافعی رحمه الله فرمايي چې د زندګي نفقه به مقرر کړي، باقي به حساب ولګوي، ځکه چې نفقه د احتباس په وجه سره واجبيږي او چې هر کله د کال پوره کيدو نه مخکې انتقال وشو نو ښځه د باقي نفقې مستحقه پاتې نه شوه، شيخين دا فرمائي چې نفقه يو قسم عطيه ده چې په هغې قبضه وشوه او صلاحات او عطيات کې پس د مرګ نه رجوع نه کيږي.

قوله ونفقة الأمة الخ: که چيرې يو سړی وينځې سره نکاح وکړي نو په خاوند د هغې نفقه هغه وخت واجبيږي، کله چې آقا په هغې باندې په جدا ځائې کې شپ باشي وکړي او وينزې نه خدمت وانخلي، ګني په خاوند د هغې نفقه واجب نه ده.

قوله والسُّکنٰی الخ: ددې عطف په النفقة باندې دی کوم چې د باب په شروع کې ذکر دي، مطلب دا دی لکه څنګه چې په خاوند د ښځې نفقه ضروري ده دغه رنګ ښځه په داسې ځائې کې ساتل هم ضروري دي چې په هغې کې د زوجينو اهل و عيال مور، خور، ورور، ، خسر، ليور وغيره نه وي، قال تعالی اسکنوهن من حيث سکنتم من وجدکم.

قوله وفُرض الخ: که چيرې خاوند غائب وي او د هغه مال چا سره په طور د امانت يا په طور د قرض وي نو د هغه د ښځې او د وړوکو ماشومانو او د هغه د پلار مور نفقه به د هغه د مال نه مقرر کيږي، ، ښځه چې کوم مال نفقه کې واخلي، په هغې به د ښځې يو ذمه دار اخيستی شي، چې په دې به قسـ

خوري چې خاوند دې ته نفقه نه ده ورکړې، او ښځه نه ناشزه وي او نه مطلقه (چې دهغې عدت تير شوي وي) ليكن نفقې مقرر كولو لپاره دوه شرطونه دي يو دا چې امانت دار او مقروض خبرې اقرار كوي چې د فلانئ غائب مال مونږ سره دي، دويمه دا چې د دې خبرې هم اقرار كوي چې دا ښځه د هغه ښځه ده او دا ماشومان د هغه ماشومان دي، دې اقرار نه بغير د هغه د مال نه نفقه به نه مقرر كيږي.

قوله ولمعتدة الطلاق الخ: كه چيرې مطلقه ښځه په عدت كې وي نو د هغه نفقه هم په خاوند واجب ده، خواه كه طلاق رجعي وي يا طلاق بائن ائمه ثلاثه فرمائي كه چيرې مطلقه د ثلثا وي يا طلاق بالعوض نو د هغې نفقه واجب نه ده، البته كه چيرې حامله وي نو بيا نفقه بالاجماع واجب ده، قوله تعالى و ان كن اولات الاحمال فانفقو عليهم حتى يضعن حملهن. دائمه ثلاثه دليل د فاطمه بنت قيس حديث دى چې د هغې خاوند هغې ته درې طلاق وركړي وو فاطمې معامله د نبي كريم صلى الله عليه وسلم په خدمت كې پيش كړه د نو نبي عليه السلام هغې لپاره نفقه او سكنى مقرر نه كړه (۱) په روايت كې دا الفاظ هم مروي دي چې نبي عليه السلام وفرمايل انما السكنى و النفقة لمن كان يملك الرجعة (۲) زمونږ دليل دا دى چې حق تعالى په آيت اسكنوهن من حيث سكنتم من وجدكم كې على الاطلاق سكنى ضروري گرځولې وه، دا رنگ دارقطني او د بيهقي روايت كې دي چې نبي عليه السلام فرمايلي دي چې مطلقه ثلاث لپاره سُكنى او نفقه ثابته كړې ده (۳). پاتې شو حديث د فاطمې بنت قيس نو هغه قابل د حجت نه دى، ځكه چې ټولو صحابو هغې لره رد كړى دى، حضرت عمر رضى الله عنه فرمائي چې د خپل رب كتاب او د خپل نبي سنت د يو داسې ښځې په وينا سره نشو پريښودى چې د هغې متعلق دا معلومه نه ده چې هغې ته خبره ياده ده يا هغه سهوه شوې ده (مسلم) حضرت عائشه رضى الله عنها فرمائي چې فاطمه باندې څه شوى دى چې هغه لا سُكنى لک و لا نفقة وئيلو كې د الله نه نه ويريږي (بخاري) دغه رنگ حضرت اسامه بن زيد، زيد بن ثابت، مروان بن حكم، ابن المسيب، شريح شعبى، حسن، اسود، ثوري او احمد بن حنبل رحمه الله ټولو دا رد كړى دى و للمسئلة ذيل طويل و نحن مخافتة التطويل طوينا الكشح عن التفصيل.

---

(۱) الجماعة غير البخارى عن فاطمة ۱۲.

(۲) دارقطنى بروايت هيثم عن مجالد عن الشعبى، ابن اصبع بروايت ان عيينيه عن مجالد عن الشعبى، احمد بروايت عبده عن مجالد عن الشعبى، دارقطنى بروايت سيار و حصين و مغيرة و داؤد و اسماعيل بن ابى خالد عن الشعبى، بيهقي بروايت فراس عن الشعبى ۱۲.

(۳) و رواه الطبرانى من قول ابن مسعود و عمر ۱۲.

وَ رِدَّتُها بعدَ البَتِّ تُسقِطُ نفقتَها لا تمكينُ ابنه و لطفله الفقيرِ

او د ښځې مرتد کيدل پس د طلاق بائن نه ساقطوي نفقه د هغې ،نه چې د خاوند ځوی ته قدرت ورکول او نفقه واجب ده د

ولا تُجبرُ اُمُّه لِتُرضِعَ وَ يَستاجرُ مَنْ تُرضِعُهُ عندهَا

خپل محتاج ماشوم، او مور به نشي مجبوره کولی په شیدو ورکولو باندې او په اجرت به نيسي هغه ښځه چې هغه شيدې ورکوي ماشوم ته

لا اُمَّهُ لو منكوحةً اَوْ مُعتدّةً و هِيَ احقُّ بعدَها مَا لَمْ

د مور سره نه مور د هغه که چيرې هغه منكوحه يا معتده وه او مور زياده حقداره ده پس د عدت نه خو پورې چې هغه

تطلبْ زيادةً و لا بوَيْهِ و اجدادِه وَ جَدّاتِه لو فُقراء و لا تجبُ معَ

مطالبه د زيادت ونه کړي، او نفقه واجب ده د مور پلار او دنيکونو او د نياکانو که چيرې هغوی محتاج وو او نه واجبيږي سره

اختلافِ الدِّيْنِ اِلّا بالزوجيّةِ و الوَلادِ ولا يُشارك الابَ و الولدَ فى نفقةِ

د اختلاف ددين نه مگر په زوجيت سره او په ولادت سره او شريک به نه وي پلار او اولاد سره په نفقه د اولاد او والدينو کې

ولدِه و ابوَيْهِ احَدٌ ولقريْبٍ محرَم فقيرٍ عاجزٍ عن الكَسْبِ بقدرِ الارثِ لو مُوسِرًا

هيڅوک، او نفقه واجب ده رشته دار محرم لپاره چې محتاج وي او د کسب نه عاجز وي په قدر دميراث سره که چيرې مالدار

و صَحَّ بَيْعُ عَرضِ ابنه لا عقارِه لنفقته و لو اَنفقَ مُودَعُهُ على ابوَيْهِ بلا

وو او صحيح دي خرڅول د اسبابو د ځوی خپل د هغه نفقې لپاره نه د هغې زمکې لره، او که چيرې خرچ وکړو مودع په والدينو د

امرٍ ضَمِنَ و لو انفقَاما عندهما لا فلو قُضِيَ بنفقةِ

صاحب مال باندې بغير اجازت نه نو ضامن به وي، او که چيرې والدينو خرچ وکړو نو بيا ضامن نه کرځي، او که چيرې قاضي فيصله

الولادِ و القريْبِ و مَضتْ مُدّةٌ سَقطَتْ اِلّا ان يَاذنَ

وکړه په نفقې د والدينو ياد ځوی يا رشته دارو لپاره او موده تيره شوه نو ساقطه شوه مگر دا چې حکم وکړي

القاضِى بالاستدانةِ و لمملوكه فان اَبى ففى كَسبِه و الّا اُمِر بَبيعه

قاضي د قرض اخيستلو ، او نفقه واجب ده د خپل غلام لپاره که چيرې آقا انكار وکړو نو د غلام د کسب نه به وي کني غلام به خرڅولی شي

﴿ د نفقې باقي احكام﴾

د فقهي تشريح قوله ولا تجب مع اختلاف الخ: كه چيرې دين مختلف وي نو بيا د چا نفقه هم واجب نه ده، نه د كافر په مسلمان باندې او نه د مسلمان په كافر باندې سوا د ښځې او اصولو فروعو نه، چې ددوى نفقه باوجود د اختلاف ددين نه هم واجب ده، وجه دا ده چې د وجوب نفقې مدار په موجب د نص قراني په وراثت دى، او د كافر او مسلمان په مينځ كې وراثت نشته، په خلاف د ښځې او د اصولو او فروعو نه، چې ښځې لپاره دوجوب نفقې علت احتباس دى، او په اصولو او فروعو كې علت وجوب جزئيت دى، او احتباس او جزئيت كې د اختلاف دين په وجه سره هيڅ اختلاف نه وي.

قوله ولا يُشارك الخ د اولاد او والدينو په نفقه كې د پلار او ځوى هيڅوك مشارك نشته، يعنې د اولاد نفقه په پلار واجب ده، او په بل چا واجب نه ده دا رنګ د پلار نفقه په ځوى واجب ده نه چې د هغه په تره وغيره باندې، دا رنګ د ښځې نفقه په خاوند واجب ده نه په غير باندې ، پس د پلار په موجودګئ كې د اولاد نفقه كې هيڅ شريك نشته، پلار مالدار وي او كه غريب وي، دا روايت د قدوري دى، چې دې لره عامو اصحابو د متونو اختيار كړى دى ، او په شروحو كې هم په دې روايت باندې اتفاق او اعتماد دى، او هم دا روايت مفتى بها دى صاحب دبحر چې كوم قول كړى دى چې متون د فقهې صحيح كول پكار دي، ځكه چې كه چيرته پلار غريب وي نو د هغه د اولاد نفقه په رشته دارو واجب ده، دا خبره د توجه قابله نه ده ، ځكه چې د نقل د مذهب لپاره متون مخصوص دى، بيا د صاحب نهر دلته كې خاموش پاتې كيدل او د صاحب بحر په خام خيالئ باندې تنبيه نه كول د تعجب خبره ده، ځكه چې په صاحب بحر باندې اعتراض كول او داسې مقام كې بحث كول د هغه عادت دى.

﴿كِتَابُ العِتَاقِ﴾

و هو اثباتُ القوّةِ الشرعيّةِ للمَملوك و يَصحّ مِنْ حرٍّ مكلّفٍ لمملوكه بأنتَ
دا ثابتول دي د يو قوت شرعيه لپاره د خپل مملوك، او صحيح كيږي ، د ازاد عاقل بالغ نه كله چې هغه خپل غلام ته روايي
حُرٌّ او بما يُعبّر به عنِ البَدنِ و عتيقٌ و مُحرَّرٌ وَ حَرّرْتُكَ و اعتقتُكَ نَواهُ اَوْ
چې ته ازاد يې، يا په هغه الفاظو سره چې هغې نه تعبير كيدى شي په كل بدن سره، او په دې الفاظو سره چې ته ازادشوى يې

لَا وَ بِلَا مِلْكَ وَ لَا رِقَّ وَ لَا سَبِيْلَ لِي عَلَيْكَ إِنْ نَوَى.
يا ازاد كړى شوى يې، او ماته ازاد كړي، نيت ئې وي او كه نه وي او په دې الفاظو سره چې زما په تا باندې هيڅ ملكيت و هيڅ اختيار نشته په دې شرط چې نيت وكړي

د فقهي تشريح: قوله كتاب الخ: طلاق او عتاق دواړه په رفع د قيد كې مشترک دي، په طلاق كې قيد د نكاح مرتفع كيږي او په نكاح كې قيد د مملوكيت مرتفع كيږي. ليكن نكاح سره د طلاق مناسبت تامّه دى، دې وجې نه د طلاق نه پس عتاق ذكر كوي، شريعت كې اسقاط د حقوقو په غرض د اختصار يو څو آسماؤ سره ممتاز كړى شوى دى، لكه د قصاص د حقوقو اسقاط ته عفو وئيلي شي او اسقاط د دين ته ابراء وئيلى شي او اسقاط د حق وطي ته طلاق او اسقاط د ملک رقبي ته اعتاق وئيلى شي.

قوله هو اثبات الخ: عتق او عتاق لغةً د عَتَق (ض) مصدر دى، مملوكيت نه وتلو ته وئيلى شي، (مغرب) دا رنګ عتق په معنى د قوت هم راځي ځكه چې رِق په معنى د ضعف دى يقال ثوب رقيق، صوتٌ رقيق، او عتق ازالې د ضعف ته وئيلى شي چې هغه قوت لره مستلزم دى [1] (مبسوط)

په اصطلاح د شريعت كې عتاق د هغه قوت شرعيه نوم دى چې كوم غلام ته حاصليږي چې د هغې په وجه سره غلام د شرعي تصرفات شهادت، ولايت وغيره اهل ګرځي، ددغې قوت د اثبات نوم اعتاق دى، ددې تعريف په لحاظ سره اعتاق كې تجزي نشي كيدى، صاحبين ددې قائل دى، د حديث الفاظ و ان لم يكن مال قوم عليه فاستسعى العبد به غير مشقوق عليه [2] په دې دلالت كوي. د امام صاحب په نزد په اعتاق كې تجزى ممكنه ده. ځكه چې ظاهر حديث و الا فقد عتق منه ما عتق [3] نه هم دا معلوميږي. پس د امام صاحب په نزد د اعتاق تعريف به داسې كيږي، هُو ازالة الملک عن المملوک.

(فائده) د عتق څلور قسمه دي (۱) عتق واجب لكه په كفاره د ظهار او د قتل او د افطار كې غلام ازادول قال تعالى فتحرير رقبة مؤمنة. (۲) عتق مندوب يعني د الله تعالى د رضاء لپاره ازادول د نبي

---

(۱) پس صاحب بحر چې دا وئيلي دي چې (هذا ولى من قولهم ان العتق فى اللغة القوة لان اهل اللغة لم يقولو عتق العبد اذا قوى و انما قالوا عتق العبد اذا خرج عن المملوكية، دا خبره قابل التفات نه ده.

(۲) ائمه ستة ۱۲.

(۳) ائمه ستة.

عليه السلام ارشاد دی چې كوم سړی مسلمان ازاد كړو. الله تعالى به د هغه د هر يو اندام په عوض كې د ازادونكى هر يو اندام د دوزخ نه ازاد كړي (۱) مؤخرينو ليكلي دي چې نبي عليه السلام او حضرت ابوبكر صديق رضي الله عنه درې شپيته او حضرت عبد الرحمن بن عوف رضى الله عنه ديرش زره غلامان آزاد كړل (۲) عتق مباح لكه د چا د خاطره ازادول، بعضې دې لره مكروه شمار كړی دی، په دې معنى چې داسې ښائسته كار بې فائدې شو. عتق حرام لكه د شيطان او د بت لپاره ازادول (په دې شرط چې تعظيم مقصود نه وي گنې كفر دی)

قوله ويصح الخ: عتق د هر ازاد عاقل بالغ نه صحيح كيږي خواه كه صريح الفاظو سره وي، يا كناياتو سره وي، د عتق صريح الفاظ انت حر، وجهک حرٌ، انت عتيق اهـ كه نيت ئې وي او كه نه وي په دواړو صورتونو كې صحيح دی، ځكه چې د نيت ضرورت هغه ځائې كې وي كوم ځای كې چې د متكلم په مراد كې اشتباه وي او په صريح الفاظو كې هيڅ اشتباه نه وي لهذا د نيت كولو ضرورت نشته، البته كنائي الفاظ لا ملک لی عليک، لا رق لی عليک كې نيت شرط دی، ځكه چې دې كې دعتق او غير عتق دواړو احتمال شته، :يعني دا هم ممكنه ده چې د سبيل او ملک نفي په ذريعه د بيع يا په ذريعه د كتابت وي. او دا هم ممكنه ده چې نفې په ذريعې د عتق مراد وي، پس نيت نه بغير به غلام نه آزاديږي

و هٰذا ابنى أو أبِى أو أمّى و هٰذا مَولاىَ أو يَا حرّ أو يا عتيقُ

او په دې الفاظو سره چې دا زما ځوی دی يا زما مور ده يا دا زما مولا دی، يا دا ووايي اې زما مولى او يا اې

لا بيا ابنى وَ يَا اخى و لا سُلطانَ لى عليک

ازاده، يا اې عتيق، ليكن په دې الفاظو سره نه آزاديږي چې اې زما ځويه، اې زما وروره، او ماته په تا باندې هيڅ

والفاظِ الطلاقِ و انتَ مثلُ الحرِّ و عَتَقَ بِما أنتَ

غلبه نشته. او نه په الفاظو د طلاق سره او نه په دې الفاظو سره چې ته په د شان د ازاد يې، او ازاديږي په دې الفاظو سره

إلّا حرٌّ و بملکِ قريبٍ مَحرمٍ و لو كانَ المالکُ صَبيًّا او مجنونًا و

چې نه يې ته مگر ازاد لې، او د نژدې رشته دار په ملک سره اگر چې مالک ماشوم وي يا ليونی وي، او په ازادولو سره

---

(۱) ائمه ستة عن ابى هريرة ۱۲.

بتحريرٍ لوجهِ الله و للشيطٰنِ و للصّنَمِ وَ بكُرْهٍ وَ سُكْرٍ و اَنْ اضافهٗ
لپاره د رضا، د الله تعالى يا لپاره د شيطان يا لپاره د بت، او په زبردستئ او په حالت دنشي كښې ازادولو سره، او كه
الٰى ملكٍ او شرْطٍ صَحَّ و لو حَرّرَ حاملاً عتقًا و ان حَرّرَهٗ عُتِقَ
چيرې منسوب ئې كړو عتق ملک يا شرط طرف ته نو صحيح دى او كه چيرې حامله ئې ازاده كړه نوونېزه او حمل دواړه ازاد شو
فقط وَالولدُ يَتْبعُ الامَّ فى الملكِ و الحرّيَّة و الرّقِ
او كه چيرې صرف حمل ئې ازاد كړو نو صرف ازادېږي او ماشوم تابع ګرځي د مور په ملک كښې په ازادئ كښې په غلامئ كښې
والتدبيرِ والاستيلادِ و الكِتابةِ و ولدُ الأمةِ من سَيّدهَا حُرٌّ.
او په مدبره كيدو كښې او په ام ولده كېدو كښې او په مكاتب كيدو كښې او كوم ماشوم چې د آقا نه وي هغه ازاد دى.

د لغت وضاحت: **مولٰى** په معنى د آقا سره او په معنى د آزاد سره. **صنم** بُت. **كُره** زبردستي. **سُكر** نشه **يَتْبَعُ** تابع ګرځي، تدبير: مدبر جوړول

د فقهي تشريح: قوله و هذا ابنى الخ. هٰذا ابنى نه تر يا عتيقُ پورې ټول په أنت حُرٌّ باندې عطف دي، يعنې چې دې الفاظو سره هم عتق بغير د نيت نه صحيح دى، ليكن دې كښې لږ تفصيل دى، دې وجې نه مصنف رحمه الله په صريح الفاظو سره ذكر نه كړه. تفصيل دا دى چې دلته درې الفاظو خو هغه دي چې هغې سره نسب ثابتېږي. يعنې لفظ د ابن، لفظ أب، لفظ أمّ، نو په هٰذا سره ده غلام ته چې كومه اشاره كړې ده، دا به دوو حالتونو نه خالي نه وي يا خو به غلام كښې د هغه د ابنيت صلاحيت وي يا به نه وي، په دې كښې په هر يو كښې بيا دوه صورتونه دي. غلام به يا مجهول النسب وي يا به معروف النسب وي، كه چيرې غلام مجهول النسب وي او دهغه د ولد كيدو صلاحيت لري مثلاً د مالک عمر خلويښت كاله وي او د غلام عمر شل كاله وي او مالک ووايې هذا ابنى بالاجماع نسب هم ثابتېږي او ازادي هم حاصلېږي، او كه غلام معروف النسب وي نو نسب نه ثابتېږي. ليكن ازادي واقع كيږي، او كه چيرې غلام د ولد كيدو صلاحيت نه لرلو مثلاً د مالک عمر شل كاله وو او د غلام عمر خلويښت كاله وو نو بغير د شک شبهې نه نسب نه ثابتېږي پاتې شوه ازادي نو د امام صاحب په نزد آزادى واقع كيږى غلام كه مجهول النسبت وى يا معروف النسب. او د صاحبينو په نزد ازادي هم نه واقع كيږي، همدغه شان تفصيل په هذا ابى او هٰذه امى كښې هم دى خلورم لفظ د مولى دى چې په هغې كښې اخبار او نداء كښې هيڅ فرق نشته په دواړو صورتونو كښې عتق

صحيح دی، د خبر په صورت کې خو ځکه صحيح دی چې لفظ د مولی اگر چې ډيرو معنو سره لکه آزاد، ناصرو ابن العم وغيره ته شامل دي لکه چې ابن الاثيرد شلو معنونه زياتې شمار کړې دي ليکن کله چې چاته وويلی شي هذا مولی نو د آزادئ نه علاوه بله يوه معنی مناسب نه ده، دې وجې نه دا صريح الفاظو سره ملحق دی، او په صورت د نداء کې خو ځکه چې کله دا صريح الفاظو سره لا حق شونو لکه څنگه چې صريح الفاظو سره د نداء په صورت کې عتق صحيح دی، دغه شان دي سره هم عتق صحيح کيږي، البته امام زفر اود ائمه ثلاثه په نزد بغير د نيت نه نه صحيح کيږي، و فی البحر زيادة تفصيل فطالعه ان شئت.

بَابُ العَبْدُ يعتق بَعْضُهُ
باب دی په بيان د هغه غلام کې چې د هغه بعضې حصه ازاده کړی شي
مَنْ اَعْتَقَ بَعض عبدِہ لم يَعتِقْ كُلُّهٗ وَسَعى لهٗ فيما بَقِيَ و هو كالمكاتب و اِنْ
چا چې آزاده کړه بعضې حصه د خپل غلام نو ټول نه ازادیږي او سعي به کوي په مابقی کې او دی په حکم د مکاتب کې دي، او که چیرې
أَعتقَ نصيبَهُ فلشريكه اَنْ يُحرِّرَ اَو يستسعِیَ و الولاءُ لهمَا او يضمَنَ
خپله حصه ئې ازاده کړه نو د هغه شريکوال ته پکار دي چې هغه ازاد کړي يا پرې سعي وکړي او ولاء به دواړو لپاره وي
لومُو سِرًّا او يرجعُ به على العبدِ وَ الوَلاءُ له.
يا به ئې ضامن جوړ کړي که چيرې مالدار وي او هغه به رجوع وکړي په هغې سره په غلام باندې او ولاء به صرف معتق لره وي

د فقهي تشريح: قوله باب الخ: د بعضې غلام آزادولو په نسبت کل غلام ازادول ډير واقع کيږي، او ښکاره خبره ده چې د کثير الوقوع شي احکامو ضرورت زيات واقع کيږي، دې وجې نه عتق کل د بيان نه پس د عتق بعض بيان کوي، دارنگ عتق کل متفق عليه او کثير الثواب دی، او عتق بعض مختلف فيه او قليل الاجر دی، دې وجې نه هم عتق بعضې مؤخر کول مناسب دي.

قوله من اعتق الخ: که چيرې يو سړي د خپل څه حصه ازاده کړه خواه که هغه حصه معين وه لکه نصف و ثلث، ربع وي يا که غير معين وي نو د امام صاحب او د حسن بصری رحمه الله په نزد هم دومره حصه به آزاديږي نه چې کل حصه، اود غير معين په صورت کې به د معتق نه بيان اخيستی شي، اوس غلام د خپلې باقي حصې لپاره به سعې کوي يعنې که چيرې مثلاً د غلام قيمت سل روپۍ وونو پنځوس روپۍ به وگټي او مالک ته به ئې ورکوي او پوره به آزاد شي، صاحبين، ائمه ثلاثه،

قتاده ،ثوري ، شعبي وغيره په نزد بعضې حصه ازادولو سره هم کل ازادېږي. او په غلام سعي نه واجبېږي دا اختلاف په حقيقت کې د اعتاق په تفسير باندې مبني دی، د صاحبينو په نزد موجب د اعتاق زوال د رقيت دی او رقيت تجزي او تقسيم نه قبلوي نو عتق کې به هم تجزي نه وي د امام صاحب په نزد موجب د اعتاق ازاله د ملک ده او هغه په اتفاق سره تجزي قبلوي، پس د هغې ازاله به هم تجزي قبلوي ، د هر يو دليل په شروع د باب کې تيرشوی دی.

قوله وهو کالمکاتب الخ معتق البعض د مکاتب په حکم کې وي چې نه د هغې بيع جائز ده او نه هبه کول ، ليکن درې امور د هغې نه مستثنی دي (۱) که چيرې سعي نه عاجز شي نو د غلامۍ طرف ته واپس نه راگرځي، په خلاف د مکاتب نه چې هغه د بدل کتابت نه دعجز په صورت کې بيا غلام کيدی شي (۲) که چيرې معتق البعض او غلام په بيع کې جمع کړی شي، نو د دواړو بيع باطلېږي، په خلاف د مکاتب نه، چې د مکاتب او دخالص غلام په صورت کې صرف د مکاتب بيع باطلېږي (۳) که چيرې معتق البعض قتل کړی شي او په قدر د سعي مال پرې نه ږدي نو د هغه په قاتل باندې قصاص واجب نه دی، په خلاف د مکاتب نه چې د هغه قاتل به قصاص کولی شي.

قوله وان اعتق الخ: د يو غلام دوه مالکان وو په دوی کې يو کس خپله حصه ازاده کړه نو دويم کس ته په څو څيزونو کې اختيار حاصل دی، که چيرې معتق مالدار وو، نو دويم کس که غواړي خپله حصه دې فی الحال ازاده کړي او که غواړي نو د معتق نه دې د خپلې حصې د قيمت ضمان واخلي، او که وغواړي نو په غلام باندې د سعي وکړي که چيرې هغه خپله حصه ازادوي يا په غلام سعي کوي نوولاء (۱) به دواړو لپاره وي، او که چيرې معتق نه ضمان اخلي نو معتق به د غلام نه هغه هومره قيمت وصول کړي، او ولاء به صرف معتق لپاره وي ، او که چيرې معتق تنگدست وي نو بل شريک که چيرې غواړي خپله حصه دې ازاده کړي او که چيرې وغواړي نو په غلام باندې دې سعي وکړي په دواړو صورتونو کې ولاء به دواړو لپاره وي ، دا حکم د امام صاحب په نزد دی، صاحبين فرمائي که چيرې معتق مالدار وي نو شريک به صرف ضمان ورکړي، او که غريب وو نو په غلام به سعي وکړي او غلام به نشي وصول کولی ، او ولاء به په هر صورت کې معتق لره وي، دا اختلاف په دوو ژورو اصولو باندې مبنی دی، يو اعتاق استجزي کيدو او نه کيدو باندې، دويم په دې چې د امام صاحب په نزد د معتق مالداري د سعايت عبد نه مانع نه دی او د صاحبينو په نزد مانع دی.

---

(۱) د آزاد شوي غلام وراثت ۱۲.

و لو شَهِدَ كلٌّ بعِتْقِ نصيب صَاحبه لهمَا ولو عَلَّقَ
که چیرې ګواهي ورکړه هر یو د خپل شریک د حصې په ازادولو باندې نو غلام به دواړو لپاره سعي کوي، او که یو کس معلق
اَحَدُهما عِتقَهُ بفعْلِ فلانٍ غدًا او عكسَ الأخرُ و مَضٰى ولم يدر عتقَ نِصفُهُ و
کړه ازادي د فلاني په فعل باندې د صبا په ورځ او دویم عکس وکړو او صبا تیر شو او څه معلومات او نه شو نو نصف ازادیږي او
سَعٰى فى نصفه لهُمَا و لو حَلفَ كلٌّ واحِدٍ بعتقٍ عَبدِهٖ لم يعتق واحدٌ من
په باقي نصف کې به دواړو لپاره سعي کوي او که چیرې هر یو قسم وکړو نو د خپل غلام د آزادئ نو یو هم نه ازادیږي ، هغه
مَلكَ ابنَهُ معَ اُخر عتقَ حظُّهُ و لم يَضمَنْ و لشرِيكه اَنْ يُعتِقَ اَو
څوک چې مالک شو د خپل څوی د بل سره نو د هغې حصه ازادیږي او ضامن نه ګرځي اوس دده شریکوال ته اختیار دی چې
يستسعٰى و ان اشترى اجنبيٌّ ثمّ الابُ مَا بقى فله اَنْ يُضمِّنَ الاَبَ
آزاد وي ئې یا پرې سعي کوي او که چیرې رومبی اجنبي ما بقي واخیستو نو شریک وال که وغواړي پلار نه به تاوان واخلي یا پرې سعي
او يستسعٰى و ان اشترى نصفَ ابنِه ممن يملكُ كلَّه لا يضمَنُ لبائعِه عبدٌ
وکړي او که چیرې پلار د خپل څوی نصف واخیستو د هغه چا نه چې هغه د کل مالک وو نو پلار ضامن نه ګرځي ، د بائع
لمُوسِرِيْن دَبَّرهُ وَاحِدٌ و حَرَرهُ اُخرُ ضَمِنَ السَّاكِتُ المُدَبِّرَ
لپاره یو غلام د یو څو مالدار و وو یو کس پکې هغه لره مدبر کړو او بل کس هغه لره ازاد کړو نو ضمان به اخلي ساکت مدبر
وَالمُدَبِّرُ المُعتِقَ ثُلثَهُ مُدَبِّرًا اِلّا مَا ضَمِنَ وَ
نه او مدبّر به ضمان اخلي دمعتق نه دثلث قیمت په حالت د مدبّر کولوکې، نه دهغې قیمت کوم چې ده ورکړې دې.
لو قال لشريكه هِيَ امُّ ولدِك واَنكرَ تخدِمُهُ يومًا
که چیرې یو کس خپل شریک ته ووېل چې دا وینځه ستا ام ولده ده او شریک منکر وو، نووینځه به یوه ورځ د منکر
وتَتَوَقَّفُ يومًا.
خدمت کوي او یوه ورځ به ناسته وي.

د فقهي تشريح: قوله ولو شهد الخ: که چیرې هر یو شریک د بل شریک متعلق دا اوائي چې تا خپله حصه ازاده کړه او هر یو د هغې انکار کوي نو په نزد د امام صاحب غلام به دواړو لپاره سعي کوي، دواړه مالداره وي یا که یو پکې غریب وي، ځکه چې په دوی کې هر یو د دویم تعلق د عتق او د خپل

متعلق مکاتب خبر ورکوي، نو د هر یو قول په خپله د هغه په حق کې قبول دی، او غلام به هر یو لپاره سعي کوي، دارنګ ولاء به هم دواړو لپاره وي، ځکه چې دوی کې د هر یو خیال دا دی چې زما حصه په وجه د سعایت ازاه شوې ده، د صاحبینو په نزد حکم دا دی که چیرې دواړه مالدار وي نو سعي واجب نه ده ځکه چې د معتق مالداري د هغوی په نزد مانع سعایت ده، او که چیرې دواړه غریب وي نو دواړو لپاره سعي کوي ځکه چې هغوی دواړه د سعي مدعیان دي، او که چیرې یو مالدار وي نو غلام به مالدار لپاره سعي کوي، ځکه چې مالدار په دویم شریک باندې د ضمان مدعي نه دی، بلکه په غلام د سعي مدعي دی، په خلاف د غریب نه چې هغه په مالدار د ضمان مدعي دی، بیا ولاء هر کله چې معتق لپاره وي او دلته یو په بل باندې تحویل کوي، دې وجې نه څو پورې چې د یو کس په اعتاق باندې اتفاق نه وي شوی هغه وخته پورې ولاء به موقوفه وي.

قوله ولو علّق الخ: د غلام په دوو مالکانو کې یو وویل که چیرې صبا زید کورته داخل شو نو ته دې ازاد ئې، ددې بر عکس دویم وویل که چیرې صبا زید کورته داخل نه شو نو ته دې آزاد ئې او د صبا ورځ تیره شوه او دا معلومه نه شوه چې زید کورته داخل شوی دی یا نه، نو د شیخینو په نزد نصف غلام ازادیږي، او په نصف باقي کې به دواړو شریکانو لپاره سعي کوي، امام محمد فرمایي چې په کل قیمت کې به سعي کوي، ځکه چې په دوی کې د کوم یو په حق کې د سقوط سعي فیصله ده، هغه مجهوله ده او قضاء علی المجهول نا ممکنه ده، شیخین دا فرمائي چې دلته کې د نصف سعایت سقوط یقیني دی، ځکه چې په دوی کې یو تن ضرور حانث دی، نو د نصف سعایت سقوط یقیني کیدو سره د کل سعایت د وجوب فیصله نشي کیدی.

قوله ولو حلف که چیرې د دوو مالکانو دوه جدا جدا غلام وي او په دوی کې یو وواېي که چیرې زید صبا کورته داخل شو نو زما غلام دې ازاد وي، او دویم ووائي که چیرې زید کورته داخل نه شو نو زما غلام دي ازاد وي نو یو غلام هم نه ازادیږي، ځکه چې غلام او حانث کیدونکي دواړه نا معلومه دي، په خلاف د اولنۍ مسئلې نه چې هلته کې صرف حانث کیدونکی مجهول وو نه چې غلام ځکه چې هلته کې د دواړو صرف یو غلام دی،

قوله من ملک الخ: که چیرې یو سړي شراء، هبه، صدقه، وصیت، بدل، مهر یا د میراث په ذریعې سره د یو بل سړي سره د خپل نزدې رشته دار مالک شي نو د امام صاحب په نزد د قرابت دار حصه بغیر د ضمانت نه ازادیږي لیکن صاحبین او ائمه ثلاثه په نزد که چیرې مالک مالدار وي نو بیا ضامن ګرځي او که چیرې غریب وي نو غلام به سعي کوي، البته د وراثت په صورت کې بالاتفاق ضمان

نشته، او د ائمه ثلاثو په نزد غريبئ په صورت كې د هغه ملكيت باقي به وي چې څه كول غواړي هغه دې وكړي صاحبين دا فرمائي چې ددې اسبابو مباشرت كول د هغه ازادي ده، پس هغه د خپل شريك حصه فاسده كړه لهذا ضامن ګرځي امام صاحب دا فرمائي چې د حكم دارومدار په سبب تعدي دی او دلته كې تعدي نشته، ځكه چې د قريبي رشته دار ازادي هغه دده خپل اختياري فعل نه دی لهذا ضمان پرې واجب نه دی البته دده شريك ته اختيار شته، كه وغواړي هغه دې هم خپله حصه ازاده كړي او كه وغواړي نو په غلام دې سعي وكړي او كه چيرې ړومبی يو اجنبي واخيستو بيا ما بقی دده پلار واخيستو نو د امام صاحب په نزد اجنبي ته اختيار دی، كه وغواړي د پلار نه دې قيمت واخلي كه چيرې مالدار وي ځكه چې دلته كې تعدي دده د طرفنه شوې ده، او كه وغواړي په غلام دې سعي وكړي، د صاحبينو په نزد هر كله چې د معتق مالدار دا مانع د سعي ده، دې وجې نه د هغوی په نزد صرف ضمان به اخلي، او كه چيرې نزدې رشته دارئې داسې يو سړي نه واخيستو چې هغه دده د كل مالك وو نو مشتري به د بائع لپاره ضامن نه وي، لكه زيد د عمرو غلام دی او د خالد ځوی دی، او خالد د عمرو نه د زيد نيمه حصه واخيسته نو خالد به د عمرو لپاره ضامن نه وي، ځكه چې د خالد په ملكيت كې د زيد د داخليدو عدت ايجاب او قبول دی نو دلته كې عمرو په خپله خالد لره خپل شريكوال جوړ كړو

قوله عبدٌ لمُوسرين الخ: يو غلام د دريو سړو شريك وو په دوی كې يو كس غلام مدبر كړو، دويم كس ازاد كړو او دريم كس خاموش پاتې شو يعنې هغه نه مدبر كړو او نه ئې ازاد كړو د شريك اول په مدبر كولو سره د دواړو شريكوالو په حصو كې نقصان راغلو اوس په دوی كې هر يو ته په خپله حصه كې د تدبير، كتابت، ضمان، اعتاق او د سعايت حق حاصل وو ليكن كله چې دويم شريكوال خپله حصه ازاده كړه نو د هغه حق په عتق كې متعين شو او نور اختيارات ئې ساقط شو، اوس صرف ددريم سړي حق باقي پاتې شو نود هغه لپاره ضمان دوه طرفونه متوجه شي يو ضمان د تدبير، دويم ضمان د اعتاق، او ضمان هر كله چې ضمان معاوضه دی يعنې د مالك كيدو ضمان دی او ضمان د اعتاق اتلاف دی ځكه چې د مدبر اجازه او استخدام صحيح دی، او په اعتاق كې دا خبرې جائز دي دې وجې نه دريم شريك به د معتق نه ضمان نه اخلي بلكه مدبر كوونكې نه به خالص د غلام د قيمت دريمه حصه واخلي، او مدبر كوونكی به د معتق نه ضمان واخلي، ليكن مدبر كوونكی چې څومره تاوان وركړی وي يعنې خالص د غلام د قيمت، دريمه هغه هومره ضمان به ترينه اخلي بلكه د مدبر دريمه حصه قيمت به اخلي او د مدبر قيمت خالص د غلام د قيمت نه دريمه

حصه کم وي. ځکه چې مملوک نه درې قسمه فائدې حاصلیږي یو وطي کول، دویم خدمت اخیستل ، دریم خرڅول او مدبر کولو سره د خرڅولو منفعت ختمیږي. ځکه چې د مدبر خرڅول جائز نه دي، دې وجې نه د مدبر ثلث قیمت کمیږي، پس که چیرې د یو غلام قیمت اووه ویشت درهمه دي، نو شریک ثالث به د مدبر کوونکی نه دریمه حصه قیمت یعنې نهه درهمه به اخلي، او مدبر کوونکی به د معتق نه شپږ درهمه آخلي ځکه چې د مدبر دریمه حصه قیمت کم شو او اتلس درهمه پاتې شول او د اتلس درهمو دریمه حصه شپږ درهمه دي.

قوله ولو قال لشریکه الخ: یوه وینزه دوو کسانو کې شریکه وه په هغوی کې یو کس وویل چې دا وینزه زما د شریک وال ام ولده ده او شریکوال د هغې نه منکر وو نو د امام صاحب په نزد وینزه به یوه ورځ د منکر خدمت کوي او یوه ورځ به هسې ناسته وي، صاحبین او ائمه ثلاثه په نزد منکر ترینه خدمت نشي اخیستلی، بلکه په وینځه باندې د خپل نصف قیمت کې سعي کوي، هغې نه پس به وینځه ازادیږي، زما چې مقر خپله او د خپل شریکوال حصې فاسدې کړې او د ګواهانو د عدم موجودګئ په وجه سره ضمان واجب کول متعذر شو لهذا سعي به وي که چیرې صادق وي نو بیا خو د خدمت استحقاق منکر ته شته دی، او که چیرې کاذب دی نو منکر ته د خدمت نصف حق شته دی او نصف یقیني دی، لهذا نصف به ثابتولی شي.

وَ ما لأُمِّ ولدٍ تقَوُّمٌ فلا يَضمَنُ احدُ الشريكَيْن باعتاقِها له اَعْبُدٌ قَالَ لاثنين

او نشته د ام ولدې لپاره څه قیمت ،پس نه ضامن کیږي یو د سریکان نه په ازادولو د هغې سره ،د یو سړي درې غلامان وو هغه دوو ته وویل یو په

احدُكُما حُرٌّ فَخَرَجَ وَ دخَلَ آخرُ و كرَّ رَ و مَاتَ بلا بيَانٍ عَتقَ ثلثةُ اَرْبَاعِ الثابتِ

تاسو دواړو کې ازاد دی پس یو بهر شو او دویم داخل شو، مالک بیا دا وویل، او بغیر د بیان نه وفات شو نو کوم غلام چې دواړه ځله موجود وو د

و نصفُ كلٍّ من الاخيرَين و لو فى المرضِ قُسِّمَ الثُّلُثُ على هٰذا او

هغه درې بعه او په نورو دوو کې د هر یو نصف ازادیږي، او که چیرې دا صورت په مرض د وفات کې وو نو د ترکې دریمه حصه هم په دې

البيعُ و الموتُ و التحريرُ و التدبيرُ بيانٌ فى العتقِ المُبهَمِ لا الوطئ

حصر باندې تقسیمیږي، او بیع او مرګ او ازادول او مدبر کول بیان دی په عتق مبهم کې نه وطي کول، او مرګ بیان دی په طلاق مبهم

و هو و الموتُ بيانٌ فى الطلاقِ المُبهَمِ و لو قالَ ان كان اولُ ولدٍ تلدِينَهُ ذكرًا فانتِ حُرّةٌ

کې، که چیرې خاوند وویل ښځه ته که چیرې ستا ړومبنی ماشوم هلک پیدا شو نو ته دې ازاده ئې نو د هغې هلک او جینۍ دواړه وشو او

فَوَلَدَتْ ذَكَرًا او اُنْثٰى ولم يدرِ الاوّلَ رَقَّ الذَّكرُ و عَتَقَ نصفُ الامّ و الاُنثٰى و لو شهِدَا
رومبنی ماشوم معلوم نه وو نو هلک به غلام وي او نصف د مور او د جینۍ ازاد شول که چیرې دوه کسانو ګواهي وکړه چې فلاني سړي په خپل دوو
انهُ حَرَّرَ احدَ عبدَيْهِ او اَمَتَيْهِ لَغَتْ الّا ان تكون فى وَصيّةٍ اَو طلاقٍ مبهمٍ.
غلامانو یا دواړو وینځو کې یو ازاد کړی دی نو دا ګواهي به لغو وي، مکر دا چې وصیت یا طلاق مبهم کې وي

د فقهي تشريح: قوله وما لام ولدٍ الخ: په نزدد صاحبینو ام ولده متقوم ده ځکه چې هغې سره وطي کیدی شي، د هغې اجاره کول صحیح دي، خدمت ترینه اخیستل هم صحیح، دا ټول امور د هغې په تقویم باندې دلالت کوي، خبره صرف دومره ده چې د هغې خرڅول جائز نه دي، لیکن د بیع په عدم جواز سره تقوم نه ساقطیږي، لکه څنګه چې د مدبر بیعه ناجائز ده د هغې باوجود هغې قیمت دی، د امام صاحب په نزد ام ولدې هیڅ قیمت نشته ځکه چې نبي علیه السلام د حضرت ماریه قبطیه متعلق ارشاد فرمایلی وو چې د هغې بچي هغې لره ازاده کړه (١). دې حدیث نه دوه څیزونه ثابت شول(١) یو حریت (٢) دویم زوال د تقویم ځکه چې کله انسان ازادیږي (٢) نو د هغه قیمت نشي کیدی، اوس په حریت کې بل حدیث مرفوع معارض دی چې کله د مالک نه د وینځې اولاد اوشي نو هغه د مالک د مرګ نه پس ازادیږي پس زوال د تقوم بغیر معارضه باقي پاتې شو. هم په دې اختلاف مسئله متفرع ده چې که چیرې یوه وینځه د دوو شریکانو په مینځ کې شریکه وي او هغې نه د ماشوم ګیدو باندې دواړه شریکان دعوی کوونکی وي نو هغه د دواړو ام ولده ګرځي، اوس که چیرې په دوی کې یو کس هغې لره ازاده کړي نو د امام صاحب په نزد په هغه ضمان نشته مالدار وي که غریب وي او د صاحبینو په نزد د قیمت ضمان به وي که چیرې مالدار وي ګنې په نیم قیمت کې به سعي واجب وي

قوله له اعبُدٌ الخ د یو سړي درې غلامان وي، سعید، مرجان، فیروز، هغې سعید او مرجان ته وویل په تاسو کې یو ازاد دی، هغې نه پس بهر ته لاړو او مرجان هم هلته کې پاتې شو، او دریم غلام فیروز راغلو، مالک بیا دا وویل په تاسو کې یو ازاد دی، او بغیر د بیان کولو نه وفات شو، نو د مرجان درې ربعې ازادیږي، او په سعید او فیروز کې د هر یو نصف نصف ازادیږي ځکه چې ایجاب

---

(١) ابن ماجه، حاکم، دارقطنی عن ابن عباس ١٢.

(٢) ابن ماجه، حاکم ١٢.

اول كوم چې د سعيد او مرجان په مينځ كې دائر دى، د هغې په وجه سره سعيد نصف ازاديږي، او نيم مرجان ازاديږي، او ايجاب ثاني داخل و ثابت يعنې مرجان او فيروز په مينځ كې دائر دى، نو دې سره هم د دواړو نصف نصف ازاديدل پكار دي ليكن هر كله چې مرجان په ايجاب اول سره نصف ازاد شو او نصف غير ازاد دى، نو د نصف غير ازاد نصف يعنې ربع نوره هم ازاديږي، پس د مرجان نصف حصه په اول ايجاب سره او يوه ربع په ايجاب ثاني سره ازاده شوه چې د هغې مجموعه درې ربع دى ، او د سعيد نصف حصه ايجاب اول سره او د فيروز نصف حصه په ايجاب ثاني سره ازاده شوه، نو دا د شيخينو په نزد ده، د امام محمد په نزد لكه څنګه چې د مرجان په ايجاب ثاني سره څلورمه حصه ازاده شوې ده، دغه رنګ د فيروز هم څلورمه حصه ازاديږي.

قوله ولو في المرض الخ: او كه چيرې صورت مذكوره د مالك په مرض وفات كې وي نو د حساب مذكور مطابق ثلث مال به په درې واړو غلامانو كې تقسيميږي او د سهامو د عتق مطابق د هر غلام به اووه حصې مقرر كيدى شي، څكه چې دلته كې د داسې مخرج ضرورت دى چې په هغې كې نصف او ربع وي، او د هغې اقل مخرج دى څلور او په څلور كې د اووسهامو ګنجائش نشته ، دې وجې نه څلور نورې زياتى كړو ، اووه سهام به مقرر كولى شي، او هم دا اووه سهام ثلث مال دى، بيا په مرض الوفات كې هر كله چې د عتق حكم د وصيت حكم لري، دې وجې نه په ثلث مال كې به جاري كيږي مثلاً د هر يو غلام قيمت فرض كړه اووه سوه روپۍ دي او علاوه د غلامانو نه د وفات كيدونكى سړى نور هيڅ مال نشته، نو دده ټول مال يوويشت سوه روپۍ شوې چې د هغې ثلث اووه سوه روپۍ دى، نو هر كله چې ثلث په اووه تقسيم كړى شي، نو هر يو ته سل سل روپۍ رسيږي، نو د سعيد او فيروز دوه دوه سوه ساقطيږي، څكه چې د هغوى دوه سوه حصې وي، او دمرجان درې سوه ساقطيږي، څكه چې د هغه درې سوه حصې وي، پس سعيد او فيروز به په پنځه پنځه سوه روپو كې او مرجان به په څلور سوو كې سعي وي، وعند محمد يجعل الثلث ، اسداساً، لا جل ان الداخل لا يستحق سوى الربع عنده فنقص سهمه لذلك و باقي العمل ما ذكرنا.

قوله و البيع الخ: يو سړي خپل دوو غلامانو ته وويل: په تاسو كې يو ازاد دى، نو دا عتق مبهم دى، نه ده معلومه چې په دوى كې د كوم يو ازادي مراد ده، هغې نه پس مالك په دوى كې يو خرڅ كړو يا يو وفات شو يا ئې يو ازاد كړو، يا ئې مدبر كړو نو خرڅول يا وفات كيدل يا ازادول يا مدبر كول د عتق مبهم بيان دى، اوس دويم غلامان د ازادئ لپاره متعين شو ، دارنګ هر هغه تصرف چې هغه ملك صحيح كې وي او بغير ملك صحيح نه وي، د عتق مبهم بيان كيږي، لكه مكاتب كول، وصيت كول،

دمملوک نکاح کول، هبه کول، خیرات کول وغیره او که چیرې دوو وینځو ته ئې وویل، په تاسو کې یوه ازاده ده. او بیا ئې یوې سره وطي وکړه نود امام صاحب په نزد وطي کول به د عتق مبهم بیان نه وي ځکه چې ملکیت په دواړو کې ثابت دی، دې وجې نه هغه دواړو نه خدمت اخیستی شي لیکن صاحبین او امام شافعي رحمه الله او امام مالک رحمه الله په نزد وطي کول د عتق مبهم بیان دی.

دویمه وینځه ازادیږي، ځکه چې وطي صرف په ملک کې صحیح ده او په دوی کې یوه ازاده ده نو ده یوې سره وطي وکړه په آمه موطوءة کې ئې ملکیت باقي وساتلو نو دویمه وینځه د عتق لپاره معینه شوه، فتوی د صاحبینو په قول ده.

قوله وهو الموتُ الخ: د هو مرجع وطي ده. یعنې وطي او مرګ په طلاق مبهم کې بیان دی مثلاً یو سړي خپلو دوو ښځو ته وویل، په تاسو کې یوه بائنه ده، بیا د یوې سره وطي وکړه نودویمه ښځه به طلاقه وي، ځکه چې کومه مړه شوه هغه محل د طلاق پاتې نه شوه.

قوله ولو قال الخ: یو سړي خپلې حاملې وینځې ته وویل که چیرې ستا ړومبی ماشوم هلک وشو نو ته دې ازاده ئې، د وینځې هلک او جینۍ دواړه وشول، او دا معلومه نه وه چې ړومبی کوم یو شوی دی نو هلک به په هر حال کې غلام وي، که چیرې ړومبی هلک وشو نو غلام به ځکه وي چې په وخت د ولادت کې د هغه مور مملوکه وه ځکه چې د هغې ازادي به د وضع د حمل نه بعد وي، او که چیرې جینۍ مخکې وه نو بیا هغه ازاده نشوه ځکه چې د عتق شرط موجود نه شو او هر کله چې د یوهم مخکې کیدل معلوم نه شول، نو مور او جینۍ دواړه نصف نصف ازادیږي او په خپل نصف نصف قیمت کې به سعي کوي.

قوله ولو شهد الخ: دوه کسانو د یو سړي خلاف ګواهي ورکړه چې ده په خپلو دوو غلامانو یا دوو وینځو کې یو ازاد کړو نو د امام صاحب په نزد دا ګواهي لغوه ده ځکه چې دا ګواهي په عتق مبهم باندې ده چې هغه مسموع نه ده، او که چیرته ګواهي په وصیت یا طلاق مبهم باندې وي نو بیا په اجماع سره ګواهي مقبوله ده وجه د فرق دا ده چې طلاق مبهم فرج لره بالاتفاق حراموي ځکه په کې دعوی شرط نه ده، ځکه چې دا حق د الله دی نه چې حق العباد. او په حق الله کې ګواهي بغیر دعوی نه مقبوله ده. په خلاف د عتق مبهم نه چې هغه د امام صاحب په نزد محرم د فرج نه دی ځکه په کې ګواهي بغیر دعوی قبوله نه ده، لیکن په دې مقام کې د امام صاحب په قول فتوی ورکول جائز نه دي ځکه چې احتیاط په تحریم کې دی.

باب الحلف بالحلف

باب دی په بيان د قسم کولو (١) په ازادۍ سره

و مَنْ قَالَ اِنْ دخلتُ الدارَ فكلُّ مملوكٍ لِي يومَئِذٍ حرٌ عَتَقَ ما يَملك

هغه څوک چې ووېل که چېرې زه داخله شوم کور ته نو په دغه ورځ چې زما څومره غلامان وي ټول دې ازاد وي نو دغه شرط نه پس

بعدَهُ به وَ لو لم يَقُلْ يومَئِذٍ لا و المملوك لا يتناولُ الحمَلَ كلُّ

چې د کوم يو مالک کرځي هغه ازاديږي او که چېرې يومئذ ئې و نه وېل نو نه ازاديږي او لفظ د مملوک حمل ته نه شامليږي

مملوكٍ لى اَو اَملِكهُ حرٌ بعدَ غدٍ اَو بعدَ مَوتِيْ يَتَنَاوَلُ من مَلَكهُ

هر هغه مملوک چې زما وي يا ئې زه مالک يم هغه دې بله ورځ يا زما د مرګ نه پس ازاد وي نو دا شامليږي صرف غلام ته چې د کوم دی

مُذْ حَلَفَ فقط و بموته عَتَقَ مَن مَلَكَ بعدَهُ مِن ثلثه ايضًا

مالک وي د وخت د قسم نه فقط او د هغه په مرګ سره هغه غلام هم ازاديږي کوم چې د مالک شي پس د شرط نه.

د فقهي تشريح: قوله باب الخ د عتق تنجيزي د بيان نه د فارغيدو نه پس عتق تعليقي بيانوي حلف په فتحې د حاء سره او په کسرې د لام سره سماعي مصدر دی، ددې دويم مصدر ليکون لام دی، ويلې کيږي، حَلَف (ض) حلفًا ، قسم خوړل، کله چې ددې په آخر کې تاء سره هم داخليږي، قال الفرزدق الم تر فی عاهدت ربی وانتی: لبين رتاج قائما و مقام: علی حلفة لا اشتم الدهر مُسلما : ولا خارجًا من فی زور کلام، : حلف په کسرې د حاء او په سکون د لام سره عهد او وعدت ته ويلې شي، دلته د حرف نه مراد د عتق تعليق دی.

قوله و من قال الخ: يو سړي ووېل که چېرې زه کور ته داخل شوم نو په دغه ورځ چې زما کوم يو غلام وي هغه دې ازاد وي بيا کور ته داخل شو نو هر هغه غلام ازاديږي کوم چې په وخت د دخول کې ملوک وي خواه که تعليق نه مخکې د هغه مالک وي يا د تعليق نه پس ، ځکه چې دلته کې د يومئذ مطلب دا دی چې کوم وخت زه کور ته داخليږم، پس په وخت د دخول کې چې کوم ملکيت وي هغه به معتبر وي او که چېرې يومئذ ذکر نه کړي صرف دومره ووايي ان دخلتُ الدار فکل مملوک لی حر، نو صرف هغه غلام ازاديږي کوم چې د تعلق په وخت کې غلام وو ځکه چې لفظ ربی د ثابتٌ اسم

---

(١) يعنې آزادی لره په يو شرط پورې د معلق کولو په بيان کې

فاعل سره متعلق دی چې په هغه کې مختار مذهب دا دی چې هغه د زمانه حال لپاره موضع دی نه چې استقبال لپاره بیا مراد د لفظ مملوک نه مطلق مملوک دی یعني چې بالقصد مملوک وي ځکه چې دې کې حمل نه داخلیږي، ځکه چې حمل بالتبع مملوک دی نه چې بالقصد.

قوله کُلّ مملوک الخ: یو سړي وویل: کلُ مملوکٍ حرٌ بعد غدٍ یا ئې وویل حُرٌ بعد موتی یا د کلمې د لی په ځائې ئې وویل: کُلّ مملوک املکه حرٌ بعد غدٍ نو د بعد غدٍ په صورت کې صرف هغه غلام به ازادکیږي کوم چې په وخت د خلف کې مملوک وو، پس د حلف نه چې د کوم غلام مالک ګرځي نو هغه به نه ازادیږي، د لی کلمې وجه خو وړاندې تیره شوه د اُملک په صورت کې وجه دا ده چې صیغه د املک اګر چې په حال او استقبال دواړو کې مستعمله ده لیکن په وخت د اطلاق کې عرفًا، شرعًا او لغةً هر اعتبار سره زمانه د حال مراد کیدی شي او په صورت د بعد موتي کې چې کوم غلام مخکې د تعلیق نه وو هغه مدبر مطلق ګرځي او چې کوم یو پس د تعلیق مملوک وي هغه به مدبر مقید وي لیکن که چیرې دمالک انتقال وشي نو د طرفینو په نزد دواړه غلامان د ثلث مال نه ازادیږي، ځکه چې دلته کې ایجاب عتق او ایجاب وصیت دی، او وصیت حال او استقبال دواړو ته شامل دی، هم دا وجه ده که چیرې یو سړی په حالت د غریبی کې د ثلث مال وصیت وکړي او وصیت نه پس د مالک مالک شي نو په هغې کې وصیت جاري کیږي.

بَابُ العتق علی جُعلٍ
باب دی په بیان د ازادۍ کې په عوض د مال سره
حَرَّرَ عَبۡدَهُ عَلٰی مَالٍ فَقَبِلَ عَتَقَ وَلو عَلَّقَ عِتۡقَهُ بادائه صَارَ
یو سړي خپل غلام ازاد کړو په مال سره نوغلام قبول کړو نو هغه ازادیږي، او که چیرې معلقه ئې کړه ازادي د هغه په ادا. کولو د
مَاذُونًا وَ عِتقَ بِالتخلِیَةِ وَ ان قَالَ انتَ حرٌّ بعدَ مَوتِي بِالفٍ
مال سره نو هغه ماذون ګرځي او ازادیږي په مال حاضرولو سره او که چیرې وئې ویل ته دې ازاد ئې پس د مرګ زمانه په عوض د زرو
فَالقبولُ بعدَ موته وَ لو حَرَّرَ علی خدمته سَنَةً فَقَبِلَ
روپو کې، نو قبلول معتبر ګرځي پس د مرګ د هغه نه، او که چیرې ازاد ئې کړو په یو کال خدمت کولو سره او غلام قبول کړو نو
عَتَقَ وَ خدمَهُ فلو مَاتَ تجبُ قیمتُهُ و لو قَالَ اَعتِقهَا بِالفٍ
ازادیږي او خدمت به ئې کوي، او که چیرې مالک وفات شو نو د غلام قیمت واجبیږي، او که چیرې وئې ویل چې دا وینځه ازاده کړه

عَلٰی	اَنْ	تُزَوِّجِيْنَهَا	فَفَعَلَ	فَاَبَتْ	اَنْ	تُزَوِّجَهٗ

په عوض د زر روپو په دې شرط چې د هغې نکاح به ما سره کوې نو مالک ازاده کړه او وينځې انکار وکړو هغه سره د نکاح کولو

عَتَقَتْ	مَجَّانًا	وَ	لَوْ	زَادَ	عَنِّيْ	قُسِّمَ	الْاَلْفُ	عَلٰی	قِيْمَتِهَا	وَ	مَهْرِ

نه نو مفت ازاديږي، او که چيري لفظ د عني ئې زياتې کړو نو تقسيمولى به شي هغه زر روپۍ د وينځې په قيمت او د هغې په مهر

مِثْلِهَا	وَ	يَجِبُ	مَا	اَصَابَ	الْقِيْمَةَ فَقَطْ.

مثل باندې، او چې کومه حصه د قيمت مقابل کې راځي صرف هغه به واجبيږي.

د فقهي تشريح: قوله بابُ الخ جعل په ضمې د جيم سره مزدورئ ته وايي جمع ئې اجعال راځي جعاله او جعيله هم په دې معنى سره دي ، وروسته بيا د جنگ کوونکو د وظيفې نوم کيښودى شو دلته ترينه عتق بشرط المال مراد دى.

قوله حرر عبدَهُ الخ: يو سړي خپل غلام د مال په عوض کې ازاد کړو او غلام هغه قبول کړو نو ازاديږي اگر چې هغه دغه وخت مال نه وي ادا کړى ځکه چې دا معاوضه د مال بغير المال ده، او معاوضه کې صرف عوض قبلولو سره حکم ثابتيږي، مصنف مال مطلق ذکر کړى دى چې په هغې کې نقد مال، سامان، حيوان، مکيل او موزون ټول داخل دي، خو په دې شرط چې معلوم الجنس وي او مال صحيح وي ځکه چې شراب او خنزير په حق د مسلمان کې مال نه دي، او که چيرې مالک د غلام ازادي د مال په ادا کولو باندې معلق کړه نو غلام ماذون فى التجارة گرځي، ځکه چې مالک هغه ته مال د اداء کولو ترغيب ورکړى دى او د مال ادائيگي بغير د کسب او تجارت نه نشي کيدى، نو گويا چې مالک د تجارت اجازت ورکړى دى، نو کله چې غلام مالک ته مال حاضر کړو نو ازاد به وي.

قوله ولو قال الخ: يو سړي د وينځې مالک ته وويل چې خپله د زر روپو په عوض کې ازاده کړه خو په دې شرط چې نکاح به ئې ما سره کوئ، اقا وينځه ازاده کړه ، اوس وينځه هغه سره د نکاح کولو نه انکار کوي نو وينځه مفت ازاديږي، ځکه چې عتاق کې په اجنبي باندې د بدل عتق شرط لگول صحيح نه دي (په طلاق کې صحيح دى) او که چيرې قائل مذکوره کلمه د عني زياته کړه او دا ئې وويل اعتقها عنى بالف اهـ نو زر درهمه به د وينځې په قيمت او د هغې په مهر مثل باندې تقسيميږي، ځکه چې اوس دا کلام اقتضاءً شراء ته شامل شو ، گويا چې هغه داسې وويل چې دا په

ما خرڅه كړه او زما د طرف نه ئې ازاده كړه، بيا هر كله چې هغه رقبي سره نكاح يو ځائې كړه او زر درهمه ئې د مجموعه عوض وګرځولو لهذا زر درهمه به په مجموعه باندې تقسيميږي. پس كوم مقدار چې د قيمت په مقابله كې راشي هغه به په قائل مذكور باندې واجبيږي او كوم چې د مهر مثل په مقابله كې راشي هغه به ساقطيږي

بَابُ التَّدْبِيرِ

((باب دى په بيان د مدبر كولو كې))

هو تعليقُ العتقِ بمطلقِ موته كَإِذا مِتُّ فانتَ حُرٌّ او انتَ حرٌّ يومَ	
دا معلق كول د عتق په مطلق مرګ خپل سره لكه دا قول د قائل چې كله زه وفات شم نو ته دې ازاد ئې يا ته ازاد ئې په كومه	
اَمُوْتُ اَو عن دُبُرٍ مِنّي اَو مدبرٌ او دَبَّرتُك فلا يُبَاعُ و لا يُوهَبُ و وَ	
ورځ چې وفات شم يا وروسته زما نه، يا ته مدبر ئې ا يا ما تا لره مدبر كړو پس هغه به نه خرڅيدلى شي او نه به هبه كيدى شي او	
يُستخدَمُ و يُوجَرُ و تُوطَأُ و تُنكح و بموته	
خدمت به ترينه اخيستلى شي او په مزدورۍ به وركيدى شي كه وينځې وي نو وطي هم كيدى شي او د هغې نكاح به كولى شي او پس د هغې د	
عَتقَ من ثُلُثه وَ سَعٰى فى ثُلُثَيْهِ لو فقيرًا و كلّه لو مَدْيُوْنًا و	
مرګ نه د ثلث مال نه به ازاديږي او سعي به كوي په دوو ثلثو كې كه چيرې فقير وي او په كل كې به سعي كوي كه قرضدار وو	
يُبَاعُ لو قالَ ان مِتُّ من مَرَضِى اَو سَفرى او الٰى عشر سنين	
او خرڅيدى هم شي كه چيرې مالك وويل كه چيرې زه وفات شوم د دې مرض كې يا په دې سفر كې يا لس يا شل كالو پورې، يا ته دې	
او عشرِيْنَ سَنَةً او اَنتَ حُرٌّ بعد موتِ فلانٍ و يعتق ان وُجد الشرطُ	
ازاد ئې پس د فلاني د مرګ نه او ازاديږي كه چيرې شرط موجودشو.	

د فقهې تشريح: قوله بابٌ الخ: د ژوند د اعتاق نه پس اعتاق بعد الموت بيانوي، لان الموت تيلو الحيوة او تدبير په استيلاء د مقدم كوي ځكه چې تدبير غلام او وينځې دواړو ته شامل دى، په خلاف د استيلاء نه چې هغه صرف وينځې پورې خاص دى.

قوله التدبيرُ الخ: په لغت كې د تدبير معنى د څه مقصد لپاره منصوبه بندي او د مرګ نه پس د غلام ازادول دي (مغرب، ضياء العلوم، صحاح) او په اصطلاح كې تدبير غلام ازادي مطلقًا د خپل

مرگ سره معلق کولو ته وئیلی شي د مطلق په قید سره تدبیر مقید خارج شو لکه ان مُتُّ من مرضی او سفری هٰذا فانت حرٌ، اود موت آقا په قید سره هغه تعلیق هم خارج شو چې هغه د بل چا په مرگ سره وي لکه انت حرٌ بعد موت زید، چې دا تدبیر نه دی، نه مطلق دی او نه مقید دی، بلکه تعلیق بالشرط دی، گویا چې هغه دا وویل ان مات زید فانت حرٌ، پس صاحب د دُرَرْ چې کوم دا تعریف کړی دی، هو تعلیق المولی عتق مملوکه بالموت سواء کان موته او موت غیره. دا تعریف د عامو مشائخو د عبارت خلاف دی او موصوف چې په کنز زیلعي، زیلعي صاحب وقایه او شارح وقایه صدر الشریعت باندې چې کوم اعتراض کړی دی هغه بې فائدې دی.

قوله فلا یباع الخ: په نزد د احنافو د مدبر مطلق بیع ناجائز ده. امام مالک رحمه الله هم دا فرمائي، د امام شافعي رحمه الله او امام احمد رحمه الله په نزد په وخت د ضرورت کې د مدبر بیع جائز ده. دا رنګ هبه او صدقه هم جائز ده. ځکه چې حدیث کې دي چې یو انصاري سړي (کوم چې مقروض وو) خپل غلام ئې مدبر کړی وو او هغه سره سواء د غلام نه نور مال نه وو نو نبي علیه السلام هغه د نعیم بن عبدالله په لاس په اته سوه درهمه خرڅ کړو او وئې فرمایل چې خپل قرض هم په دې قیمت سره اداء کړه [۱] زمونږ دلیل د نبي علیه السلام دا ارشاد دی چې مدبر به نه خرڅولی شي او نه به هبه کیدی شي او هغه د ثلث مال نه ازاد دی [۲]، ددې حدیث په مرفوعیت کې اګر چې بعضو حضراتو کلام کړی دی، لیکن د موقوفیت په تصحیح کې د ټولو اتفاق دی، پاتې شو حدیث د جابر نو د هغې څو جوابونه دي (۱) په ابتداء د اسلام کې د ازاد بیع جائز وه، وروسته بیا منسوخ شوه نو د مدبر بیع به خو په طریق اولی جائز وي (۲) دار قطني د امام ابو جعفر نه روایت کړی دی هغه فرمائي چې ماته د حدیث د جابر رضی الله عنه نه مشاهده وشوه چې د مدبر غلام د خدمت بیع شوې وه. یعنې د هغه اجاره شوې وه نه چې بیع د رقبې (۳) حدیث د جابر واقعه د حال ده، چې هغې کې علوم نشي کیدی، په خلاف د حدیث ابن عمر نه چې هغه قولي دی (۴) حدیث جابر په مقید باندې حمل دی، او د مدبر مقید بیع زمونږ په نزد هم جائز ده.

قوله ویُباع الخ: دې ځائې تر عشرین سنةً پورې د مدبر مقید صورتونه دي مدبر مقید هغه ته وایې چې د هغه عتق صرف په مرگ باندې نه وي بلکه په مرگ کې یو زیاتی صفت ذکر کړی شي مثلاً په

---

(۱) صحیحین، نسائي، ترمذي. دارقطني عن جابر رضی الله عنه. ۱۲

(۲) دارقطني عن ابن عمر رضی الله عنه ۱۲.

دې سفر کې یا په دې مرض کې، یا لس کاله یا شل کاله پورې مرګ وغیره، په مدبر مقید کې مالکانه تصرفات بیع، هبه، رهن، وغیره صحیح دي، ځکه چې په دغه وختونو کې د اقا مرګ یقیني نه وي، په خلاف د مطلق موت نه چې هغه یقیني دی. پاتې شو آخري صورت یعنې انت حر بعد صوت فلان نو دا تدبیر نه دی نه مطلق او نه مقید بلکه تعلیق دی که چیرې شرط موجود شو خو ازادیږي ګني نه ازادیږي.

بَابُ الاستيلادِ
باب دی په بیان د ام ولده جوړولو کې
وَلَدَتْ اَمَةٌ مِنَ السَّيِّدِ لم تُملک و تُوطأ و تُستخدَمُ و تُوجَرُ و
د وینځې ماشوم وشو د آقا نه، نو هغه نشي خرڅیدلی البته وطي ورسره کیدی شي، خدمت ترینه اخیستی کیدی شي او په
تُزوّجُ فَاِنْ وَلَدَتْ بعدَهُ ثَبتَ نسَبُهُ بلا دعْوةٍ
مزدورئ ورکیدی شي او په نکاح ورکیدی شي او که چیرې دوینځې ماشوم پیدا شو پس د هغې نه نو ثابتیږي نسب د هغه بغیر د
بخلاف الاولِ و انتفٰی بنفیه و عَتقَتْ بموته مِن کُلّ ماله و لم تَسعَ لغرِیْمِه
دعوی کولو نه، په خلاف د اولنې ماشوم نه او نفي کیږي د هغه سره، ازادیږي په مرګ د اقا سره د کل مال او سعي پرې نشته د قرض خواه لپاره

د فقهي تشریح: قوله بابُ الخ: په استحقاق د عتق بعد الموت کې تدبیر او استیلاد دواړه مشترک دي، ځکه استیلاد د دتدبیر سره متصل ذکر کوي، بیا په تدبیر کې ایجاب د عتق هر کله چې الفاظو سره کیږي، دې وجې نه ددې تقدیم مناسب دی، استیلاد په لغت کې د اولاد خواهش ته وئیلی شي د خپلې ښځې نه وي او که د وینځې نه وي لیکن په اصطلاح د فقهاؤ کې د وینځې پورې خاص دی.

قوله ولدَتْ الخ کله چې د آقا د نطفې نه د وینځې ماشوم پیدا شي نو هغه دده ام ګرځي، او س د هغې نه خرڅول جائز دي او نه ئې تملیک جائز دی، د جمهورو صحابو او تابعینو او د معتبرو فقهاؤ هم دا قول دی، ځکه چې نبي علیه السلام د امهات الاولاد د خرڅولو نه منع فرمایلي ده (۱) دارنګ حضرت

---

(۱) دارقطني عن ابن عمر رضي الله عنه.

عمر ﷺ فرمائي چې د کومې وينځې د اقا نه ماشوم وشي نو د هغې اقا به نه هغې لره خرڅوي او نه به ئې هبه کوي البته تولې زندګئ ترينه فائده اخيستي شي د هغې د مرګ نه پس هغه ازاده ده (۱).
پس بشر مريسي او داؤد ظاهري کوم چې د جواز قائل دي دا خبره هيڅ قسمه صحيح نه ده.

قوله بخلاف الاول الخ: د ام ولدې د دويم ماشوم نسب د اقا په اقرار باندې موقوف نه دى بغير د اقرار نه هم ثابتيږي، په خلاف د رومبني ماشوم نه چې د هغې نسب د آقا په اقرار باندې موقوف دى، د امام ثوري ﷺ، شعبي، حسن بصرى هم دا قول دى، ائمه ثلاثه فرمائي چې که چيرې اقا د وطي اقرار کوي نو بغير دعوى نه نسب ثابتيږي اګر چې اقا عزل کوي، ځکه چې عقد نکاح کومه چې مفضى الى الوطي ده هغې نه نسب ثابتيږي، نو وطي سره خو په طريق اولى نسب ثابتيدل پکار دي، زمونږ دليل دا دى چې حضرت ابن عباس ﷺ به د وينزې سره صحبت کولو د هغې حمل شو نو هغوى وفرمايل چې دا زما مقصد د وطي نه صرف شهوت پوره کول وو، نه چې د اولاد خاصلول (۲).

ولو اَسلَمَتْ اُمّ وَلَدِ النصر انى سَعَتْ فى قيمتِها و اِنّ ولَدَتْ بنكاحٍ فملكها
که چيرې اسلام راوړو د نصراني سرې ام ولدې نو سعي به کوي په خپل قيمت کې، او که چيرې د وينځې اولاد وشو په نکاح سره بيا خاوند
فهِىَ اُمّ ولده و لو ادّعٰى وَلَدَ امةٍ مشتركةٍ ثَبَتَ نَسَبُهُ و هِىَ امُّ
د هغې مالک شو نو دا د هغې ام ولده ګرځي، او که چيرې د مشترکې وينځې د بچي دعوى ئې وکړه نو نسب ثابتيږي او هغه دده ام
و لده و لزِمَهُ نصفُ قيمتِها و نصفُ عُقرِهَا لا قيمَتُهُ و لو ادّعيَاه معًا
ولده ګرځي او د وينځې نيم قيمت او نيم عقر واجبيږي، نه قيمت د بچي، او که چيرې دواړو شريکانو د ماشوم دعوى وکړه نو
ثبتَ نَسَبُهُ منهمَا و هِىَ امُّ وَلدِهِمَا و على كُلِّ واحدٍ نصفُ العقرِ
دواړو نه نسب ثابتيږي، او هغه د دواړو ام ولده ګرځي، او په هر يو باندې نصف عقر واجبيږي او مقاصه به اوشي. او
و تَقَاصَّا و وَرِثَ من كُلِّ ارثَ ابنٍ و وَرِثَا منه ارثَ أبٍ و لو ادّعٰى
ماشوم به د هر يو د پورې ماشوم ميراث وړي، او شريکان به د پلار ورله وړي، او که چيرې دعوى ئې وکړه د خپل مکاتب

---

(۱) مالک عن عمر ﷺ، ۱۲.
(۲) طحاوي عن ابن عباس ۱۲ ﷺ.

وَلَدَامَةٍ مكاتبه و صَدَّقَهُ المكاتبُ لزِمَ النسبُ و العقرُ وقيمةُ
د وینځې د بچي او مکاتب ئې تصدیق وکړو نو نصب او عقد او قیمت د بچي لازمیږي، او وینځې د هغه ام ولده نه ګرځي
الولدِ وَلَمْ تصر امَّ ولده وَ انْ كَذَّبَهُ لم يَثبتِ النسبُ.
او كه چیرې مكاتب ئې تكذيب وكړو نو بيا نسب نه ثابتيږي

د فقهې تشریح: قوله ولو اسلَمَتُ الخ: که چیرې د ام نصراني، ام ولدې اسلام قبول کړو نو په نصراني په اسلام پیش کیدی شي، که چیرې هغه قبول کړو خو وینځه به د هغه ام ولده شي، او که چیرې هغه قبول نه کړو، نو ام ولده به خالص د وینزې توب دریمه حصه قیمت کې سعي کوي، ځکه چې د سعي په صورت کې د جانبینو لحاظ دی، د ام ولدې دا رعایت دی چې هغه د رقیت د ذلت نه بچ شوه او ازاده شوه، او د نصراني رعایت دا دی چې د سعي مال ملاویدو سره د هغه ضرر دفع شو.

قوله وان ولَدَتُ الخ: یو سړي د بل چا د وینزې سره نکاح وکړه او هغه نه ئې ماشوم وشو، هغې نه پس خاوند په څه طریقې سره د هغې مالک شو نو اوس دغه وینځه دده ام ولده وګرځیده ځکه چې د ماشوم نسب په دواړو صورتونو کې هم ده نه ثابت دی، لهذا ام ولده کیدل هم ثابتیږي لانها تتبعه، ائمه ثلاثه په نزد هغه دده ام ولده نه ګرځي، کله چې هغه د ماشوم کیدو نه پس د هغې مالک ګرځیدلی وي.

قوله ولو ادعی الخ: یوه وینځه په دوو کسانو کې شریکه وه، په دوی کې یو شریک د هغې د ام ولدې کیدو دعوی وکړه نو هغه نه د ماشوم نسب ثابتیږي، او وینځه د هغه ام ولده ګرځي او په مدعی باندې نصف قیمت او نصف مهر مثل واجبیږي، لیکن د ماشوم قیمت نه واجبیږي. ځکه چې ضمان د یو علوق په لحاظ سره واجب ده، او ماشوم د وخت د علوق نه ثابت النسب دی پس حدوث د ولد د مدعی په ملک کې وشو نه چې د شریک په ملک کې.

قوله ولو ادعیا الخ: او که چیرې دواړه شریکان دعوی کوي نو د بچي نسب دواړو نه ثابتیږي، او وینځه د دواړو ام ولده ګرځي، امام شافعي فرمائي په دې صورت کې د قیافه شناس قول معتبر وي. جواب: دا دی چې قیافه شناسي حجت شرعیه نه دی، ګنې لعان کې به دغه طرف ته رجوعه کیدی شوه، بهر حال وینځه د دواړو ام ولده ګرځي، اوس په دواړو شریکانو باندې نصف مهر مثل واجبیږي، او مقاصه به کیدی شي، یعنې دواړه شریکان به خپل خپل په خیلو کې حساب

کړي او ماشوم به د دواړو شریکانو وارث وي، او کوم چې د خوی وراثت وي هغه به پوره اخلي . او که چیرې ړومبی ماشوم وفات شي نو دواړه شریکان به د هغه وارثان وي. او د پلار ولئ حصه به بیا مومي.

قوله ولو ادعی الخ: آقا د خپل مکاتب وینځې سره وطي وکړه او هغې نه ماشوم پیدا شو ، اقا د ماشوم دعوی وکړه او مکاتب ئې تصدیق وکړو نو د تصادق په وجه سره د بچي نسب اقا نه ثابتیږي، او د شبه په وجه سره حد ساقطیږي، اوس په اقا باندې د وینځې مهر مثل او د ماشوم قیمت واجبیږي ، لیکن وینځه به د هغه ام ولده نه وي ځکه چې هغه دده ملک نه دی، او که چیرې مکاتب ئې تکذیب وکړونو بیا نسب نه ثابتیږي، ځکه چې آقا ته د مکاتب په کسب کې د تصرف کولو حق نشته دې وجې نه د مکاتب تصدیق ضروري دی.

کِتَابُ الایمَانِ

الیمینُ تقویةُ احدِ طرفَی الخبرِ بالمُقسَمِ به فحلفُه علی ماضٍ کذبًا

یمین مضبوطول دي د خبر په دوو طرفونو کې د یو طرف مقسم په ذریعې سره پس قسم کول په تیر شوي څیز باندې په

عمدًا غموسٌ و ظنًا لغوٌ وَ اُثِمَ فی الاولِ دُونَ الثَّانِی.

دروغو سره او په قصد سره دا یمین غموس دی او په اعتبار د ظن سره یمین لغو دی، او گناهکار په اول سره نه په دویم سره

د فقهي تشریح: قوله کتاب الخ: احکامو د عتاق نه پس ایمان ذکر کوي ځکه چې دې کې یو خاص قسم مناسبت موجود دی، او هغه دا چې لکه څنګه چې په عتاق کې د هزل او اکراه هیڅ څه تاثیر نشته، دغه شان په ایمانو کې هم ددې څه تاثیر نشته ، بلکه دا چې څنګه چې عتاق سره قوت حکمي حاصلیږي دغه شان په قسم سره هم د قسم کوونکي په اراده کې قوت او پراخوالی راځي، ایمان د یمین جمع ده ، لغةً لفظ یمین د لاس ، قوت او قسم کې مشترک دی، هر کله چې د الله تعالی په نوم سره په قسم کولو کې قوت او تاکید پیدا کیږي، ځکه ورته یمین وئیلی شي په عرف د شرع کې د خبر دوه قسمونه (صدق او کذب) کې یو لده د مقسم به په ذکر کولو سره مضبوطولو ته یمین ویلی شي

قوله فحلفه الخ: د یمین درې قسمه دي، یمین غموس، یمین لغو ، یمین منعقده ، یمین غموس په تیره شوې خبره باندې قصداً د دروغو قسم خوړلو ته وئیلی شي، مثلاً زید ته معلومه ده چې فلانی

سړی نه دی راغلی او بیا هم قسم وکړي چې و الله فلانی سړی راغلی وو. مصنف رحمه الله په دې کې د ماضي قید لګولی دی، دا قید اتفاقي نه دی چې احترازي چې په شروحو د هدایې وغیره کې تصریح ده چې په یمین غموس کې د ماضي شرط نشته، په حال کې هم کیدی شي. د غمس معنی د ډوبولو ده، داسې قسم کوونکی چې چونکه په ګناه کې ډوبیږي ځکه ورته یمین غموس وئیلی شي. د نبي علیه السلام ارشاد دی چې لوی په ګناه د الله سره شریک پیدا کول دي، د پلار مور نافرماني کول، ناحقه قتل کوی او یمین غموس دی[1] لیکن په دنیا کې ددې علاج صرف توبه او استغفار دی، کفاره پرې واجب نه ده، حضرت انس ﷺ، مسعود ﷺ ابن عباس ﷺ، ابن المسیب حسن بصری ﷺ، اوزاعي ﷺ، ثوري، لیث، و ابو عبیده ددې قائل دي هم دا د امام ابوحنیفة، امام مالک اود امام احمد رحمهم الله قول دی د امام شافعی ﷺ او زهري ﷺ په نزد په دې کې هم کفاره شته دی، ځکه چې دا په بما کسبت قلوبکم کې داخل دی، زمونږ دلیل دا دی چې حق تعالی شانه په آیت و لکن یؤاخذکم بما عقدتم الایمان فکفارته الخ کې کفارې لره په یمین منعقده باندې مرتب کړی دی، او یمین غموس یمین منعقده نه دی، ځکه په کې کفاره نشته دارنګ په حدیث کې دي چې پنځه څیزونه په کبائرو کې دي لیکن په هغې کې کفاره نشته.

اشراک بالله، قتل نفس، عقوق والدین، فرار عن الزحف او یمین فاجره.

قوله و ظنًا لغو الخ: دویم قسم یمین لغو دی، ددې په تفسیر کې د علماؤ اختلاف دی، په نزد د احنافو یمین لغو دا دی چې په خپل ګمان کې رښتیا ګڼي اود دروغو قسم وکړي مثلاً تیره ورځ باران نه وو شوی، لیکن د زید غالب ګمان دا دی چې باران شوی وو، نو د زید دا قول والله بله ورځ یعنې تیره ورځ باران شوی وو یمین لغوی دی. د حسن بصری، مجاهد، نخعی ﷺ، زهری، سلیمان بن یسار، قتاده ﷺ، سدي او د مکحول په نزد د یمین لغو هم د تفسیر دی. اوس یمین غموس او یمین لغو کې فرق صرف د عمد کذب او د عدم عمد کذب لحاظ سره دی. د ماضي او حال په اعتبار سره هیڅ فرق نشته، لکه بدائع کې ددې څیز تصریح ده، نو ددې په تعریف کې هم د ماضي قید اتفاقي شو نه چې احترازي، د امام شعبی ﷺ، عکرمه ﷺ او امام شافعی په نزد په هره ورځ کې لفظ د والله، بالله استعمالول یمین لغو دی ځکه چې

---

(۱) بخاري عن عبدالله بن عمرو بن العاص ﷺ.

حضرت عائشې رضی الله عنها نه هم دا تفسير نقل دی (۱) ليکن حضرت ابن عباس اوزاره بن أبی أوفی نه د يمين لغو هغه تفسير نقل دی، کوم چې وړاندې ذکر شو. يمين لغو کې په اتفاق د ائمو مؤاخذه نشته لقوله تعالى و لا يؤاخذکم الله باللغو فی ايمانکم.

و علی آتٍ مُنعقِدةٌ و فيهَا کفارةٌ فقط و لو مُکرَهًا أو ناسِيًا

او په راتلونکې وخت باندې منعقده دې، او په دې کې کفاره ده فقط، اګر که په زبردستئ سره يا په هيره سره وي

أو حَنِثَ کذلک و اليمينُ باللهِ و الرحمٰن و الرحيم و عِزّته و جَلالِه و

يا هم دغه شان حانث شي، او قسم د خدای پاک د رحمان او د رحيم او د هغه د عزت او د جلال کيږي، اود هغې

وَ کبرِيَائه و أُقسِمُ و أَحلِفُ وَ أَشهَدُ و إِنْ لم يقلْ بِاللهِ و لعَمرُ اللهِ وَ أَيمُ اللهِ

الفاظ دا دي قسم کوم، حلف اوچتوم، ګواهي ورکوم اګر که لفظ د بالله ذکر نه کړي، او په لعمر الله سره وايم الله

وَ عَهدِ اللهِ و ميثاقه وَ عَلَيَّ نذرٌ و نذرُ اللهِ و انْ فعلَ کذَا فهو کافِرٌ

سره او د الله تعالى په عهد و پيمان سره او په دې سره چې په ما باندې نذر يا د الله نذر دی، او که چيرې داسې وکړم نو زه

لا بعلمه و غضبه و سَخطهو رحمته و النّبيّ و القُرانِ و الکعبةِ

دې کافر يم، نه د خدائې په علم او غضب سره او د هغه په غصې سره او رحمت سره او نبي سره او قران سره او نه په کعبې او

و حقِّ اللهِ و إِنْ فعلتُهُ فعلی غضبُهُ او سخطُه او أَنَا زانٍ

حق الله قسم کولو سره او نه په دې سره چې که چيرې ما دا کار وکړو نو په ما دې د خدای غضب يا غصه وي، يا زه دې زنا

أو سَارقٌ أو شارِبُ خمرٍ او أَکِلُ رِبٰو و حُروفُه البَاءُ و التاءُ و قد تُضمر

يم يا دې غل يم يا دې څښونکی د شرابو يم يا دې سود خوړونکی يم، او حروف د قسم با، ده، تا، ده او کله حرف قسم پټ

و کفّارتُهُ تحريرُ رقبةٍ او إِطعامُ عشرةِ مَسَاکِين کما فی الظهارِ

وي او کفاره د قسم ازادول د غلام دي يا لسو مسکينانو ته دوديء ورکول دي لکه څنګه چې ددې دوارو ذکر په کفاره د

أو کسوتُهم بما يَسترُ عَامّةَ البدنِ فَإِنْ عجزَ عَنْ أَحدِهِمَا

ظهار کې وشو، يا لسو مسکينانو ته جامې ورکول دي چې هغه اکثر بدن پټ کړي، که چيرې دی نه عاجز شو نو بيا به درې

---

(۱) بخاري، ابوداؤد، مالک عن عائشة رضي الله عنها ۱۲.

صَامَ ثَلٰثَةَ اَيَّامٍ مُتَتَابِعَةً وَلَا يُكَفِّرُ قَبْلَ الْحِنْثِ وَمَنْ حَلَفَ عَلٰى
روژې نيسي پرله پسې، او كفاره به نه وركوي وړاندې دحانث كيدو نه، اوهغه وړاندې دحانث كيدونه، اوهغه چاچې قسم دكړو په يو گناه باندې نو مناسب
مَعْصِيَةٍ يَنْبَغِىْ اَنْ يَحْنَثَ وَ يُكَفِّرَ
دی چې ځان حانث کړي او کفاره دې ورکړي.

د فقهې تشريح: قوله وعلى اٰتٍ الخ: دريم قسم يمين منعقده دی او هغه دا دی چې د راتلونكي كار په كولو يا نه كولو باندې قسم وكړي، د راتلونكي قيد ځكه دی چې آيت كې وي واحفظوا ايمانكم او ښكاره خبره ده چې حفاظت د راتلونكي په لحاظ سره كيدی شي، په دې صورت كې د قسم خلاف كولو باندې په اتفاق سره كفاره واجب ده. لقوله تعالى و لكن يؤاخذكم بما عقدتم الايمان الخ.

قوله فقط: علامه زيلعي په دې اعتراض كړی دی چې دلته كې لفظ د فقط په معنی دی ځكه چې څنگه په يمين غموس او يمين لغو گناه ده داسې په يمين منعقده كې هم گناه وي.
نو دا قول چې يمين منعقده كې صرف كفاره ده. دا خبره صحيح نه ده. جواب دا دی چې دلته كې د اثم په لحاظ سره تخصيص مقصود نه دی بلكه دا كفارې په لحاظ سره تخصيص مقصود دی. يعنې كفاره صرف په يمين منعقده كې واجب ده، نه چې په يمين غموس او يمين لغو كې دی نه غلاوه يمين منعقده كله كله حانث كيدل هم واجبيږي او كله كله مستحب وي. فلا يصح اطلاقه.

قوله وأيم الله الخ: لفظ د أيم په معنی د ايمن دی او أيمن د كوفيانو په نزد د يمين جمع ده، همزه او نون تخفيف لپاره حذف كړی شو، او د بصريانو په نزد أيم الله په معنی د والله سره دی، بهر حال لفظ د أيم سره قسم كول متعارف دي، و منه فى حديث البخاري «و أيم الله ان كان تخليقًا الامارة» په لفظ د أيم كې د سيبويه په نزدد بصريانو مذهب غوره دی، ځكه چې په أيم كې همزه او ياء هم حذف كوي حرف مِ الله وايي حال دا چې د جمع په يو حرف باندې باقي پاتې كيدل جائز نه دي. زجاج او ابن كيسان د كوفيانو مذهب اختيار كړی دی ځكه چې د اَفْعَلْ په وزن باندې مفرد نه راځي. په لفظ د أيم كې ډير لغتونه دي، أيم الله، هيم اللهُ، ايمن الله، اَم الله، مُ الله ، مَنِ الله.

قوله متتابعةً الخ: كه چيرې په كفاره د يمين كې د غلام ازادولو او د جامو وركولو او دخوراک وركولو نه عاجز شو نو بيا به پرله پسې درې روژې نيسي، امام مالک رحمه الله ، فرمائي چې تتابع

ضروري نه ده. د امام شافعي رحمه الله يو قول او د امام محمد رحمه الله يو روايت هم دا دی، چې د حضرت ابن مسعود رضي الله عنه او حضرت ابی ابن کعب مشهور قرامت ثلثه آيام متتابعات (۱). دې او دا په درجه د روايت مشهوره کې دی. فانهما انما يقران سماعًا منه عليه السلام، او خبر مشهور سره زياتي او تقييد جائز دی.

قوله ولا يكفر الخ: د حانث کيدو نه مخکې کفاره ورکول جائز نه دي، د امام شافعي رحمه الله په نزد د مال کفاره مخکې د حانث کيدو نه جائز ده، ځکه چې حديث کې دي فكفر عن يمينك ثم ايت الذى هو خير (۲) دې نه معلوميږي چې اول دې کفاره ورکړي او بيا دې قسم مات کړي ځکه چې لفظ د ثُمّ تعقيب لپاره راځي. د حضرت عائشې رضی الله عنها او حضرت ام سلمه رضی الله عنها په حديث کې هم لفظ د ثم (۳) دی، زمونږ دليل دا دی چې د قسم د کفارې متعلق اکثر أحاديث په دې دلالت کوي، چې مخکې به قسم مات کړي بيا به کفاره ورکړي (۴)، امام نسائی خو الكفارة بعد الحنث سره مستقل باب تړلی دی، او د عدي بن حاتم او عبد الرحمن بن سمرة وغيره نه ئې د رواياتو تخريج کړی دی. د کفارې مشروعيت د ګناه پټولو لپاره دي او مخکې د حانث کيدو نه خو هډو ګناه شوی نه ده. چې هغې لره کفاره پټ کړي، باقي پاتې شو د امام شافعي استدلالات، نو د هغې جواب چې عبد الرحمن بن سمره نه چې کوم روايت صحيحينو کې دی په هغې کې واو دی ثم پکې نشته، او واو مطلق جمع لپاره دی نه د تعقيب لپاره او روايت د صحيحينو په صحت کې مقدم دی، دې وجې نه د ابوداؤد په روايت کې به تاويل کيدی شي چې لفظ د ثم د واو په معنی سره دی، او د حضرت عائشی رضی الله عنها نه بخاری رحمه الله کې روايت دی، ان ابابكر رضي الله عنه كان اذا حلف اهـ په دې کې حنث مقدم دی او د کفارې عطف واو سره دی، پاتې شو د ام سلمي رضي الله عنها حديث، نو په هغې کې اګر چې لفظ د ثم دی ليکن حنث مقدم دی فكان سواء بسواء.

قوله ينبغى الخ: چې کوم سړی په يو ګناه قسم وکړو مثلاً داسې ووايې چې په خدائې مې د قسم وي چې زه به خپل پلار مور سره خبرې نه کوم نو هغې ته پکار دي چې قسم مات کړي او کفاره اداء کړي

---

(۱) عن ابی شيبه، عبد الرزاق عن ابن مسعود، حاکم عن ابی ابن کعب، ۱۲

(۲) ابوداؤد. نسائي عن عبد الرحمن بن سمرة ۱۲.

(۳) حاکم عن عائشة، طبراني عن ام سلمة.

(۴) مسلم عن ابي هريرة، صحيحين عن ابي موسى الاشعري، مسلم عن عدی بن حاتم ۱۲.

ځکه چې حدیث کې دي چې کوم سړی په یوه خبره قسم وکړي او د هغې په خلاف کې بهتري وي نو قسم دي مات کړي او کفاره دې ورکړي[۱]. د قسم ماتولو کې لس صورتونه دي د هر یو لاندې نقشې نه معلوم کړی.

د حانث کیدو صورتونه سره د احکامو نه

شماره	محلوف علیه	مثال	حکم
۱	فعل دی او معصیت دی.	والله لا قتلن الیوم زیداً	حانث کیدل واجب دي
۲	ترک فعل دی او معصیت دی	والله لا اکلم الیوم أبی	حنث واجب دی
۳	فعل دی او واجب دی	والله لا صلین الیوم الظهر	پوره کول واجب دي.
۴	ترک فعل دی او واجب دی	والله لا اشربن الخمر	پوره کول ئې واجب دي
۵	فعل دی او غیر نه اولی دی.	والله لا اعطین الفقراء	په قسم باندې قسمي پاتې کیدل افضل دي
۶	ترک فعل او غیر نه اولی دی.	والله لا ضربن من ضربنی	// //// //
۷	فعل دی او د هغې غیر اولی دی.	والله لا أكلُ الیوم البطل	قسم ماتول افضل دي
۸	ترک فعل دی اود هغې غیر اولهی دی.	والله لا ضربن زوجتی شهراً	// // //
۹	فعل دی او محلوف علیه او غیر محلوف علیه دواړه برابر دي.	والله لا البسن هذا الثوب	قسم پوره کول افضل دي
۱۰	غیر محلوف علیه دواړه برابر دي	و الله لا أكل هذا الخبز	// // //

وَ لا كَفَّارَةَ عَلى كافِرٍ وان حَنِثَ مُسلِمًا وَ مَن حَرَّمَ مِلكَهُ لم يَحْرُمْ

او نشته کفاره په کافر باندې اگر که حانث شوی وي په حالت د اسلام کې، او چا چې خپل ملک حرام کړو نو هغه نه حرامیږي

وان استَبَاحَه كَفَّرَ كُلُّ حِلٍّ عَلَيَّ حرامٌ فهو على الطعامِ و الشرابِ

او که چیرې هغې لره مباح کړي نو کفاره به ورکړي، هر حلال څیز په ما باندې حرام دی، نو دا حمل کیږید خوراک او څښاک په څیزونو

و الفتوىٰ على انه تَبِين امرأتُهُ بلانيةٍ و من نَذَرَ نذرًا مطلقًا

باندې، او فتوی په دې ده چې ددهٔ ښځه بائنه کرځي بغير د نیت نه ، او چا چې نذر راومنلو نذر مطلق یا ئې معلق کړو

[۱] صحیحین عن عبدالرحمن بن سمرة، مسلم عن ابی هریرة ۱۲.

او مُعلّقًا بشرطٍ و وُجِدَ وَفَى به وَلو وَصَلَ بحلفه إنْ شَاءَ الله تعالى بَرَّ.

په يو شرط پورې او شرط بيا موجود شو نو هغه به پوره او که چيرې خپل قسم سره ئې ان شاء الله يو ځای کړو نو بري کيږي د قسم کولو نه.

د فقهي تشريح: قوله ولا كفارة الخ: که چيرې يو کافر قسم وکړي او مات ئې کړي نو په هغه کفاره نشته خواه که په حالت د کفر کې وي يا که په حالت د اسلام کې، امام مالک رحمه الله هم ددې قائل دی، دليل ئې د الله تعالى ارشاد دی (انهم لا أيمان لهم) دارنګ کافر د قسم اهل نه دی، ځکه چې د يمين بنياد د الله رب العزت د نوم په عظمت باندې دی، او کافر په خپل کفر باندې کلک ولاړ دی، او د الله تعالى د نوم بي حرمتي کوي، او د کفارې هم اهل نه دی، ځکه چې کفاره عبادت دی، امام شافعي رحمه الله او امام احمد رحمه الله فرمائي چې په کافر باندې مالي کافر واجب ده. دوی په ظاهر آيت وَإن نَكَثُوا أَيمانهم. باندې عمل کوي ليکن دا صحيح نه ده. ځکه چې دلته کې حقيقي يمين مراد نه دی، بلکه ظاهري يمين مراد دی، کوم چې کفار د خپل صداقت ظاهرولو لپاره خوري.

قوله كل حل علىّ الخ: که چيرې يو سړی دا ووايې كلّ حلّ علىّ نو دا تحريم په خوراک څښاک باندې حمل کيږي. ليکن ابوبکر محمد بن الفضل فقيه ابو جعفر، ابوبکر اسکاف، ابوبکر بن سعيد او د نورو علماؤ فتوی په دې ده چې د قائل مذکرو ښځه په يو طلاق سره بائنه ګرځي او که چيرې ډيرې ښځې ئې وي نو ټولې په يو طلاق سره بائني ګرځي او که چيرې د دريو نيت وکړي نو هم درې واقع کيږي او که چيرې دا ووايې چې ما د طلاق نيت نه دی کړی نو قضاءً به ئې تصديق نه کيږي، وجه دا ده چې د حلالو د تحريم غالب استعمال په طلاقو کې دی.

قوله ولو وصل الخ: يو سړي قسم وکړو چې والله زه به زيد سره خبرې نه کوم او متصل ئې ان شاء الله وويل نو د هغه قسم باطل شو. يعنې زيد سره په خبرو کولو سره نه حانثيږي. ځکه چې د نبي عليه السلام ارشاد دی من حَلف على يمين فقال ان شاء الله فلا حنث عليه (نسائي) مصنف د اتصال شرط لګولی دی، ځکه چې قسم نه پس منفصلاً انشاء الله ويل يمين نه باطلوي، ځکه چې دا مستلزم رجوع لره دي، او په ايمانو کې رجوع جائز نه ده. البته د حضرت ابن عباس رضى الله عنه نه روايت دی چې استثناء منفصله هم يمين باطلوي، ليکن دا روايت معمول بها نه دی، ځکه چې دې سره عقود شرعيه غير ملزم ګرځي. او هغه ظاهر البطلان دی.

(**عجیبه واقعه**): محمد بن اسحاق صاحب د مغازي منصور د وانقي عباسي خلیفه سره خپل کتاب المغازي لوستلو، اتفاقًا یوه ورځ امام صاحب هم موجود وو، محمد بن اسحاق خلیفه ته د امام صاحب خلاف غصه کولو لپاره، وویل چې دا شیخ (یعني امام ابو حنیفة) د استثناء منفصل په سلسله کې ستا د نیکه مخالفت کوي. خلیفه امام صاحب ته وویل چې ستا دا مقام دی چې زمونږ د نیکه مخالفت کوې. امام صاحب وفرمایل چې دا سړی (یعني محمد بن اسحٰق) ستا بادشاهي ختمول غواړي ځکه چې کله استثناء منفصله شي نو خلک به قسمونه خوري او ستا په لاس به بیعت کوي او چې کله بهر ته اوځي نو ان شاء الله به وایي او حانث به نه ګرځي خلیفه دا جواب ډیر خوښ کړو، او د خفګان د اظهار لپاره محمد بن اسحاق د خپل مجلس نه پاڅولو، او امام صاحب ته ئې وویل چې دا راز پټ وساته.

بَابُ الیمینِ فی الدُّخولِ والخُروجِ والسُّکنٰی والاتیانِ وغَیرِ ذٰلِكَ
باب دی په بیان د قسم خوړلو په داخلیدل کې په بهر وتلو کې، په اوسیدو کې، په راتلو کې، و غیر ذالک.
حَلفَ لا یَدخل بَیتًا لا یحنث بدخولِ الکعبةِ و المسجدِ و البِیْعَةِ و الکنسةِ
یو سړي قسم وکړو چې کور ته به نه داخلیږم نو نه حانثیږي په داخلیدو سره کعبې ته، مسجد ته، کلیې ته، کرجې ته، دیوډۍ
والدّهلیزِ وَ الظُّلّةِ و الصُّفةِ و فی دارًا بدخولِهَا خربةً و فی هٰذه الدّار یحنثُ
ته، اوچبو ترې او که چیرې ئې دارًا وویل نو نه حانثیږي هغې ته په داخلیدو سره پس دوانې نه، او که چیرې اشارې
و اِنْ بُنِیَتْ دَارًا اُخرٰی بعد الاِنهدامِ و ان جُعِلتْ بُستانًا
سره ئې معین کړو نو بیا حانث ګرځي اګر چې پس د ورانیدو نه بل کور جوړ شوی وي، او که چیرې باغ یا مسجد یا حمام
اَوْ مسجدًا اَو حَمّامًا اَو بیتًا لا کهٰذا البَیْتِ فهُدِمَ اَو بُنِیَ اُخرُ.
یا کمره ترینه جوړه کړی شوه نو بیا نه حانثیږي، لکه دا قول چې دې کور ته به نه داخلیږم او بیا هغه وران کړی شو یا بل کور جوړ کړی شو

د لغت وضاحت: **سُکنٰی** ځائې د اوسیدو. **بیعه** د عیسائیانو د عبادت ځائې. **کَنیه** د یهودو د عبادت ځائې. **دهلیز** ډیوډۍ. **ظله**: سورې. **صفه**: دالان، **خربه**: وران شوی. **بُستانٌ** باغ. **حَمّامٌ**: ګرم ځای.

د فقهي تشريح: قوله باب الخ: د يمين بنياد د يو څيز په كولو يا په پرېښودلو باندې قايم دى، دې وجې نه هغه افعال ذكر كوي چې كوم باندې يمين منعقد كېږي، بيا افعال هر كله چې غير محصور دي او ټول يادول نا ممكن دي، دې وجې نه په هغې افعالو باندې اكتفاء كوي، كوم لره چې فقهاؤ عام طور ذكر كوي، او هغه دوه قسمه افعال دي، يو حسيه، او بل شرعيه مصنف هر يو لره په جدا جدا بابونو كې ذكر كوي او په هغې كې افعال حسيه دخول دار وغيره مخكې ذكر كوي، څكه چې انسان لپاره استقرار فى المكان مسئله ضروري ده.

قوله حلف الخ: د يمين د مسئلو زده كول د ائمه په اصولو زده كولو باندې موقوف دى، دې وجې نه رومبي اصول معلومول پكار دي، د امام شافعي رحمه الله په نزد د يمين دارومدار په حقيقت لغويه باندې دى، او د امام مالك رحمه الله په نزد په استعمال قراني دى، او د امام احمد رحمه الله په نزد په نيت باندې دى، او زمونږ په نزد په عرف باندې دى. (په دې شرط چې حالف د متحمل لفظ نيت نه وي كړى) نو كه چيرې يو سړي دا ووائي **والله لا اهدم بيتا** نو د امام شافعي رحمه الله په نزد د جولا په كور ورانولو سره هم حانث ګرځي، څكه چې لغت كې د جولا كور ته هم بيت وئيلى كېږي، او كه چيرې څوك ووايې والله لا اكل لحمًا نو د امام مالك رحمه الله په نزد د مهي په خوراك سره هم حانث ګرځي: څكه چې قران كې د مهي نه په لحم سره تعبير شوى دى. **قال تعالى لتأكلوا منه لحمًا طريًا** كله چې دا خبره ذهن كې كيناسته نو اوس د يمين په مسئلو باندې پوهيدل اسان دي مثلاً يو سړى ووايې **والله لا أدخل بيتًا** نو زمونږ په نزد خانه كعبه ، مسجد كنيه وغيره ته په داخليدو سره نه حانثيږي، څكه چې عرف كې بيت هغې ته وايې چې هغه د شپې تيرولو لپاره وضع شوى وي او ذكر شوي مكانات د شپې تيرولو لپاره وضع شوي نه دي، او كه چيرې څوك داسې ووايې: **والله لا أدخل دارًا والله لا أدخل هذه الدار** نو د ورانيدو يا نړيدو نه پس يا د هغې په ځاى دويم كور جوړولو نه پس داخليدو سره هم حانثيږي څكه چې دار د ميدان نوم دى او په هغې كې تعمير د هغې صفت دى، **يُقال دارٌ عامرةٌ و دارٌ غامرةٌ** او د وصف اعتبار په غير معين كې وي نه چې په معين كې، نو په رومبي صورت كې دار نكره دى او غير معين دى څكه به عبادت معتبر وي، او وران كور ته په داخليدو سره نه حانثيږي. او په دويم صورت كې دار د اشارې په وجه سره معين دى. لهذا وصف غير معتبر دى، نو وران كور ته په داخليدو سره هم حانث ګرځي ، او كه چيرې كور نه باغ يا مسجد

وغیره جوړ کړی شو نو هلته په داخلیدو سره نه حانثیږي ، ځکه چې اوس د هغې نوم کور پاتې شي بلکه مسجد یا باغ نوم ئې شو.

والواقِفُ علی السَطحِ دَاخِلٌ و فی طاقِ البابِ لا و دوامُ اللُّبسِ

او ولاړ په چت په حکم د داخل کې دی، نه چې د محراب په دروازه کې داخلیدونکی، او همیشوالي د جامو

و الرکوبِ و السُّکنٰی کالاِنشاءِ لَا دوامُ الدخولِ لا یَسکنُ هٰذہ

اغوستلو یا د سورلئ کولو یا اوسیدلو په شان د انشاء دی، نه همیشوالی د داخلیدو او دا قول دقائل

الدَّارَ اَو البیتَ او المحلةَ فخَرجَ وبقی متاعُهُ و اهلُهُ

چې نه به اوسیږي په دې کور کې، یا کوټه کې یا محله کې او پخپله ووتلو او مال او اسباب او اهل و عیال یې

حنث بخلافِ المصر لا یَخرجُ فأُخرِجَ محمولاً بِأمرہ

باقي پاتي شو نو حانث کرځي په خلاف د ښار ئې نه ، او زه به نه ووځم بس هغه وویستلی شو چې حمل کړی شوی وو د هغه په

حَنِثَ و برضاہ لا بِأمرہ او مُکرَهًا لا

حکم سره نو حانث کرځي او که چیرې د هغه په رضا سره نه د هغه په حکم سره یا په زبردستئ سره وویستلی شو نو حانث نه کرځي

کلا یَخرَجَ اِلّا الی جنازۃٍ فخرجَ الیهَا ثم اَتٰی حاجةً لا یخرج

لکه دا قول چې زه به نه اوځم مګر جنازې لپاره ، پس ووتلو هغې لپاره، بیا څه ضرورت لپاره لاړو او داقول چې زه به نه

او لا یذهبُ الی مکّةَ فخرجَ یُرِیدُهَا ثمّ رَجعَ حَنِثَ و فی لا یَاتیها

او ځم یا به نه ځم مکې ته پس ووتلو چې د هغې اراده ئې کړې وه او بیا واپس شو نو حانث کرځي، او په دې صورت کې زه به نه داخلیږم

لا لَیاتِیَنّهُ فلم یَاته حتّٰی مَاتَ حَنِثَ فی اٰخر حیاته

مکې ته نو بیا حانث نه کرځي ، او دا قول چې زه به راځم مکې ته او رانغلو تر مرګه پورې نو حانث کرځي په آخر زندګي کې، ضرور راځم

لیاتِینّهُ ان استطاعَ فهی استطاعةُ الصحة و ان نَوی القدرةَ دُیِّنَ لا تخرجُ

به هغې ته که چیرې طاقت مې وشو نو طاقت د هغه صحت دی او که چیرې نیت ئې د قدرت وو نو دیانةً به منلی شي، دا قول چې ته به

الّا باذنِی شَرطٌ لکلِّ خروجٍ اِذنٌ بخلاف الّا اَنْ و حتّٰی و لو ارادتِ

نه اوځې مګر زما په اجازت سره نو د هر وارې وتلو لپاره به اجازت شرط وي په خلاف د الا ان نه او د حتی نه ، او که چیرې

الخروجَ	فقال	اِنْ	خرجتِ	او	ضرَبَ	العبدِ	ان ضربتَ

اراده د وتلو وه د ښځې نو خاوند وويل که چيرې ته ووتلې يا ئې د غلام وهل اراده وه او خاوند وويل که چيرې تا غلام ووهلو

تقيّد	به	كاجْلِسْ	فتغدَّ	عندي	فقال ان

نو دا به مقيد وي هم ددغې وتلو او د وهلو سره لکه يو سړي ووېل کينه، او ماسره ناشته وکړه نو هغه ويل که ما

تغدّيْتُ	و	مركبُ	عبدِهٖ	مركبُهٗ	ان	يَنْو	ولادَيْنَ	عليه.

ناشته وکړه، او سورلۍ د غلام د هغې سورلي که چيرې نيت ئې وکړو، او په غلام قرض نه وي

قوله والواقفُ الخ: د کور په چت ولاړ سړی په کور کې د داخليدو نکي په حکم کې دی، يعني که چيرې څوک دا ووائي چې والله لا أدخل داراً او بيا د کور په چت باندې ودريږي نو دمتقدمينو فقهاؤ په نزد حانث ګرځي، ځکه چې چت هم د کور په حکم کې دی، لکه څنګه چې د مسجد سطح پورې راتلو سره د معتكف اعتکاف نه باطليږي، او حائضې او جنب لپاره د مسجد په چت باندې ودريدل جائز نه دي.

فائده: د متأخرينو په نزد په چت باندې په ولاړې سره نه حانثيږي او دمتقدمينو په نزد حانثيږي. په دې دواړو قولونو کې بعضو حضراتو تطبيق کړی دی. چې د متقدمينو په نزد مراد د کور نه هغه کور دی چې د هغې څلور طرفو ته د پردې ديوال وي، او د متأخرينو په نزد هغه کور مراد دی چې په هغې پرې ديوال نه وي ليکن ابن کمال وئيلی دي چې اهل عجمو په عرف کې هغه ته داخل دا نه وئيلی کيږي لهذا حانث نه ګرځی او هم په دې باندې فتوی ده.

قوله دوامُ اللُّبسِ الخ: يو سړي وويل چې په خدائې مي دې قسم وي زه به دا جامه نه اغوندم حال دا چې همدغه جامه ئې اغوستې وه يا ئې دا وويل چې په دې سورلۍ باندې به نه سوريږم، او هم په دغه سورلۍ سور دی. يا ئې وويل چې زه به په دې کور کې نه اوسيږم او هم په دغه کور کې اوسيدو نو د قسم کولو نه پس يو ساعت جامه اغوستو او يو ساعت سورلۍ کولو سره حانث ګرځي. او که چيرې دا ئې وويل چې زه به دې کور ته نه داخليږم نو په لږ ساعت اوسيدو سره نه حانثيږي، وجه دا ده چې کومو افعالو کې اقتداء موندی شي په هغې کې د دوام فعل حکم هم هغه وي کوم چې د ابتداء فعل وي، لکه لکوب، لبس، سُکنٰی وغيره او په کومو کې چې امتداد نه وي لکه دخول، خروج، تطهير وغيره د هغې د دوام حکم د ابتداء فعل حکم نه وي.

قوله لا لیکن الخ: یو سړي وویل چې زه به په دې کور کې یا په دې مکان کې یا په دې محله کې به نه وسیږم، او بیا هغه ځائې نه ووتلو لیکن د هغه سازوسامان او اهل و عیال ټول هم دغه ځای کې وي نو حانث ګرځي ځکه چې عرفًا سکونت د هغه ځائې معتبر دی کوم ځائې کې چې اهل و عیال وي. مثلاً اهل بازار خلک ټوله ورځ بازار کې وي لیکن هغوی ته د هغه ځائې باشندان وئیلی شي کوم ځائې چې اوسیږي د هغوی اهل و عیال او کوم ځای چې د هغوی سازوسامان وي بیا د امام صاحب او د امام احمد په نزد پوره سامان منتقل کول ضروري دي. که چیرې یو میخ هم هغلته کې پاتې شو نو حانث ګرځي. د امام ابویوسف په نزد اکثر سامان منتقل کول کافي دي، محیط او فوائد ظهریه کې دي چې په دې فتوی ده. او که چیرې داسې قسم ئې وخوړو چې په دې ښار یا کلي کې به نه اوسیږم نو صرف د هغه وتل کافي دي اګر که د هغه اهل و عیال هم په دغه ښار کې نوي ځکه چې عرف کې هغه د دغه ښار بانشده نشي شمار کیدې.

قوله فأُخرِج الخ: یو سړي وویل چې زه به د مسجد نه نه وځم بیا هغه لره هم د هغه په حکم سره وویستلی شو نو حانث ګرځي. ځکه چې د مامور فعل د امر طرف ته مضاف کیږي، پس دا داسې ده لکه چې هغه پخپله وتلی وي، او که چیرې بغیر د حکم نه په زبردستئ سره وویستلی شي نو حانث نه ګرځي، اګر که هغه د اکراه نه پس په وتلو باندې راضي شوی وي دغه رنګ که چیرې هغه وویل چې زه به صرف جنازې لپاره اوځم، بیا هغه جنازې لپاره ووتلو او بیا د څه کار لپاره لاړو نو حانث نه ګرځي، ځکه چې کور نه په نیت د جنازې سره وتل شرط دي او هغه موجود دی، نو د بل ضرورت لپاره تلل د یمین لپاره مضر نه دي.

قوله لا یخرجُ الخ: یو سړي وویل چې زه به مکې طرف ته ځم یا به اوځم او بیا د مکې په ارادې سره بهر لاړو او مکې ته رسیدو نه مخکې واپس راغی نو حانث ګرځي، ځکه چې خروج اوذهاب لپاره مقصود پورې رسیدل شرط نه دي. په خلاف د لفظ د اتیان نه چې هغې لپاره وصول شرط دی، دې وجې نه لفظ ایتان استعمال لو په صورت کې نه حانثیږي، څو پورې چې هغه مکې ته نه وي رسیدلی.

قوله لا تخرجُ الا بإذنی الخ: یو سړي خپلې ښځې ته وویل لا تخرج الا باذني، نو هر ځل وتلو لپاره اجازت شرط دی، که چیرې ښځه یو ځل په اجازت سره ووتله او بیا بغیر د اجازت نه ووتله نو حانثیږي او که چیرې کلمه د حتی یالفظ د الا اَنْ ئې استعمال کړو نو هر ځل اجازت شرط نه دی،

وجه دا ده چې الا باذني کې باء د الصاق لپاره ده پس د خروج د صفت د اذن سره ملصق کیدل ضروري دي. قال تعالی و ما نتنزل الا بامر ربک اهلا یوجد نزول الا بهذه الصفة.

په خلاف د کلمې د حتی نه چې هغه انتهاء لپاره راځي ، پس یو ځل اجازت سره خروج متحق کیدو سره یمین انتهاً ته رسي. پاتې شوه کمله د الا ان نو هغه به کلمې د حتّی باندې محمول ده ځکه چې دلته کې د کلمې د ان مصدریه ګرځیدل متعذر دی.

سوال آیت یآ ایها الذین اٰمنو لا تدخلوا بیوت النبی الا ان یؤذن لکم. کې الا ان دی حال دا چې د نبي ﷺ کور ته د داخلیدو لپاره هر ځل اجازت شرط دی؟

جواب: هر ځل د اجازت شرط لګیدل آخري آیت نه ثابت دی یعنی ان ذلکم کان یؤذی النبی. سره ځکه چې ایذاء هر ځل داخلیدو کې موجود ده. یا دې وجې نه چې د غیر په ملک کې بغیر اجازته داخلیدل حرام دي.

قوله ومرکب الخ: د ماذون فی التجارت او د مکاتب غلام سورلي د هغوی د مالک نه ده لیکن دوو شرطونو سره یو دا چې په غلام باندې دین مستغرق نه وي، دویم دا چې حالف د دغی سورلئ نیت وي،نو که چیرې چا قسم وکړو چې د زید په سورلئ به سورلئ نه کوم، بیا د زید ماذون فی التجارة یا د مکاتب غلام په سورلئ باندې سور شو نو حانث نه ګرځي، او که چیرې دین مستغرق نه وي او حالف د دغې سورلئ نیت کړی وي نو حانث ګرځي.

بَابُ الیمینِ فی الاَکْلِ والشُّرب واللُّبسِ والکَلَامِ

باب دی په بیان د قسم کولو کې په خوراک کې په څښاک کې په اغوستلو کې او په خبرو کولو کې

لا یاکُلُ مِنْ هٰذِهِ النخلةِ حَنِث بِثَمرِها ولو عَیَّنَ البُسرَ و الرطبَ واللَّبنَ

خوراک به نه کوي ددې خورماوو نه نو حانث ګرځي د هغې په میوه خوراک سره، او که چیرې معین کړه کچه، پخه یا شیدو لره نو حانث

لا یحنثُ بِرَطبه و تمره و شیرازِه بخلافِ هٰذا الصبی و هٰذا الشَّابِّ و

نه ګرځي د هغې په پخو او لوچو او مستو سره په خلاف ددې ماشوم نه او ددې ځوان نه او ددې حمل نه، خوراک به نه کوم د کچه

هٰذا الحملِ لا یَاکُلُ بُسرًا فاکلَ رطبًا لم یَحنثْ و فی لا یاکل رطبًا اَو بُسرًا اَو لا یاکلُ

کجورو بیا ئې پښې وخوړې نو حانث نه ګرځي او په دې صورت کې چې نه به خورم پخې یا کچه ، یا به نه خورم نه پخې او نه کچه.

رطبًا وَ لا بُسرًا حنِثَ بالمُذَنَّب و لا يَحنث بشراءِ كِباسةِ بُسرٍ فيها رطبٌ فى
نو حانث کرځي په نيم پوخته خوراک سره، او حانث نه کرځي په اخيستلو د وږي د کچه کجورو سره چې په هغې کې څه پخې هم وي
لا يشترى رطبًا و بسَمكٍ فى لا يَأكل لحمًا و لحمُ الخنزيرِ
په دې صورت کې چې زه به ترو تازه کجورې نه اخلم او په خوراک د مهي سره په دې صورت کې چې زه به غوښه نه خورم
و الانسانِ و الكبدِ و الكرشُ لحمٌ و بِشحمِ الظهر فى شحمًا وَ
او غوښه د خنزير او د انسان او کليجي او لرې غوښه ده، او په وازده د شا خوراک سره په دې صورت کې چې وازده به نه خورم
باليَةِ فِىٓ لَحمًا اَو شحمًا و بالخبزِ فى هٰذا البُرِّ و فى هٰذا الدقيقِ حَنِث
او په لَم د ګډ خوراک سره په دې صورت کې چې غوښه يا وازده به نه خورم، او په ډوډئ خوراک سره په دې قسم غنمو کې او
بخبزهِ لا بسُفّهِ والخبزُ ما اعتادهُ بَلَدُهُ والشِواءُ
په دې قسم اوړوکې چې دا اُوړه به نه خورم، نوحانث کرځي دهغې په ډوډئ سره نه دهغې په اُوچو اُوړو خوراک سره، او ډوډئ
والطبيخُ عَلى اللّحمِ و الراسُ ما يُباعُ
هغه معتبره ده چې د کومې چې ښار ئې والا خلک عادتيان وي، او ويشيدلې او پخه شوې محمول ده په غوښه باندې او سر هغه دى
فى مصرِه وَ الفاكهةُ التفاحُ و البطيخُ و المشمِشُ لا العنبُ
کوم چې خرخيږي په دغه ښار کې، او ميوه مڼه دى، خربوزه ده او زردالو دى، نه چې انګور او آنار او تازه کجورې او بادرنګ
والرُّمَانُ والرّطبُ و القِثّاءُ والخيارُ و الإدامُ ما يُصطبَغُ به كالخلّ و الملحِ والزيتِ لا
او ترکاري هغه ده چې هغې کې ډوډئ لمده کرى شي لکه سرکه شوه، مالګه شوه او د زيتون تيل شو ، نه په غوښه
اللّحمُ والبيضُ والجبنُ والغداءُ الاكلُ مِن الفجرِ الى الظهرِ وَ العَشاءُ اِلىٰ
هګى او پنير . او غدا، دسحر نه تر ماسپښين پورې خوراک دى او عشا، تر نيمې شپې پورې خوراک ته وايي، او سحرورد نيمې شپې
نصفِ الليلِ والسحور منه الى الفجرِ
نه تر سحر پورې خوراک ته وئيلى شي.

د لغت وضاحت: **لبس:** اغوستل. **نخلة:** د کجورې ونه. ثمر: ميوه. **بسر:** کچه کجوره **رطب:** پخه ، تازه کجوره. شيراز: مسته. **مذنب:** نيم پوخته کجوره، چې يو طرف نه پخيدل شروع شوي وي.

كبَاسَةٌ: د كجورو غنچه. **كبد**: كليجي كرش، لرى **شحمٌ**: وازده. **إلية**: كُناتي. مراد ترينه د ګډ لم دی. سُفّوچ اوره خوړل. **شواء**: په معنی د مشوري سره، وريت شوی. **طبيخٌ**: په معنی د مطبوخ سره پخ شوی. فاكهة ميوه. تفاحٌ سيب. بطيخٌ خربوزه **مشمش**: زردالو. **عنبٌ**: انګور. **رُمّان**: انار. قثاء: بادرنګ. خيارٌ: د بادرنګ يو وړکوټی قسم دی. **ادامٌ**: ترکاري. يُصطبخ: اصطباخٌ: ترکاري جوړيدل. **خلٌ**: سرکه. **زيتٌ**: د زيتون غوړي. **بيضٌ**: هګی. **جبنٌ**: پنير.

د فقهي تشريح: قوله بابٌ الخ: وجه د مناسبت مونږه مخکې بيان کړې ده، البته يو څو خبرې د اصولو په توګه باندې معلومول پکار دي، دي لپاره چې د مسئلو په پوهيدلو کې څه مشکل نه وي (۱) د اكل معنی يو داسې څيز د خولې په لاره باندې خيټې ته رسول دي چې هغه د شخوند لائق نه وي لکه اوبه، شهد وغيره نو په پوزې سره اوبه راخکل او خيټې ته رسول ياد پيچکارۍ په ذريعې سره دوائي خيټې ته رسول شرب نه دي، او ذوق د يو څيز مزه معلومولو لپاره په خولې سره څکل دي. خواه که خيټې ته لاړ شي يا نه، پس په اكل، شرب او ذوق کې د عموم او خصوص مطلق نسبت دی، چې هر اكل او شرب ذوق دی ليکن هر ذوق اكل او شرب نه دی (۲). يمين چې کله يو داسې څيز ته مضاف وي چې د هغې حقيقت متعذر وي نو حتی الوسع به هغه په يو داسې څيز محمول کولی شي چې په عرف کې هغه د هغې محمل جوړ کړی شي. لپاره ددې چې د عاقل بالغ کلام لغو کيدو نه بچ شي، او که چيرې دا هم ممکن نه وي نو مجبوراً به کلام لغو ګڼلی شي (۳). که چيرې يمين په يو حاضر او معين څيز باندې يو خاص صفت سره وي نو بيا به کتلی شي چې دغه وصف يمين طرف ته داعي دی او که نه دی که چيرې وصف داعي وي نو هغه به معتبر وي که چيرې دا اصول دې ذهن کې کينول نو دمسائلو په فهم کې به څه مشکل نه وي. والله الموفق.

قوله لا يأكل الخ: يو سړي وويل لا اكل من هٰذه النخلة: نو د هغې د ميوې په خوراک سره حانث ګرځي، ځکه چې يمين شجرې ته مضاف دی او شجره ماکول نه ده لهٰذا د شجرې ميوه به مراد وي. او که چيرې داسې ئې وويل لا اكل من هذا البر او الرطب يا ئې وويل لا أشرَبُ من هٰذا اللبن نو په مخکې صورت کې په پخو کجورو خوراک سره او په دويم صورت کې په کجورو او په دريم صورت کې په مستو خوراک سره نه حانثيږي. ځکه چې بسريت، رطبيت صفاتو د قسم طرف ته داعي دی لهٰذا قسم به دغه صفاتو سره مقيد وي، او که چيرې داسې ئې وويل لا أكلم هٰذا الصبي او هٰذا

الشاب بيا ئې د هغه د بوډاوالی نه پس هغه سره خبرې وكړې نو حانث گرځي ځكه چې دا صفات باعث د يمين نه دی.

قوله لايحنث شراء الخ: يو سړي قسم وكړو لا اشترى رطبًا بيا ئې يوه غنچه كجورې واخيستې چې په هغې كې څه پخې كجورې هم وې نو حانث نه گرځي. ځكه چې خريداري (يعنى اخيستل) په يو ځل كيږي، او مغلوب د غالب تابع وي، البته كه چيرې داسې قسم ئې وكړو لا اكل رطبًا بيا ئې د نيم پخته كجورو سره څه پخې كجورې هم وخوړې نو بيا حانث گرځي ځكه چې د اكل وقوع په يو ځل سره نه وي، لهذا دلته كې به مغلوب د غالب تابع نه وي.

قوله ولحمُ الخنزير الخ: د خنزير غوښه او د انسان غوښه او كليجي او لړې په غوښه كې داخل دی، لهذا د هغې په خوراک سره حانث گرځي. كه چيرې هغه داسې قسم وكړو لا اكل لحمًا ليكن صحيح دا ده چې د خنزير او د انسان د غوښې په خوراک سره نه حانثيږي. ځكه چې د هغې خوراک متعارف نه دی.

قوله والفاكهة الخ: فاكهة (ميوه) هغې ته وائي چې هغه د غذا نه آسوده وي او په طريقې د خوند سره وخوړی شي كه وچه وي او كه لمده ، طعام نه مخكې وي او كه طعام نه وروسته ، پس منړه ، خربوزه. زردالو ، شفتالو ، انځر، بهين، امرود ، غزان، بادام ، پسته، عناب، ام، جامن ، سنگتره، گني ، خوږ ليمو او بيره وغيره ټول په ميوو كې داخل دي، ځكه چې خوند لپاره خوړی شي. لهذا ددې په خوراک سره حانث گرځي. كه چيرې قسم ئې كړی وي چې ميوه به نه خورم، او بادرنگ وغيره په ميوه كې داخل نه دي، بلكه سبزيانو او تركارو كې داخل دي لهذا ددې په خوراک سره نه حانثيږي، پاتې شو انگور، انار، او لمدې كجورې نو په دې كې اختلاف دی.
د صاحبينو او د ائمه ثلاثۀ په نزد دا هم په ميوو كې داخل دي بلكه په اعلى قسم ميوو كې شمار دی. او د خوند لپاره خوړلی شي، د امام صاحب په نزد دا په ميوو كې داخل نه دي، ځكه چې انگور او لمدو كجورې نه د غذا كار اخيستی شي او آنار په طريق د دوائي استعماليږي. نو د تفكه په معنى كې قصور راغلو ، او په حقيقت كې دا اختلاف په اختلاف عادتونو بناء دی، او دا مخكې ذكر شو چې قسم كې عرف معتبر دی، نو اهل عرف چې كوم ته ميوه وايې هغه ميوه ده او موجب د حنث ده.

قوله والادامُ الخ: ادام (ترکاري) هغه ده چې په هغې کې ډوډۍ لمده شي مطلب دا دی چې د بل تابع شي او وخوړلی شي، په دې معنی د بل سره ئې اختلاط وي، يا هغه عادةً جدا نه خوړلی کيږي، لکه سرکه ، د زيتون تيل، مالګه (چې هغه په خوله کې ويلي شي او مخلوط شي) پس غوښه، پنير، په ترکارۍ کې داخل نه دي ځکه په هغې کې ډوډۍ نه لمديږي، دا رنګ هغه مستقل طور سره نه خوړلی کيږي، د امام محمد او ائمه ثلاثو په نزد ادام هر هغه څيز دی چې هغه اکثر ډوډۍ سره خوړلی شي، هم په دې فتویٰ ده.

ان لَبِسْتُ اَو اَكلتُ اَو شَرِبتُ و نَوٰى مُعيّنًا لم يُصَدَّقْ اصْلاً و لو

که چيري ما جامه واغوسته يا مې خوراک وکړو يا مې څښاک وکړو او نيت مې د يومعين څيز وو نو تصديق به ئې بالکل نه کيږي ، او که چيري

زادَ ثوبًا اَو طعامًا اَو شرابًا دُيِّنَ .لا يشربُ مِنْ دِجلةَ على الكرع بخلاف

زياتی ئې کړه ثوبًا يا شرابًا يا طعامًا نو ديانةً به ئې تصديق کيدی شي، زه به د دجلې اوبه نه څښم نو په خوله څښل به مراد وي.

مِنْ مَاءِ دِجلةَ ان لم اَشربْ ماءَ هٰذا الكوزِ اليومَ فكذا و

په خلاف د هغې چې زه به د دجلې اوبه نه څښم ،که چيرې ونه څښم اوبه ددې کوزې نن ورځ نو داسې

لَا ماءَ فيهِ اَوْ كانَ فصُبَّ اَو اَطلقَ ولا ماءَ فيه لا يحنث

دي وي، حال دا چې هغې کې اوبه نه وي ، يا اوبه ترينه توی شوې وي يا هغه مطلق روايې او په هغې کې اوبه نه وي نو حانث

وانْ كانَ فصُبَّ حنِثَ حَلفَ ليَصْعَدَنَّ السَّمَاءَ اَو

نه کرځي ، يا که چيرې هغې کې اوبه وي او توی کړی شوې نو حانثيږي، قسم ئې وکړو چې زه به ضرور اسمان ته خيژم يا به

ليَقلِبنَّ هٰذا الحجرَ ذهبًا حنِثَ للحالِ لا يُكلِّمهُ فناداهُ

دا کاڼی سونا جوړوم ، نو فی الحال حانث کرځي، هغه سره به خبرې نه کوم بيا ئې هغه ته په اوده حالت کې اواز او

و هو نائِمٌ فأيقظَهُ اَو الّا باذنه فاذِنَ لهُ و لم يَعْلَمْ

او هغه ئې پاڅولو يا ئې دا وويل چې هغه سره به خبرې نه کوم مګر د هغه په اجازت سره هغه اجازت وکړو او معلومه ورته

فكلَّمَهُ حنِثَ لا يُكلِّمهُ شهرًا فهو من حين حلف

نه وه او هغه سره ئې خبرې وکړې نو حانثيږي زه به هغې سره يو مياشت خبرې نه کوم نومياشت د قسم د وخت نه شمار کيږي.

لا يتكلمُ فقرأَ القرآنَ اَو سَبَّح لمْ يحنثْ يومَ اُكَلِّمُ فلانًا فعل

زه به خبرې نه كوم او بيا قران كريم يا تسبيح ولوستلو نو حانث نه كرځي په كومه ورځ چې فلاني سره خبرې وكرم نو

الجديدَيْنِ فان نَوى النهارَ خاصَّةً صُدِّقَ و ليلةَ اُكَلِّمُهُ

په شپه او ورځ دواړو به حمل كيږي، كه چيرې نيت ئې د ورځې وو خاص نو تصديق به ئې كيږي،او په كومه شپه چې فلاني

على الليل اِنْ كَلَّمْتُهُ الا اَن يقدمَ زيدٌ اَو حتّٰى او الا

سره خبرې وكرم نوصرف به شپه به حمل وي كه چيرې ما هغه سره خبرې وكړې، مگر دا كه زيد راغئ يا هغه اجازت وكړي

اَن ياذنَ اَو حتى فكذا فكَلَّمَ قَبْلَ قدُومه اَو اِذْنه حنِثَ و بعدَهُمَا لا

نو داسې به وي، بيا ئې خبرې وكړې د زيد په راتللو يا اجازت نه مخكې نو حانث گرځي، او پس د دواړو نه حانثيږي

و انْ مَاتَ زيدٌ سَقط الحلفُ لا ياكلُ طعَامَ فلانٍ اَولا يدخل دارَهُ اَولا

كه چيرې زيد مړ شو نو قسم ختم شو، د فلاني خوراک به نه خورم يا به ئې كور ته نه داخليږم يا به د هغې جامې نه

يَلبسُ ثوبَهُ او لا يركبُ دابَّتَهُ اَو لا يُكَلِّمُ عَبدَهُ اِنْ اَشارهُ و زالَ

اغوندم يا به د هغه په سورلۍ نه سوريږم يا به د هغه غلام سره خبرې نه كوم، نو كه چيرې هغه اشاره وكړه او د هغه

مِلكُهُ ففعَلَ لا يحنثُ كمَا فى المتجدِّد و ان لم يُشِرْ لا

ملک زائل شو او بيا هغه دا كار وكړو نو حانث نه گرځي لكه په نوې اخيستلې شوې كې، او كه چيرې اشاره ئې نه وه كړې.

يحنث بعدَ زوالِ الملكِ و حنث بالمتجدِّدِ و فى الصديق

نو حانث نه گرځي پس د زوال د ملک نه، او حانث گرځي په نوې اخيستلې شوې سره، او د دوست اود ښځې په صورت كې

و الزوجَةِ حنث فى المُشار بعدَ الزوال و فى غير المُشار لا وحنث

حانث گرځي په مشار كې پس د زوال د ملک نه، او په غير مشار كې حانث نه گرځي، او حانث گرځي په نوي دوست

بالمتجدِّدِ لا يُكَلِّمُ صاحبَ هٰذا الطيلسَان فبَاعَهُ فكَلَّمَهُ حنث و الزَّمَانُ

او په نوې ښځې سره خبرې به نه كوم كوم دې څادر د مالک سره هغه ئې خرڅ كړو او خبرې ئې ورسره وكړې نو حانث

والحينُ و مُنكرُ هُمَا ستّةُ اشهرٍ و الدَّهرُ و الابد العُمرُ ودهرٌ

گرځي،او زمان او حين د معرفې او نكرې موده شپږ مياشتې ده او د الدهر او الابد د هغې موده تول عمر دى ، او د هر

مجمَلٌ	و	الایامُ	وایّامٌ	کثیرةٌ	والشُهورُ	و	السِنُونُ	عشرةٌ	و
مجمل دی او الایام او ایام کثیرة ، شهور، سنون نه مراد به لس وي او د هغې نکره اسماؤ نه									
مُنکرُهَا ثلثةٌ.									
مراد به درې وي.									

د فقهي تشریح: قوله ان لبستُ الخ: که چیرې څوک داسې ووایي ان لبستُ ، اکلتُ ، شربتُ فعبدی حرّ او څه خاص څیز ترینه مراد کړي مثلاً پئ، ډوډئ وغیره نو د هغه تصدیق به نه کیږي، نه دیانةً او نه قضاءً، ځکه چې نیت په ملفوظاتو کې معتبر وي، او دلته کې ملفوظ ذکر نه دی، البته که چیرې مفعول ذکر کړي، مثلاً ان لبستُ ثوبًا ، ان اکلتُ طعامًا ، ان شربتُ لبنًا فعبدی حرّ او بیا د څه خاص څیز نیت وکړي نو تصدیق به ئې کولی شي لیکن صرف دیانةً، ځکه چې په دې صورت کې هغه عام لفظ ذکر کړی دی، او هغه قابل تخصیص دی ، او په تخصیص د عام کې صرف دیانةً تصدیق کیږي.

قوله ان لم أشرب الخ: دې ځائې نه تر حنث پورې چې کومه مسئله ذکر ده د هغې څلور صورتونه دي، او د څلور واړو حکم په یوه قاعده باندې بناء دی، قاعده دا ده چې د طرفینو په نزد د یمین د انعقاد لپاره او د هغې بقاء لپاره شرط دادی چې په راتلونکې زمانه کې د قسم پوره کیدل ممکنوي، ځکه چې د قسم کولو نه مقصود بالذات هغه قائل ساتل او پوره کولدي،نو چې کوم صورت کې قسم پوره کول محال وي نو په هغې کې به حنث هم محال وي، ځکه چې ترک شئ د وجود شئ نه پس وي کله چې دا قاعده معلومه شوه نو اوس وګوره ، یو سړی وایې چې که چیرې زه ددې پیالې اوبه ونه څښم نو زما ښځه دې طلاقه وي نو ددې صورتونه (۱) یا خوبه کلام موقت وي یعني لفظ د الیوم به ذکر وي یا به غیر موقت وي. بیا د هر یو ه دوه صورتونه دي، یا خو پیالي کې د سره اوبه نه وي، یا خو اوبه پکې وي خو وروسته بیا توی کړی شوې، که چیرې کلام غیر موقت وي او پیالئ کې اوبه وي نو په دې صورت کې حانث ګرځي، ځکه چې د قسم کولو سره سمدستي اوبه څښل او قسم پوره کول ممکن وو لهذا یمین منعقد کیږي، او د اوبو تویولو نه پس قسم پوره کول محال شو ، دې وجې نه حانث ګرځي،او باقي درې صورتونو کې نه حانثیږي، ځکه د اوبو د عدم وجود په صورت کې ابتداءً او د اوبو تویولو په صورت کې بقاءد یمین شرط موجود نه شو.

قوله حلف الخ: آسمان ته ختل فی نفسه ممکن دي ځکه چې صعود د انبیاء علیهم السلام او صعود د ملائکو بالیقین ثابت دی، دارنګ په تحویل الهی سره کاڼړي سونا ګرځیدل د متکلمینو په نزد ممکن دي، لهذا یمین منعقد کیږي، لیکن حالف عادةً د صعود او تقلیب نه عاجز دی، ځکه فی الحال حانث ګرځي.

قوله لا یأکل الخ: یو سړي په اشارې سره تعین وکړو او وي ویل چې زه د زید دا خوراک نه خورم، بیا د زید ملکیت زائله کیدو نه پس خوراک وکړو یا د زوال ملک نه پس زید د بل خوراک مالک شو او حالف هغه وخوړ، نو حانث نه ګرځي، ځکه چې کله ده محلوف علیه معین کړو او د زید د ملک طرف ته ئې نسبت وکړو او قسم ئې وکړو نو د قسم انعقاد په هغه خاص معین خوراک باندې وشو، او چې کله ملک زائل شو نو یمین هم ختم شو، او که چیرې محلوف علیه طرف ته اشاره ونه کړي، صرف داسې ووایې لا أکل طعام زیدٍ، او بیا د زید ملکیت زائل کیدو نه پس ئې وخوري نو نه حانثیږي. او که چیرې پس د مجدد کیدو نه ئې وخوري نو بیا حانث ګرځي، هم په دې باندې دار، ثوب، دابه او د عبد صورتونه قیاس کړه.

قوله وفی الصدیق الخ: عمرو وویل چې زه به د زید دغه دوست سره یا د زید دغه ښځې سره خبرې نه کوم. هغې نه پس د زید دوست د هغه دښمن شو یا زید ښځې ته طلاق ورکړو او بیا عمرو هغوی سره خبرې وکړې نو حانث ګرځي، ځکه چې دلته کې مقصود بالذات شي پخپله هغوی سره خبرې نه کول دي، زید طرف ته اضافت خو صرف تعریف لپاره دی، او که چیرې بغیر اشارې ئې داسې وویل، زه به د زید دوست سره خبرې نه کوم او بیا د زید نسبت زائله شو نو بیا حانث ګرځي، ځکه چې دلته کې مقصود بالهجران زید او د هغه دوست دواړه کیدی شي، نو د احتمال د وجې نه حانث نه ګرځي، او که چیرې د زید چیرته نوی دوست جوړ شو یا چیرته هغه نوی واده وکړو او او عمرو هغوی سره خبرې وکړې نو حانث ګرځي.

قوله و الزمان الخ: یو سړي قسم وکړو او په قسم کې ئې لفظ د حین یا لفظ د زمان نکره یا معرفه ذکر کړه نو د احنافو او د امام احمد رحمه الله په نزد که چیرې ابتداءً په قسم سره شپږو میاشتو پورې هغه کار وکړو چې په کوم ئې قسم کړی وو نو بیا حانث ګرځي، د امام مالک په نزد یو کال باندې او د امام شافعی رحمه الله په نزد ادنی مودې یعنې یو ساعت باندې به حمل وي، زمونږ دلیل دا دی چې

لفظ د حين کله زمانه قليل لپاره مستعمليږي (۱) او کله څلويښت کالو (۲) لپاره، او شپږمياشتې متوسطه درجه (۳) ده، دې وجې نه دا به مراد وي، ځکه چې يو ساعت مکمل عدم تکلم په قسم کولو باندې موقوف نه دى، بغير د قسم نه هم متصور کيدى شي، او څلويښت کاله انتهائي اوږده موده ده، چې هغه عام طور باندې متصور نشي کيدى، نو متوسطه درجه متعين شوه، او لفظ د زمان د حين په معنى کې مستعمل دى، دې وجې نه د هغې هم دا حکم دى.

قوله والدهر الخ: که چيرې يو سړي لفظ د الدهر يا الابد معرفه استعمال کړه نو پوره عمر به مراد وي او که نکره ئې استعمال کړه نود صاحبينو او ائمه ثلاثو په نزد به شپږو مياشتو باندې حمل کيږي ليکن امام صاحب نه په دې کې هيڅ حد مروي نه دى، توقف دى، ځکه چې د لغاتو ادراک په قياس سره نه کيږي، او په عرف کې څه موده مقرر نه ده، لهذا توقف به کيدى شي ليکن فتوى د صاحبينو په قول ده.

قوله والايام الخ: که چيرې حالف لفظ د الايام او ايام کثيره يا الشهور يا السنون استعمال کړو، نو د امام صاحب په نزد په الايام کې لس ورځې په الشهور کې لس مياشتې، او په السنون کې به لس کاله مراد وي، ځکه چې د جمع معرف باللام اقصٰى استعمال د جمع طرف ته منصرف کيږي او هغه لس دي، ځکه چې په لغت د عربو کې د دريو نه تر لسو پورې جمع مستعمليږي يقال ثلاثة رجال الى عشرة، او لسو نه پس مفرد مستعلميږي يقال أحد عشرة رجلاً د صاحبينو په نزد په الايام کې هفته او په الشهور کيدولس مياشتې به مراد وي، ځکه چې معرفه معهود طرف ته منصوب کيږي، او معهود د هفتې ورځې او د کال مياشتې دي او په السنين کې هيڅ عدد معهود نشته، لهذا په مکمل عمر به حمل کيږي او که چيرې دا ئې نکره ذکر کړه نو هر يو به په دريو باندې حمل کيږي ځکه چې اقل د جمعې درې دي.

---

(۱) قال الله تعالى: ﴿فسبحان الله حين تمسون﴾، ۱۲.

(۲) قال الله تعالى ﴿هل أتى على الانسان حين من الدهر﴾ اهـ ۱۲.

(۳) قال الله تعالى: تؤتى أكلها حين باذن ربّها، د حضرت ابن عباس رضي الله عنه نه روايت دي چې د حين نه مراد شپږ مياشتې دى ۱۲.

بَابُ الیَمِینِ فِی الطَّلَاقِ وَالعِتَاقِ

باب دی په بیان د قسم کولو په طلاق ورکولو او ازادولو کې

إِنْ وَلَدْتِ فَأَنْتِ كَذَا حَنِثَ بِالْمَيِّتِ بِخِلَافِ فَهُوَ حُرٌّ

که چیرې ستا ماشوم پیدا شو نو ته دې داسې یې،نو حانث کرځي، په مړ ماشوم کیدو سره په خلاف د هغې نه چې دا ماشوم

فَوَلَدَتْ وَلَدًا مَيِّتًا ثُمَّ أُخْرَ حَيًّا عَتَقَ الْحَيُّ وَحْدَهُ

ازاد دی، او بیا د هغې ښځې مړ ماشوم پیدا شي او بیا وروسته ژوندی ماشوم ئې پیدا شي نو ژوندی ماشوم ازاد کرځي، او غلام

أَوَّلُ عَبْدٍ أَمْلِكُهُ فَهُوَ حُرٌّ فَمَلَكَ عَبْدًا عَتَقَ وَ لَوْ مَلَكَ عَبْدَيْنِ

چې زه ئې مالک شم نو هغه دې ازاد وي،نو بیا مالک شوم د یو غلام، نو هغه ازادیږي، او که چیرې د دوو مالک شو بیاد

مَعًا ثُمَّ أُخْرَ لَا يَعْتِقُ وَاحِدٌ مِنْهُمْ وَ لَوْ زَادَ وَحْدَهُ عَتَقَ الثَّالِثُ

د دریم نو یو هم نه ازادیږي او که چیرې لفظ د وحدهٗ ئې زیاتی کړو نودریم غلام ازادیږي

د فقهې تشریح: قوله باب الخ: ددې باب مسائل هم په یو څو اصولو پوهیدو باندې موقوف دي (۱) مصنف خپل کتاب الکافي کې ذکر کړي دي چې که چیرې د چا مړ ماشوم پیدا شو دغه مرده په حق خپل کې ولد نشي کیدی، لکه چې نه د هغه نوم کیښودی شي، نه هغه ته غسل ورکیدی شي، نو په هغه باندې د جنازې لمونځ کیږي، نه هغه وارث ګرځي ، نه د هغه په حق کې وصیت جاري کیدی شي، او نه هغه ازادیږي لیکن د بل په حق کې د هغه حکم د ولد حکم دی، یعنې که چیرې د هغه مور حامله وي نو په ولادت سره عدت تیریږي او هغه نه پس چې کومه وینه راځي، د هغې په ولادت باندې طلاق معلق وي نو طلاق هم واقع کیږي (۲) اول هغې ته وائي چې په هغه باندې د هغه غیر مقدم نه وي او آخر فرد لاحق ته وئیلی شي یعنې د آخر په مفهوم کې د فرد سابق وجود لازمي دی او وسط هغې ته وئیلی شي چې هغه د دوه برابر عددونو په مینځ کې وي (۳) چې کوم ذات په امور ثلاثه اول وسط او اخر کې چیرته د یو سره هم موصوف نه وي نو هغه به د بل سره نه موصوف کیږي مثلاً چې کوم ذات د أولیت سره موصوف وي هغه به اخرویت سره نه موصوف کیږي ځکه چې دې کې منافات دي، لیکن فعل کې دا خبره نشته، هغه اولیت او اخرویت سره موصوف کیدی شي دې اصولو نه پس مسائلو باندې ځان پوهه کړه ، یو سړي خپلې ښځې ته وویل ان ولدت فانت طالق او د هغې مړ ماشوم پیدا شو نو حانث ګرځي یعنې طلاق واقع کیږي ، ځکه چې مرده د غیر په حق کې

ولد دی، او که چیرې داسې ئې وویل ان ولدت فهو حرّ او دښځې یو ماشوم مړ او بل ژوندی پیدا شو نو صرف ژوندی ماشوم ازادیږي ځکه چې مرده په خپل حق کې ولد نه دی، د صاحبینو په نزد ژوندی ماشوم هم نه ازادیږي ، ځکه چې د مړ ماشوم په پیدائش سره یمین منحل شو، امام صاحب دا فرمائي چې ده حریت د مولود صفت گرځولی دی نو یمین به هم هغې پورې مقید کیدی شي صونًا لکلام العاقل عن اللغو.

قوله اول عبدٍ الخ: یو سړي وویل اول عبدا ملکه فهو حرّ بیا د یو غلام مالک شو نو هغه ازادیږي او دا ظاهره خبره ده، ځکه چې شرط بیا موجود شو لیکن که چیرې د دوو غلامانو مالک شو، بیا د دریم غلام مالک شو نو په دریو واړو کې یو هم نه ازادیږي، ځکه چې د ازادئ تعلیق د یو غلام په ملک باندې وو او هغه په دوو کې نه متحقق کیږي، او دریم غلام اول نه دی، لهذا یو هم نه ازادیږي، البته که چیرې هغه لفظ دوحده زیات کړو او داسې ئې وویل اول عبدا ملکه وحده نو دریم غلام ازادیږي ځکه چې هغه رومبنی غلام دی چې دی ئې مالک شوی دی.

و لو قَالَ اٰخرُ عَبْدٍ اَملِکهُ فهوَ حرٌّ فمَلک عَبدًا فماتَ لم یَعتِقْ
که چیرې وئې ویل آخري غلام چې زه ئې مالک یم هغه دې ازاد وي بیا مالک شو د یو غلام او هغه مړ شو نو نه ازادیږي.
فلو اشترٰی عَبدًا ثُمّ عَبْدًا فمَاتَ عتقَ الاخرُ مُذْ مَلک کلُّ عبدٍ
پس که چیرې یو غلام ئې واخیستو بیا ئې دویم او بیا مړ شو نو دویم ازادیږي د وخت د مالک کیدو نه هر هغه غلام چې
بشرنی بکذَا فهو حُرٌّ فبَشَرَهُ ثلٰثةٌ متفرقون عَتقَ الاولُ و ان
ماته خوشبخری راکړي هغه دې ازاد وي پس خوشخبري ورکړه دري غلامانو جدا جدا نو رومبنی ازادیږي او که چیرې
بَشَّرُوْهُ مَعًا عَتقُوا وَ صَحَّ شراءُ ابیْه للکفارةِ لا شراءُ
تولو په یو ځل خوشخبري نو تول ازادیږي او صحیح دې اخیستل د خپل پلار د کفارې لپاره نه اخیستل
مَنْ حَلفَ بعتقه و اُمِّ ولدہ انْ تسرَّیْتُ اَمةً فهی حرّةٌ
د هغه چې قسم وکړي په ازادی د ده او ام ولده هم ازادیږي که چیرې سرایت ئې وکړه وینزې ته

د فقهي تشریح: قوله ولو قال الخ: یو سړي وویل آخر عبد أملکه فهو حرّ، هغې نه پس د یو غلام مالک شو او بیا د هغه سړي انتقال وشو نو غلام نه ازادیږي ځکه چې د آخر لپاره د فرد سابق وجود ضروري دي ، او هغه دلته کې موجود نه دی او که چیرې هغه د یو غلام نه پس د دویم غلام مالک

شو او بیاوفات شو نو دویم غلام ازاد ګرځي ، او د هغه آزادي د ملکیت د وخت نه به معتبره وي، ځکه چې د هغه آخر کیدل د ملک د وخت نه ثابت شوي دي، لهذا د هغه عتق به هم د ملکیت نه ثابتیږي، نو که چیرې هغه د صحت په حالت کې د هغه مالک شوی وو نو د کل مال نه به ازادیږي، ګنې د ثلث مال نه ازادیږي، د صاحبینو او ائمه ثلاثو په نزد ازادي د وخت د مرګ نه معتبره وي، او د ثلث مال نه به ازادیږي په صحت کې ئې مالک شوی وي یا که په بیماری کې.

قوله کُلّ عبدٍ بشرني الخ یو سړي وویل کُلّ عبد بشرني بقدوم زید (مثلاً) فهو حرٌ بیا دریو غلامانو جدا جدا خوشخبري ورکړه نو ړومبی غلام ازاد ګرځي، ځکه چې بشارت هغه خبر ته ویلی شي چې هغه مسرور کړي او خوشحاله کوونکی وي او د هغې تحقق د اول نه وشو حدیث کې دي چې حضرت ابن مسعود د قران پاک تلاوت کولو چې د هغه په مخکې نبي علیه السلام سره د حضرت ابوبکر صدیق ﷺ او د حضرت عمر ﷺ تیر شو نو نبي علیه السلام ارشاد وفرمایلو چې څوک قران پاک په هغې منزل من السماء صفت سره لوستل غواړي نو هغه ته پکار دي چې دغه شان دې لولي لکه ځنګه چې حضرت ابن مسعود لولي. حضرت ابوبکر ﷺ حضرت ابن مسعود ﷺ ته ددې خوشخبري واوروله ، او هغې نه پس حضرت عمر ﷺ نو حضرت ابن مسعود ﷺ به فرمایل بشرني ابوبکر ﷺ و أخبرني عمر. نوده حضرت ابوبکر ﷺ ته مبشر او حضرت عمر ته مخبر وفرمایلو او که چیرې ددې غلامانو په یوځای خوشخبري ورکړه نو دریواړه ازادیږي ځکه چې د بشارت تحقق درې واړو نه وشو قال الله تعالی و بشروه بغلامٍ حلیم.

قوله وصَحّ الخ: دا مسئله د نیت په یوه قاعده بناء ده، قاعده دا ده چې کله نیت د عتق په علت اختیاري سره متصل وي او د معتق رقیت کامل وي نو دغه عتق سره کفاره ادا کیږي او که چیرې نیت متصل نه وي یا د معتق رقیت کامل نه وي نو کفاره نه ادا کیږي. اوس یو سړي د کفارې د ادا کولو په نیت سره خپل پلار واخیستو نو د هغه کفاره ادا کیږي. ځکه چې د عتق اختیاري علت اخیستل دي، او په وخت د اخیستلو کې نیت موجود دی نو کفاره ادا کیږي. د امام زفر ﷺ او ائمه ثلاثو په نزد کفاره نه ادا کیږي لیکن حدیث لن یجزئ ولد والده الا ان یجده مملوکا فیشتریه فیعتقه (۱). زمونږ مؤید دی او که چیرې هغه د یو غلام متعلق دا وئیلي وو که چیرې زه هغه واخلم نو هغه دې ازاد وي بیا هغه په نیت د ادا کولو کفارې واخلي نو کفاره نه ادا کیږي، ځکه چې دلته کې علت د

(۱) صحیحین عن ابي هریرة ۱۲.

عتق يمين دى، او اخيستل دعتق شرط دي، نو نيت د شرط سره متصل شو، نه چې د علت د عتق سره، حال دا چې علت د عتق سره ئې اتصال ضروري دى، دغه رنګ كه چيرې يو سړي د بل چا وينزي سره نكاح وكړه، او بيا ئې هغې ته وويل كه چيرې زه تا واخلم نو ته دې زما د قسم د كفارې د طرف نه ازاده يې، هغه نه پس ئې هغه واخيسته نو هغه ازاده ګرځي، ليكن كفاره نه اداء كيږي ځكه چې د استيلاؤ په وجه سره د هغې حريت متحقق شو نو د هغې مملوكيت ناقص شو، حال دا چې د كفارې لپاره د معتق كامليت ضروري دي.

صَحَّ (۱) لو فى ملكه و الّا لا كلُّ مملوكٍ لى فهو حرٌّ عَتَقَ (۲)
نو دا صحيح ده كه چيرې د هغه په ملک كې وي ګني نه صحيح كيږي زما هر غلام دې ازاد وي نو د هغه ټول غلامان
عبِيدَهُ و امّهاتُ اولادِهِ و مُدَبَّرُوه لا مكاتبوه (۳) هٰذه طَالِقٌ او هٰذه
او امهات الاولاد او مدبرين ازاديږي نه د هغې د مكاتبين ، دا ښځه دې طلاقه وي يا دا اودا نو طلاقيږي آخري
و هٰذِهِ طُلِّقتِ الاخيرةُ و خُيِّرَ فى الأولَيَيْن و كذا العتقُ و الإقرارُ.
ښځه ، او د ړومبنو دوو ښځو متعلق خاوند ته اختيار دى، هم دا حكم د ازادى او د اقرار ادى.

د فقهې تشريح: قوله هٰذه طَالِقٌ: يو سړي خپل دريو ښځو طرف ته اشاره وكړه او وئې ويل دا دې طلاقه وي يا دا، أو دا نو وروستنى ښځه طلاقه ګرځي، او د دوو متعلق خاوند ته اختيار دى چې كومې لره غواړي هغې ته دې طلاقه وركوي ځكه چې خاوند. په ړومبنو دوو ښځو په مينځ كې كلمه د او داخله كړې ده، چې هغې د مذكور دوو كارونو كې د يو لپاره وي، او د دريم عطف ئې په دغه دوو كې په هغه ښځه باندې كړى دى په كومې چې طلاق واقع شوې وي، نو مطلب دا شو چې تاسو دوو ښځو كې يوه مطلقه ده او دا مطلقه ده. دغه رنګ عتق او اقرار دى مثلاً يو سړي خپل دريو غلامانو ته وويل چې دا غلام ازاد دى يا دا اودا، نو دريم غلام ازاديږي او په دوو كې ورته د عتق د

(۱) اى لو قال ان تسريت أمة فهى حرة فتسرى امة كانت فى ملكه يوم حلف عتقت لان المين انعقدت فى حقها لانّها تتناولُ المملوكة فى ذالک الوقت على العموم لكون الامة نكرة فى سياق الشرط و هو كالنفى ۱۲ . زيلعي.

(۲) لان المطلق ينصرف الى الكامل و ملكهُ لهٰؤلاء كامل لانه يملكهم رقبةً و يداً ۱۲ زيلعي.

(۳) اى لا يعتق مكاتبوه بهٰذا اللفظ لان الملک فيه ناقص لانه خرج من ملک المولى يداً و لهٰذا لا يملک المولى اكسابه و ليس له ان يطأ مكاتبة ۱۲ زيلعي.

تعیین اختیار دی، یا یو سړي وویل چې د زید په ما باندې زر درهمه دي یا د خالد او د محمود ، نو پنځه سوه درهمه د محمود لپاره دي، او په باقي پنځه سوو کې اقرار کوونکي ته اختیار دی که غواړي، زید لپاره دې اقرار وکړي او که غواړي نو د خالد لپاره دې کړي.

باب اليمين في البيع والشراء والتزويج والصّلوة والصوم وغيرها
باب دی په بیان د قسم کولو په بیعه، شراء، نکاح او د لمونځ او روژه وغیره نیولو کې
ما يحنث بالمباشرة لا بالأمر البيع والشراء و الاجارة
په کومو امورو کې چې پخپله کولو سره حانث ګرځي نه په حکم کولو سره هغه دا دي اخیستل خرڅول ، په مزدورۍ
والاستيجار و الصّلح عن مال والخصومة و ضرب الولد
ورکول ، په مزدورۍ اخیستل او صلح په عوض د مال سره تقسیم کول ، د مقدماتو جواب ورکول هلک وهل
و ما يحنث بهما النكاح والطلاق والخلع و العتق والكتابة و الصلح
او په کومو کې چې په دواړو سره حانثیږي هغه دا دي نکاح ، طلاق ، خلع، ازادي ، کتابت په قتل عمد سره صلح
عن دم عمد و الهبة والصدقة والقرض و الاستقراض و ضرب العبد و الذبح
کول، هبه، صدقه، قرض ورکول، او قرض اخیستل، غلام وهل ، ذبح کول کور وغیره جوړول ، ګنډل ، امانت
و البناء و الخياطة والايداع و الاستيداع و الاعارة و الاستعارة و قضاء الدّين
سپارل، امانت اېښودل، په عاریت سره ورکول، په عاریت سره اخیستل، قرض ورکول، قرض وصولول، جامې
و قبضه والكسوة والحمل.
ورکول څه څیز پورته کول

د فقهي تشریح: قوله باب الخ: ددې باب مسئلې زده کولو لپاره دا معلومول ضروري دي چې عقود په درې قسمه دي اول هغه دي چې د هغې حقوق د عاقد او مباشر سره متعلق وي (په دې شرط چې عاقد کې اهلیت وي) لکه اخیستل، خرڅول ، او اجاره وغیره دویم هغه دي چې د هغې حقوق د عاقد سره متعلق نه وي بلکه څه لپاره چې عقد شوی دي، هغې سره متعلق وي لکه نکاح، طلاق، عتاق، کتابت وغیره. دریم هغه دي چې هغې کې حقوق نه وي لکه اعاده او ابراء وغیره، په اول قسم کې په خپله کولو سره حانث ګرځي ، او په ثاني او ثالث کې په خپله کولو سره هم حانث ګرځي او د

مامور په کولو سره یعني د وکیل په کولو سره هم حانث ګرځي.

قوله ما یحنث الخ: په کومو عقودو کې چې حالف په خپله کولو سره حانث ګرځي نه په حکم کولو سره ، هغه عقود دا دي، بیع ، شراء ، اجاره اهنو که چیرې یو سړي قسم وکړو چې زه به بیع نه کوم، بیا هغه بذات خود بیع وکړه نو حانث ګرځي، او که چیرې د هغه وکیل بیع وکړه نو بیا حانث نه ګرځي ځکه چې د فعل وجود د وکیل نه شوی دی حقیقةً هم او حکمًا هم ، هم دا وجه ده چې د هغې حقوق وکیل طرف ته راجع کیږي، نو د مؤکل طرف نه فعل د بیع نه حقیقةً موجود شو او نه حکمًا لهذا حانث نه ګرځي، په دې باقي عقود قیاس کړه.

قوله و ما یحنث بهما الخ: او هغه عقود چې په هغه کې په ذاتي مباشرت سره هم حانث ګرځي او د مامور په کولو سره هم هغه دا دي نکاح، طلاق، خلع الخ نو که چیرې یو سړي قسم وکړو چې نکاح به نه کوم ، بیا ئې نکاح وکړه نو حانث ګرځي، خواه که په خپله ئې نکاح کړي وي یا دده یو وکیل د هغه عقد کړی وي، و علی هذا القیاس بقیة العقود.

فائده: صاحب د بحر هغه عقود چې په هغې کې حالف په خپل فعل او د وکیل په فعل دواړو سره حانث ګرځي، څلور څلویښت ئې ښودلي دي دوه ویشت دا دي کوم چې کتاب کې ذکر دي، یعنې نکاح، طلاق الخ او باقي دا دي: هدم، قطع، قتل ، شرکت، ضرب، زوجه ، ضرب ولد صغیر، تسلیم، شفعه، اذن، نفقه، وقف ، قرباني، حبس ، تعزیر (په نسبت سره حاکم ته) حج، وصیت حواله، کفاله، قضاء، شهادت، اقرار، تولیت، و فی النهر عن شارح الرهبانیة ان والده نظم مالا حنث فیه بفعل الوکیل مشیراً الی حنثه فیما بقی فقال بفعل وکیل لیس یحنث حالف: بیع شراء صلح مال خصومة: اجارة استیجارٌ الضرب لا تبه کذا قسمة و الحنث فی غیر الثبت.

و دخولَ اللام علی البیعِ و الشراءِ والاجارةِ و الصیاغةِ و الخیاطةِ والبناءِ کاِنْ بِعْتُ
او داخلیدل د لام په بیع او شراء ، اجاره، زرګري ، دزري توب، او بنا. باندې لکه داسې ووایې که چیرې زه خرڅه کړم ستا
لکَ ثوبًا بالاختصاصِ الفعل بالمحلوف علیه بأنْ کانَ بامره کانَ مِلکُهُ اَو
لپاره کپړه، د وجې د اختصاص د فعل نه په محلوف علیه پورې په دې معنی سره چې هغه دده په اجازت سره وي خواه که د هغې مالک
لا و علی الدخولِ و الضرب و الاکْلِ والشربِ والعینِ کاِنْ بِعْتُ ثوبًا لکَ
وي او که نه وي، او په دخول په ضرب، اه اکل ، په شرب او په عین شي باندې بلکه دا که ما خرڅه کړه کپړه ستا ، د هغې

لاختصاصِهَا به بأن كانَ مِلكُهُ أمرهُ أو لَا وَ اِنْ نوٰى غيرَهُ
څیز د اختصاص لپاره وي، په دې معنی سره چې هغه دده ملک وي حکم نې کری وي یا نه، او که چیرې دې نه علاوه
صُدِّقَ فيمَا عليه ان بعتُهُ او ابتعتُهُ فهو حرٌّ
نیت وکړي نو تصدیق به ئې کیدی شي په صورت د نقصان کې که چیرې هغه مې خرڅ کړو یا مې واخیستو نو هغه دې ازاد وي
فعَقدَ بالخيارِ حنثَ و كذا بالفاسدِ والموقوفِ لا بالباطل اِنْ لم
بیا ئې معامله خیار سره وکړه نو حانثیږي، دارنګ بیع فاسده او موقوف ده، نه چې باطله ، که چیرې ما خرڅ نه کړه نو
أبِعْ فكذا فأعتقَ أو دبَّرَ حنث (۱) قالتْ تزوجْتَ علىّ فقال كلُّ
داسې دې وي بیا ئې ازاد کړو یا ئې مدبر کړو نو حانث ګرځي ښځې وویل چې تا په ما باندې نکاح کړې ده، خاوند وویل
امرأةٍ لى طالقٌ طُلِّقَتِ المُحلِّفَةُ (۲) على المشىُ اِلى بيتِ اللهِ او اِلى الكعبةِ
زما هره ښځه دې طلاقه وي نو د قسم کوونکې ښځه هم طلاقیږي په ما باندې پیدل تلل دي بیت الله شریف ته یا کعبې ته نو
حجٌّ او اعتمرَ مَا شيًا فإنْ ركِبَ أراقَ دمًا بخلافِ الخروج (۳) او الذهاب الى
حج یاعمره به کوي پیدل، نو که چیرې سور شو نو دم پرې لازم شو په خلاف د وتلو نه یا د تلو نه بیت الله شریف ته یا د
بَيْتِ اللهِ تَعَالٰى او المشىِ اِلى الحرم او الصَّفا و المروةِ عبدُهُ حُرٌّ ان لم يَحجَّ
پیدل تلو نه حرم محترم یا صفا او مروه ته، زما غلام دې ازاد وي که چیرې ما دې کال ته حج ونه کړو نو دوو
العَامَ فشهدا بنحره بالكوفةِ لم يَعتق و حنث فى لا يصومُ (۴)
کسانو په کوفه کې دده په قربانی کولو باندې ګواهي وکړه نو نه ازادیږي او حانث ګرځي په دې کې چې روژه به

---

(۱) لتحقق العجز عن البيع لفوات محله ۱۲ .

(۲) لان ذكر كلمة كُلّ دالٌ على ان مراده العموم فيعمل بعموم اللفظ دون خصوص السبب ۱۲ . عناية.

(۳) حيث لا يلزمه شئ لانه التزام الحج و العمد بهذه العبادات غير متعارف ۱۲ زيلعي.

(۴) اى لو حلف لا يصوم فنوى الصوم و امسک ساعةً ثم افطر يحنث لوجود الشرط اذا الصوم هو الامساک عن المفطرات على قصد التقرب و قد وجد لان الشارع فى الفعل يسمىٰ فاعلاً ۱۲ زيلعي.

بصَوْمِ سَاعةٍ بنيَّةٍ و في صومًا اَويومًا بيومٍ وَ في لا يُصَلِّي

نه نيسم د يو ساعت روژه په نيت كولو سره او په يوه ورځ روژه يا يوه روژه قسم كولو كې توله ورځ روژه

بركعةٍ و في صلوٰةً بشفعٍ انْ لبستُ من

نيولو سره او په دې كې چې لمونځ به نه كوم يو ركعت كولو سره او د پوره لمانځه په قسم كولو كې په دوو ركعتونو كولو سره كه

غزلكِ فهو هَدْيٌ فملكَ قُطنًا فغزلته و نَسَجَ و لبِسَ

چيرې ما واغوسته ستا د جوړه شوي جامو نه هغه دې هديه وي، بيا مالک شو هغه د مالوچو او ښځې هغه تنسته كړه او بيا ئې جوړه

فهو هَدْيٌ و لُبْسُ خاتمِ ذهبٍ اَو عِقْدِ لؤلؤٍ لُبْسُ حُلِيٍّ

كړه او هغه ئې واغوسته نو هغه هديه گرځي او اچول د سرو زرو د گوتې يا د ملغلرو د هار د سرو زرو اغوستل دي نه چې د سپينو

لا خاتمِ فضةٍ لا يجلسُ علَى الارضِ فجَلسَ علٰى بسَاطٍ او حصيرٍ او لا يَنامُ

زرو گوته، زه به نه كينم په ځمكه باندې او بيا كيناستو په درې باندې يا تكورې باندې، يا به نه اوده كيږم په دې فرش باندې بيا يې

على هٰذا الفراشِ فجعَل فوقه فراشًا اُخرَ فنامَ عليه او لا يجلسُ على هٰذا السريرِ

د هغې دپاسه بل فرش واچولو او په هغې ويده شو يا به نه كينم په دې تخت باندې او بيا ئې هغه دپاسه بل تخت واچولو نو حانث

فجعَل فوقهٗ سريرًا اُخرَ لا يحنثُ ولو جُعِلَ عَلَى الفراشِ قِرَامٌ اَو على السرير بِسَاطٌ او حصيرٌ حنِثَ

نه گرځي او كه چيرې واچولی شي په فرش باندې پالنګ پوش يا په تخت باندې درئ يا تكورى نو حانث گرځي.

د لغت وضاحت: صياغة زرگرتوب. محلفة قسم كوونكي ښځه مَشْيٌ پيدل تلل شَفْعٌ دوه ركعته غَزْلٌ تنسته كول قُطْنٌ مالوچ نَسْجٌ بوڼل. عِقْدٌ هار. لؤلؤ ملغلرې حُلِّي زر. خَاتَم گوته بِسَاطٌ درئ حصيرٌ تكورى. پوزى. قِدَامٌ سهر. اونقشه داره پرده پالنګ پوش.

د فقهي تشريح: قوله و دخول اللّام الخ: دا يو قاعدې كليې طرف ته اشاره ده، چې په هغې باندې ډيرې مسئلې متفرع كيدى شي، قاعده دا ده چې په كومو افعالو كې نيابت جاري كيدى شي لكه بيع شراء، اجاره، صياغت، خياطت او بناء، نو په دغه افعالو باندې د لام د اختصاص داخليدل تقاضا د توكيل كوي، لپاره ددې چې محلوف عليه سره ددې د اختصاص فائده وركړي، خواه كه د هغه ملكيت وي او كه نه وي او وجه دا ده چې د لام اختصاص لپاره وضع دي، او اختصاص امر نه بغير نشي متحقق كيدى، او امر توكيل فائده كوي مثلاً يو سړې قسم وكړو ان بعتُ لک ثوبًا

فعبدی حرٌ بیا د مخاطب د حکم نه بغیر ئې کپړه خرڅه کړه نو حانث نه ګرځي خواه که مخاطب د هغې مالک وي او که نه وي ځکه چې دلته کې توکیل موجود نه شو ، او که چیرې مخاطب خپل مملوک یا غیر مملوک کپړه د خرڅولو لپاره متکلم له وکیل جوړ کړو او بیا متکلم مذکور هغه خرڅه کړي، نو حانث ګرځي، ځکه چې توکیل موجود شو ، دا تفصیل هغه وخت دی کله چې لام په داسې یو فعل باندې داخل وي چې په هغې کې نیابت جاري کیدی شي او که چیرې په داسې فعل داخل وي چې په هغې کې نیابت نه صحیح کیږي لکه دخول، ضرب او اکل، شرب وغیره مثلاً داسې ووایې ان دخلت لک داراً فعبدی حرٌ یا لام په عین شئ یعنې ذات باندې داخل وي مثلاً داسې ووایې ان بعت ثوباً لک فعبدی حرٌ نو دخول د لام تقاضا د ملک کوي، یعنې ددې خبرې چې مخاطب د محلوف علیه مالک وي خواه که د هغه حکم وي یا نه وي، خلاصه دا شوه چې لام په هر حال کې اختصاص فائده کوي لیکن په اول صورت کې دا ختصاص أمر طرف ته راجع دی، او په دویم صورت کې ملک طرف ته ،نو که چیرې داسې ووایې ان بعت ثوباً لک فعبدی حرٌ یا ووایې ان اکلت طعاماً لک فعبدی حرٌ او بیا د مخاطب مملوکه کپړه خرڅه کړي یا د هغه خوراک وکړي نو حانث ګرځي او که چیرې د هغه غیر مملوکه کپړه خرڅه کړي نو حانث نه ګرځي.

قوله وان نوی غیره الخ: او که چیرې متکلم په ذکر شوو دواړو صورتونو کې د ظاهر کلام د تقاضا خلاف نیت وکړي نو په کوم صورت کې چې په هغه باندې سختي لازمیږي په هغې کې به دیانةً او قضاءً په دواړو اعتبارو سره د هغه تصدیق کیدی شي او په کوم صورت کې چې هغه ته نفع وي په هغې کې به صرف دیانةً د هغه تصدیق کیدی شي نه قضاءً مثلاً په اولني صورت کې هغه د مخاطب مملوکه جامه د هغه د حکم نه بغیر خرڅه کړه او په اختصاص سره ئې د ملک نیت وکړو نو حانث ګرځي، که چیرې ده د اختصاص ملک نیت نه وي کړی نو نه حانث کیدو ، یا په دویم صورت کې ئې د مخاطب مملوکه جامه د هغه په اجازت سره خرڅه کړه او په اختصاص سره ئې نیت د امر وکړو نو حانث ګرځي، که چیرې د اختصاص أمر نیت ئې نه وي کړی نو نه حانث کیدو، دا دواړه مسئلې بر عکس کولو سره د تخفیف صورت جوړیږي. فافهم.

قوله ان بعته الخ: مالک د خپل غلام متعلق وویل ان بعته فهو حر بیا ئې هغه په شرط خیار سره خرڅ کړو نو حانث ګرځي ځکه چې په بیع بشرط الخیار سره مبیعه د بائع د ملک نه نه اوځي، پس په وخت د وجود د شرط کې د هغه ملکیت موجود دی، او شرط د عتق یعنې بیع موجود شوه. لهذا حانث ګرځي دغه شان که چیرې یو سړي د بل چا د غلام متعلق وویل ان اشتریته فهو حرٌ بیا ئې هغه

بشرط الخيار واخيستو نو هغه هم حانث گرځي ځکه چې دلته کې د وجود شرط په وخت کې د مشتري ملک موجود دی، د صاحبينو په نزد خو ځکه چې د هغوی په نزد مشتری د مبيعې مالک گرځي او د امام صاحب په نزد اگر چې مشتری مالک نه گرځي ليکن دده په نزد هم حانث گرځي، ځکه چې دلته کې مشتري عتق معلق کړی دی، او په وخت دوجود د شرط کې معلق هم د منجز په شان وي، نو گويا چې د هغه د اخيستو نه پس ئې داسې وويل أنت حرٌ نو د هغې په ذريعه سره هغه د عقد شراء نافذ کوونکی شو او ملک ثابت شو. دغه شان په بيع فاسد ، شراء فاسد او بيع موقوف کې هم حانث گرځي. ځکه چې بيع فاسده شرعًا بيعه ده چې هغې سره بعضې احکام ثابتيږي او بيع موقوف هم بيعه ده اگر چې هغه نه نافذ کيږي، ليکن د بيع باطله په صورت کې نه حانثيږي ځکه چې هغه بيعه نه ده نه حقيقةً او نه حکمًا.

قوله عبدٌ حُرٌّ الخ: يو سړي خپل غلام ته وويل ان لم أحج هذا العام فانت حرٌ هغې نه پس مالک ووائي چې ما دا کال حج وکړو او غلام د هغې نه انکار کوي اودوه گواهان ئې پيش کړه او هغوی گواهي ورکړه چې ده په کوفه کې قرباني کړې وه او ظاهره خبره ده چې کوم سړي د اختر په ورځ په کوفه کې قرباني وکړه هغه دغه کال حج نشي کولی ، ځکه چې کوفه د کعبې نه ډيره لرې ده ليکن دا گواهي نه قبليږي ځکه چې گواهي د حج په نفي ده او د نفي گواهي نه قبليږي.

سوال: د نفي گواهي هغه وخت نه قبليږي کله چې د شاهد علم په هغه محيط نه وي گني بيا خو قبليږي او دلته کې خو د شاهد علم محيط دی، ځکه چې کوفه کې د قربانۍ په ثبوت د حج منتفي کيدل يوه ښکاره خبره ده؟

جواب: د بينات مشروعيت اثبات لپاره وي نه چې نفي لپاره، ځکه خو شهادت مسترد کيږي،و لا يفرق بين نفي و نفي تيسيراً للامر و دفعًا للحرج.

بَابُ اليمين فى الضرب والقتلِ وغيرِ ذٰلك

باب دی په بيان د قسم کولو کې په وهلو کې، په قتل وغيره کې

ضربتُک و کسوتُک و کلمتُک و دخلتُ عليک تُقيّد بالحيٰوة

که ته مې ووهلې يا مې تا ته جامې واغوستلې يا مې تا سره خبرې وکړې يا مې دخول وکړو په تا باندې، نو دا افعال مقيد

بخلافِ الغُسْلِ و الحمَلِ والمسِّ لا يضربُ اِمرَأتَهٗ فمدَّ شعرَها

گرځي په ژوند پورې په خلاف د غسل او د حمل او د مس نه، خپله ښځه به نه وهم بيا ئې د هغې ويښته راښکه

أَو خَنَقَهَا أَو عَضَّهَا حنث ان لم اقتُل فلانًا فكذا و هو

بيا ئې ورته مرئ خفه کړه يا ئې وچيچله ، نو حانث کرځي که چيرې فلاني مې قتل نه کړو نو داسې به وي حال دا چې

مَيِّتٌ اِنْ عَلِمَ به حَنِثَ (۱) و الّا لَا مَا دونَ الشهرِ قريبٌ

هغه وفات شوى وو نو که چيرې علم ورته وو نو حانث کرځي او که چيرې علم ئې نه وو نو بيا حانث نه کرځي، کم د مياشتې نه قريب

و هو مَا فوقه بعيدٌ لَيَقْضِيَنَّ دَيْنَهُ اليومَ فقضَاهُ زيوفًا أَو

دى او يوه مياشت د هغې نه زيات بعيد دى ، ضرور به د فلاني قرض نن ورخ خلاصوم، بيا ورته کهوټه روپۍ ادا کړې يا

بنهرجة او مستحقةً (۲) بَرَّ و لو (۳) رصَاصًا أَو سَتُّوقَةً لَا و البيعُ به قضاءٌ

داسې روپۍ چې هغه نه چليدلې ، يا د بل چا حق وو نو قسم نه برې کرځي،او په عوض د قرض سره خرڅول ادا کول دي

لا الهبةُ لا يقبضُ دَيْنَهُ درهمًا دونَ درهَمٍ فَقَبَضَ بعضَهُ لا يحنثُ حتّى

نه چې هبه کول، خپل قرض به په درهم سره نه اخلم، بيا په بعضو قبضه وکړه نو حانث نه کرځي تر دې چې ټول

يَقبض كلَّهُ متفرقًا لا بتفريقٍ ضروريٍّ ان كانَ لِي مَالٌ الّا مِائَةٌ او غير

قرض بغير د تفريق ضروري نه واخلي که چيرې ما سره مال وي سوا د سلو نه نو داسې دي وي نو حانث نه کرځي په سلو

أَو سِوٰى فكذا لم يحنثْ (۴) بِمِلكِهَا أَو بعضها لا يفعلُ كذا تركه ابدًا (۵) لَيَفعَلَنَّهُ بَرَّ

يا د هغې نه په کمو مالک کيدو سره داسې به نه کړم، نو هميشه لپاره به پريږدي هغې لره، ضرور به کوم دغه کار، نو په يو

بمَرّة (۶) و لو حَلّفَهُ و الٍ لِيُعْلِمَنَّهُ بكلِّ داعرٍ دَخلَ البَلدَ تقيّدَ

ځل کولو سره قسم پوره کيږي حاکم قسم ورکړو چې ضرور به ما خبر وي په هر مفسد سره چې ښار ته داخليږي

---

(۱) لان الضرب اسم لفعل مؤلم و قد تحقق بهٰذه الاشياء ۱۲.

(۲) لانها معيبة و العيب لا يعدم الجنسية ۱۲ .

(۳) لانّهما ليسا من جنس الدراهم. ۱۲ .

(۴) لان غرضه نفى ما زاد على المأة ۱۲ .

(۵) لان الفعل يقتضى مصدراً منكراً و النكر فى النّفى تعمّ. ۱۲ .

(۶) لان النكرة فى الاثبات تخصّ و الواحدُ هو المتيقنُ ، ۱۲ .

بقيَامٍ و لايته يبر بالهبةِ بلا قبولٍ بخلاف
نو قسم به د هغه د حکومت د قيام تر وخته پوري وي قسم پوره کيږي په هبه کولو سره بغير د قبلولو نه په خلاف د
البَيْع لا يَشُمُّ ريحانًا لا يحنث بشمِّ وَرْدٍ و ياسمين (١) البنفسَجُ
بيع نه گل ريحان به نه بويوم نو حانث کرځي په بوی کولو د گلاب اود چنبيلي سره ، بنفشه او گلاب به محمول گرځي په پته
والوردُ على الورقِ حلفَ لا يتزوّجُ فزوَّجَهُ فضوليٌّ و أجَازَ بالقولِ حنِث و
باندې يو سړي قسم وکړو چې واده به نه کوم بيا فضولي ورته نکاح وکړه او هغه په ژبه سره هغه جائز کړه نو حانث گرځي او
بالفعلِ لَا وَدَارُهُ بالملكِ و الاجارةِ حَلفَ بأنَّهُ لا مَالَ لهُ و لهُ
په فعل سره حانث نه گرځي، او د دار اعتبار په ملک او کرائي سره دی، يو سړي قسم وکړو چې ما سره مال نشته، حال دا
دَيْنٌ على مُفلِسٍ أو مَلِيٍّ لَمْ يَحنثْ.
چې دده قرض وو په مفلس او مالدار نه، ورکوونکي پوري، نو حانث نه گرځي

د لغت وضاحت: **مَسّ** لاس لگول. **مَدٌّ** راښکل. **خَنَقَ** مری ورته خفه کړه. **زُيُوفٌ** کهوټه چې هغه بيت المال نه اخلي. **بنهرجة** چې هغه عام سوداگر نه أخلي رصاص: قلعي مرا ترينه بالکل کهوټه روپئ دي. **ستوقةٌ** کهوټه درهم چې په هغې د چاندي ملمع سازي شوې وي. **داعرٌ** شرير. **ريحَانٌ** خوشبو داره ونه. وردٌ: گلاب، **ياسمين** چنبيلي. **بنفسج** بنفشه. **ورق** پته. مليٌّ: مالدار.

د فقهي تشريح: قولهٔ بابٌ الخ: ددې باب په مسائلو باندې د ځان پوهولو لپاره په يوه قاعده باندې ځان پوهول په کار دي، او هغه دا چې په کومو امورو کې مړده او ژوندی انسان دواړه شريک وي، په هغې کې قسم په موت و حيات دواړو حالتونو کې واقع کيږي، لکه غسل ورکوی، پورته کول، گوتې لگول. که چيرې دا کارونه ئې وکړه نو حانث گرځي، که ژوندی انسان وي او که مړ وي، او چې کوم کارونه د ژوند سره مخصوص وي لکه خرځول، خوشحالي يا خفگان رسوونکي کارونه، نو په هغې کې قسم د ژوند سره خاص کيږي، که چيرې داسې کارونه د مړده گانو سره وکړي نو حانث نه گرځي.

---

(١) لان الريحان اسم لنبات لا ساق لهٗ و له رائحة متلذة و ليس لها ذلک ١٢.

قوله او مستحقةً بهرَ الخ: شيخ اسحاق والواجی په آخر کتاب الشفعه کې ذکر کړي دي چې کهوټه درهمه په پينځو مسئلو کې د کهره درهمو په حکم کې وي (۱) قسم ئې وکړو چې قرض به خلاصوم، بيا ئې کهوټه پيسې ادا کړي نو حانث نه ګرځي (۲) يو سړي د کهره درهمو په عوض کې کور واخيستو او په قيمت کې ئې کهوټه ادا کړي نو شفيع به کهره درهمه ورکړي او کور به واخلي (۳) يو سړي د کهره درهموذمه دار شو او کهوټه ئې ادا کړې نو د مکفول عنه نه به کهره اُخلي. (۴) (۵) د يو سړي قرض د کهره درهمو وو او هغې کهوټه درهم واخيسته او خرچ ئې کړه نو معلومه شوه چې هغه کوټه دي، نو بيا د هغه نه کهره درهمه نشي اخيستی.

قوله ان لم اُقتل الخ: چا وويل که چيرې ما زيد قتل نه کړو نو زما غلام دې ازاد وي حال دا چې زيد مخکې مړ وو نو که چيرې حالف ته په دغه وخت د زيد د مرګ علم وو نو د يمين د منعقد کيدو په وجه سره فی الحال حانث ګرځي. ځکه چې الله تعالی په زيد کې حيات پيدا کولی شي، په دې لحاظ سره هغه زيد وژلی شي، ليکن عادةً داسې نشي کيدی، چې د مرګ نه پس دې هم ژوندی شي، ځکه هغه د وژلو نه عاجز دي، نو دا صورت اسمان ته د ختلو مثال شو. او که چيرې دغه وخت (يعنې په وخت د قسم کې) ورته د زيد د مرګ علم نه وو نو حانث نه ګرځي، ځکه چې دغه وخت يمين د هغه په حيات باندې ئې منعقد کړی دی، کوم چې زيد کې دي او ددې تصور نشي کيدی، پس دا صورت د کوزماء (۱) مثال شو چې کله هغې کې اوبه نه وي او دواړه مسئلې تيرې شوې دي.

قوله والبيع الخ: يو سړي قسم وکړو چې نن به د فلاني قرض ادا کوم، ، بيا هغه خپل سامان د قرض خواه په لاس د قرض په عوض کې خرڅ کړو نو قرض ادا شو، اوس نه حانثيږي، او که چيرې قرض خواه مقروض ته خپله قرضه هبه کړه نو دا قضاء ددين نه ده بلکه د هغه د طرف نه اسقاط دی.

قوله لا يقبض الخ: يو سړي قسم وکړو چې زه به خپل قرض يو يو درهم نه وصولوم، بيا هغه څه لږ شان وصول کړو مثلاً پنځه يا لس درهمه، نو څو پورې چې ټول قرض متفرق وصول نه کړي حانث نه ګرځي، البته که چيرې قرض په تفريق ضروري سره متفرق وصول کړو نو حانث نه ګرځي، مثلاً قرض څه وزني څيز وو او هغه ټول په يو ځل نه شوو وزن کيدلی، دې وجې نه ئې څو ځله وزن کړو او وصول ئې کړو نو حانث نه ګرځي.

---

(۱) يعنې د اوبو کوزه ۱۲.

قوله ولو حلف الخ: يو سړي ته حاكم قسم وركړو چې كوم مفسد سړى ښار ته داخليږي، نو ما ته به اطلاع راكوې هغه قسم وكړو نو قسم اگر چې مطلق دى، ليكن قسم به دد غه حاكم د حكومت د قيام پورې مقيد وي، ځكه چې مطلق د دلالت په وجه سره مقيد كيږي، او دلته د حاكم مقصد د قسم وركولو نه د مفسرينو فساد لرې كول دي، او د حكومت زائله كيدو نه پس د فساد دفع كول ممكن نه دى لهذا يمين به د هغه د حكومت سره مقيد وي.

قوله يبر الخ: يو سړي قسم وكړو چې ضرور به هبه كوم، او بيا هغه څه څيز هبه كړو ليكن موهوب له قبول نه كړو نو د هغه قسم پوره شو، او س هغه حانث نه گرځي، او كه چيرې داسې قسم ئې وكړو چې خرڅوم به يې، بيا هغه څه څيز خرڅ كړو ليكن مشتري بيع قبوله نه كړه، وجه د فرق ده چې هبه عقد تبرع ده چې په هغې كې د موهوب له قبلول ضروري نه دي په خلاف د بيع نه چې هغه عقد معاوضه دى او د جانبينو د فعل تقاضا كوي، دې وجې نه د مشتري د قبلولو نه بغير نه تماميږي.

قوله حلف لا يتزوج الخ: يو سړي قسم وكړو چې زه به خپله نكاح نه كوم، بيا يو فضولي د هغه نكاح وكړه، او حالف په اجازت قولي سره نكاح جائز كړه نو حانث گرځي، هم دا مختاره خبره ده (تبيين) عام علماء په دې او هم په دې فتوى ده (خانيه) پس په جامع الفصولين كې ئې چې دا وئيلي دي چې اجازت قولي سره هم حانث نه گرځي، دا خبره صحيح نه ده، ځكه چې اجازت قولي په منزله د وكالت دى، نو دا داسې شوه، لكه چې اول هغې لره ئې وكيل جوړ كړې وي، او كه چيرې په اجازت فعلي سره ئې جائز كړو نو حانث نه گرځي ځكه چې محلوف عليه تزوج دى او مراد د تزوج نه عقد دى، او عقد د قول سره خاص دى، فعل سره نه دى.

قوله وداره الخ: يو سړي قسم وكړو چې د فلاني كور ته به نه داخليږم، بيا د هغه په مملوكه مكان كې يا د كرائې په مكان كې داخل شو نو حانث گرځي، ځكه چې مراد د دار نه عرفًا د هغه مسكن دى، پس په كوم كور كې چې هغه اوسيږي، هغه په قسم كې داخل دى، خواه كه ملكةً وي يا په اجارې سره وي يا په طريقې د اعارې سره وي، يو سړي قسم وكړو، چې زما هيڅ مال نشته، حال دا چې په مفلس مقروض باندې د هغه څه قرض وو نو حالف حانث نه گرځي، ځكه چې دين ته عرفًا مال نه وئيلى كيږي.

((كِتَابُ الحُدود))

اَلحَدُّ عقوبةٌ مقدَّرَةٌ للهِ تعالىٰ و الزّنىٰ وطئٌ فى قُبُلٍ خالٍ عن مِلكٍ و

حد يو مقرره سزاده د الله تعالى لپاره او زنا هغه صحبت دى چې په داسې شرمګاه کې وي چې هغه د ملک او شبه ملک

شُبهَتِه و يَثبت بشهادةِ اربعةٍ بالزّنىٰ لا بالوطئ و الجماعِ فيسألهمُ

نه خالي وي ، د هغې ثبوت دځلور کسانو په ګواهي سره کيږي په لفظ دزنا سره نه چې د وطي او جماع سره، نو پوښتنه به کوي

الإمَامُ عن مَاهِيَّته و كيفيته و مكانه و زمَانه و المزنيَّةِ فان بيَّنُوه

حاکم دوی نه د زنا د حقيقت د هغې د کيفيت، د هغې ځاى او وخت باره کې، او د مزنيې نه،نو که چيرې هغوى بيان وکړو

وَ قالوا رأيناهُ وَطِئَهَا كالمِيلِ فى المكحلةِ و عُدّلوا سِرًّا وجهرًا

او ونې ويل چې مونږ هغه ليدلى وو چې هغه نې داسې وطي کوله لکه سلايې په سرمه دانۍ کې، او پټ او ښکاره به د هغوى

حَكمَ به و باقرارِه اَربعًا فى مجالسِه الاَربَعةِ كلّمَا

تعديل وشي نو حاکم به د زنا کيدو سره حکم وکړي، او ثابتيږي د زاني په اقرار سره ځلور ځله په ځلور مجلسونو کې.

اَقرَّ رَدّهُ و سَالَهُ كمَا مَرَّ فانْ بيّنَهُ

هر واري چې هغه اقرار وکړي نو حاکم به نې رد کوي او پوښتنه به ترينه کوي د مذکوره امورو متعلق، نو که چيرې هغه بيان وکړو

حَدَّهُ فاِنْ رَجعَ عن اقراره قبلَ الحَدِّ اَو فِي وَسطه خَلّي

نو حد به ورکړي او که چيرې هغه رجوع وکړه د خپل اقرار کولو نه د حد نه مخکې يا د حد په مينځ کې نو هغه به پريږدي . او

سَبيلَهُ و نُدِبَ تلقِينُه بلعلک قَبّلتَ او لمستَ او وَطِئتَ بشبهةٍ

مستحب دي هغه ته داسې وينا کول چې کيدی شي چې تا ترينه چيچ اخيستي وي يا دې ورته هسې لاس اوړی وي، يا دې په شبهې سره

فان كان مُحصنًا رَجَمهُ فى فضاءٍ حتى يموت.

وطي کړې وي نو که چيرې هغه محصن وي نو سنګسار به نې کړي په ميدان کې تر دې چې مرشي.

د فقهي تشريح: قوله كِتَابُ الخ: کتاب الايمان په کفاره مشتمل وو او کفاره د عباداتو او عقوباتو په مينځ کې دائر وو، نو ځکه د کتاب الايمان نه پس کتاب الحدود ذکر کول مناسب وو ځکه چې حدود خالص عقوبات دي، د حدودو شپږ قسمونه دي حد زنا، حد شرب خمر، حد مسکرات، حد

قذف ، حد سرقه، حد قطع طريق، د هر يو تفصيلي بيان مخکښې را روان دي.

قوله الحد الخ: د حد لغوي معنی منعه کول او بندول دي، لکه چې اهل عرب دَرْبان او جيلر ته حداد وايې ، ځکه چې دَرْبان دننه راتلو نه منع کول وي ، او جيلر د بهر وتلو نه منع کول کوي. حدود خالصه ته حدود دې وجې نه وئيلی کيږي چې هغه د اسبابو د عقوباتو د ارتکاب نه منع کول دي، په اصطلاح د شريعت کې حد هغه عقوبت مقدره بينه ته وئيلی شي چې د خدای بندګانو لره د افعال قبيحهؤ د ارتکاب نه دمنع کولو لپاره د وجې د حق الله نه فرض شوی وي، د حد په تعريف کې لفظ د عقوبت جنس دی چې په هغې کې تمام حدود داخل دي، او مقدره فصل دی چې په هغې سره تعزير خارج شو چې د هغې څه مقدار معين نه دی، او په لفظ الله سره قصاص خارج شو ځکه چې قصاص دبنده حق دی نه چې د الله حق.

قوله و الزنا الخ: د زنا د لغوي معنی او شرعي معنی بيان دی (فانهما سواء فيه) يعني زنا لغةً او شرعًا هغه صحبت ته وائي چې په داسې شرمګاه کې وي چې هغه د ملک او شبه ملک نه خالي وي. د قُبُل د قيد نه وطي فی الدبر ووتله ځکه چې هغې ته زنا نه شي وئيلی او خال عن ملک د قيد نه خپله منکوحه او خپل وينځې سره وطي کول خارج شو. او د شُبْهَةٍ په قيد سره وطي بالشبه خارج شوه لکه د خپل پلار د وينځې سره وطي کول ، نو د زنا پوره تعريف وشو ليکن ياد ساتل پکار دي چې دا تعريف د هغې زنانه دی چې کومې سره حد واجبيږي (کما توهمه الزيلعي والعينی) بلکه د مطلق زنا تعريف دی او دموجب حد زنا تعريف دا دی هو وطئ مکلف ناطقٍ طائع فی قُبل مُشتهاةٍ حالاً او ماضيًا خالٍ عن ملکه و شبهته فی دار الاسلام او تمکينها عن ذلک او تمکينه يعنې زنا د عاقل بالغ خبرې کوونکی سړي په خوشحالئ سره صحبت کول دي بالفعل يا په اعتبار د ماضي سره لائق دشهوت ښځې سره په داسې شرمګاه کې چې هغه د ملک او شبه ملک نه خالي وي يا د سړي يا ښځې په وطي باندې قابو ورکول دي، د مکلف په قيد سره بې هوشي، ليونی، او ماشوم خارج شو چې ددوی جماع موجب حد نه ده، په قيدد ناطق سره ګونګا خارج شو اګر چې هغه په اشارې سره د زنا اقرار وکړي ځکه چې هغه باندې په وجې د شبهې سره حد نه واجبيږي د طالع په قيد سره ترينه مکره خارج شو. د قُبل په قيد سره ترينه وطي فی الدُبر او د مشتهاة په قيد سره ترينه صغيره خارج شوه دخال عن ملکه په قيد سره ترينه خپله منکوحه او وينځې سَره مخکې د تقسيم نه د غازي وطي کول خارج شو. د دار الاسلام په قيد سره ترينه هغه وطي خارج شوه کومه چې دار الحرب کې شوې وي ځکه چې هغې باندې حد نشته او د تمکنيه په قيد سره په کې هغه صورت داخل شو چې

په هغې سرې نیغ څملي او ښځه د هغه اله تناسل په فرج کې داخل کړي. نو په دواړو حد جاري کیږي او تمکنیها په قید سره په کې د ښځې فعل داخل شو چې د ښځې فعل اګر چې هغې ته وطي نشي وئیلی کیدی لیکن د تمکین په وجه سره په هغې هم حد لازم دی، نو د موجب حد دا مکمل تعریف وشو، دې نه معلومه شوه چې هره زناء موجب حد نه ده.

قوله و یثبت الخ: د زنا ثبوت د څلور سړو په ګواهئ سره کیږي قال تعالی فاستشهدوا علیهن اربعة منکم بیا په ګواهي کې صرف د وطي او جماع شهادت ضروري دی ځکه چې په وطي یا جماع کې د ملک یا شبه ملک احتمال شته. بیا چې کله هغوی شهادت ورکړي نو حاکم به د هغوی نه د زنا د حقیقت پوښتنه وکړي، او ورته به ووائي چې زناء څنګه وشوه؟ په خوشحالئ لره. یا که په زور سره، کوم ځائې کې وشوه؟ دار الاسلام کې یا که دار حرب کې؟ کله وشوه؟ اوس حالاً وشوه یا که ډیره مخکې شوې ده. په هلکوانه کې یا که د بلوغ نه پس، او چاسره وشوه؟ ددې سوالونو ضرورت ځکه دی چې کیدی شي چې زناء په زبردستئ سره شوي وي یا په دار حرب کې شوي وي، یا د خپل ځوی د وینځې سره شوی وي او ګواهان ددې څیزونو نه ناخبره وي دې وجې نه حاکم به پوره تحقیق کوي لپاره ددې چې حد په څه وه سره منع شي ځکه چې د نبي علیه السلام ارشاد دی چې حد مؤخر کوئ څو پورې چې ممکنه وي[۱].

قوله و باقراره الخ: که چیرې زاني څلور ځله په څلور مجلسونو کې د زنا اقرار وکړي نو بیا هم د زنا ثبوت کیدی شي، چې د هغې صورت دا دی چې کله هغه اقرار وکړي نو حاکم به ئې د هغه نه هم هغه مذکوره سوالاتو پوښتنه کوي، کله چې هغه ټولې خبرې کما حقه بیان کړي، نو حاکم به ورته د زنا سزا ورکړي. څلور ځله اقرار کول زمونږ په نزد شرط دی د امام شافعي رحمه الله په نزد یو ځل کافي دی، ځکه چې اقرار د زنا مظهر دی، او په تکرار د اقرار سره په ظهور د زناء کې څه زیاتی نه راځي. زمونږ دلیل دا دی چې نبي علیه السلام د ماعزاسلمي د څلورو ځلو اقرار نه مخکې د زنا د ثبوت حکم نه دی لګولی[۲]، که چیرې دې نه په کم کې د زنا ظهور کیدی شوی نو نبي علیه السلام به تاخیر نه کولو.

---

(۱) ترمذي، حاکم، دارقطني، بیهقي عن عائشة ابن ماجه، ابویعلی عن ابي هریرة، دارقطني عن علي ۱۲.

(۲) صحیحین عن ابي هریرة و جابر بن عبدالله سلم عن جابر بن سمرة و ابن عباس، مسلم، ابوداؤد، نسائي عن یزید ابوداؤد، نسائي، احمد بن نعیم ابن هزال، احمد عن ابي ذر، احمد، ابن راهویه ابن ابی شیبه عن ابي بکر ۱۲.

قوله فان رجع الخ: که چیرې اقرار کوونکي د اقرار نه پس حد نه مخکې یا د حد مینځ کې د اقرار نه رجوع وکړه نو بیا به پرېښودی شي، د امام شافعي رحمه الله او ابن ابی لیلی په نزد به حد جاري کېږي ځکه چې حد د هغه په اقرار واجب شوی دی، نو په رجوع یا انکار کولو سره نه ساقطېږي، مونږ دا وایو چې دده رجوع خبر دی چې په هغې کې د صدق احتمال شته دی، او دلته کې څوک تکذیب کوونکی ئې هم نشته، نو په اقرار کې شک پیدا شو او حدود په ادنی شبهې سره ختمېږي.

فان کان محصنًا الخ: که چیرې زاني محصن وي نو قاضي به ئې په میدان کې سنګسار کړي تر دې چې هغه مړ شي لیکن د وجوب رجم لپاره شرط دا دی چې اول به ئې ګواهان سنګسار کړي که چیرې هغوی انکار وکړو نو رجم ساقطېږي، د ائمه ثلاثو په نزد دا شرط نشته، بلکه د هغوی حاضریدل مستحب دي، زمونږ دلیل د حضرت علي رضی الله عنه روایت دی، چې کله به ګواهانو د هغه د وړاندې د زناء شهادت ورکولو نو هغه به ګواهانو ته د سنګسار حکم ورکولو، بیا به هغه پخپله سنګساری کوله (۱) هغې نه پس به عامو خلکو سنګساري کوله، که چیرې د زاني زنا د هغه په اقرار سره ثابته شوې وي نو اول به ئې امام سنګسار کړي او بیا به ئې عام خلک.

وَ يَبدأُ الشهودُ به فَإِنْ اَبَوْا سَقَطَ ثم الاِمَامُ ثم النّاسُ و يَبدأُ
او شروع به کوي ګواهان په سنګسار کولو سره که چیرې دوی انکار وکړو نو حد ساقطېږي، بیا حاکم بیا نور خلک، او حاکم به شروع
الامامُ لو مُقِرًّا ثم النّاسُ و لو غير محصَنٍ جَلدَهُ مائةً و نُصِّفَ للعَبْدِ بِسَوْطٍ
کوي که چیرې زاني مقر وي، بیا نور خلک. او که چیرې غیر محصن وو نو سل کوړې به ئې ووهي، او غلام لپاره به نصف کېږي، په داسې
لا ثمرةَ له متوسّطًا و نُزِعَ ثيابُهُ و فُرِّقَ على بدنه الّا
کوړې سره چې هغې کې غوټه نه وي او په درمیانه کوړو سره او جامې به ترینه ویستلی شي، او د بدن په مختلفو حصو باندې به وهلی کیږي
راسَهُ و وَجهَهُ و فرجَهُ و يُضربُ الرّجلُ قائمًا فى الحدود غير مَمْدُودٍ و
لیکن سر او مخ او شرمګاه به بچ کوي، او په حد کیدی به شي سړی په ولاړې سره چې غیر ممدود وي، او جامې به ترینه نشي ویستلی کیدی

---

(۱) ابن ابي شيبة، بيهقي، احمد ۱۲. غیر ممدود نه مراد دا دی چې په ځمکه باندې زوړند نه وي یا ئې په کوړو وهي او راکاږي یې، دې لپاره چې زخمي ئې کړي، یا د کوړو وهلو په وخت کې لاس په سر راکاږي، دې لپاره چې سخت زخم جوړ نه شي ۱۲.

لا يُنزعُ ثيابُها الا الفروُ والحشوُ و تُضربُ جالِسةً ويُحفر لها في الرّجمِ لا
ليکن پوستين او د مالوچو ډکې جامې به ترينه ويستلی او ښځه به په ناستې وهلی کيږي او هغې لپاره به دوغل کنستلی شي په
له و لا يَحدُّ عبدَهُ إلّا باذنِ إمامه و احصانُ الرّجمِ الحريةُ
سنګسار کولو کې، نه چې د سرې لپاره، او مالک به خپل غلام نه په حد کوې مګر د حاکم په اجازت سره، او د رجم لپاره محصن کيدل دا دي
والتكليفُ والاسلامُ والوطئ بنكاحٍ صحيحٍ و هما بصفةِ الاحصانِ و لا يُجمَعُ
ازادي، مکلف کيدل، اسلام ، وطي په نکاح صحيحه سره چې دواړه په صفت د احصان سره وي، او جمع به نه کيږي په مابين د کوړو
بينَ جَلدٍ و رَجمٍ و جَلدٍ و نفيٍ و لو غرّبَ بما يَرٰى صَحّ والمريضُ
کې او د رجم کې، او نه په مابين د کوړو او جلا وطنۍ کې، او که چيرې حاکم ئې مصلحةً جلا وطن کړي نو صحيح ده او بيمار به سنګسار
يُرجَم ولا يُجلد حتّٰى يَبرأَ و الحامِلُ لا تحدُّ حتّٰى تَلِدَ و تخرج من نفاسِها
کيدی شي ليکن په کوړو به نه وهلی کيږي تر دې چې جوړ شي، او حاملې ته به حد نشي ورکيدی تر دې چې ماشوم ئې پيدا شي او د نفاس نه
و لو كان حَدُّها الجلدَ.
اوځي، که چيرې د هغې حد کوړې وي.

د لغت وضاحت: **أبى، إبَاءً** انکار کول، جلده: کوړې ئې ورکړې **سَوْطٌ** کوړه. **ثَمرَةٌ** مراد غوټه ده. **فَروٌ** پوستين **حَشوٌ**: ډکوالی د مالوچو د جامو. **يُحفَرُ** کنستلی به شي. **نَفيٌ** جلا وطنی. **غَرّبَ** جلا وطن ئې کړو.

د فقهې تشريح: **قوله واحصان الرّجم الخ:** د سنګسار کولو لپاره د زاني محصن کيدل شرط دي، که چيرې محصن نه وي نو بيا نه سنګسار کيږي، او د محصن کيدو لپاره اووه شرطونه دي، که چيرې په دې شرطونو کې يو شرط هم مفقود وي نو رجم به نه وی (۱) ازادي، غلام او وينځه محصن نه دي، ځکه چې مملوک بذات خود په نکاح صحيحه قادر نه دی (۲) عاقل کيدل (۳) بالغ کيدل، مجنون او صغير د عدم اهليت د عقوبت د وجې نه محصن نه دي (۴) مسلمان کيدل، کافر محصن نه دی (۵) د وطي وجود (۶) په وخت د دخول کې په نکاح صحيح سره جماع کيدل، چا چې بغير د ګواهانو نه نکاح وکړه هغه محصن نه دی، دغه شان چا چې د ښځې طلاق د هغې په نکاح پورې معلق کړو او بيا ئې هغې سره نکاح وکړه نو هغه هم محصن نه دی (۷) په وخت د وطي زوجين چې په

صفت د احسان سره متصف وي، کوم سړی چې کتابیې، ذمیې یا صغیرې سره یا مجنونې سره نکاح وکړه او قربت ئې ورسره وکړه هغه محصن نه دی ځکه چې زوجه په وجه د عدم اسلام یا د عدم تکلیف سره محصنه نه ده دغه شان چا چې د عدم احصان په حالت کې د محصنې ښځې سره قربت وکړو او وروسته بیا هغه محصن شو نو هغه هم د رجم په حق کې محصن نه دی، په شرط نمبر (۴) کې یعنې اسلام کې اختلاف دی، د امام شافعی او امام أحمد په نزد احصان لپاره د زانې مسلمان کیدل شرط نه دي، ځکه چې نبي علیه السلام یهودي او یهودیه سنګسار کړي (۱) وو زمونږ دلیل د نبي علیه السلام ارشاد دی چې کوم کس الله سره شریک جوړ کړو هغه محصن نه دی (۲) او د امام شافعی د استدلال جواب دادی چې نبي علیه السلام په حکم د تورات سره د رجم حکم کړی وو ځکه چې دغه وخته پورې آیت د رجم نه وو نازل شوی هغې نه پس آیت د رجم بغیر د شرطی اسلام نه نازل شو، بیا د رجم حکم بشرط اسلام وشو (کذ فی الفتح) دې نه علاوه زمونږ دلیل حدیث قولي دی او هغه یو واقعه جزئیه ده. والباب باب الحد.

فائده: صاحب عمده د فاکهاني مالکي نه دا اشعار نقل کړي دي چې په هغې کې د احصان شرطونه جمع کړی شوي دي شروط احصان اتت ستة فخذ: ها عن النص مستفهمًا: بلوغ و عقل و حرية. و رابعها کونه مسلمًا: و عقد صحیح و وطی مباح. متی اختل شرط فلا یرجما: یعنې شرطونه د احسان شپږ دي هغه د نص نه معلومه کړې (۱) بلوغ (۲) عقل (۳) حریت (۴) اسلام (۵) نکاح صحیح (۶) وطي مباح.

قوله ولا یجمع الخ: د اهل ظواهرو او د امام احمد په نزد د جلد او رجم په مینځ کې او د امام شافعی او امام احمد په نزد د جلد او نفي په مینځ کې جمع کول جائز دي ځکه چې د نبي علیه السلام ارشاد دی چې ځوان هلک ته به د ځوانې جینۍ سره یو ځائې کوړې ورکول او یو کال جلا وطن کول دي، او واده کړی سړی ته دواده کړې ښځې سره سل کوړې او سنګسار کول دي (۳) لیکن د جمهورو په نزد جمع مذکور جائز نه ده ځکه چې احادیث صحیحه نه ثابته ده، چې نبي علیه السلام ماعز وغیره رجم کړو او کوړې ئې ورنکړې معلومه شوه چې جمع مذکور منسوخ ده. لکه چی خازمي په الناسخ

---

(۱) ائمه سته، ابن حبان عن ابن عمر. ۱۲.

(۲) ابن راهویه، دارقطنی عن ابن عمر ۱۲.

(۳) مسلم عن عباده بن الصامت ۱۲.

والمنسوخ کښې ذکر کړي دي، چې د ماعز حدیث روایت کوونکي حضرت سهل بن سعد، ابن عباس او متاخر الاسلام صحابو یو جماعت دی، او د حضرت عباده د حدیث حکم په ابتداء کښې وو او د دوارو زمانو په مینځ کښې اوږده موده ده، منذري په خپل مختصر کښې بیان کړي دي، چې جلا وطني او رجم په مینځ کښې جمع طرف ته چې کومو حضراتو ذهاب کړی دی، هغه حضرت علی رضی الله عنه، ابن ابن کعب رضی الله عنه، ابن مسعود رضی الله عنه او حسن بصري دي، لیکن حضرت ابوبکر صدیق، عمر بن خطاب، زهري رحمه الله، نخعي رحمه الله، ابوحنیفه رحمه الله، مالک رحمه الله، شافعی رحمه الله، اوزاعي رحمه الله او سفیان دټولو دا قول دی چې واده کړی به سنګسار کیدی شي، کوړې به نه ورکول کیږي، اودلیل د بخاري رحمه الله حدیث عسیف دی، کوم چې ابو هریرة رضی الله عنه نه روایت دی، چې په هغې کښې صرف د رجم ذکر دی، دې حدیث نه معلومه شوه، چې د جمع مذکور حکم منسوخ دی، ځکه چې حضرت ابوهریرة رضی الله عنه متاخر الاسلام دی، دویم جواب دا دی چې اول نبي علیه السلام کوړې ځکه لګولې وې چې هغوی ته د هغه د احصان علم نه وو بیا د هغې احصان معلوم شو نو نبي ﷺ سنګسار کړو د ابوداؤد اونسائی الفاظ فأمر به النبی فجلد ثم أخبرانه کان قد أحصن فأمر به فرجم ددې شاهد عدل دی، بهر حال اذروائي حد جمع مذکور جائز نه ده، البته که چیرې حکم تعزیراً جلا وطن کول مناسب وګڼي نو جمع کولی شي. په روایاتو کښې د حضرت ابوبکر رضی الله عنه او حضرت عمر رضی الله عنه او عثمان رضی الله عنه نه چې کومه جمع په مابین جلد او نفي کښې روایت ده هغه هم په دې محمول ده [۱].

قوله والحامل الخ: که چیرې زانیه ښځه حامله وي نو حد به د حمل د وضع نه پس جاري کیږي ځکه چې دې نه وړاندې د ماشوم د هلاکیدو ویره ده بیا که چیرې حد د کوړو وي نو د نفاس نه فارغ کیدو پورې به مؤخر وي او که چیرې سنګسار وي نو د وضع حمل نه پس به متصل حد قائم کیدی شي مګر دا چې هغه د یو ماشوم پرورش کوونکې نه وي ځکه چې دغه صورت حد هغه وخت قایم کیدی شي کله چې ماشوم د روټۍ وغیره د خوراک شي، د حدیث د غامدیې نه هم دا ثابت دي [۲].

---

(۱) ترمذي، نسائي، حاکم، دارقطني، مالک عن ابي بکر و عمر، عبدالرزاق عن ابی بکر، ابن ابی شیبه عن عثمان. ۱۲ .

(۲) مسلم عن بریدة و عمران بن حصین ۱۲.

بَابُ الوطءِ الذی یُوجبُ الحدَّ والذی لایُوجبُهُ

باب دی په بیان د هغې وطي کې کومه چې حد واجبوي او هغه چې حد نه واجبوي

لا حَدَّ بشبهةِ المحلِ وان ظَنَّ حُرمتَهُ کَوَطيِ اَمةِ ولده و ولدِ و لدِه

حد نشته په شبه د محل سره اگر چې د هغې د حرمت ظن غالب وي لکه د خپل ځوی د وینځې یا د لمسي دوینځې یا دمعتدې

و مُعتدَةِ الکنایاتِ و بشبهةِ الفعلِ ان ظَنَّ حِلَّهُ کمعتدةِ الثلثِ و

د کنایاتو سره وطي کول، او په شبهې د فعل سره حد نشته که چیرې ظن غالب ئې د هغې د حلت وو لکه معتدة الثلث سره یا د

اَمةِ اَبوَیهِ وزوجته و سَیِّدهِ والنسبُ یثبت فی الاولیٰ فقط و حُدَّ

پلار مور وینځې سره یا د خپلې ښځې وینځې یا د آقا د وینځې سره وطي کول، او نسب ثابتیږي په رومبني صورت کې فقط، او

بوطءِ امةِ اخیهِ و عمِّهِ و اِنْ ظَنَّ حِلَّهُ و امرأةٍ و جَدَها

په حد کیدي به شي په وطي کولو دوینځې د ورور خپل او د تره خپل سره اگر چې د هغې د حلت ظن لري او د هغه ښځې سره په وطي کولو

فی فراشه لا باجنبیةٍ زُفَّتْ و قیل هی

سره چې هغه ئې بیا موندلې وي په خپله بستره باندې نه د هغې اجنبي سره په وطي کولو سره چې هغه لیږلې شوې وي د شب زفاف

زوجتک و علیه مهرٌ و بمحرَمةٍ نکحها وَ

لپاره او هغې ته وویلې شي چې داستا ښځه ده او په هغه مهر واجب دی، او هغه محرمې سره په وطي کولو سره چې هغې سره ئې نکاح

باجنبیةٍ فی غیر القُبلِ و بلِوَاطةٍ و ببهیمةٍ و بزنیً

کړې وي، اود اجنبې سره په وطي کولو سره د قبل نه ما سوا کې، او په لواطت سره او ځناور سره په وطي کولو په زنی کولو سره

فی دارِ الحربِ اَوْ بَغْیٍ و بزنی حربیٍ بذمیةٍ فی حقه وبزنی

په دار حرب کې یاد سرکشو سره او په زنی کولو د حربي د ذمیې سره په حق د حربي کې، او په زنا کولو دماشوم یا د لیوني د یو مکلفې

صبيٍ اَو مجنونٍ بمکلفةٍ بخلافِ عکسه وبالزنا بمُستاجرةٍ وَ باکراهٍ وباقرارٍ

سره په خلاف د هغې دعکس نه ، او په زنا سره د کرایې ښځې سره او په زبردستۍ د زنا کولو سره او په اقرار کولو سره که چیرې انکار

اِنْ اَنکرهُ الأخرُ و مَنْ زنیٰ بأمةٍ فقتلها لزِمهُ الحدُّ و القیمةُ و الحلیفةُ

کولو د هغې نه بل کس، او هغه چا چې زنا وکړه د یووینځې سره او هغه ئې ووژله نو لازمیږي په هغه باندې حد او قیمت، او د

يؤخذ بالقصاص و بالاموال لا بالحد.

خليفه مؤاخذه به كيدى شي د قصاص او د مالونو چې دحد.

د فقهي تشريح: قوله باب الخ: د زنا حقيقت او دهغي دحد طريقې بيانولو نه پس په دې باب کې د موجب حد وطي تفصيلات بيانوي.

فائده: ابن حزم وغيره اهل ظواهر اګر چې د شبهاتو په وجه سره د اسقاط حد منکر دي. ليکن احاديث مرفوعه ، اثار صحابه رضى الله عنهم او اتفاق فقهاء سره سقوط ثابت دی، دې وجې نه د هغې انکار قابل د توجه نه دی، د نبي عليه السلام ارشاد دی ادرؤ الحدود ماستطعتم (۱) حدود دفع کوئ تر څو چې کيدی شي روايت په دې الفاظو سره هم مروي دی ادرؤ الحدود بالشبهات (۲) ، حضرت عمر رضى الله عنه فرمائي چې که چيرې زه د شبهاتو په وجه سره حدود معطل کړم نو دا زما په نزد بهتره ده ددې نه چې زه د شبهاتو په موجودګئ کې حدود قائم کړم، حضرت معاذ رضى الله عنه ، ابن مسعود رضى الله عنه ، او عقبه بن عامر رضى الله عنه فرمائي چې کله تا ته په حد کې شک شي نو هغه لره معطل کړم نو دا زما په نزد بهتره ده ددې نه چې زه د شبهاتو په موجودګئ کې حدود قايم کړم (۳)، حضرت معاذ ابن مسعود او عقبه بن عامر فرمايې چې کله تا ته په حد کې شک شي نو هغه لره ئې معطل کړه (۴).

قوله لا حد الخ: شبه هغې ته وائي چې هغه د شي ثابت مشابه وي او په نفس الامر کې ثابت نه وي، په نورو الفاظو کې شبه يو أمر غير چې د أمر واقعې سره مشابهت لري ، ددې دوه قسمونه دي (۱) يو شبه فی المحل چې هغې ته شبه حکميه او شبه ملک هم وايي. (۲): دويم شبه فی الفعل چې هغې ته اشتباه هم وئيلی شي، شبه فی المحل کې د محل نه مراد هغه ښځه ده چې هغې سره وطي شوې وي، او دا هغه ځائې کيږي چيرته چې محل کې شبه رقبه يا شبه ملک وطي وي، يعني کومې ښځې سره ئې چې صحبت کړی دی په هغې کې د حلت شبه وي، ددې يو څو صورتونه دي. (۱) د خپل خوی يا د

---

(۱) ابو يعلى عن ابى شيبه. ۱۲

(۲) ابو حنيفة عن ابن عباس، بيهقي عن عليؓ (فى الخلافيات).

(۳) ابن ابى شيبه ۱۲

(۴) ابن ابى شيبه، دارقطني ۱۲

نمسي د وينځې سره وطي کول، وجه د شبهې دا حديث دی أنت و مالک لابيک [۱] دې حديث نه معلوميږي چې د اولاد مال د پلار مال دی، نو د خوی او د نمسي وينځې سره د وطي د حلت شبه پيدا شوه، ادله شرعيه ؤ ته په نظر کولو سره په حقيقت کې د دې حلت ثابت نه دی (۲) معتده د کناياتو سره وطي کولو وجه د شبهې د صحابؤ اختلاف دی چې په کناياتو سره طلاق رجعي واقع کيږي يا که طلاق بائن، بعضو صحابو کرامو نه روايت دې چې کناياتو سره طلاق رجعي واقع کيږي [۲] او بعضو صحابه کرامو نه روايت دی چې درې طلاق واقع کيږي [۳] نو په دې سلسله کې مختاره مذهب دا دی چې طلاق بائن واقع کيږي، خو بيا هم د حلت وطي شبه پيدا شوه. د شبه محل دا دواړه صورتونه په متن کې ذکر دي.

(۳) خرڅه شوې وينځې سره مخکې د تقسيم نه د بائع وطي کول، وجه د شبهې دا ده چې د بائع کومه قبضه په وطي مسلطه وه هغه اوس هم باقي ده (فصارت الشبته فی المحل) (۴) د خاوند خپلې هغه وينځې سره وطي کول کومه ئې چې د خپلې ښځې مهر مقرر کړې وي او تا حال هغه وينځه د ښځې قبضه کې نه وي راغلي (والشبهة لقيام ملک اليد) (۵) په شريکوالو کې د يو شريک د شريکې وينځې سره نکاح کول (والشبهة لقيام الملک فی النصف) (۶) مال غنيمت کې حاصله شوې وينځې سره مخکې د تقسيم نه د غازي وطي کول (و الشبهة لثبوت حق الغانمين بعد الاستيلاد) (۷) اخيستې شوې وينځې سره مخکې د استبراء رحم نه وطي کول، په دې کې د امام شافعي اختلاف دی (۸) هغه ښځې سره وطي کول چې هغه په وجه د ارتداد سره په خاوند باندې حرامه شوې وي لکه چې مشائخو ارتداد د ښځې په وجه سره د عدم فرقت فتوی ورکړې ده دغه شان ډير صورتونه د فقهې د کتابونو په کتلو سره معلوميدی شي دلته کې صرف دا ښودل مقصود دي چې صاحب درر او صاحب د هدايې چې د کوم شپږ صورتونه تصريح کړې ده نو په هغو سره حصر مقصود نه دی بهر حال د شبه محل په صورتونو کې حد نشته، اگر که زاني د حرمت

---

(۱) ابن ماجه، طبراني، بيهقي (فی دلائل النبوة) عن جابر، ابن حبان عن عائشه بزار، طبراني عن سمرة بن جندب، بزار، ابن عدی، عن عمر طبراني، ابن عدي عن ابن مسعود، ابويعلی، بزار عن ابن عمر ۱۲.

(۲) عبدالرزاق طبراني عن عمرو ابن مسعود، عبدالرزاق عن زيد بن ثابت، جابر بن عبدالله و ابن عباس و عمرو شافعي، مالک عن زيد بن ثابت، عبدالرزاق، مالک، شافعي عن اب عمر ۱۲.

(۳) مالک. شافعي، عبدالرزاق عن ابن عمر، ابن ابي شيبه، مالک، محمد بن حسن، دارقطني عن علي ترمذي عن ابي هريرة ۱۲.

محل گمان لري ځکه چې شبه محل کې د اسقاط حد دارومدار په دلیل شرعي دی نه چې د زاني په اعتقاد باندې.

قوله و بشبهة الفعل الخ: دویم قسم شبه فعل دی، یعني په نفس صحبت کې د حلت شبه وي دي سره هم حد ثابتیږي په دې چې زاني دحلت وطي گمان کړی وي، ددې هم یو څو صورتونه دي (۱) د دریو طلاقو د عدت والا ښځې سره جماع کولو د مطلقه ثلثه حرمت اگر چې قطعي دی لیکن د بعضو احکامو د نکاح یعني د وجوب سکنی، متع، خروج اود ثبوت نسب وغیره د بقاء په وجه د حلت شبه کیدی شي (۲) د والدینو یا د خپلې ښځې یا د خپل مالک وینځې سره جماع کول، په دې کې د اتصال املاک په وجه سره دا گمان کیدی شي چې ځوی ته د خپل پلار په وینځه باندې ولایت حاصل وي لکه ځنگه چې پلار ته د ځوی په وینځه باندې ولایت حاصل وي وعلی هذا القیاس. (۳) د مرتهن د رهن شوې وینځې سره وطي کول، بروایت کتاب الحدود (که چیرې مرتهن دا ووایې چې ما د مرهونه وینځې سره باوجود د حرمت د اعتقاد ساتلو نه وطي کړې ده نو په دې کې دوه روایتونه دي یو دکتاب الرهن چې په دې حد نشته) دغه وخت دا مسئله به د شبه المحل د فروعو نه وي دویم روایت د کتاب الحدود دی چې په ده حد نشته (۴) د طلاق بعوض المال عدت والا ښځه یا مختلعه ښځې سره وطي کول وغیره په دې ټول صورتونو کې حد ساقط دی، په دې شرط چې وطي کوونکی په خپل گمان کې ئې حلال گڼي، گڼې بیا حد لازمیږي.

بَابُ الشهادة علی الزنا والرجوع عنها
(باب دی په بیان دگواهئ ورکولو کې په زناء او هغې نه په رجوع کولو کې)
شَهِدُوا بِحَدٍّ مُتَقَادِمٍ سِوٰی حَدِّ الْقَذْفِ لَمْ یُحَدُّو وَلَو یَضمَنُ
خلکو گواهي وکړه په یو پخوانئ موجب حد خبره باندې علاوه د حد قذف نه ، نو حد به نشي ورکړی کیدی ، او
الْمَالَ وَ لَو اَثْبَتُوا زِنَاهُ بِغَائِبَةٍ حُدَّ بِخِلَافِ
تاوان به ورکړي، د مال او که چیرې هغوی ثابته کړه زنا، د هغې د یو غائبې سره نو حد به ورکیدی شي، په خلاف د
السَّرِقَةِ وَ اِنْ اَقَرَّ بِالزِّنٰی بِمَجْهُولَةٍ حُدَّ وَ اِنْ شَهِدُوا
غلا کولو نه او که چیرې اقرار ئې وکړو د زنا کولو یا نامعلومې ښځې نو حد به ورکیدی شي او که چیرې گواهانو ددې
بِذٰلِكَ لَا كَاِخْتِلَافِهِمْ فِی طَوْعِهَا اَو فِی الْبَلَدِ وَ لَو عَلٰی كُلٍّ زِنًا
گواهي ورکړه نو بیا حد نشته، لکه اختلاف د گواهانو د رضا په زنا باندې یا په ښاریه کې اگر چې په هره زنا باندې

اربعةٌ ولو اختلفوا فی بیتٍ واحدٍ حُدَّ الرَّجُلُ و المرأةُ و لو شهدوا
څلور گواهان وي که چیرې اختلاف ئې وکړو یوې کوټې په باره کې نوښځې اوسړې دواړو ته حدور کیدی شي،او که چیرې دوی
علی زنا امرأةٍ و هِیَ بِکْرٌ اَو الشهودُ فَسَقَةٌ او شهدوا علی شهادةِ
گواهي ورکړه د یوې ښځې زنا کولو باندې حال دا چې هغه باکره وه یا گواهان فاسقان وو یا ئې د څلورو گواهانو په شهادت
اربعةٍ و اِنْ شهِدَ الأصولُ اَیْضًا لَم یُحِدَّ احدٌ (۱) و لو کانوا عُمیَانًا مَحْدُوْدِیْنَ
باندې گواهي ورکړه، اگر که هغه اصل گواهان هم گواهي ورکړي نو یو به هم نه په حدکیږي، او که چیرې نابینا یا
او ثلثةً حُدَّ الشهود لا المشهودُ علیهمَا و لو حُدَّ فوجدَ احَدُهُم
محدودین وو یا درې کسان وو نو گواهانو ته به حد ورکیدی شي نه چې مشهودٌ علیهما ته. او که چیرې ورکړی شو بیا په گواهانو
عبدًا اَو محدودًا حُدُّوا و ارشُ (۲) ضَرْبِهِ هَدْرٌ و اِنْ رُجِمَ رُجِمَ
کې یو کس غلام یا محدود ثابت شو نو ټولو ته به حد ورکیدی شي او د هغه د وهلو تاوان معاف دی او که هغه سنگسار شو نو
فدِیَتُهُ علی بیت (۳) المالِ.
د هغه دیت به د بیت المال نه ورکیدی شي.

د لغت وضاحت: متقادمٌ تیره شوې پخوانی خبره. **سَرَقَةٌ** غلا **طوعٌ** رضامندگي **فَسَقَةٌ** جمع د فاسق ده. **عُمیَانٌ** جمع د أعمی ده. نابینا. **ارشٌ** تاوان. مراد ترینه صرف چې په دواړو کې خرچ شوي وي. هدرٌ معاف دی. **دیتةٌ** خون بها.

د فقهي تشریح: قوله شهدوا الخ: گواهانو په یوه پخوانۍ خبره باندې گواهي ورکړه چې هغه موجب حد وه، نو د هغوی شهادت به رد وي او حد به نه قائموي ځکه چې دلته کې د تهمت امکان دی، ځکه چې شاهد ته په حدود کې په دوو ځیزونو کې خود پرده پوشۍ په وجه سره وو یا چیرته په بله وجه سره که چیرته د پرده پوشۍ په وجه سره وو نو اوس گواهي ورکول په کینه او په دښمنی

---

(۱) اما فی المسئلة الاولی فلان الزنی لا یتحقق مع بقاء البکارة و اما فی الثانیة فلاشتراط العدالة و لم توجد و اما فی الثالثة فلأن الشهادة علی الشهادة لا یجوز فی الحدود ۱۲.

(۲) هو أجرة الطبیب و ثمن الادویة و ان یقوم المجلود عبداً سلیمًا عن ذا الاثر و یقوم و به هذا الاثر و ینظر ما نقص به عن القیمة فیؤخذ من الدیة مثله ۱۲.

(۳) لانه حصل بقضاء القاضي و خطاءه فی بیت المال ۱۲ . مجمع الانهر.

باندې دلالت کوي، او که چیرې د پرده پوشۍ په وجه سره نه وه نو د تاخیر په وجه سره هغه فاسق وګرځیدو او د فاسق شهادت مقبول نه دی، لیکن حد قذف ددې نه مستثنٰی دی چې د هغې د تقادم نه پس هم ګواهي مقبول ده. ځکه چې دا حقوق العباد نه دي، او په دې کې دعوی کول شرط دي پس په ګواهی ورکولو کې تاخیر کول د دعوی په انعدام باندې به محمولوي، یعنې دا به فرض کړی شي چې ګواهانو ځکه تاخیر وکړو چې د حقدار طرف نه دعوی نه وه. بیا که چیرې ګواهانو د یو مودې نه پس په سرقه باندې ګواهي ورکړه نو اګر چې سارق باندې حد نه واجبیږي لیکن د اسبابو د سرقې به ضرور تاوان اخیستی شي.لان تاخیر الشاهد لتاخیر الدعوی لا یلزم تفسیقه.

قوله ولو اثبتوا الخ: ګواهانو د زید د یوې داسې ښځې سره زنا کول ثابته کړه چې هغه غائب دی، او شاهد هغې لره پیژني، نو بالاتفاق زید باندې به حد د زنا قائموي، او که چیرې د یو غائب د مال په غلا کیدو باندې ئې ګواهي ورکړه نو ګواهي به ئې مقبوله نه وي په دواړو مسئلو کې وجه د فرق دا ده چې په سرقه کې دعوی شرط ده، او چې کله مسروق منه غائب وي نو دعوی معدوم شوه.لهذا شهادت به نه قبلیږي ، په خلاف د زنا چې هغې کې دعوی شرط نه ده.

قوله وان اقرّ الخ: و ان أقر نه تر اربعةٌ پورې څلور مسئلې دي چې په هغې کې صرف په یوه مسئله کې حد واجب دی، په دریو کې واجب نه دی (۱) یو سړي د خپل ځان متعلق د زنا اقرار وکړو لیکن هغه د مزنیې ښځې نه نا واقف دی، نو په دې صورت کې حد واجب دی. ځکه چې د هغه په اقرار سره دا معلومه شوه چې موطوءة دده ښځه یا وینځه نه وه. ګنې د هغې نه د ناخبرئ هیڅ معنی نشته (۲) ګواهانو د یو سړي متعلق په زنا کولو باندې ګواهي ورکړه لیکن هغوی مزنیه نه پیژني نو حد نه لازمیږي ځکه چې دلته کې ددې خبرې احتمال شته دی چې دغه ښځه دده ښځه یا وینزه وي او ګواهان ئې نه پیژني (۳) دوه ګواهانو ګواهي ورکړه، چې فلاني سړي د فلانی ښځې سره د هغې په رضاء سره زنا کړې ده او دوو ګواهانو ګواهي وکړه چې په زبردستئ ورسره زنا کړي ده نو د امام صاحب په نزد په دواړو باندې حد نشته نه په سړي باندې او نه په ښځه باندې، ځکه چې دلته کې دوه مختلفې زنا ګانې دي چې په هغې باندې ګواهي کیږي یوه زنا بالرضا او بله زنا بالجبر ، او د دواړو ګواهان ناقص دي، البته د صاحبینو په نزد په سړي باندې حد لازم دی (۴) ګواهانو په زنا ګواهي وکړه او د زنا په ځائې کې اختلاف شو نو ددې دوه صورتونه دي (۱) یو دا چې دواړو ګواهانو شهادت وکړو چې زنا په کوفه کې شوې ده او نورو ګواهانو شهادت ورکړو چې په بصره کې شوې ده نو په ښځه او سړي دواړو باندې حد نشته، ځکه چې د اختلاف امکان په وجه سره په فعل زنا کې

اختلاف پیدا شو او د دواړو ګواهان ناقص دي (۲) دویم صورت دا دی چې څلورو ګواهانو شهادت وکړو چې زنا د پیر په ورځ لس بجې په کوفه کې شوې ده او نورو څلورو ګواهانو شهادت چې زنا د پیر په ورځ لس بجې په بصره کې شوې ده نو په دواړو باندې حد نشته، ځکه چې د شخص واحد په یو وخت کې په دوو مختلفو او متباعدو ځایونو کې داسې کول محال دي

قوله ولو اختلفوا الخ: دوو ګوهانو شهادت وکړو چې زید د کور په فلانې ګوټ کې زنا کړې ده او دوو ګوهانو شهادت وکړو چې د کور په فلاني ګوټ کې ئې زنا کړې ده، په داسې حال کې چې کور وړوکی وي نو په دواړو باندې به حد قائمیږي لیکن استحساناً ځکه چې رفع د اختلاف ممکن ده. په دې طریقې سره چې ابتداء په یو ګوټ کې شوې وي او انتهاء په دویم ګوټ کې شوې وي

قوله ولو کانوا الخ: څلورو ګواهانو د زنا شهادت ورکړو لیکن څلور واړه نابینا وو یا محدود فی القذف وو نو مشهود علیه یعنې سړي او ښځې باندې حد نشته بلکه په دغه ګواهانو باندې به حد قذف جاري کیږي ځکه چې کله د دوی په شهادت سره مال نه ثابتیږي چې هغه صرف په شبهې سره هم ثابتیږي نو حد زنا چې هغه په معمولي شان شبهې سره هم ساقطیږي هغه خو بطریق اولی نه ثابتیږي مطلب دا دی چې دوی د شهادت اهل نه دي. دارنګ که چیرې ګواهان درې کسان وو نو بیا هم دا حکم دی، ځکه چې د شهادت نصاب پوره نه دی، لکه چې ابوبکره، شبل بن معبد او نافع ابن الاذرق، د حضرت مغیره بن شعبه متعلق شهادت کړی وو نو حضرت عمر په دریو واړو باندې حد جاري کړو

ولو	رَجَعَ	أَحَدُ	الاربعةِ	بعدَ	الرّجمِ	حُدَّ	و	غَرِمَ	رُبعَ الدِّيةِ
او که چیرې رجوع وکړه په څلور ګواهانو کې یوه ګواه پس د رجم نه نو هغه ته به حد ورکیدی شي او د څلورمې حصې د دیت تاوان									
و	قبله	حُدُّوا	و	لا	رَجْمَ	و	لو	رَجَعَ أَحَدُ	الخمسةِ
به هم ورکوي او که چیرې رجم نه مخکې رجوع وکړي نو ټولو ته به حد ورکولی شي او رجم نه ثابتیږي او که چیرې په پنځو کې یو									
لا	شيَ	عليهِ	فَإِنْ	رجَعَ	أُخرُ	حُدَّ	او	غرِمَا	رُبعَ
کس رجوع وکړه نو په هغه هیڅ نشته، البته که چیرې یو بل کس هم رجوع وکړه نو دواړو ته به حد ورکولی شي، او ددیت									

الدِّيَةِ وَ ضَمِنَ المزكّوْنَ دِيَةَ المرجومِ انْ ظَهَرُوا عبِيْدًا كَمَا
د ربع به تاوان ادا كوي ، او ضامن كرځي تزكيه كوونكى د سنګسار كړى (۱) شوي، دديت كه چيرې هغوى غلامان ثابت شول لكه چې
لَوْ قَتَلَ مَنْ اُمِرَ بِرَجْمِهٖ فظهرُوا كَذٰلِك وَ اِنْ رُجِمَ
قتل كړي هغه چا لره چې د هغه د رجم كولو حكم شوى وو بيا هغوى دغه شان غلامان ثابت شول او كه چيرې هغه رجم شو، بيا
فَوُجِدُوْا عَبِيْدًا فديتُهٗ فِى بيتِ المالِ وَ لو قَالَ شهودُ الزنا تعمَّدْنَا
ګمراهان غلامان ثابت شول نود هغې ديت به بيت المال باندې وي كه چيرې ګواهانو د زنا شهادت وكړو چې مونږ قصداً ليدلي
النظرَ قُبِلَتْ شهَادتُهُمْ وَ اَنكرَ الاِحْصَانَ فشهِدَ عَلَيْهِ رَجُلٌ وَ امرأتَانِ
وو نو د هغوى شهادت به قبليږي،او كه چيرې زاني انكار وكړي د خپل احصان نه او يو سړي او دوه ښځې د هغه په
او وَلَدَتْ زوجَتُهٗ مِنه رُجِمَ
محصن كيدو باندې ګواهي وركړه يا د هغه د ښځې ماشوم وي دده نه نو رجم كيدى به شي.

د فقهي تشريح: قوله ولو رجع احد الاربعة الخ: د خلورو ګواهانو په ګواهئ سره مشهود عليه سنګسار شو ، دې نه پس په دوى كې يو د دوى د شهادت نه رجوع وكړه نو په رجوع كوونكي باندې به حد قذف جاري كيږي، ځكه چې دده شهادت منقلب په قذف شو ، او په ده به ربع ديت تاوان هم واجبيږي، ځكه چې د نفس اتلاف دده په شهادت سره شوى دى، او كله چې ده رجوع وكړه او اقرار ئې وكړو چې اتلاف نفس بغير د حق نه شوى دى نو دده په حساب سره د ديت تاوان واجبيږي.

قوله ولو رجع أحد الخمسة الخ: د پنځو ګواهانو په ګواهئ سره مشهود عليه سنګسار شو ، دې نه پس په دې پنځو كې يو كس رجوع وكړه نو په رجوع كوونكي باندې نه حد شته او نه تاوان ځكه چې د شهادت كامل نصاب باقي دى، او اعتبار ما بقى ګواهانو لره دى، نه چې رجوع كوونكو لره، ليكن كه چيرې پنځم ګواه سره يو بل كس هم رجوع وكړي نو په دواړو به هم حد جاري كيږي او د ربع ديت تاوان به هم وركوي

(۱) مزكي هغه ته وايې چې هغه د ګواهانو حال صحيح صحيح وښايې چې دوى قابل د شهادت دي. ۱۲

قوله و ضمن المزکون الخ: د شهادت د قبولیت لپاره د شاهدانو د عدالت د ثبوت ضرورت وو، څه خلکو ددوی متعلق شهادت ورکړو چې دا کسان د شهادت اهلیت لري یعنې ازاد دي، مسلمانان دي، نو ددوی په شهادت باندې مشهود علیه سنګسار کړی شو، هغې نه پس معلومه شوه چې ګواهان غلامان وو یا کافران وو، او چا چې ددوی د عدالت خبر ورکړی وو هغوی هم رجوع وکړه اوویې ویل چې مونږ دوی لره پیژندل لیکن مونږ قصداً دروغ وئیلي وو نو دا تزکیه کوونکي به د مرحوم ددیت ضامن وي، دغه شان که چیرې قاضي د شهود د تعدیل نه بعد د یو سړي د سنګسار کولو حکم کړی وو چا هغه لره د رجم په ځائې باندې قتل کړو وروسته بیا معلومه شوه چې دکومو ګواهانو په شهادت سره د رجم حکم شوی وو، هغوی د شهادت اهل نه وو، نو په قاتل باندې د مقتول د قتل دیت لازمیږي، او که چیرې دغه سړی سنګسار کړی شو په چا چې د سنګسار کیدو حکم شوی وو، او بیا ګواهان ثابت شول نو د مقتول دیت به د بیت المال نه ادا کیدی شي.

بَابُ حَدِّ الشُّرْبِ
(باب دی د شرابو څښلو د حد په بیان کې)
مَنْ شَرِبَ خمرًا فَأُخِذَ و رِيحُهَا موجودٌ او كَانَ سَكرانَ و لو
چا چې شراب وڅښل او هغه ګرفتاره کړی شو په داسې حال کې چې د هغوی بوئ موجود وو یا هغه په نشه کې وو، اګر چې په
بِنَبِيذٍ و شَهِدَ رجُلانِ أَوْ أَقَرَّ مرَّةً حُدَّ إِنْ عُلِمَ شُرْبُهُ طَوْعًا
نبیذو سره وي او دوه ګوهانو ګواهي ورکړه یا ئې یو ځل اقرار ورکړو نو حد به ورته لګیدلی شي که چیرې معلوم شول د هغو څښل
و صَحَا و . إِنْ اقرَّ أَو شَهِدَ بعدَ مُضِيِّ رِيحِهَا لَا.
په رضا سره او په افاقه کې وو او که چیرې اقرار ئې وکړو یا شهادت ئې وکړو پس د بوی ختمیدو نه، بیا پرې حد نشته.
لِبُعْدِ المسَافَةِ أَو وُجِدَ منه رائحةُ الخمرِ او تَقَيَّأَهَا أَو رَجَعَ عَمَّا أَقَرَّ
د وجې د بعد مسافت نه یا موجود شو د هغه نه بوئ د شرابو یا هغې قئ وکړو یا ئې د اقرار نه رجوع وکړه یا اقرار یې
أَو اقرَّ سَكرانَ بِأَنْ زَالَ عقلُهُ لَا وَ حَدُّ السُّكرِ و الخمرِ و لو شربَ قطرةً
وکړو په نشه کې چې د هغه عقل زائل شوی وو نو حد پرې نشته، او حد د نشې او د شرابو څښلو اګر چې یوه قطره

ثمانونَ سَوْطًا و للعبدِ نِصفُهُ وفُرِّقَ عَلٰی بَدنه کحدِّ الزِّنا.

وي اتيا کوړي دي، او غلام لپاره د هغې نصف دي او په شان د حد زنا دا به هم د بدن په مختلفو حصو باندې وهلی شي.

د فقهي تشريح قوله حدُّ الشربِ الخ: وجوب حد شرب لپاره پنځه شرطونه دي (۱) په خوله کې د شرابو د بوی موجودګي (لکه چې شراب ئې څښلي وي). (۲) نشه کيدل (که چيرې شرابو نه علاوه څه بل څيز ئې څښلی وي) (۳) د دوو کسانو سړو ګواهي، يا د شارب اقرار کول (۴) په رضا سره څښل (۶) نشه ختميدل.

قوله من شَرِبَ الخ: چا چې شراب وڅښل او په داسې حالت کې ګرفتار شو چې د شرابو بوی ئې په خوله کې موجودوو يا د شرابو نه علاوه د يو بل نشه ورکوونکي څيز په څښلو سره نشه شوی وي اګر چې هغه په نبيذ څښلو سره وي، او دوه کسان سړي د شرابو څښلو ګواهي ورکړي نو هغه ته به حد شرب لګيدلی شي، که چيرې معلومه شي چې هغه په خپلې رضا سره څښلی دی.

قوله سَکرانَ الخ: د وجوب حد په حق کې د سکران تفسير د امام صاحب په نزد دا دی چې د سړي او ښځې ترمينځه او د زمکې او اسمان ترمينځه فرق نشي کولی، ځکه چې حد يوه سزا ده لهذا په دې کې به د انتهائی سبب اعتبار وي د الله تعالی ارشاد (لا تقربوا الصلوة و انتم سُکری حتّی تعلموا ما تقولون) ددې مؤيد دي، او په حق د حرمت کې دا معتبر دی چې دده اکثر کلام بې هوده وي. صاحبين، امام مالک، اود امام شافعی په نزد د دواړو په حق کې د سکران تفسير هغه دی کوم چې د امام صاحب په نزد په حق د حرمت کې دی، قال فی المبسوط و اليه مال اکثر المشائخ و عليه الفتوٰی.

قوله وحدّ السّکر الخ: په حد شرب خمر کې د کوړو ثبوت د آنجناب صلی الله عليه وسلم ددې ارشاد نه دی **مَنْ شَرِبَ الخَمْرَ فَاجلدُوه (۱) فَانْ عَادَ فَاجلدُوه**، البته د کوړو د مقدار کې اختلاف دی، د امام شافعی رحمه الله په نزد څلويښت کوړې دي، ليکن بقول أصح قاضي ته اتيا کوړې وهل هم جائز دي.

---

(۱) اصحاب السنن غير الترمذي، ابن حبان، حاکم، عبدالرزاق، احمد عن ابي هريرة ۱۲، ائمه سته فی نسائی فی سننه الکبری، ابن حبان، حاکم، معاويه، نسائي، حاکم عن ابن عمر، ابوداؤد عن قبيصة نسائي (فی سننه الکبری) بزاز عن جابر، ابن حبان عن الخدری، حاکم، عبدالرزاق، احمد، ابن راهويه، طبراني عن عبدالله بن عمرو، حاکم، طبراني عن جرير، و شرحبيل بن اوس، بزاز، طبراني عن غطيف بن عياض، حاکم عن الشريد بن سويد (بالفاظ مختلفة).

كه چيرې هغه مصلحت گڼي. او د امام صاحب په نزد د هغو مقدار اتيا كوړې دي هم دا د امام مالک قول دی، او دا يو روايت د امام احمد هم دی، ځكه چې د حضرت عمر رضي الله عنه په خلافت كې د صحابو رضى الله عنهم په مشورې سره دا فيصله شوې وه هم په دې د صحابو رضى الله عنهم اجماع ده(۱).

بَابُ حدّ القذف

باب دی په بيان د تهمت زنا د حد كې

هو كحَدِّ الشُّرب كمِيَّةً و ثبوتًا فلو قَذَفَ مُحصِنًا او مُحصِنَةً بزنىً حُدَّ

هغه پشان دحد شرب دی په مقدار او ثبوت كې، نو كه چيرې تهمت ئې ولگولو په محصن سړي يا محصنې ښځې باندې د زنا نو

بطلبه مُفرَّقًا و لا يُنزَعُ عنه غير الفَرْوِ وَالحَشوِ و احْصَانُهُ بكونه

حد به ورته لگيدی شي د هغه په طلب باندې او نه به شي ويستلی كيدی د هغې نه سوا د پوستين او د مالوچ دلرې جامې نه، او د هغه محصن

مكلّفًا حرًّا مُسلمًا عفيفًا عَنِ الزنا فلو قَالَ لغيره لَستَ لِاَبِيكَ اَو

كيدل، عاقل، بالغ آزاد، مسلمان او د زنا پاكدامني ده، نو كه چيرې چاته ئې وويل ته د پلار نه نه ئې يا ته د فلاني خوی نه يې

لَستَ بِابْنِ فلانٍ فى غضَبٍ حُدَّ و فى غيره لا كَنَفيِه عن جدِّه و قوله

په حالت د غصې كې نو حد به ورته لگيدلی شي، او بغير د غصې نه نشته لكه نفي د هغه د نيكه نه، يا لكه دا قول دده يو عربي ته

لعربيٍ يا نبطيُّ ويا ابنَ مَاءِ السَّماءِ و نسبته اِلىٰ عَمِّه و خاله و رابه ولو

چې اې نبطي، او اې د اسمان د اوبو خويه، او نسبت كول دده تره ته، يا ماماته يا پرورش كوونكي ته، او كه چيرې وئې ويل چې

قال يا ابن الزانيةِ و اُمُّهُ مَيتةٌ فطلبَ الوَالِدُ اَو الوَلَدُ او ولدُهُ حُدَّ وَ

اې د زانيې خويه، او حال دا چې مور د هغه وفات وه، نو مطالبه وكړه پلار يا خوی يا نمسي نو حد به ورته لگيدی شي، او

لا يطالبُ وَلدٌ و عَبدٌ اباهُ وَ سَيِّدُهُ بقَذفِ اُمِّه و يَبطُل بموتِ

مطالبه نشي كولی خوی او غلام د خپل پلار يا د آقا نه په تهمت لگولو سره د هغه په مور باندې او حد باطليږي په مرگ د

---

(۱) ابن ابى شيبه عن على و ابن عباس، بخاري عن السائب، عن انس، حاكم، دارقطنى عن ابن عباس، عبدالرزاق عن عمر رضي الله عنه ۱۲

المقذوفِ لا بالرجوعِ و العفو و لو قالَ زنأتَ فی الجبَل و عَنَی الصُعودَ

مقذوف سره نه په رجوع سره او په عفو سره، او که چیرې وې ویل تا زنا کړې ده په غر کې او مراد ئې ختل وو نو حد به

حُدَّ و لو قال یَا زانی و عَکسَ حُدّ وَ لو قال لِامرأته

ورکیدی شي او که چیرې وئې ویل ای زنا کوونکیه ، او دویم کس هم دا روایې نو دواړه ته به حد لګیدلی شي که چیرې یو سړي

یا زانیةُ و عکسَتْ حُدّتْ و لا لِعَانَ و لو قالتْ

خپلې ښځې ته وویل اې زانیې، او ښځې د هغې عکس وکړو نو ښځې ته به حد لګیدلی شي او لعان نشته، او که چیرې ښځې

زنیتُ بک بَطلَا و اِنْ اَقرّ بِوَلدٍ ثم نَفاهُ یُلاعِنُ

وویل چې ماز نا کړې ده تا سره نو دواړه باطلیږي، او که چیرې د بچې اقرار ئې کولو او بیا ئې نفي وکړه نو لعان به کوي.

و انْ عَکسَ حُدَّ و الولدُ لهُ فیهما و لو قال لیسَ بابنِي

او که چیرې عکس ئې وکړو نو حد به لګیدلی شي. او ولد په دواړو صورتونو کې هم دده دی، او که چیرې وئې ویل چې دانه

و لا بابنِکَ بَطلا و مَنْ قذفَ امرأةً لَمْ یُدْرَ اَبُو

زما ځوی دی او نه ستا ځوی دی، نودواړه باطلیږي ، او چا چې تهمت ولګولو په داسې یوه ښځه باندې چې د هغې ماشوم

ولدِهَا اَو لا عَنتْ بِولدٍ او رجُلًا وطِیَٔ فی غیر مِلکِه

پلار معلوم نه وو یا ئې لعان وکړو په واسطې د ځوی سره، یا ئې داسې سړي باندې تهمت ولګولو چې هغه په غیر ملک کې

اَو امةً مشترکةً او مُسلمًا زنٰی فی کُفرہ

وطې کړې وه، یا ئې مشترکه وینځې سره وطې کړې وه، یا ئې په داسې یو مسلمان باندې تهمت ولګولو چې هغه په حالت د کفر

اَو مکاتبًا ماتَ عن وفاءٍ لا یحُدُّ و حُدَّ

کې زنا کړې وه، یا ئې په داسې مکاتب تهمت ولګولو چې هغه بدل کتابت ادا کړی وې او وفات شو نو حد به نشي لګیدلی

قاذِفُ و اطئ امة مجوسیةٍ و حَائضٍ و مکاتبةٍ و مسلمٍ نکحَ

او حد به لګیدی شي د مجوسیې وینځې ، حائضې او مکاتبې سره په وطې کوونکې باندې تهمت لګوونکې ته، او په هغه مسلمان تهمت

اُمَّهُ فی کفرہ و مُستأمِنٍ قَذَفَ مُسلِمًا و من قَذَفَ

لګوونکې ته چې هغه په حالت د کفر کې د خپلې مور سره نکاح کړې وې او حد به لګیدی شي هغه مستامن ته چې هغه تهمت

اَو	زنٰی	اَو	شرِبَ	مِرارًا	فحُدَّ	فهو	لكله
لګولی وي په مسلمان باندې، او چا چې تهمت ولګولو يا ئې زنا وكړه او يا ئې شراب وڅښل څو ځله او بيا ورته حد ولګيدو نو د احد به د ټولو امورو د طرف نه حسابيږي.							

د فقهي تشريح: قوله القذف الخ: د قذف لغوی معنی کاڼي ويشتل دي او شرعًا د زنا تهمت لګول دي، قذف په اجماع د ائمو سره په لويو ګناهو کې شمار دی، د نبي عليه السلام ارشاد دی چې اووه هلاکوونکو ګناهونو نه بچ شی (په هغې کې يو د زنا تهمت لګول دي) البته د شيخ حليمي شافعی په نزد غير محصنه يعني صغيره يا مملوکه يا بې حيا ازاده ښځه باندې تهمت لګول ګناه کبيره نه ده. (كذا فی النهر) ليکن دا خبره صحيح نه ده ځکه فقهاؤ چې کوم د احسان شسرط لګولی دی هغه وجوب حد لپاره دی نه چې د کبيره لپاره، د نبي عليه السلام ارشاد دی چې کوم سړی په ذمي تهمت ولګولو په هغه باندې په ورځ د قيامت د اور کوړې وهلی کيږي.

تنبيه: صاحب د بحر په حواله د جمع الجوامع شوافعو ته دا خبره منسوب کړې ده چې د هغوی په نيز په خلوت کې د زنا تهمت لګول صغيره ګناه ده ، ليکن دا نسبت صحيح نه دی، اول خو ددې وجې نه چې قذف ګناه صغيره ګرځيدل صرف د حليمي په نزد دي، لکه څنګه چې وړاندې ذکر شو ، دويمه دا چې په جمع الجوامع کې د ابن عبد السلام دا عبارت منقول دی الظاهر ان قذف المحصن فی خلوة ليس بكبيرة موجبة للحد اهـ او په دې سره صغير نه ثابتيږي ځکه چې کلام کله په څو قيودو سره مقيد وي نو صرف آخري قيد به نفي کيږي، نو د موجب حد نفي وشوه نه چې د کبيره ، كذا قال المحشی اللقانی دې تقرير سره د صاحب بحر دا وينا هم غلطه شوه چې قواعدنا لا تاباه ای لما قاله ابن عبد السلام.

قوله يا ابن مَاء السَّماء الخ: د يا ابن ماء السماء په وينا سره حد قذف نشته. ځکه چې په دې سره جود وسخا ، حسن وصفا تشبيه مراد ده، لکه چې د ابو مزيقيا عامر بن حارثه لقب ماء السماء وو ، په دې وجه سره چې د قحط سالۍ په زمانه کې به ئې خپل مال د باران په شان راورولو دغه شان ام المنذر د حسن و جمال په وجه سره ملقبه په ماء السماء سره وه، او د نعمان بن المنذر لقب هم د کثرت سخاوت په وجه سره ابن ماء السماء وو (غاية البيان)

قوله و لو قال زنأت الخ: يو سړي چاته وويل زنأت فی الجبل او مراد ئې ترينه په غر ختل واخيسته نو د شيخينو په نزد ده ته به حد لګولی شي د امام محمد رحمه الله او امام شافعی رحمه الله په نزد حد به ورته نه لګي ځکه چې د زنأت مهموز و حقيقي معنی د ختلو ده قالت امرأة من العرب.

اشبه اجا ملک او اشبه جمل: ولا تکونن کهکوف و کل: لصبح فی مضجعه قد انجدل: وارق الی الخیرات زناء فی الجبل. شیخین دا فرمائي چې زناء مهموز په فاحشه او بد کاری کې مستعملیږي او په غیظ و غضب کې هم دا معنی متعین ده.

قوله وعکست الخ: خاوند ښځې ته وویل یا زانیة، ښځې وویل لا بل انت یعنې زه زانیه نه یم بلکه ته زاني ئې نو په ښځه به حد قائمیږي او لعان نشته ځکه چې حد زوجة او د سقوط لعان قاعده دا ده چې هر کله دوه حدونه جمع شي او د یو حد په مقدم کولو کې د دویم حد اسقاط راځي نو د حد مؤخر کولو په غرض سره د مُسقِط حد تقدیم ضروري دی، نو په ښځه به حد قائمیږي دې لپاره چې هغه د لعان لائق پاتې نه شي، ځکه چې محدود فی القذف د لعان اهل نه دی، په خلاف د لعان نه چې د هغې په تقدیم سره حد نه باطلیږي.

سوال: قاعده مذکوره خو په هغې صورت کې ده چې کله دوه حدونه جمع شي او لعان خو حد نه دی؟
جواب: د لعان مشروعیت هم دانز جار لپاره دی، پس لعان هم د حد په معنی کې شو.

قوله ولو قال زنیتُ بک الخ: خاوند ښځې ته وویل زاني، ښځې جواب ورکړو چې ما تاسره زنا کړې ده، نو د شک په وجه سره حد لعان دواړه ساقطیږي، ځکه چې د ښځې په مراد کې دوه احتماله دي (۱) یو دا چې هغه زنا مراد وي کومه چې قبل د نکاح نه وي. دویم هغه زنا چې وروسته د نکاح نه وي یعنې هغه د نکاح جماع نه په زنا سره تعبیر کړی وي، په رومبي صورت کې حد واجب شو نه چې لعان، ځکه چې ښځې د خاوند تصدیق وکړو او خاوند د هغې تصدیق ونه کړو او په دویم صورت کې لعان واجب دی نه چې حد ځکه چې قذف د خاوند طرف نه شوی دی نه چې د ښځې د طرف نه، پس د لعان او حد د دواړو په ثبوت کې شک پیدا شو لهذا دواړه به ساقطیږي.

قوله وان اقرّ الخ: خاوند اول خو د ماشوم اقرار وکړو بیا ئې د هغې نفي وکړه نو لعان واجبیږي ځکه چې د اقرار په وجه سره نسبت ثابت شو اوس د هغه په انکار کولو سره دی قاذف شو، او په قاذف لعان دی او که چیرې اول هغه د ماشوم نفي وکړه او وروسته ئې بیا اقرار وکړو نو په سرې به حد قائمیږي ځکه چې هر کله ده خپل تکذیب وکړو نو لعان باطل شو او أصل یعنې حد باقي پاتې شو او که چیرې خاوند وویل چې دا ماشوم زما دی ستا نه دی نو حد او لعان دواړه ساقط شول ځکه چې خاوند د ولادت منکر دی، او په انکار د ولادت سره قاذف نه ګرځي

قوله ومن قذف امرءة الخ: دې ځائې نه تر لا يُحدُّ پورې شپږ مسئلې ذکر دي او د ټولو حکم سقوط حد دی (۱) په هغه ښځه ئې تهمت ولګولو چې د هغې د ماشوم پلار معلوم نه وو (۲) په هغه ښځه ئې تهمت ولګولو چې هغې د ولد د نفي په وجه سره لعان کړی وو په دې دواړو صورتونو کې قاذف باندې ځکه حد نشته چې د ښځې د طرف نه د زنا علامات موجود دی (۳) په هغه سړي ئې تهمت ولګولو چې هغه په ملک د غير کې وطي کړې وي (۴) يا شريکې وينځې سره ئې وطي وکړه په دې دواړو صورتونو کې شرط د احصان مفقود دی، ځکه پرې حد نشته (۵) په هغې مسلمان ئې تهمت ولګولو چې هغه په حالت کې د کفر کې زنا کړې وه. په قاذف حد ځکه نشته، چې هغه صادق دی ځکه چې هغه نه شرعاً د زنا تحقق شوی دی (۶): په هغه مکاتب ئې تهمت ولګولو چې هغه د خپل وفات نه وروسته دومره ترکه پرېښودې وه چې هغې سره بدل کتابت ادا کېږي، په قاذف حد ځکه نشته چې دا داسې مکاتب په حريت کې د صحابو اختلاف دی ،نو شبه پيدا شوه.

قوله وحُدّ الخ: دې ځای نه تر فی کُفرٍ پورې څلور مسئلې ذکر دي چې د هغې حکم وجوب حد دی (۱) مجوسيې وينځې سره وطي کوونکي باندې تهمت ولګولو (۲) خپلې حائضې ښځې (۳) يا مکاتبې وينځې سره وطي کوونکي باندې ئې تهمت ولګولو (۴) په هغو مسلمان ئې تهمت ولګولو چې هغه د کفر په حالت کې د يو داسې ښځې سره نکاح کړې وه چې هغه په ده حرامه وه شرعاً. په دې څلورو صورتونو کې په قاذف باندې حد لازم دی، او قاعده کليه دا ده چې کوم سړی داسې وطي وکړي چې د هغې حرمت لعينه وي نو د هغې په قاذف باندې حد نشته، او که چيرې د وطي حرمت لغيره وو نو په قاذف حد شته دی، او په غير ملک کې وطي حرام لعينه ده او په خپل ملک کې وطي هم حرام لعينه ده. که چيرې حرمت مؤبده وي، او که چيرې حرمت موقت وي نو بيا حرام لغيره دی، او دلته په څلورو واړو صورتونو کې خپل ملک ثابت دي، په (۲) او (۴) صورت کې ملک نکاح او په (۱) او (۳) کې ملک يمين او په (۲) کې اګر چې وطي حرام ده ليکن حرمت مؤقت دی، لهذا په هر صورت کې په قاذف باندې حد دی ليکن په (۴) کې د صاحبينو اختلاف دی، ځکه چې د هغوی په نزد د کافر نکاح د خپلې محرمې ښځې سره صحيح نه ده.

فَصلٌ: فی التعذِيرِ و مَنْ قَذَفَ مملوکًا او کافِرًا بِالزِنا او مُسلِمًا بِيَا فاسِقُ

«فصل دی په بيان د سزا کې چا چې تهمت ولګولو په غلام باندې يا کافر باندې په زنا سره او يا په مسلمان باندې په دې الفاظو

یا کافرُ یا خبیثُ یالِصُّ یا فاجرُ یا مُنافِقُ یا لُوطِیُّ یَا مَن یَلعبُ بالصِّبیَان

سره چې ای فاسقه، ای کافره ای خبیثه ، ای غله، ای فاجره، ای منافقه، ای لوطي ای ماشومانو سره لوبې کوونکیه

یا اٰکِلَ الرِّبٰوا یا شاربَ الخمرِ یا دَیُّوثُ. یا مخنّثُ یا خائِنُ یا ابنَ القحبةِ یا زندیقُ

ای سود خوره، ای شراب څښونکیه، ای بې غیرته، ای هیجړه، ای خیانت کوونکیه ، ای د زنا کارې څویه، ای بې دینه

یا قرطبانُ یا مَأوَی الزوانی او اللُّصُوصِ یا حرام زادَهُ عُزِّرَ و بیَا کلبُ یَا تَیسُ

ای د زنا کارو یا د غلو ادې، ای حرام زاده، په دې ټولو کې به سزا ورکړی کیږي، او ای سپیه، ای د غر چیلې

یا حِمَارُ یا خنزیرُ یا بقرُ یا حَیَّةُ یا حَجَّامُ یا بغّاءُ یا مُواجِرُ یا وَلَدَ الحرام یا عیَّارُ

ای خره، ای خنزیره، یا غوئیه، اې ماره، ای بې غیرته، ای بد کاره، ای حرامي، ای اواره، ای سرټیټیه ، ای

یا ناکِسُ یا منکوسُ یا سُخرةُ یا ضُحکةُ یا کَشخَانُ یا اَبلهُ یا مُوَسوِسُ لَا و اکثرُ

نسکوره، اې مسخرې ای د خلکو د خندا، ای بې شرمه، ای بې وقوفه ای موسوسه وینا کې سزا نشته او د

التعزیرِ تسعَةٌ و ثلٰثونَ سَوطًا واقلُّهُ ثلٰثةٌ ، وَصَحَّ حَبسُهُ بعدَ الضرب

تعذیر زیات نه زیاته سزا یو کم څلوېښت کوړې دې، او کم نه کم درې دې او صحیح دې هغه قید کول پس د وهلو نه

و اَشدُّ الضربِ التعزیرُ ثم حَدُّ الزِنا ثم الشربِ ثم القذفِ و مَن حُدَّ او عُزِّرَ

او سخت وهل تعذیر دی، بیا حد د زنا ، بیا حد د شرابو څښلو، بیا حد د قذف ، چاته چې حد ولګیدو یا سزا ورکړی

فماتَ فدَمهُ (١) هَدَرٌ بخلافِ الزوجِ اِذا عَزَّرَ زوجتَهُ لترکِ الزینةِ و الاِجابةِ

شوه او مړ شو نو وینه ئې فضول ده، په خلاف د خاوند نه چې کله هغه سزا ورکړې ښځې ته په زینت پرېښودلو سره یا په خبره

اِذَا دَعَاهَا اِلٰی فراشه و ترکِ الصَّلٰوةِ و الغُسْلِ و

نه منلو سره چې کله ئې راوبلي خپل فراش ته صحبت لپاره، او په لمونځ او غسل پرېښودلو باندې، او په وتلو

الخروجِ مِنَ البیتِ.

باندې د کور نه.

---

(١) و قال الشافعي یجب الدیة فی بیت المال. لنا انه مامورٌ و فعل المأمور لا یتقیدُ بالسلامة ١٢.

د لغت وضاحت: **تعزیر:** سزاورکول. **دیُّوث** بې غیرته، خپلې ښځې سره یو پردی سړی وویني او شرم محسوس نه کړي. **قَحْبَةٌ** زنا کاره. **قَرطَبَانٌ** مُعرب د قلتبان دی، مرادف د دیوث دی، یا هغه سړی چې خلک بد کار ته راجمع کړي. **زَوَانِي** جمع د زانیې ده. **تَيْسٌ** ښکلي چیلئ. **بَقَّاءٌ** هغه سړی چې د هلکانو کار کوي. **مُوَاجِدٌ** هغه سړی چې خپله ښځه د زنا لپاره په اجرت ورکړي. **سُخْرَةٌ** چې هغه پورې خلک توقې مسخرې کوي. **ضحكةٌ** هغه سړی چې هغه پورې خلک خندا کوي **گشخانٌ** د ښځې په حق کې بې غیرته.

د فقهې تشریح: **قوله فَصْلٌ:** زواجر مقدره یعنې دحدودو د بیان کولو نه پس زواجر غیر مقدره یعنې تعزیرات بیانوي، د نفس تعزیر مشروعیت د کتاب الله سنت رسول، او اجماع او د قیاس هر یو نه ثابت دی، آیت واضربوهن فان اطعنکم فلا تبغوا علیهم سبیلاً ، کې تادیبًا د زوجاتو د وهلو حکم دی، حدیث کې دي چې د حدود نه علاوه لس کوړونه به زیات وهل نه کوي[۱] دا رنګ چې کله ماشوم د لسو کالو شي نو بیا په ترک الصلوة باندې تعزیر ثابت دی ددې په مشروعیت باندې د اصحابو اجماع هم ده او د قیاس هم دا تقاضا ده چې افعال شنیعه او افعال قبیحه باندې د زجر او توبیخ وي لپاره ددې چې د ارتکاب فواحش عادت جوړ نشي.

قوله فی التعذیر الخ: په لغت کې تعزیر مطلق تادیب ته وئیلی شی، په ترش تندي سره وي یا که په سختو خبرو سره وي، یا که په وهلو ټکولو سره، دوه څلور وهلو سره وي یا که پنځو، لسو سره وي (در ، منح ، زیلعي) صاحب قاموس وئیلی دي چې د تعزیر اطلاق چې هغه وهلو باندې کیږي. چې هغه د حد د مقدار نه کمې وي، ابن حجر مکي هغې ته غلط وئیلي دی ځکه چې دا د تعزیر شرعي معنی ده نه چې لغوي معنی لیکن دا نسبت د غلطئ بې ځائې دی، ځکه چې صاحب قاموس صرف د اوضاع لغوی التزام نه دی کړی بلکه د هغه عادت دی چې هغه منقولات شرعیه او اصطلاحیه حتی چې الفاظ فارسیه هم د زیاتي فائدې په بناء باندې ذکر کوي (طحطاوی عن ابن السعود)

قوله ومن قذف الخ: په تعزیر او عدم تعزیر کې قاعده کلیه دا ده چې یو سړي مخاطب لره یو داسې فعل اختیاري طرف ته منسوب کړې چې هغه شرعًا حرام وي او عرفًا باعث عار وي نو په هغې کې په

---

(۱) صحیحین. ۱۲

قائل باندې تعزیر دی، او که چیرې هغه فعل منسوب اختیاري نه وي یا اختیاري وي لیکن شرعًا حرام نه وي یا شرعًا حرام وي لیکن عُرفًا باعث عار نه وي نو په هغې کې تعزیر نشته، ددې قاعدې پیش نظر د ټولو الفاظو حکم په اساني سره معلومیدی شي.

قوله واکثر التعزیر الخ: د امام صاحب په نزد د تعزیر اکثر مقدار یو کم څلویښت کوړې دي، او د امام ابویوسف په نزد ظاهر روایت په اعتبار سره پنځه اویا کوړې دي. امام محمد رحمه الله لره بعضو حضراتو امام صاحب سره یو ځای وئیلي دي، او بعضو امام ابویوسف رحمه الله سره ملګری ورته وئیلی دی، په تعزیر کې أصل دلیل دا حدیث دی (من بلغ حدًا فهو من المعتدین[1]) دا حدیث اګر چې مُرسل دی، لیکن د امام صاحب او د اکثرو اهل علمو په نزد حدیث مرسل حجت دی، او قابل عمل دی، او د حدیث تقاضا دا ده چې د تعزیر مقدار د حد مقدرا نه کم پکار دی، نو امام صاحب د احتیاط په بناء باندې (غلام د حد نه (چې هغه څلویښت کوړي دي) یوه کوړه کم کړه.

امام ابویوسف رحمه الله د احرارو د حد اعتبار وکړو، ځکه چې حدیث أصل دی، بیا د هشام روایت هم دا دی چې یو کم اتیا کوړې دي. د قیاس هم دا تقاضا ده، او امام زفر رحمه الله هم دا فرمائي. لیکن امام ابویوسف رحمه الله نه ظاهر روایت دا دی چې پنځه اویا کوړې دي. وجه دا ده چې د حُرّ انتهائی حد سل کوړې دي او د غلام انتهائی حد پنځوس کوړې دي، نو د هر یو نصف پکار دی، یعنې پنځوس د حر د حد، او پنځویشت د غلام د حد ، دې لحاظ سره د تعزیر اکثر مقدار پنځه اویا کوړې شوې. سوال: صحیح حدیث نه ثابته ده چې په غیر حد کې د لسو کوړو نه زیات وهل نه دي پکار (۲). جواب: د صحابه کرامو عمل د دې خلاف دی، معلومه شوه چې دا منسوخ دی، ګني صحابو کرامو به ددې مخالفت نه وی کړی، ځکه چې هغوی په احکام شرعیه کې اعلم الناس وو.

---

(۱) بیهقي، محمد عن النعمان بن بشیر ۱۲.

(۲) صحیحین عن ابی برده، بخاري عن جابر بن عبدالله، طبراني عن ابي هریرة ۱۲.

كتابُ السرقة

هي اخذُ مكلَّفٍ خُفيةً قدرَ عشرة دراهِمَ مَضروبةٍ مُحرزةٍ بمكانٍ اَو حافظٍ
دا نيول دي د مكلف په پټه باندې په اندازه د لسو درهمو چې هغه محفوظې وي په يوځاى كې يا د چا محافظ په ذريعه
فيُقطعُ اِنْ اقرَّ مرَّةً او شهِدَ رجُلان و لو جمعًا
سره پس لاس به پريكړى كيږي كه چيرې اقرار ئې وكړو يوځل ، يا دوه سړو گواهي وكړه، او كه چيرې غلا كوونكي يو
والأخِذُ بعضُهم قُطِعُوا اِنْ اَصَابَ لكلٍّ نصابٌ.
جماعت وي او اخيستونكى بعضې وي نو د ټولو لاس به پرې كړى كيږي، كه چيرې اورسيږي هر يو ته په قد د نصاب .

د فقهي تشريح: قوله كتابُ الخ: هر كله چې مقصود د حدود نه حفظ نفس ، حفظ عقل او حفظ عزت دى، دې وجې نه مصنف حدود مقدم كړه او مال سره د ځان او د عزت حفاظت مقصود وي دې وجې نه د حدود نه پس سرقه بيانوي.

قوله هِيَ الخ: سرقه په فتحې د سين او په كسرى د راء سره دى، او د راء سكون هم جائز دى، لُغةً د چا يو څيز په پټه اخيستو ته وئيلى شي، يقال سرق منه مالاً سرقًا و سَرِقةً او كله چې مال مسروقه نه هم مجازاً په سرقې سره تعبير كوي (مغرب) او په شريع كې د سرقې دوه تعريفونه دي (١) يو په اعتبار د حرمت سره دى ، او دويم په اعتبار د ترتب حكم شرعي سره دى، سرقه په اعتبار د حرمت سره هغې ته وايې چې د چا څيز خفيه طور باندې ناحقه واخيستى شي خواه كه هغه څيز بقدر نصاب وي يا نه وي، او په اعتبار د ترتب حكم شرعي سره د سرقې تعريف هغه دى چې هغې لره مصنف په هي أخذ مكلف اهـ سره ذكر كړى دى، يعني ترتب حكم شرعي په لحاظ سره سرقه هغې ته وايې چې عاقل بالغ سړى د چا بل سړي يو داسې څيز پټ كړى چې د هغې قيمت سكه دار لسو درهمو برابر وي، او په كور يا د يو محافظ په ذريعې سره محفوظ وي، مصنف اخذ مطلق ذكر كړى دى، چې هغه اخذ حقيقي او اخذ حكمي دواړو ته شامل دى، اخذ حقيقي لكه خپله يو څيز د محفوظ ځائې نه اوباسي، أخذ حكمي لكه يو څو غله يو كور ته داخل شي، او مال ملا كړي او د يو كس په شا باندې ئې انبار كړي او كور نه ئې بهر اوباسي، نو د ټولو لاسونه به پريكړى كيدى شي، دمكلف په قيد سره صغير مجنون خارج شو چې په دوى قطع يد نشته البته د ور تاوان پرې ضرور شته دى، په قيد د خفيةً سره لوټ مار، په زبردستى او د لاس نه تښتول د

سرقې د تعريف نه خارج شو، بيا که چيرې غلا په ښاريه کې دننه دورځې شوي وي نو په ابتداء کې هم اخفاء شرط ده، او که چيرې غلا د شپې شوې وي نو صرف په ابتداء کې اخفاء شرط ده. نو که چيرې غل د شپې په خفيه طور باندې کور ته داخل شو، بيا معلومه شوه چې مال ئې يوړو، نو لاس به ترينه پريکړې کيږي، په عشرة دراهم قيد سره هغه مقدار د سرقې د حکم نه خارج شو چې هغې نه کم وي، وسيأتي د مضروبةٌ په قيد سره د کچه چاندۍ لس تکړې چې د هغې قيمت لس درهمو نه کم وي، خارج شو، په هغې کې قطع د يد نشته، او که چيرې داسې وويلې شي چې درهم هغې ته وايې چې هغه سکه دار وي لکه چې مغرب کې ذکر دي نو بيا د مضروبة قيد ضرورت نشته، په قيد د مخرزةٍ سره غير محفوظ سامان خارج شو لکه هغه فصل چې هغه تر اوسه پورې کټ شوى نه وي و غير ذالک.

قوله قدر عشرة دراهم الخ: په مال مسروقة کې به لاس پريکړې کيږي يا که د هغې څه مقدار معلوم دى؟ په دې کې اختلاف دى. حسن بصرى داؤد ظاهرى اود خوارجو په نزد د قطع يد لپاره هيڅ مقدار معين نه دى. ځکه چې آيت والسارق و السارقة فاقطعوا ايديهما مطلق دى څه مقدار په کې معين نه دى. جواب: دا دى که چيرې آيت په خپل اطلاق باندې پريښودى شي نو بيا خو لازمه ده چې د غنمو په يوه دانه کې دې هم قطع يد وي حال دا چې د هغې هيڅوک قائل نه دى، معلومه شوه چې آيت کې اطلاق مراد نه دى، بلکه آيت مقيد دى، او يو مخصوص مقدار مراد دى، ليکن د دغې مخصوص مقدار په تعين کې اختلاف دى، د امام شافعي په نزد ربع دينار دى، اود امام مالک رحمه الله او امام احمد رحمه الله په نزد درې درهمه دي ځکه چې د نبي عليه السلام ارشاد دى چې ربع دينار کې لاس پريکوئ دې نه په کم کې مه پريکوئ (۱) دارنگ په حديث کې دي چې د نبي عليه السلام په زمانه کې قطع د يد د يو ډال په غلا کولو کې وه، چې د هغې قيمت درې درهمه وو. دا حضرات فرمائي چې د ډال قيمت کم نه کم درې درهمه نقل دي، او کم مقدار متيقن دى. لهذا دا به معتبر وي، سوال: د متفق عليه حديث نه په يوه رسى او په بيضه کې قطع د يد هم ثابت ده، بيا د دريو درهمو (۲) وو تعيين څه معنٰى لري؟ جواب: حديث مذکور لا تقطع يد السارق فى ربع دينار فصاعداً. په وجه سره په دغه حديث کې تاويل لازمي دى، يعني ربع دينار واله رسى. او د بيضې نه مراد د

---

(۱) احمد عن عائشه، بخاري. مسلم على غير لفظه ۱۲.

(۲) صحيحين عن ابن عمر ۱۲.

بیضة الحدید (۱) ده د احنافو په نزد د سرقې نصاب لس درهمه دی، ځکه چې د ډال قیمت دري درهمه نه زیات هم ثابت دي، او په باب د حدود کې په اکثر باندې عمل کول بهتر دي ځکه چې دا د ادرءو الحدود ماستطعتم د منشأ مطابق دی بیا د لسو درهمو تعیین د حدیث نه ثابت دی، لکه چې په یوروایت کې دي چې د نبي علیه السلام په زمانه کې قطع ید نه وو شوې مګر په یو ډال کې او هغه وخت د هغې قیمت یودینار یا لس درهمه (۲) وو په دې روایت کې د ایمن متعلق اختلاف دی چې دا صحابي دی که تابعي دی، نو امام شافعي رحمه الله، حاکم، ابن ابی حاتم، ابن حبان او د دارقطني رائې دا ده چې دا صحابي نه دی تابعي دی، لیکن ابن اسحق، ابن سعد، ابو القاسم بغوي، ابو نعیم، ابن منده، ابن قانع او ابن عبد البر وغیره تحیق دا دی چې صحابي دي، ابن اسحق خو تر دې پورې ثابته کړې ده چې هغه په جنګ حنین کې د نبي علیه السلام سره شریک وو، او د عباس په اشعار کې هم دغه مراد دی (۳).

نصرنا رسول الله فی الدار سبعة. و قد فر من قد فرعنه فاقشعوا : و ثامننا لا قی الحمام بنفسه. بما مسه فی الدین لایتوجع. لیکن دا اختلاف مضر نه دی، ځکه که چیرې صحابي وي خو بیا څه اشکال نشته، او که چیرې تابعي وي نو حدیث مرسل دی، او حدیث مرسل زمونږ په نزد او د اکثرو اهل علمو په نزد قابل حجت دی، بالخصوص کله چې هغه مؤید وي په نورو روایاتو سره، د نبي ﷺ ارشاد دی چې قطع ید نشته مګر په لسو درهمو (۴) کې نبي علیه السلام د یو سړي لاس د ډال په سرقه کولو کې پرې کړو چې د هغې قیمت یو دینار یا لس درهم وو. د نبي علیه السلام ارشاد دی چې د ډال د قیمت نه په کم کې د سارق لاس دې نه پرې کړی کیږي، حضرت عبدالله بن عمرو فرمائي چې د ډال قیمت لس درهمه وو (۵)، آثار هم د هغې تائید کوي (۶).

قوله فیقطع الخ: غل چې کله یو ځل د غلا اقرار وکړي یا دوه سړي ګواهي وکړي نو د غل لاس به پرې کړی کیږي. مصنف رحمه الله په قید د مرةً سره د امام ابویوسف رحمه الله د قول تردید کړی دی، ځکه چې

---

(۱) فی روایة البخاري قال الاعمش کانوا یرون انه بیض الحدید و الحبل کانوا یرون انه منه ما یساوي دراهم ۱۲.

(۲) طحاوي. طبراني عن ام ایمن، نسائي، حاکم عن ابن ام ایمن ۱۲.

(۳) طبراني. دارقطني عن ام مسعود. ۱۲.

(۴) ابوداؤد. نسائي. حاکم

(۵) نسائي. ابن ابي شیبه، دارقطني، احمد بن راهویه عن عمرو بن شعیب عن ابیه عن جده. ۱۲

(۶) عبدالرزاق، طبراني، عن ابن مسعود، ابن ابي شیبه عن عمر ۱۲.

د هغه په نزد په دوو مجلسونو کې دوه ځل اقرار کولو سره غلا ثابتیږي، لیکن ددې تردید ضرورت نشته. ځکه چې امام ابویوسف رحمه الله نه رجوع ثابته ده. قید د رجلان دې لپاره دی چې د سرقې په ثبوت کې د ښځو ګواهي معتبره نه ده. او که چیرې په غلا کې یو جماعت شریک وي او مال اخیستونکی بعضې وي نو د ټولو لاسونه به پریکړی کیدی شي، په دې شرط چې هر یو ته په قدر د نصاب مال رسیدلی وي، وجه دا ده چې غل عام طور سره داسې کوي چې بعضې کسان د مال راویستلو لپاره کور ته دننه ورشي، او بعضې کسان د حفاظت لپاره بهر ولاړ وي، که چیرې د ټولو لاسونه پرې نه کړی شي نو د غلو لاس ته به یو ښه طریقه ملاؤ شي، او د غلا دروازه به کهلاؤ شي.

ولا يُقطعُ بخشَبٍ وحشيشٍ و قصبٍ و سَمكٍ و طيرٍ و صَيْدٍ و زِرنيخٍ
او لاس به نه پریکړی کیږي په لرګو سره، په ګیاه سره، په ذُرمو سره، په مهیانو سره، په مارغانو سره، په ښکار سره، په زر نیخ
و مَغرةٍ ونورةٍ وفاكهةٍ رَطْبةٍ اوعلى شجرٍ و لبنٍ ولحمٍ و زرْعٍ لَمْ يُحْصَدْ وأشربةٍ
سره ، په چونې ، په میوې لمده سره، او په پیو سره او په غوښې سره او په فصل سره چې لو شوی نه وي ، او په أشربو
و طُنبورٍ و مَصحفٍ ولو محلّى و بابِ مسجدٍ و صليبِ ذهبٍ
سره او په ستا دسره او په قران پاک سره اګر چې هغه ښائسته کړی شوی وي، او په دروازې د مسجد سره، او په صلیب د سرو زرو
و شطرنجٍ ونَردٍ (۱) و صبيٍّ حرٍّ و لو مَعَهُ حُلي وعبدٍ كبيرٍ ودفاترٍ
سره او په شطرنج او نرد سره، او په غلا کولو ازاد ماشوم سره اګر چې هغه سره زیورات وي، او د لوی غلام او د دفاترو په غلا
بخلافِ الصغيرِ و دفاترِ الحسابِ و كلبٍ و فَهدٍ و دَفٍّ و طَبلٍ و بَربطٍ و مزمارٍ
کولو سره په خلاف د نابالغ غلام نه، او په دفاترو د حساب سره او د سپو ، پړانګ، طنبل ، ډهول اوسارنګي او په آلاتو د سرود
و بخيانةٍ ونهبٍ و اخلاسٍ و نبشٍ و مالٍ عامّةٍ او مشتركٍ و مثلِ دَيْنه و
غلا کولو سره، خیانت کولو ، لوټ کولو اوپه تښتولو سره، او مال عام او مال مشترک او په قدر د قرض مال غلا کولو او
بشيءٍ قُطِعَ فيهِ ولَم يَتغيّر و يُقطع بسرقةِ السَّاجِ و القنا
دلسې څیز غلا کولو کې چې هغې کې لاس پرې کړی شوی وي او هغه بدل شوی نه وي لو لاس به پریکړی کیږي، د ساک په لرګي غلا کولو کې او

---

(۱) یو قسم لوبه ده چې هغې لره ارد شیر بن بابک شاه ایران ایجاد کړی وه ۱۲.

و الأبنوسِ و الصَّندل والفُصُوْصِ الخُضْرِ و الياقوتِ والزبر جَدِ واللّؤلؤ و الاَوانِي و الابواب
په ونا او آبنوس او صندل او شنو غمو کې او یاقوت، او د زبرجد او ملغلرو کې،او په لوښو کې اود دروازو په غلا کولو کې چې
المتخذة مِن الخشبِ
چې هغه جوړې شوی وي د لرګي نه

(هغه څیزونه چې هغې سره لاس پریکړی کیږي، او هغه چې هغې سره لاس نه پریکړی کیږي د هغې تفصیل)

د فقهي تشریح: قوله ولا یقطع الخ: بخشبٍ نه تر ولم یتغیر پورې اته دیرش څیزونه کم چې مصنف شمار کړی دی، په دې کې زمونږ په نزد قطع د ید نشته. د ائمه ثلاثه په نزد په استثناء د طین اوتراب او سرقین نه په هر څیز کې قطع د ید ده کله چې د هغې قیمت نصاب ته اورسیږي.
زمونږ په نزد قاعده کلیه دا ده چې د هر هغه څیز په غلا کولو کې قطع دیَد ده چې هغه عزیز او نفیس مال وي، او په دار اسلام کې مباح الاصل نه شي بیا موندی کیدی، په داسې حال کې چې هغه غیر مرغوب وي، د عزیز او نفیس مال په قید سره ګیاه او سرکُنړي وغیره مملوک څیزونه خارج شول، ځکه چې دې کې قطع د یَد نشته او په قید د مباح الاصل سره خوشبویه خیته وغیره خارج شوه په دې سلسله کې أصل دا حدیث دی چې د نبي علیه السلام په زمانه کې به د خسیس او حقیر څیزونو کې قطع د ید به نه کیده[۱].

قوله وبشيءٍ قطع الخ: یو سړي د زید څه څیز غلا کړو او د هغه لاس پریکړی شو او هغه څیز زید ته واپس شو او په هغې کې څه تبدیلي نه وه راغلې چې هغه سړي بیا غلا کړو نو اوس دوباره ترینه لاس نه پریکړی کیږي استحساناً د قیاس تقاضا خو دا ده چې دوباره دې قطع د ید اوشي هم دا د امام ابویوسف نه یو روایت دی او د ائمه ثلاثؤ قول دی ځکه چې د نبي علیه السلام ارشاد دی فان عاد فاقطعوا[۲]. دارنګ دوباره غلا کول هم کامله غلا ده. بلکه غلا نه زیاته قبیح ده ځکه چې یو ځل ورته زجر و توبیخ وشو او بیا هم منع نه شو. زمونږ دلیل دا دی چې یو ځل قطع د ید سره عصمت محل ساقط شو، ځکه چې د نبي علیه السلام ارشاد دی لا غدم

---

(۱) ابن ابي شیبه عن عائشة ۱۲

(۲) ابوداؤد، عن جابر، دارقطنی عن ابي هریرة ۱۲.

علی السارق بعد قطع یمینه (۱). او سقوط د عصمت محل دا موجب د انتفاء د قطع د ید دی.

سوال: په قطع د ید سره اګر چې عصمت محل ساقط شو لیکن کله چې شئ مسروق مالک ته واپس شو نو عصمت خو بیا واپس راغلو، لهذا قطع د ید پکار ده؟

جواب: عصمت اګر چې واپس شو لیکن د اتحاد ملک او د اتحاد محل په لحاظ سره اوس هم د سقوط عصمت شبه باقي ده. او په وخت د وجود د شبهې کې حد نه قائمیږي، او که چیرې د شئ مسروق ذات متغیر شو مثلاً د تار په غلا کې قطع د یدَ شوې وه، کله چې تار واپس شو نو مالک ترینه جامه جوړه کړه، یا په سبب د ملک کې تبدیلي راغله، مثلاً قطع ید نه پس مالک خرڅه کړه او بیا ئې واخیسته او سارق بیا غلا کړه، نو په دواړو صورتونو کې قطع د ید به کیږي، ځکه چې دلته کې عین شئ بدل شو، په رومبني صورت کې بالذات او په دویم صورت کې بالسبب، پس د اتحاد ملک یاد اتحاد محل چې کومه شبه وه هغه ختمه شوه لهذا قطع د ید به وي.

فصلٌ فی الحِرز مَن سَرقَ مِن ذی رحمٍ محرمٍ لا برضاعٍ و من زوجته
فصل دی په بیان د محفوظ کې، چا چې غلا وکړه د غیر رضاعي ذی رحم محرم نه یا د خپلې ښځې نه یا د خپل خاوند نه،
وزوجِها و سیّده و زوجته و زوجِ سیدته و مکاتبه و خَتَنِه و صِهرِه
یا د خپل اقا نه یا د اقا د ښځې نه، یا د خپلې سیدې د خاوند نه، یا د خپل مکاتب نه یا د زوم نه یا خسر نه.
و من مَغنمٍ و حمامٍ و بیتٍ اُذِنَ فِی دخوله لم یُقطع.
یا د غنیمت یا د حمام نه یا دداسې کور نه چې هغه ته د دخول اجازت وي نو لاس به نه پریکړی کیږي

د فقهي تشریح: قوله فصلٌ الخ: د واجب القطع او غیر واجب القطع مال مسروق د بیان نه پس حرز ذکر کوی، ځکه چې وجوب قطع ید لپاره د مال محفوظ کیدل شرط دي، لیکن حرز مال هر کله چې یو امر خارجي دی ځکه ئې وروسته ذکر کوي، حرز په لغت کې محفوظ ځائی ته وایې یقال احرزه اذا جعله فی الحرز (مغرب) شرعاً هغه ځائې ته وایې چې هغې کې عادةً د مال حفاظت کیږي لکه کور، دکان، خیمه، صندوق وغیره.

---

(۱) دارقطني. نسائي. بزاز، طبراني، بیهقي عن عبدالرحمن بن عوف (بالفاظ مختلفة). ۱۲.

قوله ومن سرق الخ: چې كوم سړي د خپل رشته دار محرم نه يو څيز غلا كړو او رشته داري په وجه د رضاعت سره نه وي، نو قطع د يد به نه كيږي . ځكه چې د اصولو د فروعو د مال نه عام طور سره انتفاع حاصليدى شي. او څه مشكل پكې نه وي، نو شبه پيدا شوه، د عدم رضاعت قيد ځكه دى چې كه چيرې رشته دار نسباً محرم نه وي. د رضاعت په سبب سره وي، مثلاً د تره ځوى رضاعي ورور وي چې هغه نسباً رشته دار دى او په اعتبار د رضاعت سره محرم دى نو د هغې د څيز په غلا كولو سره به قطع د يد كيږي.

قوله برضاع الخ: علامه زيلعي ذكر كړي دي چې د رضاعي پلار يا د ځوى يا د ورور مال غلا كولو موجب د قطع دى. او دا په ذى رحم محرم كې داخل نه دي. لهذا د لا برضاعٍ ضرورت نشته. علامه عينى او صاحب نهر د دې ترديد كړى دى، او وئيلي ئې دي چې ددې قيد ضرورت شته دى، ځكه چې د قرابت نسبي او د رضاعت د محرميت اجتماع جائز ده. ځكه چې قرابت صرف نسبي وي او محرم كله نسبي وي او كله رضاعي، نو د محرم رضاعي د خارج كولو لپاره لا برضاعٍ ضرورت شته دى. علامه ابن عابدين فرمائي چې دا د هغې حضراتو غفلت دى ځكه چې په وخت د شرحي كولو كې د علامه زيعلي نظر ته د كنز چې كومه نسخه وه هغه دې الفاظو سره ده ذى رحم محرم منه. هم ددې په مثل د هدايې عبارت دى په دې كې لفظ د منه د محرم قيد دى. او ضمير رحم طرف ته راجع دى اي محرم من الرحم، نو د تره ځوى چې هغه رضاعي ورور وي دې نه خارج شو. ځكه چې هغه محرم رضاعي دى نه چې محرم نسبي، فقوله بلا رضاعٍ لم يفد شيئاً فافهم.

قوله ومن زوجته الخ: خاوند د ښځې نه څه څيز غلا كړي يا ښځه د خاوند نه څه څيز غلا كړي زمونږ په نزد قطع د يد نشته. اگر كه غلا د زوجينو په حرز خاص سره وي ځكه چې د زوجينو په مال كې د بې تكلفى تعلق وي، پس په حرز كې شبه پيدا شوه په دې سلسله كې د امام شافعى درې قوله دي (۱) قطع د يد ده، د امام مالك او امام احمد هم دا قول دى. (۲) قطع د يد نشته، دا يو روايت د امام احمد هم دى (۳) كه چيرې خاوند د ښځې مال غلا كړي نو قطع د يد شته دى، او كه چيرې ښځه د خاوند مال غلا كړي نو قطع د يد نشته.

قوله وختنته الخ: كه چيرې څوک د خپل زوم يا د خسر مال غلا كړي نو په هغې كې هم د امام صاحب په نزد قطع د يد نشته. د صاحبينو او د ائمه ثلاثهؤ په نزد قطع د يد شته دى. ځكه چې دلته كې په مال او حرز كې هيڅ شبه نشته. چې د هغې په وجه سره قطع د يد نه وي.

امام صاحب دا فرمائي چې د اختنان او د اصهار مينځ كې انبساط دى، دارنګ هغوى د يو بل كور ته بغير د اجازت نه داخليدى شي، پس په حرز كې شبه موجود ده. ځكه چې قطع د يد نشته.
و فى المجمع ان قول الامام هو الاصح. دغه شان كه چيرې څوک مال غنيمت غلا كړي نو په هغې كې هم قطع د يد نشته؟ اګر چې په هغې كې د غل حصه نه وي ځكه چې مال غنيمت مباح الاصل دى. پس شبه راغله په يو روايت كې دي چې حضرت علي ﷺ ته يو سړى راوستلى شو چې هغه مال غنيمت غلا كړى وو، نو حضرت علي ﷺ د هغه لاس پرې نه كړو(۱). دغه شان د نبي عليه السلام په خدمت كې يو غلام پيش كړى شو چې هغه مال خمس نه غلا كړى وه. نو نبي عليه السلام د هغه لاس پرې نه كړو بلكه ويې فرمايل مال الله سرق بعضه (۲) بعضاً.

ومن سَرقَ من المسجد متاعًا و ربُّهُ عنده قُطِعَ وان سَرقَ ضَيْفٌ ممن اَضافه
او چا چې د جومات نه څه سامان غلا كړو او د هغې مالک هغې سره حاضر وو نو لاس به ترينه پريكړى كيږي، او كه چيرې ميلمه د كور به نه څه
اَوْ سَرقَ شيئًا و لم يُخرِجْه من الدارِ لا وانْ اَخرجَهُ من حجرةٍ اِلَى الدّارِ اَو اَغارَ
څيز يا چا ته څيز غلا كړو او د كور نه ئې ونه بنكلو نو لاس به ترينه نشي پريكړى كيدى، او كه چيرې راويستلو د حجرې نه مكان پورې يا دهاكه
مِن اهلِ الحُجَر على حجرةٍ او نقبَ فدَخلَ و اَلقَى شيئًا فى الطريق ثم اَخذه
واچوله حجرې والو كې يو كس په بله حجره باندې، يا ئې سورى وكړو او داخل شو او څه څيز ئې په لاره كې وغورزولو بيا ئې هغه واخيستو
او حملَهُ على حمارٍ فسَاقه و اَخرجهُ قُطِعَ و ان ناولَ اُخرَ من خارِج
يا ئې په خر باندې بار كړو او هغه ئې روان كړو او وې ويستلو نو لاس به ترينه پريكړى كيږي، او كه چيرې ور ئې كړو بل كس ته يو څيز بهر د
او اَدخَلَ يَدَهُ فى بيتٍ فاَخذَ او طَرَّ صُرّةً خارجةً مِن كُمِّهِ او سَرق مِن
كور نه يا ئې كور ته لاس داخل كړو او واپې خيستو، يا ئې هميانې واخيسته او پرې ئې كړه چې هغه بهر وه د لستوڼي نه يا ئې غلا كړو
قطارٍ بعيرًا اَو حِملاً لا و ان شَقَّ الحِملَ فسَرقَ منه اَو سَرق جوالقًا
د قطار نه اوښ يا د هغې بوجه نو لاس به ترينه نشي پريكړى كيدى، و كه چيرې بار ئې وشلولو او هغې نه ئې څه غلا كړل يا ئې پند هيرى غلا

(۱) عبدالرزاق. دارقطني. (فى المؤتلف و المختلف) ۱۲
(۲) ابن ماجه. بيهقي. عبدالرزاق. عن ابن عباس ۱۲.

فيه متاعٌ و ربُّهُ يحفظهُ او نائمٍ عليه او اَدْخَلَ يَدَهُ في صندوقٍ او في جَيْبٍ
کرو چې هغې کې اسباب وو او مالک ئې حفاظت کولو يا په هغې باندې ويده وو يا ئې خپل لاس داخل کړو په صندوق کې يا د چا په جيب کې
غيره او كُمّه فاخذ المالَ قُطِعَ
يا په لستونړي کې او مال ئې واخيستو نو لاس به ترينه پريکړې کيږي.

د لغت وضاحت: مَتاعٌ سامان. **ضَيْفٌ** ميلمه. **آغَارَ** هاکه ئې واچوله. **حُجَرٌ** جمع د حجرې ده. **نَقَبَ** سورې ئې وکړو. **نَاوَلَ** ور ئې کړو. **طَرَّ** پرې ئې کړو **صرّة** هميانئ **كُمٌّ** لستونړې. جوالق پنډ هيرې چې هغې کې غله اچوي.

د فقهې تشريح: قوله من المسجد الخ: مسجد نه مراد هر هغه ځاى دى چې هغه حرز شرعي نه وي نو په دې کې لاره او ځنګل هم داخل دي. ربه نه مراد صاحب مال دى، مصنف دې لره مطلق ذکر کړو. مقصد ئې دا دى چې د صاحب مال په يو خاص صفت سره موصوف کيدل شرط نه دي. بلکه عام دى که اوده وي يا که بيدار وي. عنده نه مراد دا دى چې صاحب داسې ځائې کې وي چې هغه ځائې نه خپل سامان وينې، خواه که د هغه د سر لاندې وي يا ئې په خوا کې وي يا ورته مخامخ وي، مطلب دا دى که چيرې يو سړي په نجد کې خپل سامان سره وي، ويده وي يا بيدار وي، او غلا د هغه سامان غلا کړي نو لاس به ئې پريکړې کيږي.

حديث کې دي چې حضرت صفوان بن اميه د خپل سر لاندې سامان اېښودى وو او مسجد کې ويده وو چې چا د هغه سامان غلا کړو نو نبي عليه السلام د هغه غل لاس پرې کړو[۱].

فائده: د حرز دوه قسمه دي، حرز مکان، حرز نګهبان، د حرز مکان په موجودګئ کې حرز نګهبان معتبر نه دى، ځکه چې حرز مکان د حرز نګهبان نه قوي دى، پس په حمام کې حرز نګهبان معتبر نه دى، ځکه چې هغه پخپله محرز دى، او په مسجد کې معتبر دى، ځکه چې مسجد د مالونو د حفاظت لپاره خو نه وي جوړ شوى، نو که چيرې مسجد صاحب مال د خپل مال سره موجود وي او بيا ترينه څوک غلا وکړي نو لاس به ترينه پريکړې کيږي ورنه قطع نشته.

---

(۱) ابوداؤد. نسائي. ابن ماجه، حاکم، مالک احمد عن صفوان ۱۲.

قوله ان سرق ضَيْفٌ الخ: که چيرې ميلمه د کور په د کور نه څه شيز غلا کړو نو قطع د يد نشته ځکه چې د کور په د طرف نه ميلمه ته چې کوم د داخليدو اجازت ملاؤ شوی دی، د هغې په وجه سره مکان د هغه په حق کې حرز پاتې نه شو، د غه شان هغه د کور يو فرد وګرځيدو پس د هغه فعل به خيانت وي نه چې سرقه. او که چيرې غل يو شيز غلا کړو او د کور نه ئې بهر نه وو اوښکی، نو بيا هم قطع د يد نشته ځکه چې دار ټول حرز واحد دی، پس د کور نه د ويشتلو نه بغير غلا نه ثابتيږي.

قوله و ان اخرَجَهُ الخ دئ ځائې نه تر قطع پورې څلور مسئلې ذکر دي چې په هغې کې د هر يو حکم قطع د يد ده (۱) په يو لوی کور کې ډيرې کمرې دي او د کمرو والا د دغې کور صحن ته محتاج نه دی بلکه هغوی ددې نه هغه شان فائده اخلي لکه د لارې او ميدان نه فائده، او س غل ددې کور د يوې کمرې نه څه شی غلا کړو او صحن خانې پورې ئې راوړو نو لاس به ئې پريکړی کيږي ځکه چې هره کمره د ساکن کمري په لحاظ سره مستقل حرز دی دي وجې نه د زيات اخراج ضرورت نشته (۲) د کمرې والؤ کې چا د بلې کمرې والؤ باندې لوټ مار وکړو څه شيز ئې غلا کړو نو لاس به پريکړی کيږي والوجه ما ذکرنا.

(۳): يو غل سوری وکړو او کور ته داخل شو او د هغه ځائې نه څه شيز ئې په قدر د نصاب واخيستو او بهر ئې وغورځولو. او بيا ئې د بهر نه واخيستو او ويې وړو قطع د يد کيږي، ځکه چې بهر ويشتل يو حيله او بها نه ده چې هغه د غلو عام عادت دی، دې وجې نه سوری کول، دننه ورتلل، بيا اوچتول ټول يو عمل دی (۴) غل مالِ مسروقه په ځناور خاروي باندې بار کړو بيا ئې ځناور بهر راوښکلو نو قطع د يد به کيږي ځکه چې د ځناور خاروي تلل او وتل هم هغې طرف ته منسوب دي.

قوله و ان نَاوَلَ الخ: دلته کې هم څلور مسئلې دي چې د هغې حکم عدم قطع ده (۱)، غل سوری وکړو، کور ته داخل شو، او هغه ځائې نه ئې مال اوچت کړو بل چاته ئې ورکړو، چې هغه د کور نه بهر وو نو د هيچا لاس به نه پريکړی کيږي ځکه چې اولنی غل نه اخراج ونه موندی شو، او دويم نه هتک حرز، پس يو کس باندې هم سرقه صادقه نه شوه (۲) غل سوری وکړو او د سوري نه بهر طرف ته ئې لاس راوويستو او مال ئې راوښکلو نو قطع د يد نشته. لعدم هتک الحرز(۱) (۳): د يو سړي هميانې د لستونړي نه بهر وه، غل هغه وشلوله د قطار نه يو اوښ يا په هغې باندې بار شوي بوجه نه ئې غلا وکړه نو قطع د يد نشته، ځکه چې قطار راښکونکې او بوتلونکې نه حفاظت مقصود نه وي،

(۱) لان الرباط من خارج فبالط لا تبقى الصرة داخل الكم فيتحقق الاخذ من الخارج ۱۲.

تر دې چې هتک حرز متحقق شي بلکه صرف قطع د مسافت او نقل د متاع مقصود وي.

فَصْلٌ فی کیفیةِ القطعِ و اثباتِه و تُقطعُ یمینُ السارِقِ مِنَ الزَّنْدِ و تُحسَمُ.

فصل دی په بیان د کیفیت د قطع د ید کې او په اثبات د هغې کې پریکړی کیږي به ښي لاس د غسل د مړوند نه او داغ کیدی به شي.

د فقهي تشریح: قوله وتقطع الخ: که چیرې غل غلا وکړي نو د هغه ښي لاس به د مړوند نه پریکړی کیدی شي، او په ګرمو تیلو باندې به داغ کیدی شي. زمونږ په نزد وجوبًا او د امام شافعی په نزد استحبابًا. د نفس ما قطع ثبوت خو د نص قراني نه دی، دحق تعالی ارشاد دی السارق و السارقة فاقطعوا ایدیهما. او د ښي لاس تعیین د حضرت عبدالله بن مسعود رضی الله عنه قراءت فاقطعوا ایمانهما نه دی چې هغه مشهور دی او د مړوند نه کټ کول متوارث او متواتر دي. او بعضو احادیثو نه هم ثابت دي (۱) نو د خوارجو دا وینا چې لاس د اوږې نه پریکول پکار دي مخالف د اجماع ده. او داغ ځکه ورکړی کیږي چې هغې سره وینه بندیږي، دا هم د حدیث نه ثابت دي حدیث کې دي چې د نبي علیه السلام په خدمت کې یو غل نیولی راویستی شو، نبي علیه السلام د هغې متعلق وفرمایل چې دده لاس پریکړئ، او داغ ورکړئ (۲). د امام شافعی رحمه الله او امام احمد رحمه الله په نزد قطع د ید او داغ نه پس په غاړه کې زوړندول هم سنت دي. لیکن د نبي علیه السلام نه دا حکم په هره قطع کې ثابت نه دی، دویمه دا چې روایت مذکوره د حجاج بن ارطاة په وجه سره معلول دي.

و رِجلهُ الیُسرٰی اِنْ عَادَ فانْ سَرقَ ثالثًا حُبِسَ حتّٰی یَتوبَ

او چپه پښه به پریکړی کیږي که چیرې دوباره ئې غلا وکړه، نو که چیرې دریم خل ئې غلا وکړه نو قید به کړی شي تر دې چې

و لم یُقطع کمَنْ سَرَقَ و اِبهَامُهُ الیُسرٰی مَقطوعةٌ اَو شلّاء

توبه وباسي او قطع د ید به نه کیږي لکه هغه څوک چې هغه غلا وکړي او د هغه چپه ګوته پریکړی شوې وي . یاشل

او اصبعَانِ منها سِوَاها او رِجلُه الیُمنٰی مقطوعةٌ و لا یضمنُ بقطعِ

وي یا د ګوتې نه علاوه دوه ګوتې پریکړی شوې وي یا د هغې ښې پښه پریکړی شوې وي، او ضامن نه ګرځي په پریکولو د چپ سره

(۱) دارقطني عن عمرو بن شعیب عن أبیه عن جده ابن عدي عن عبدالله بن عمرو. ابن ابي شیبة عن رجاء بن حیوة (مرسلاً)

(۲) حاکم عن ابي هریره. دارقطني. ابوداؤد. عبدالرزاق (مرسلاً) ۱۲.

اليُسرٰى مَن أُمِرَ بخلافه و طلبُ المسرُوقِ منه شرطُ القطعِ وَ لو
هغه څوک چې هغه ته د هغې د خلاف حکم شوی وي او د مسروق منه طلب کول شرط دي د قطع يد لپاره خواه که هغه
مُوْدَعًا اَو غاصبًا او صَاحبَ الرِّبَا و تُقطعُ بطلبِ المالكِ لو سَرقَ منهم
امانت دار يا غاصب يا سود خور وي، او لاس به پريکری کيږي په طلب کولو د مالک سره، که چيرې غلا ئې کړې دي د دوی نه
لا بطلبِ المالكِ وَ السَّارقِ لو سَرقَ من سَارقٍ بَعْدَ القطع ومن سرق شيئًا
نه د مالک يا د غل په درخواست سره، که چيرې غلا ئې کړې وي د غل نه پس د قطع يد نه، او چا چې څه څيز غلا کړو ، او
و رَدَّهُ قَبلَ الخصومَةِ الى مالكِه او مَلَكَهُ بَعْدَ القضاءِ او ادَّعٰى انه مِلكُهُ اَو
د فرياد کولو نه مخکې ئې خپل مالک ته واپس کړو يا غل د هغې مالک شو پس د قضا. نه، يا ئې دعواه وکړه چې دا زما
نَقصَتْ (۱) قيمتُه مِن النصابِ لم يُقطعْ و لو اَقرَّ بسرقةٍ ثم قالَ احَدُهُمَا
دي يا د هغې قيمت د نصاب نه کم شو نو لاس به نه پريکری کيږي که چيرې دوو کسانو د غلا اقرار وکړو بيا يو کس ووئيل
هو مَالِي لم يُقطعًا و لو سَرقًا و غَابَ اَحَدُهمَا و شهِدَا
چې دا زما مال دی، نو د يو کس لاس به هم نه پريکری کيږي او که چيرې دوو کسانو غلا وکړه او يو کس غائب شو او دوو کسانو
علٰى سرقتِهما قُطِعَ الاٰخرُ و لو اَقرَّ عبدٌ بسرقةٍ قُطِعَ و
په غلا باندې ګواهي وکړه نو د موجوده کس لاس به پريکری کيږي، او که چيرې غلام د غلا اقرار وکړو نو لاس به ئې پريکری
تُرَدُّ السَّرقةُ اِلى المسروق منه و لا يجتمِعُ قطعٌ و ضمانٌ و تُرَدُّ العينُ
کيږي او مال به مسروق منه ته واپس کيدی شي، او نه به جمع کيږي قطع او ضمان او عين به واپس کيږي که چيرې
لو قائِمةً ولو قُطِعَ لبعضِ السرقاتِ لا يضمنُ شيئًا و لو شقَّ ما سَرق
هغه موجود وو، او که چيرې لاس پريکری شو په وجه د بعضې غلا کانو نو ضامن نه ګرځي د هيڅ شي او که چيرې غلا شوی مال ئې
في الدَّارِ ثمّ اَخرجَهُ قُطِعَ و لو سَرقَ شاةً فذبحهَا فأخرجَهَا لا (۲)
په کور کې وشلولو او بيا ئې ويستلو نو لاس به پريکری کيږي او که چيرې ګډ ئې غلا کړو او حلال ئې کړو او وبې ويستلو نو لاس

(۱) عن محمد تقطع و هو قول زفر و الائمة الثلاثة اعتباراً بالنقصان في العين ۱۲ . مجمع

(۲) اى لا يقطع لان السرقة تمت على اللحم و لا قطع فيه ۱۲ زيلعي

و لو صَنَعَ المسروقَ دَرَاهِمَ أَو دَنَانِيرَ قُطِعَ و رَدَّهَا ولو صَبَغَهُ
نه به پرې کړی کیږي او که چیرې د غلا شوې مال نه روپۍ یا اشرفۍ جوړې کړې نو لاس به پریکړی کیږي او واپس کوې به، او که چیرې
أَحمرَ فقُطِعَ لا يُرَدُّ و لا يضمَنُ و لو اسْوَدَ يُرَدُّ(۱)
جامه سور رنګ کړه او لاس پرې کړی شو نو نه به جامه واپس کیدی شي او نه به ضمان ورکوي، او که چیرې تور رنګ ئې کړه نو جامه به واپس کیدی شي.

د لغت وضاحت: اِبهَامٌ کټه ګوته. شلاء شل لاس. مُوْدَعٌ چې هغه سره څه څیز امانت ایښودلی شوی وي. صَبْغٌ رنګ کول.

د فقهي تشریح: قوله ورجله اليُسرٰى الخ: که چیرې غل دوباره غلا وکړي نو د هغه چپه پښه به د ګیټې نه پریکړی کیږي ځکه چې دا د حدیث او اجماع نه ثابت دي. او د ګیټې نه پریکول د حضرت عمر رضی الله عنه فعل سره ثابت دي، بیا که چیرې دریم ځل غلا وکړي نو لاس به نه پریکړی کیږي، بلکه قید کولی به شي تر دې چې هغې نه توبه وباسي ځکه چې حضرت علی ﷺ فرمائي چې (کله غل غلا وکړي نو زه به د هغه ښي لاس پرې کوم، او چې دوباره غلا وکړي، نو چپه پښه به ئې پریکوم ، او چې دریم ځل غلا وکړي نو قید به ئې کړم تر دې چې هغه نه آثار د خیر ظاهر شي. ماته د الله نه حیا راځي چې زه غل په داسې حال کې پریږدم چې نه ئې لاس نه وي چې په هغې سره خوراک وکړي یا استنجاء وکړي او نه ئې پښې پاتې شي چې په هغې سره هغه ګرځي(۲). مصنف ابن ابی شیبه کې روایت دی چې حضرت عمر صحابو نه مشوره واخیسته نو صحابه کرامو رضی الله عنه د حضرت علی ﷺ د قول مطابق مشوره ورکړه، او هم په دې اجماع وشوه په نزد د امام شافعي په دریم ځل غلا کولو کې او په څلورم ځل غلا کولو کې ښي پښه به پریکړی شو. او په پنځم ځل چې غلا ئې وکړه نو نبي علیه السلام د هغه د قتل حکم وکړو او قتل کړی شو(۳). جواب دا دی

---

(۱) عند الطرفين لان السواد عند محمد زيادة لكنه لا يقطع حق المالک و عند ابي حنيفة السواء نقصان يوجب انقطاع حق المالک ۱۲. بحر الرائق.

(۲) محمد بن الحسن. دارقطني. عبدالرزاق، بيهقي، ابن ابي شيبه عن علي ﷺ. ۱۲.

(۳) ابوداؤد. دارقطني عن جابر. نسائي، طبراني، حاكم عن حارث بن حاطب. ۱۲.

چې دا روایت اگر چې په طرق متعدده سره مروي دی لیکن په قول د امام نسائي حدیث منکر دی. مصعب بن ثابت راوي قوي نه دی او دمحمد بن یزید متعلق کلام دی او عائذ بن حبیب شیعه دی، او که چیرې یوه درجه کې د هغې صحت تسلیم کړی شي نودا په سیاست باندې حمل دی، یا منسوخ کیدو باندې، او دلیل اجماع دصحابو ده لکه چې وړاندې ذکر شو، دغه شان پنځم ځل غلا کولو سره د قتل حکم د ټولو په نزد د طریقې د سیاست سره دی، نه چې په طریقې د حد سره.

قوله کمن سَرَقَ الخ: که چیرې د غل د لاس کټه گوته پریکړی شوی وي یا شل وي یا د کټې گوتې نه علاوه د لاس دوه نورې گوتې پریکړی شوې وي یا شلي وي، یا ئې ښئ پښه پریکړی شوې وي یا شل وي نو قطع به نه کیږي، ځکه چې د نیولو او د تگ منفعت هم په دې باندې موقوف دی، پس په داسې حالت کې پریکول په حقیقت کې هلاکول دي، ځکه به دی قید کولی شي.

قوله ولا یَضمن الخ: حاکم حداد ته وویل چې د غل ښي لاس پرې کړه، هغه په ځای د ښي لاس چپ لاس پریکړو نو د امام صاحب په نزد باندې پریکوونکی به تاوان نه ورکوي که قصداً ئې پریکړی وي یا که په خطاء سره په نزد د صاحبینو په صورت د عمد کې تاوان به ورکوي.

د امام زفر په نزد په صورت د خطاء کې به هم ضمان ورکوي ځکه چې ده معصوم لاس پریکړی دی او په حقوق العباد کې خطاء معاف نه ده. لکه چې په قتل خطاء کې دیت لازمیږي.

جواب دا دی چې دا خطاء اجتهادي ده ځکه چې په نص قراني کې د یمین تعیین نشته او اجتهادي خطاء معاف وي، صاحبین دا فرمایې چې ده یو معصوم جانب پریکړی دی، او د تاویل گنجائش نشته ځکه چې ده قصداً ظلم کړی دی لهذا معافي به نه کیږي امام صاحب دا فرمائي چې ده یو لاس پریکړو او د هغې هم جنس بل لاس ئې باقي پریښودو چې هغه دې نه بهتر دی یعني ښي لاسو پس دې لره به اتلاف نه شمار کیږي.

قوله ولو سَرَقا الخ: دوو کسانو غلا وړه او یو کس غائب شواو دوو گواهانو په غلا کولو باندې شهادت وکړو نو کوم غل چې حاضر دی د هغه لاس به پرې کړی کیږي ځکه چې د دویم کس غائب کیدل په خپله د هغه په حق کې د سرقې ثبوت لپاره مانع دي، نه چې په حق د حاضر کې، پاتې شو دا احتمال چې ممکنه ده چې هغه غائب غل راشي او دحاضر غل په حق کې څه شبه پیش کړي، نو هغه معتبره نه ده ځکه چې دا د شبهې شبه ده، او مسقط حد شبه ده نه چې شبهة الشبهه

قوله ولا يجتمع الخ: غل غلا وکړه او د هغه لاس پريکړی شو اوس که چيرې عين شی هغه سره موجود وي نو هغه به مالک ته واپس کولی شي ځکه چې دغه شی د هغه په ملک کې باقي دی او که چيرې هغه هلاک شوی وي نو په غل باندې تاوان نه راځي، ځکه چې حديث کې دي چې کله په غل باندې حد قائم کړی شي نو بيا په هغه تاوان نشته (۱).
ابن سيرين، نخعی، قتاده او حضرت حسن نه هم دا منقول دي.

قوله ولو صَبِغَهُ الخ: غل جامه غلا کړه او هغه ئې سور رنګ کړه، بيا د هغه لاس پريکړی شو. نو په نزد د شيخينو نه به هغه نه جامه واپس اخيستی شي او نه پرې تاوان شته د هغې د قيمت. په نزد د امام محمد جامه به ترينه واپس اخيستی شي. او په رنګ سره چې کوم زياتوالی شوی دی. هغه به واپس کړی شي. او که چيرې تور رنګ ئې کړه نو په نزدد طرفينو جامه به واپس کيدی شي. په نزد د امام ابويوسف رحمه الله دواړه صورتونه برابردي.

بَابُ قَطْعِ الطرِيْقِ

(باب دی په بيان د لارې شوکولو کې)

قوله بابٌ الخ: د سرقه صغری (يعنې د غلا) د بيان نه فارغيدو نه پس سرقه کُبری (لاره شوکول) ذکر کوي ځکه چې اول کثير الوقوع دی او ثاني قليل الوقوع. لاره شوکول، اګر چې ښکاره کيږي ليکن بيا هم د حاکمانو او د هغوی د نايبينو نه پټه کيږي، دې وجه نه بناء بر مجاز دي ته هم سرقه وئيلی شي بيا دې لپاره څو شرطونه دي (۱) لاره شوکونکی صاحب قوت او حشمت والا وي، يا يو داسې باوقعته سړی وي چې هغه په امتناع باندې قادر وي (۲) لاره شوکول به د ښار نه بهر وي، په ښار کې شوکه نه کيږي البته د امام ابويوسف رحمه الله په نزد د شپې وخت کې ښار کې دننه هم متحقق کيدی شي په دې فتویٰ ده. (اختيار) (۳) په دار اسلام کې وي (۴) مال ماخوذ په قدر د نصاب وي (۵) شوکمار د صاحب مال رشته دار نه وي (۶) شوکمار توبې ويستو نه وړاندې ګرفتار وي پس د توبې نه ګرفتار کيدو سره حد ساقطيږي (شلبي، نهر، درر المنتقیٰ)

---

(۱) طبراني عن عبد الرحمٰن بن عوف (في تهذيب الاثار) ۱۲.

أُخِذَ قَاصِدُ قطعِ الطريق قبلَهُ حُبِسَ حتى يتوبَ و ان

او نیولی شو قصد کوونکی د لارې د شوکې مخکې د شوکې نه، نو هغه به قید کولی شي تر دې چې توبه وباسي، او که چیرې

اَخَذَ مَالاً معصومًا قُطِعَ يَدَهُ و رِجلُهُ من خلافٍ و اِنْ قَتَل قُتِلَ حدًا.

واخیستو مال معصوم نو پریکړې کیدی به شي د هغه لاس او پښه مخالف ، او که چیرې خوک ئې ووژلو نو دی به هم حداً وژلی کیږي

و اِنْ عَفَا الولِيُّ و اِنْ قَتَلَ و اَخَذَ قُطِعَ و قُتِلَ وَ

اگر چې معافي وکړي ولي، او که چیرې قتل ئې هم وکړو او مال ئې هم واخیستو نو لاس به ترینه پریکړې کیږي او قتل کیدی

صُلِبَ او قُتِل اَو صُلِبَ و يُصَلَّبُ حَيًّا ثلثةَ ايامٍ

به شي ، او په سولۍ کولی به شي، یا به قتل کیدی شي یا به په سولۍ کیدی شي او ژوندی به په سولۍ کیدی شي درې ورځو پورې

و يُبعَجُ بطنُهُ برُمحٍ حتى يموت و لم يَضمنْ مَا اَخذَ و

او سورۍ کولی به شي گیډه د هغه په نیزې سره تر دې چې مړ شي او ضامن نه گرځي هغه مال چې کوم ئې اخیستی وي، او

غيرُ المبَاشِر كالمباشِر و العصَا و الحجرُ كالسيفِ و اِنْ اَخذ مالاً و جَرحَ

غیر مرتکب په شان د مرتکب دی، او همسا او کاڼرې په شان د تورې دی، او که چیرې مال ئې هم واخیستو او زخمي ئې هم کړو

قُطِعَ وَ بَطلَ الجَرحُ وان جَرحَ فقط او قتلَ

نو لاس پښې به ترینه پریکړې کیږي، او دزخم قصاص باطل گرځي، او که چیرې صرف زخمي کړی ئې وو یا ئې قتل کړی وو

فتابَ او كانَ بعضُ القُطَّاعِ غيرَ مكلّفٍ او ذارَحمٍ محرمٍ مِن المقطوعِ

بیا ئې توبه وویستله، یا بعضې ډاکوان غیر ملکف وو یا د مقطوع علیه رشته دار وو یا بعضې قافلې والا ډاکه واچوله

عليه اَو قَطَعَ بعضُ القافلةِ على البعضِ اَو قطعَ الطريقَ ليلاً او نهارًا بمصرٍ اَو

په بعضو باندې، یا ئې ډاکه وکړه د شپې یا د ورځې په ښاریه کې یا د دوو ښاریو په مینځ کې نو حد به نه وي پس ولي که

بين مِصرَيْن لم يُحَدّ فاَقَادَ الولِيُّ اَو عفاو مَنْ خنقَ فى المِصرِ غيرَ مرّةٍ قُتِلَ به

قصاص اخلي یا که معافي کوي، او هغه چا چې مرۍ تیز ندی کړه په ښاریه کې څو خله نو هغه به قتلولی شي

د لغت وضاحت يُبتَعَجُ البطن سوري کول. رَمحٌ نیزه. قُطَّاعٌ جمع د قاطع ده. ډاکوان، مرۍ، تیز ندئ کول

د فقهي تشريح: قوله أُخِذَ الخ: د ډاکو څو حالات دي (۱) د ډاکې په ارادې سره ووتلو، او ديو څيز اخيستلو او د چا وژلو نه مخکې هغه گرفتار شونو په دې صورت کې هغه به قيد کيدی شي آيت **انما جزاء الذين يحاربون الله ورسوله** کې د نفي أرض نه هم دا مراد ده (۲) ډاکې لپاره ووتلو او مال معصوم يعنې د يو مسلمان يا د ذمي مال ئې واخيستو نو د هغې ښي لاس او چپه پښه به پريکړی کيدی شي. **قال الله تعالى او تُقَطَّعَ ايديهم وارجلهم من خِلافٍ** (۳) مال ئې خو وانه خيستو ليکن څوک ئې ووژلو نو هغه به قتلولی شي اودا قتل به بناء بر حد وي نه چې از روی قصاص تر دې چې که اولياء د مقتول معافي وکړي نو نه معاف کيږي ځکه چې دا د شرعي حق دی نه چې حق د عبد (۴) مال ئې هم واخيستو او قتل ئې هم وکړو نو په دې صورت کې حکم ته د څو خبرو اختيار دی، ښي لاس او چپه پښه دې پريکړي بيا دې قتل کړي، هغې نه پس دې په سولئ کړي يا دې صرف قتل کړي يا دې صرف په سولئ کړي.

قوله والعصا الخ: د ډاکو د همسا او دکانړي حکم په شان د توري دی يعنې اگر چې د امام صاحب په نزد د همسا اودکانړي په ذريعې سره په قتل کولو کې قصاص نشته ليکن دلته کې به په هر صورت کې قتل کيدی شي ځکه چې دا جزاء په طريقې د قصاص سره نه ده بلکه جزاء د محاربي ده.نو په همسا او توره کې هيڅ فرق نشته.

قوله و ان أُخذ الخ: مال ئې واخيستو او څوک ئې زخمي کړو نو په دې صورت کې ښي لاس او چپه پښه به پريکړی کيدی شي، او د زخم په وجه سره هيڅ نه واجبيږي ځکه چې قطع د يد او ضمان دواړه نه جمع کيږي کمامر.

قوله و ان جرح الخ: په دې شپږو مسئلو کې حد نشته (۱) صرف زخمي ئې کړو (۲) قتل ئې کړو او قبل د گرفتارۍ نه ئې توبه ويستله (۳): په شوک مارو کې څوک غير مکلف وي، لکه ماشوم ليونی (۴) ياد مقطوع عليه څوک ذی رحم محرم وي (۵) قافلې والو په يو بل باندې ډاکه کړې وي (۶) چا په شپه کې يا د ورځې په يو ښار کې يا د دووښارونو په مينځ کې شوکه کړې وي. په دې تمامو صورتونو کې حد ساقط دی، البته د حقوق العباد مواخذه به ضرور کيږي يعنې دقتل عمد په صورت کې به قصاص او د أخذ مال به صورت کې مال واپس کول، که چيرې موجود وي گنې ضمان پرې واجب نه دی.

كِتَابُ السِّيَر

الجهادُ فرضُ كِفايةٍ ابتداءً فإن قامَ به قومٌ سَقَطَ عن الكلِّ و الا أثِمُوا

جهاد فرض كفايه دى په ابتداء كې، نو كه چيرې څه خلک ئې كوي نو د ټولو ساقطيږي، ګنې ګنهګار دي په پريخودو ددې، او

بتركه وَ لا يجبُ على صبيٍّ وَ امرأةٍ و عَبْدٍ وا عمٰى و مُقعَدٍ و أقطع

واجب نه دى په ماشوم باندې، ښځه باندې، په غلام په روند باندې، په ګوډ باندې او په هغې كس باندې چې د هغه لاس پښې پرې كړى شوې وي

دفقهي تشريح: قوله كتابُ الخ: د حدود او د جهاد دواړو مقصد دفع د فساد عن العباد ده، ليكن دحدود معامله مسلمانانو سره متعلق ده او جهاد كفارو سره كيږي، دې وجې نه پس د حدود د بيان جهاد ذكر كوي، سير جمع د سيرت ده په معنى د عادت، طريقه، طرز زندګي او د هيئت ده يقال هو حسنُ السيرة، او هغه ښه عادت والا دى. په اصطلاح كې ددې اطلاق كفارو سره جنګ كول او د هغې په متعلقاتو باندې كيږي لكه لفظ مناسک اطلاق په افعالو د حج بندي كيږي، په نزد د امام شافعي ددې سبب د كافرانو كفر دى او زمونږ په نزد د هغې په سبب د كافرانو جنګيدل دي.

قوله الجهادُ الخ: كه چيرې د بعضو خلكو په جهاد كولو سره مقصد حاصل شي د ټولو ضرورت نه وي نو بيا فرض كفايه دى چې د بعضو په كولو سره د ټولو نه فرضيت ساقطيږي او كه چيرې د ټولو ضرورت وي، مثلاً دښمن په مسلمانانو حمله كړې وي نو دغه وخت كې فرض عين دى. د نفس فرضيت دليل او امر قطعيه دى لكه (قاتلو المشركين كافةً)، «حتّى لا تكون فتنة» وغيره. سوال: ددې آياتونو د عموم نه ماشوم، ليونى، ښځه او مريض مخصوص دي. او عام مخصوص البعض ظنى الدلاة دي. چې هغې سره فرضيت نه ثابتيږي.

جواب: د ماشوم او ليوني خروج عقلاً ثابت دى، او داسې تخصيص سره عام ظني نه وي او ښځه او مريض ابتداءً د جهاد مخاطب نه دي او فرض كفايه خو ځكه دى چې جهاد فرض لعينه نه دى، بلكه لغيره دى. ځكه چې دا فى نفسه افساد دى، دا خو صرف ددين الهى غالب كولو لپاره او مسلمانانو نه د شر دفع كولو لپاره فرض كړى شوى دى، نو كله چې دا مقصد د بعضو نه حاصل شي نو باقي خلكو نه ساقطيږي.

سوال: د ظاهر اياتونو نه خو جهاد فرض عين معلوميږي، بيا ورته فرض کفايه ويل څنګه صحيح کيږي؟ جواب: حق تعالى د آيت (لا يستوى القاعدون) په آخر کې ئې و كُلاً وعد الله الحُسنى فرمايلي دي، که چيرې جهاد هميشه فرض عين وي نو قاعدون سره به د نيکئ وعده نه وه، بلکه هغوى به د عذاب مستحق وو.

وَ فرضُ عينٍ اِن هجَمَ العَدُوُّ فتخرُجُ المرأةُ و العَبْدُ بلا اِذنِ زوجِهَا

او فرض عين دى که چيرې دښمن حمله وکړه نو ښځه بغير د خاوند د اجازت نه او غلام به بغير اجازت د مولى نه اوځي.

و سَيِّدِه و كُرِهَ الجُعْل اِن وُجِدَ فَئٌ و الّا لَا فاِنْ حَاصَرْنَاهُمْ نَدعوهم

او مکروه ده مزدوري که چيرې بيت المال کې مال بيا موندى شو کنې نه دى مکروه، که چيرې مونږ د کافرانو محاصره وکړه نو

اِلى الاسلامِ فاِنْ اَسلمُوا و اِلّا اِلَى الجزيةِ فاِنْ قبِلوا

مونږ به ئې اسلام طرف ته راوبلو که چيرې هغوى مسلمانان شول خو بهتره خبره ده کنې جزيه به ترينه طلب کړو که چيرې هغوى

فلهم مَالنا و عليهم ما عَلَيْنا و لا نُقاتِل من

قبوله کړه نو هغوى لپاره هغه څه دي کوم چې مونږ لپاره دي، او په هغوى باندې هغه څه دي کوم چې مونږ باندې لازم دي، او مونږ

لم تَبلغهُ الدّعوةُ الى الاِسْلامِ و نَدعوا ندبًا من بلغتْه

به جنګ نه کوو د هغې کسانو سره چې هغوى ته دعوت اسلام نه وي رسيدلى او اسلام طرف ته به ئې رابلو استحبابًا هغه څوک چې هغه ته

و اِلّا نستعينُ باللهِ تعَالى ونُحارِبُهُم بنصب (۱) المجانيق و حرقِهم (۲)

دعوت رسيدلى وي کنې د الله مدد به طلب کوو هغوى سره به جنګيږو په منجنيقو قائمولو سره، د هغوى په سوزولو سره او دهغوى په

و غرقِهم و قطعِ اشجارِهم و افسَادِ زرُوعِهم و رَمْيِهم وَ اِنْ

غرق کولو سره او په پريکولو د ونو د هغوى سره او په بربادولو د هغوى د فصلونو سره او د هغوى په ويشتلو سره اګر که هغوى

تَتَرَّسُوا ببعضنا و نقصدهم و نهيْنا عَن اخراج مصْحَفٍ (۳) و امرأةٍ

په مونږ کې بعضو لره ډهال جوړ کړي او مونږ به د هغوى نيت کوو او مونږ منع کړى شوي يو د ويستلو د قرآن نه او د ښځې نه په داسې

(۱) كما نصب عليه السلام على الطائف ۱۲ مـه.

(۲) لانه عليه السلام احرق البويرة مـه (و هى نخل بن النضير).

(۳) قال النبى صلى الله عليه و سلم لا تسافروا بالقرآن فى ارض العدو ۱۲ مـه.

فى سريّةٍ يُخاف عليهم وَ غَدرٍ (۱) و غلولٍ و مُثلةٍ و قتلِ امرأةٍ
سريه کې چې په هغې کې په دوی باندې خوف وي، او د غدر نه او د خيانت نه په مال غنيمت کې او د مثلې کولو نه او د قتل د ښځو نه
غيرِ مكلّفٍ و شيخٍ فانٍ وَ اعمٰى ومقعدٍ اِلّا اَن يكون اَحَدُهم ذا رأيٍ فى الحربِ
او د غير ملكف نه اود شيخ فاني نه او د ړوندو اوګوډ د وژلو نه، مګر دا چې څوک په هغوى کې ذي رايې وي يا بادشاه وي او د
اَو مَلِكًا وقتلِ اَبٍ مُشركٍ ولِيَابَ الاِبنُ لِيَقتلهُ غيرُهٗ ونُصَالِحُهُمْ وَ
مشرک پلار د قتلولو نه او انكار دې وكړي خوى تر دې چې قتل كړي هغه لره بل څوک، او مونږ به هغوى سره صلح كوو،
لو بمَالٍ اِن خيرًا و نُنبِذ لو خيرًا و نقاتِل بلا نبذٍ
اګر چې ذريعې د مال سره وي په دې شرط چې بهتر وي ، او صلح به ماتوو كه چيرې مصلحت وي ،او مونږ به ورسره جنګيږو بغير د
لو خَانَ مَلِكُهم و المُرتدين بلا مالٍ فان
صلح ماتولو نه، كه چيرې، د هغوى بادشاه خيانت وكړي او مرتدينو سره به جنګيږو بغير د مال اخيستو نه، ليكن كه چيرې
اُخِذ لم يُردّ و لم نَبِعْ سلاحًا منهم و لم نقتُل مَن اَمَنَهٗ حُرٌّ
واخيستى شو نو دوباره نه واپس كيږي، او په هغوى به اسلحه نه خرڅوو، او هغه كس به هم نه وژنو چې هغه د ازاد سړي يا
اَو حُرّةٌ وَ نُنبِذُ لو شرًّا وَبَطلَ اَمَانُ ذِمّيٍ و اَسِيرٍ و تاجرٍ و عبدٍ محجورٍ عَنِ القتالِ
ښځي پناه وركړي وي اوماتولو به كه چيرې امن وركول ښه نه وو او د ذمي ،قيدي او تاجر او د قتلا نه د بند شوي غلام امان باطل دی.

توضيح اللغة: هَجَمْ سمدستي راتلل. جُعلٌ د جنګ كوونكي وظيفه. مجانيق، جمع د منجنيق ده، د قلعه په ديوال باندې د كاڼړو ويشتلو مشين. حِرْقٌ سيزل. اَشجَارٌ جمع د شَجَرٌ ده. ونه. زُرُوْعٌ جمع د زرع ده . فصلونه. تترس خپل ځان په ډهال سره پټول. سَرِيَّةٌ د فوج دسته. غَدْرٌ غداري كول غُلُوْلٌ مال غنيمت كې خيانت كول. مُثْلَةٌ پوزه غوږ پرې كول. مُقعد ګوډ. ليأب. أبى يأبى نه دى، انكار كول مراد ترينه بنديدل دى. نَنبذُ العَهْدَ ماتول. خَانَ خيانت ئې وكړو. سَلَاحٌ اسلحه عبد محجورٌ هغه

---

(۱) قال عليه السلام لا تغدر واولا تمثلوا و لا تقتلوا وليدا [للعه] ۱۲.

عه: ترمذي. ابوداؤد. مرسلاً. ابن سعد (فى الطبقات). هه: ائمه سته ۱۲ (۳) الجماعة الا الترمذي عن ابن عمر. ۱۲ (للعه): الجماعة الا البخارى عن بريده ۱۲.

غلام چې هغه ته د جنګ اجازت نه وي.

د فقهي تشريح: قوله وفُرِضَ الخ كه چيرې دښمن په يو ځل باندې حمله وكړي خواه كه دښمن كافر وي يا باغي وي، نو جهاد فرض عين دى، او ټولو مسلمانانو له وتل ضروري دي، اګر چې هغه اهل حقوق اجازت نه وركوي، نو ښځه به بغير د خاوند اجازت نه او غلام به بغير د اجازت د مولى نه هم په جهاد كې شركت كوي، په شرح د متقي كې دي كه چيرې د دار اسلام په يو ښار باندې كافر په هجوم سره راشي او د هغه ځاى خلك په دفاع باندې قادر وي نو د هغوى په حق كې جهاد فرض عين دى او د دوى نه ماسوىٰ لرې خلكو باندې فرض كفايه دى، او كه چيرې قريب والا خلك عاجز وي يا سستي وكړي نو په لرې خلكو باندې هم فرض دى، دغه شان په تمام اهل مشرق او اهل مغرب باندې فرض عين ګرځي.

قوله كُرِهَ الجُعل الخ: فئ هغه مال ته وايي چې د كافرانو نه بغير د جنګ نه حاصل شي، له خراج او جزيه، غنيمت هغې ته وايي چې په ذريعه د جنګ سره حاصل شي، ليكن دلته كې فئ مال غنيمت ته هم شامل دى، مطلب دا دى چې څو پورې بيت المال كې څه مال موجود وي نو حاكم ته د رعيت نه د جهاد لپاره مال اخيستل مكروه دي ځكه چې بيت المال د داسې قسم ضرورياتو لپاره دى، نه چې د حاكمانو د عيش و عشرت و ارام لپاره.

قوله فان حاصرناهم الخ: كه چيرې مسلمانانو د كافرانو محاصره وكړه نو اول به هغوى اسلام طرف ته رابللى كيږي كه چيرې هغوى اسلام قبول كړو نو بهتره ده، ځكه چې حديث كې دي چې «نبي عليه السلام يو قوم سره بغير د دعوت اسلام نه جنګ نه دى كړى (۱)».

كه چيرې هغوى د اسلام د قبلولو نه انكار وكړو نو بيا به ترينه د جزيې وركولو درخواست وكړى شي خو په دې شرط چې هغه اهل جزيه وي يعني اهل كتاب يا آتش پرست يا عجمي بت پرست وي، د عربو مشرك او مرتد نه وي، ځكه چې نبي عليه السلام اُمراء جيوش ته د دې حكم فرمايلى وو (۲) كه چيرې هغوى جزيه وركول قبول كړي نو په صورت د مظلوميت كې هغوى لپاره به انصاف وي، لكه څنګه چې اهل اسلام لپاره دى، او په صورت د ظالم كيدو كې هغوى نه به انتقام اخيستى شي لكه څنګه چې مسلمانانو نه اخيستى شي. او كه چيرې هغوى جزيه قبوله نه كړي، نو بيا به د الله په

---

(۱) عبدالرزاق، حاكم، أحمد، طبراني عن ابن عباس. ۱۲.

(۲) الجماعة الا البخاري عن بريدة ۱۲.

نوم سره هغوی سره جهاد او قتال کيدی شي.

قوله و نُنْبِذُ الخ: بيا که چيرې په حق د مسلمانانو کې صلح نه کول بهتر وي نو نه کول هم صحيح دي. اوس که چيرې تا حال د صلح موده باقي وي نو د صلح د ماتولو اعلان به وکړی شي. لپاره د دې چې عهد شکني چې کومه حرام ده لازمه نه شي. قال تعالی «و اما تخافنّ من قوم خيانة فانبذ اليهم علی سواء» «ان الله لا يحب الخائنين» (ای علی سواء منکم و منهم فی العلم بذلک) او که چيرې د صلح موده تيره شوې وي نو د اعلان ضرورت نشته ځکه چې صلح به خپله باطله شوه، او که چيرې د هغوی د بادشاه طرف نه خيانت ظاهر شي نو د صلح د ماتولو اعلان نه بغير به هغوی سره قتال کيدی شي ځکه چې د حديبيه په کال نبي عليه السلام قريشو سره د هغوی د نقض عهد او د خيانت په وجه سره قتال کړی وو.

قوله و لم نقتل الخ: که چيرې يو مسلمان ازاد سړی يا ښځه يو کافر ته أمن ورکړي نو هغه به نه قتليږي. اګر چې امن ورکوونکی فاسق يا نابينا يا شيخ فاني وي يا هغه ماشوم يا غلام وي چې هغه ته د قتال اجازت وي. ځکه چې د نبي عليه السلام لور حضرت زينب حضرت ابو العاص ته او ام هاني بنت ابی طالب حضرت عقيل ته امن ورکړی وو، او نبي عليه السلام هغې لره جائز کړو. او وئې فرمايل (يُجبر علی المسلمين أدناهم[1])

قوله و بطل الخ: صحت د امان د محل خوف سره مخصوص دی نو کوم سړی چې قتال نه شي کولی، د هغې امان ورکول بی معنی دي. لهذا د ذمي يو کافر ته أمان ورکول باطل دي. ځکه چې په اهل اسلام باندې ذمي ته ولايت نشته. البته که چيرې أمير لشکر هغه ته حکم وکړي نو صحيح ده (بحر، نهر، زيلعي، دُرر، عالمګيري) دغه شان مسلمان قيدي او مسلمانانو تاجر چې دار حرب کې وي، د هغوی أمان ورکول هم صحيح نه دي ځکه چې هغوی پخپله د کفارو په امان کې دي دغه شان کوم غلام ته چې د قتال اجازت نه وي، د هغه امان ورکول هم صحيح نه دي. د امام محمد رحمه الله او د ائمه ثلاثو په نزد صحيح دي. لقوله عليه السلام «ذِمّة المسلمين واحدةٌ يسعی بها أدناهم» امام صاحب دا فرمائي چې معنوي حيثيت سره أمان هم جهاد دی، او غلام محجور عن القتال دی، نو هغه د أمان په سلسله کې به هم محجور وي.

---

(۱) طبراني عن انس رضي الله عنه ۱۲.

بَابُ الغَنَائِمِ وقِسْمَتِهَا

باب دی په بیان د مال غنیمت کښ او د هغې په تقسیم کښ

مَا فتحَ الإمامُ عَنوةً قسَّمَ بَيْنَنا أَو أَقرَّ أَهْلَهَا

کوم ښار چې امام په غلبې سره فتح کړي نو هغه به زمونږ په مینځ کښ تقسیم کړي یا د هغې باشندګان به برقرار وساتي.

و وَضعَ الجزيةَ و الخِراجَ و قَتلَ الأَسْرٰى او اسْتَرَقَّ او تَرَكهُم

او جزیه او خراج به مقرر کړي او قیدیان به قتل کړي، یا به ئې غلامان کړي یا به ئې ازاد پریږدي ذمیان، او حرام دي

احرارًا ذِمَّةً و حَرُمَ رَدُّهُمْ إِلَى دَارِ الحَرْبِ و الفداءُ و المَنُّ و عقرُمواشٍ شَقَّ

هغوی واپس کول دار حرب ته، او فدیه اخیستل او احسان کول او د هغه چارپایانو قدمونه پښې پریکول چې د هغې ویستل

اخراجها فتذبح وتحرق وقسمة الغنيمة فى دارهم لا للايداع

مشکل وی بلکه هغه به ذبح کیږی او سوزولی به شی. او په دارِحرب کښ مال تقسیمول، نه چې دحواله کولو

و بيعُها قبلَها و شرك الرِّدءُ و المددُ فيهَا لا السُّوقِيُّ بلا قِتالٍ

په غرض سره او مخکښ د تقسیم نه هغه خرڅول، او شریک به وي کومک او مدد په مال غنیمت کښ نه چې بازاري خلک

وَ لَا مَنْ مَاتَ فيها و بعدَ الاحراز بدارِنا يُورثُ نصيبُهُ

او نه هغه څوک چې هغه وفات شي په دارِ حرب کښ، او په دار اسلام کښ د جمع کیدو نه پس د هغه حصه به وارثانو ته ورکیدی

و يُنتَفَعُ فيهَا بعَلفٍ وَ طَعامٍ و حَطبٍ و سَلاحٍ و دُهْنٍ بلا قسمةٍ

شي او نفع به اخیستی شي په هغې کښ په ګیاه سره او په طعام سره او په لرګو سره او په أسلحې سره او په تیلو سره بغیر د تقسیم نه

ولا يَبيعُها و بعدَ الخروجِ منها لا وما فضُل رُدَّ إِلى الغنيمةِ

او خرڅوی به ئې نه، او دار حرب نه وتلو نه پس نفع اخیستل جائز نه دي، او چې څه زیاتی شي هغه به مال غنیمت کښ واپس کولی شي

وَ مَنْ أَسْلَمَ منهم أَحرز نفسَهُ وطِفلَهُ و كلَّ مالٍ مَعه أو

او چا چې اسلام راوړو ددوی نه نو هغه به محفوظ ساتي ځان خپل ، او ماشوم خپل لره او خپل هر هغه مال چې هغه ده سره وي،

وَدِيعَةً عندَ مُسلمٍ او ذمّيّ دُونَ ولدِه الكبيرِ و زوجتِه و حَمْلِها و عقارِه و عَبْدِه المقاتِل.

او هغه ودیعت چې هغه یو مسلمان یا ذمي سره وي نه چې خپل مشر ځوئ سره او خپلې ښځې سره او د هغې حمل او خپله زمکه او خپل جنګي غلام لره

د لغت وضاحت: **غنائم** جمع د غنيمت ده. **عنوة** په طريقې د قهر او غلبې سره. **اسرٰی** جمع د أسير ده، قيديان. **فداء** هغه مال چې د ازادي لپاره ورکړې کيږي. **منّ** احسان کول. **عقرٌ** پښې، قدمونه پريکول. **مواشٍ** جمع د **ماشية** ده څناور چارپايه. **ردٌّ** مدد. **سُوقِيٌّ** بازاري. **علفٌ** گياه. **حطبٌ** لرگي. **سلاحٌ** اسلحه، **دهنٌ** تيل.

د فقهي تشريح: **قوله ما فتح الخ:** کوم يو ښار چې بادشاه په قهر او غلبې سره فتح کړي، د هغې متعلق هغه ته اختيار دی، که غواړي نو خمس به ترينه جدا کړي او باقي به په غازيانو باندې تقسيم کړي لکه څنگه چې د نبي عليه السلام په خيبر کې کړي وو، په دې صورت کې دغه ځمکه به د غازيانو مملوکه گرځي، او په هغې کې به عشر مقرر کيدی شي او که وغواړي نو د هغه ځای کافران به په طريقې د احسان سره برقرار وساتي، لکه څنگه چې حضرت عمر رضی الله عنه په عراق کې کړي وو. چې د هغوی زمکې او کورونه ئې هم د هغوی په تصرف کې ورکړه په دې صورت کې په هغوی باندې به جزيه او خراج مقرر کيږي. قيل الاول أولی عند حاجة الغانمين ۱۲.

قوله و قتل الأسرٰی الخ: او کوم کافران چې قيديان شوي وي دهغوی متعلق امام ته اختيار دی که وغواړي نو غلامان دې کړي ځکه چې په دې صورت کې دفع د شر سره سره د مسلمانانو کامله نفع ده. او که وغواړي نو هغوی دې ازاد کړي او ذميان دې ترينه جوړ کړي لکه څنگه چې حضرت عمر رضی الله عنه کړي وو. په دې شرط چې هغوی مشريکن عرب او مرتدين نه وي. ځکه چې د هغوی ذمّي کيدل جائز نه دي. کما سيأتي.

قوله و حَرُمَ الخ: چې کوم کافران قيديان شي او دمسلمانانو په قبضه کې راشي نو هغوی په طريقې د احسان سره بغير د څه معاوضې نه پريښودل جائز نه دي ځکه چې د فتح نه پس غازيان د هغوی مالکان شول نو اوس مفت پريښودو کې د هغوی حق تلفي ده. امام شافعي رحمه الله ورته جائز وئيلي دي. او دليل ئې دا آيت (اما منا بعدو اما فداءً) يعني دې نه پس پرې يا خو احسان وکړئ او يا څه معاوضه واخلئ. جواب دا دی چې دا آيت سيف أُقتلوا المشركين حيث و جدتموهم. سره منسوخ دی. ځکه چې من او فداء په سورة محمد کې ذکر ده او هغه مکه کې نازل شوی دی. او آيت سيف د سورة براءت دی چې هغه په مدينه کې نازل شوی وو، حضرت قتاده، ضحاک او سدی او ابن جريج اوزاعی رحمهم الله دې طرف ته ذهاب کړی دی دغه شان چې کوم کفار د اهل اسلام په قبضه کې

راشي او قیدیان شي نو هغوی د مسلمانانو قیدیانو په بدله کې پرېښودل هم ناجائز دي. د جنګ اختتام نه مخکې وي یا که وروسته وي ځکه چې هغوی به تقویت حاصل کړي او بیا به د جنګ سامان جوړ شي. په نزد د صاحبینو د جنګ دختمیدو نه مخکې د مسلمانانو قیدیانو په بدله کې کافر قیدیان پرېښودل جائز دي. هم دا د ائمه ثلاثو مذهب دی او هم دا د امام صاحب نه ظاهر الروایه دی. ځکه چې تخلیص د مسلمان د کافر د قتل نه بهتر دی.

قوله وعقدُ مواشٍ الخ: که چیرې مال غنیمت کې څه چارپایه وي او هغه دارِ اسلام ته راوستل سخت وي نو دهغوی پښې پرېکول نشته ځکه چې ذا حرام دي بلکه هغه به ذبحه کړي شي او وبه سیزلی شي. د ذبحې نه وړاندې د سیزول اجازت نشته. ځکه چې ذی روح لره په اور کې سیزل سوا د الله تعالی نه بل چاته نه دي جائز. امام شافعي رحمه الله فرمائي که چیرې د چارپایانو راوستل مشکل وي نو په اور به نه سیزلی کیږي بلکه په دار حرب کې به پرېښودلی شي. ځکه چې نبي علیه السلام د خوراک نه علاوه د څه بل څه غرض په بنا ګډه، بیزه ذبح کولو نه منع فرمائیلې ده (۱). مونږ دا وایو چې د یو غرض صحیح پیش نظر چارپایه ذبح کول جائز دي، او د دښمن شان و شوکت ختمولو نه زیات صحیح غرض بل څه کیدی شي.

قوله وقسمة الغنائم الخ: او په دار حرب کې مال غنیمت تقسیمول هم ناجائز دي، مګر دا چې د بادشاه سره د بار برداریٔ څه انتظام نه وي، او په دې غرض سره هغه په طریقې د أمانت سره په غازیانو باندې تقسیم کړي لپاره ددې چې په دې حیلې سره هغوی دار اسلام ته اورسي. او هلته کې بیا د سر نه تقسیم اوشي نو جائز دي. امام شافعي رحمه الله فرمائي که چیرې مشرکینو ته شکست فاش شوی وي نو په دار حرب کې مال غنیمت تقسیمولو کې هیڅ حرج نشته هم دا د حضرت عطاء قول دی، بلکه امام مالک خو دا فرمائي چې په عجلت سره تمام مال غنیمت په دار حرب کې تقسیم کول پکار دي. سواء د قیدیانو نه چې د هغوی تقسیم به دار اسلام کې کیدی شي. او دا اختلاف په حقیقت کې په دې خبره باندې متفرع دی چې زمونږ په نزد د غازیانو حق تر هغه وخته پورې نه ثابتیږي تر څو چې په دار اسلام کې راجمع شوی نه وي، او ددې حضراتو په نزد د غلبې حاصلولو نه پس د غازیانو حق ثابتیږي.

---

(۱) ابن ابی شیبه عن ابی بکر ۱۲.

والأدلة في المطولات. قوله وشرك الخ: چې کوم مدد او امداد غازيانو ته دار حرب کې ملاؤ شي نو هغه په استحقاق د غنيمت کې د غازيانو برابر دی، پس هغه به هم په مال غنيمت کې شريک وي، ليکن په لشکروالو کې چې کوم خلک بازاريان وي هغه به شريک نه وي، ځکه چې د هغوی هلته کې تلل په نيت د قتال سره نه دي، البته که چيرې هغوی کفارو سره قتال وکړي نو بيشکه شريک کيدی شي و عند الشافعي في قول لِيُسهم لَهُم مُطلقًا.

قوله ويُنتَفَعُ فيها الخ: غازيان خلک په دار حرب کې مال غنيمت، ګياه، خوراک، لرګي، اسلحه، تيل وغيره مخکې د تقسيم نه هم استعمالولی شي ځکه چې احاديثو نه ددې اجازت ثابت دی(۱). مصنف ددې أشياؤ انتفاع مطلق ذکر کړې ده. ليکن صاحب د وقايې د اسلحې انتفاع مقيد کړی دی. په حاجت پورې، او په ظهيريه کې ئې ددې تولو څيزونو نه انتفاع اخيستل د امام په اجازت سره مقيد کړی دی.

د سور او پياده په مينځ کې دمال غنيمت تقسيم کولو بيان

فَصلٌ لِلرَّاجِلِ سَهمٌ و للفَارِسِ سَهمَانِ و لوله فرسَانِ و البراذِين
فصل دی په پياده لپاره يوه حصه ده او سور لپاره دوه حصې دي. اکر که هغه سره دوه اسونه وي، او ترکي اسونه
كالعتاقِ لا الراحِلةِ و البغلُ و العِبرةُ للفارِس وَ الراجلِ عند المجاوزةِ
پشان د عربي اسونو دي نه چې اوبښ او قچر، او اعتبار د سواره او د پيدل لپاره په وخت د تيريدو کې دی د دار اسلام
و للمَملوكِ وَ المرأةِ و الصَّبيِّ و الذِّمِّيِّ الرَضخُ لا السَّهمَ و الخُمسُ لليتَامَى
نه او غلام او ښځې او ماشوم اوذمي لپاره معمولي عطيه ده نه چې پوره حصه او پنځمه حصه يتيمانو مسکينانو او مسافرو
و المسَاكين و ابنِ السَّبيلِ و قُدِّمَ ذَوُو القُربٰى الفقراءُ منهم عليهم و لا حقَّ لِأغنيَائِهِم
لپاره ده او مقدم کولی به شي په دوی کې رشته داران غريبانان په دوی بانديې او حق د مالدار نشته. او ذکر د الله تعالی
وَ ذِكرُهُ تعَالٰى للتبرُّكِ و سَهمُ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عليهِ وسَلَّم سَقَطَ بموته كالصَّفِيِّ وإنَّ
صرف د برکت لپاره دی، او حصه د نبي عليه السلام د هغوی په وفات سره ساقطه شوه لکه صفي ختم شو او که چيرې داخل

(۱) ابوداؤد عن عبدالله بن مغفل، بخاري عن ابن عمر رضي الله عنه، ابوداؤد عن عبدالله بن ابی أوفی، بيهقي عن هاني ۱۲.

دَخَلَ جَمْعٌ ذُوْوا مَنعةٍ دَارَهم بلا اذنٍ خُمِّسَ مَا اَخَذُوا و الّا لَا
شو يو طاقت. وو جماعت په دار حرب كې د بادشاه د اذن نه بغير نو خمس به اخيستى شي.د هغې مال نه چې كوم مال هغوى
وَ للامَامِ ان يُنَفِّل بقوله مَنْ
رااوړي كنې نشي اخيستى كيدى او بادشاه ته دا اختيار شته دى چې هغه د زيات وركولو وعده وكړي په دې قول سره چې چا
قتَل قتيلاً فلَهُ سَلَبُهُ و بقوله للسَّرِيَّةِ جعلتُ لكم الرُّبعَ بعد الخُمسِ
چا لره ووژلو نو د هغې سازوسامان به هغه ته ملاويږي يا د لشكر يوې دستې ته ووايې چې ما تاسو لره د خمس نه پس څلورمه
و يُنَفِّل بعدَ الاِحرازِ مِنَ الخمُسِ فقط والسَّلبُ للكلِّ
حصه مقرر كړې ده او د جمع كيدو نه پس زياته عطيه صرف دخمس نه وركيدى شي. او د مقتول سازو سامان ټولو لپاره دى. كه
اِن لَم يُنفِّل و هو مركبُهُ و ثيابُه و سلاحُه و مَا مَعَهُ
چيرې د زياتې وعده نه وي كړې. او سلب د مقتول سورلې، د هغه جامې او اسلحه د هر هغه مال دى كوم چې هغه سره وي.

﴿ د سور او پياده په مينځ كې د مال غنيمت د تقسيمولو بيان ﴾

د لغت وضاحت: **رَاجِلٌ** پياده. **فَارس** سور. سهمٌ حصه. **براذين** د برذونٌ جمع ده. تركي اس. **عتاقٌ** اعلى قسم والا عربي اس. **راحلةٌ** اوښ **بغلٌ** قچر. **عِبرَةٌ** اعتبار. **رضخٌ** لږه شان عطيه. صفي: د مال غنيمت هغه حصه چې كومه سردار خپل خان لپاره خاص كوي. **مَنَعةٌ** شان و شوكت. **ينفل** د حصې نه زياته وركړي. سلبٌ: د مقتول سازو سامان.

د فقهي تشريح: **قوله للرّاجل الخ:** په غازيانو كې چې كوم خلك سواره وي، د امام اعظم او د امام زفر رحمه الله په نزد د هغوى دوه حصې دي. او چې كوم خلك پياده وي د هغوى يوه حصه ده. د حضرت على رضي الله عنه ، او د ابو موسىٰ اشعري نه هم دا روايت دى. صاحبين ، ائمه ثلاثه، ابن عباس رضي الله عنه مجاهد ، حسن، ابن سيرين، عمر بن عبد العزيز ، اوزاعى، ثورى رحمه الله ، ليث، اسحاق، ابو عبيده، ابن جرير ، او د نورو اهل علمو په نزد د سور لپاره درې حصې دي او د پياده لپاره يوه حصه ده. ګويا د امام صاحب په نزد د سور او د سورلى يوه حصه ده. او ددې حضراتو په نزد د اس دوه حصې دي.

دلیل ئې د حضرت ابن عمر رضی الله عنه حدیث دی چې نبي علیه السلام د اس دوه حصې مقرر کړې دي (۱)، او د سور لپاره ئې یوه حصه مقرر کړې ده. ددې مضمون نور احادیث هم شته دی (۲)، د امام صاحب دلیل هغه احادیث دي چې هغې نه ثابتیږي چې نبي علیه السلام د سور لپاره دوه حصې مقرر کړې دي (۳). نو په دې سلسله کې هر دواړه قسمه روایتونه موجود دي او متعارض دي، دې وجې نه امام دوه حصې په وجوب باندې او درې حصو والا روایات ئې په تنفیل باندې یعنې انعام باندې حمل کړې وي، ځکه چې د روایت د ابطال نه جمع بین الروایتین اولی ده.

قوله ولو له فرسان الخ: که چیرې یو غازي دوه اسونه بوځي نو د طرفینو په نزد به هغه ته د یو اس حصه ملاویږي. امام ابو یوسف رحمه الله فرمائي چې د دوه اسونو دوه دوه حصې به ملاویږي. ځکه چې نبي علیه السلام د حضرت زبیر ، د دوو اسونو دوه دوه حصې مقرر کړې وي (۴). طرفین دا فرمائي چې جنګ په دوو اسونو سره نشي کیدی. په یو اس سره کیدی شي. لهذا د یو اس حصه به مقرر کیدی شي نه چې د دوو لکه څنګه چې د دریو او څلورو اسونو هیڅ حصه نشته. پاتې شوه د حضرت زبیر رضی الله عنه حصه نو اول خو صحیح روایت دا دی چې نبي علیه السلام هغه ته څلور حصې کړې وي ، یوه دده خپله ، یوه دده د مور بي بي د حضرت صفیې رضی الله عنها ، او دوه دده د یو اس (۵)، او که چیرې د ښځو روایت صحیح هم شي نو هغه محمول په تنفیل باندې یعنې پنځمه حصه په طریقې د احسان سره وي، لکه څنګه چې نبي علیه السلام حضرت سلمه بن اکوع ته دوه حصې ورکړې وي حال دا چې هغه پیاده وو او د پیاده سړي یوه حصه (۶).

---

(۱) الجماعة الا النسائي عن ابن عمر، ۱۲ .

(۲) ابوداؤد عن ابي عمرة، طبراني، دارقطني عن ابی رهم و ابی کبشة، بزاز، دارقطنی عن المقداد بن راهویه عن ابن عباس، احمد . دارقطني عن الزبیر، دارقطنی عن جابر و ابی هریرة و سهل بن ابي حثمة عن عمر ۱۲ .

(۳) ابوداؤد عن مجمع، طبراني عن المقداد و اقري عن الزبیر، ابن مردویه في تفسیرة في سورة الانفال عن عائشة، ابن ابي شیبة عن ابن عمر (تفصیل لپاره فتح، کشف، شرح نقایه وګورئ).

(۴) دارقطني عن ابن عمرة، عبدالرزاق، واقدي عن الزبیر ۱۲ .

(۵) دارقطني، احمد ۱۲ .

(۶) مسلم، ابن حبان، قاسم بن سلام عن سلمه ۱۲ عه.... طبراني عن ابن عباس، حاکم، عبدالرزاق عن الحسن بن محمد بن الحنیفه ۱۲

قوله والعبرة الخ: د سور او د پيدل د حصو استحقاق په وخت د مجاوزت لحاظ سره دی، يعني که چيرې د دار الاسلام نه د جدا کيدو وخت کې سور وو نو د سور حصه به اخلي او که پياده وو نو د پياده حصه به اخلي، نو که چيرې يو غازي دار حرب ته په حالت د سورلئ کې داخل شو. بيا د هغه اس مړشو نو هغه د دوو حصو مستحق دی، او که چيرې دار حرب ته پيدل لاړو او هلته کې ئې اس واخيستو نو د يوې حصې مستحق دی په نزد د امام شافعی وخت د تماميدو معتبر دی، كذا فی عامة الكتب، و الظاهر من مذهبه انه يعتبر مجرد شهود الوقعة.

قوله والخمس الخ: آيت (واعلموا انما غنمتم من شيء الخ) کې د مال غنيمت تقسيم دا شان شوی دې، چې ټول مال به پنځه حصې کړي او يوه حصه چې هغې ته خمس وئيلی شي. د الله لپاره، او د الله د رسول لپاره او د رسول د رشته دارو لپاره، او د فقيرانو مسکينانو لپاره ده. په دې کې لفظ الله د جمهورو په نزد په افتتاح د کلام کې صرف تعظيم او تبرک لپاره دی، لکه چې آيت قل الانفال لله و الرسول اهـ کې ذکر دې. ځکه چې تمام څيزونه د الله دي، هغه ته د حصې ضرورت نشته. حديث نه دا مضمون ثابت دی. حضرت ابو العاليه چې کوم قول کړی دی چې د الله حصه به د خانه کعبې په تعمير او د مساجدو په ضرورياتو کې به صرف کيږي دا خبره صحيح نه ده. ځکه چې تعمير کعبه او د مساجدو ضروريات پوره کول د مسلمانانو فريضه ده. دغه شان د نبي عليه السلام حصه د هغوی د وفات نه پس ساقطه شوه ځکه چې اوس هغوی ته ضرورت پاتې نه شو. لکه چې أعمش د ابراهيم نه روايت کړی دی چې حضرت ابوبکر او عمر رضی الله عنهما به د رسول الله صلی الله عليه وسلم حصه په اسلحو کې او د جهاد په اسبابو کې صرف کوله بيا د رشته دارو خبر ګيري کول د انسان ذاتي حوائجو کې داخل دي. او کله چې نبي صلی الله عليه وسلم د ذاتي حوائجو نه مبرا شو، نو دا حقوق هم ساقط شو. بس د خمس مصارف صرف درې پاتې شول يتيمان، مسکينان او مسافر خلک، چې په هغوی کې په نزد د جمهورو د نبي صلی الله عليه وسلم د قرابت او د غير قرابت هيڅ قيد نشته. البته د امام زين العابدين په نزد په دوی کې د قرابت قيد شته دی.

قوله وقدم الخ: د خمس په ورکولو کې محتاج رشته دار بنو هاشم چې هغوی په اصناف ثلثه کې دي، دوی به په يتيمانو او مسافرو باندې مقدم کولی شي، يعني د بنو هاشم يتيمان به په نورو يتيمانو باندې مقدم وي، او ددوی مسکينان به په نور مسکينانو باندې و هکذا.

قوله و ان دخل الخ: که چیرې د مسلمانانو یو باقوته جماعت دار حرب نه مال راوړي نو هغې نه به خمس اخیستی شي، او که صاحب قوت نه وي نو بیا به نشي اخیستی کیدی، ځکه چې خمس وظیفه د غنیمت ده. او غنیمت هغه دی چې هغه غلبې سره حاصل شي. نو د هغوی راوړی شوی مال به د زور او د زیاتی حسابیږي نه چې غنیمت.

قوله و للامام الخ: خلک په جنګ باندې اماده کولو د پاره باشاه دا وئیلي شي چې چا یو کافر قتل کړو نو د مقتول کافر ټول سازو سامان به غازي ته ورکړی کیږي یا چیرته د یو جماعت متعلق وفرمایې چې تاسو ته به څلورمه حصه د غنیمت درکړی کیږي لانه نوع تحریض وهو مندوب. قال تعالی یا أیها النبی حرض المؤمنین علی القتال.

بَابُ استیلاءِ الکفّارِ
« باب دی په بیان د غلبې د کافرانو کې »
سَبَی التُّرکُ الرُّوْمَ و اَخَذُوا اَموالَهُمْ مَلَکُوهَا و مَلَکنا ما نجِدُهُ مِنْ
اهل تر کوروم والا قیدیان کړل او د هغوی مالونه ئې واخیسته نو دوی مالکان ګرځي او چې مونږ څه بیا مومونو مونږ بې
ذٰلِک اِن غَلَبْنَا علیهم و اِنْ غلبُوا علٰی اَمْوالِنا و اَحْرزُوهَا
مالکان ګرځو، که چیرې مونږ غلبه حاصله کړه په دوی باندې او که چیرې دوی زمونږ په مال باندې غلبه حاصله کړه او هغه ئې محفوظ
بِدَارِهِمْ مَلَکُوهَا و اِنْ غلبْنَا علیهم فمَنْ وَجَد مِلْکَهُ
کړو په دار حرب کې نو هغوی ئې مالکان ګرځي ، او که چیرې مونږ غلبه وکړه په هغوی باندې نو چا چې بیا موندو خپل شئ نو اخلي به
قبلَ القِسمةِ اَخذهُ مجّانًا و بَعدَها بالقیمةِ و بالثّمنِ لو اشتراه تاجرٌ منهم
هغې لره مفت، او پس د تقسیم نه به ئې په قیمت اخلي، او په ثمن سره که چیرې اخیستی وي تاجر د کافرانو نه، اګر چې د هغه
وَ اِنْ فُقِئَ عینُهُ و اَخذَ ارشَهُ فاِن تَکَرَّرَ الاَسْرُ و الشِرَاءُ اَخذهُ الاوّلُ مِن
سترګه وتلې وي او تاوان ئې اخیستی وي نو که چیرې قید کول او اخیستل مکرر وي نو مشتري اول به واخلي هغې لره د دویم په
الثّانِي بثمنه ثم القدیمُ بالثمنَیْنِ و لا یملِکون حُرَّنَا و مُدَبَّرَ نَا وَ اُمَّ
قیمت سره، بیا زوړ مالک دواړه قیمت ورکړي او وابه ئې خلي او کافران مالکان نه ګرځي زمونږ د ازادو، د مدبر ، د ام ولدې

وَلَدِنَا و مُكَاتَبِنَا و نملكُ عليهم جميعَ ذٰلك و اِنْ نَدَّا اِلَيْهِم جَمَلٌ فاخذُوه ملكُوهُ

او د مکاتبو او مونږ ددوی د ټولو کسانو مالکان ګرځو او که چیرې یو اوښ هغوی ته وتښتیدو او هغوی ونیوو نو مالکان ئې ګرځي

و اِنْ اَبَقَ اليهم قِنٌّ لَا وَ لو اَبَقَ بفَرَسٍ و مَتَاعٍ فاشترٰى رَجُلٌ

او که چیرې یو غلام هغوی ته وتښتیدو نو مالکان نه ګرځي او که چیرې سره د اس او دسامان نه وتښتیدو، او یو سړي ترینه هغه

كُلَّهُ منهم اَخَذَ العَبْدَ مجَانًا وغيرَهُ بالثَّمنِ وَ اِنْ ابْتَاعَ مُستامِنٌ عَبْدًا

ټول واخیستل نو غلام به مفت واخلي او اسباب به په قیمت سره واخلي او که چیرې یو مستامن یو غلام مؤمن واخلي او خپل وطن ته یې

مؤمِنًا و اَدْخَلَهُ دَارَهُمْ اَو اُمَنَ عَبْدٌ ثَمَّهُ فَجَاءَنَا اَو ظهرنَا عليهم عتقَ.

بوځي یا یو غلام هلته کې مسلمان شو او مونږ ته راغلو یا مونږ په هغوی باندې غالب شو نو غلام ازادیږي.

د لغت وضاحت: **استیلاءُ** غلبه حاصلول. **سَبَيَ** قید کول **مجانًا** مفت. فقبی وعینه: د هغه سترګه ویستلی شوه **إرش** دیت تاوان. **الأسر** قید کول. **ندّ البعیر**: د اوښ تښتیدل. **اُبَقَ قِنٌّ** غلام وتښتیده.

د فقهې تشریح: قوله وان غلبوا علی مَوَالِنَا الخ: که چیرې حربي کافر د مسلمانانو په مال باندې غالبه وکړي او دار حرب ته ئې یوسي نو هغوی مالکان ګرځي په نزد امام مالک دار حرب ته وړل ضروري نه دي محض په غلبې کولو سره مالکان ګرځي. امام مالک نه دې باره کې دوه روایتونه دي.یو د امام مالک د قول مطابق. او یو زمونږ د قول مطابق.

امام شافعی فرمائي چې کفار د سره مالکان نه ګرځي ځکه چې د مسلمان مال هر لحاظ سره معصوم دي. لقوله علیه السلام فاذا قالوها عصموا منی دماءهم و اموالهم. زمونږ دلیل دا آیت دی. للفقراء المهاجرین الذین اُخرجوا من دیارهم. په دې آیت کې مهاجرینو ته فقراء وئیلی شوي دي، او ښکاره خبره ده چې فقیر هغه وي چې هغه د هیڅ ځیز مالک نه وي، نو که چیرې کفار په وجه د غلبې سره ددوی د مالونو مالکان نه وي، نو بیا خو مهاجرینو ته فقراء ویل صحیح نه دي ځکه چې اوس خو هغوی اغنیاء دي.

قوله وان غلبنا الخ: حربي کافر د مسلمانانو مال دار حرب ته یوړو هغې نه پس مسلمانان پرې غالب شول نو اوس چې کوم یو مسلمان سړي د تقسیم نه مخکې خپل مملوک شئ بیا موندو نو هغې لره مفت اخیستی شي. او که چیرې تقسیم شوی وي نو بیا هغې لره بغیر د قیمت نه نشي اخیستی.

قیمت به ورکوي ځکه چې دنبي کریم ﷺ ارشاد دی چې که چیرې صاحب مال خپل څیز مخکې د تقسیم نه بیا موندو نو هغه ئې حقدار دی، او که چیرې تقسیم نه پس ئې بیا موندو نو هغه په قیمت باندې اخیستی شي (۱) او که چیرې یو سوداګر دغه څیز د حربیانو نه واخیستو او دار اسلام ته ئې راوړو نو بیا دغه څیز په هغې قیمت سره اخیستی کیږي په کوم چې سوداګر اخیستی وي، اګر که هغه مملوک غلام وي او د هغه سترګه وتلې وي، یا مشتري د هغه وینه توی کړې وي، ځکه چې په مقابله د اوصافو کې هیڅ قیمت نه وي.

قوله فان تکرر الخ: د یو سړي غلام یو حربي کافر ګرفتار او دار حرب ته ئې بوتلو او بیا یو سوداګر ترینه هغه واخیستو او دار اسلام ته ئې راوستو، هغې نه پس کافرانو بیا هغه ګرفتار کړو او دار حرب ته ئې بوتلو. او بل یو سوداګر هغه واخیستو او بیا ئې دار اسلام ته راوستو. نو مشتري اول به دغه غلام په هغه قیمت سره د مشتري ثاني نه اخلي په کوم قیمت چې مشتري ثاني اخیستی وي. ځکه چې ګرفتاري د مشتري اول په ملک باندې واقع شوې ده. لهذا هغه به مقدم وي هغې نه پس به د هغه اول مالک دوه قیمته ورکړي او غلام به واخلي ځکه چې غلام مشتري اول ته په دوو قیمتونو سره پریوتی دی.

قوله وان اذا الخ: که چیرې د مسلمانانو یو څناور څاروي وتښتیدو او کافر ته لاړو او هغوی ونیولو نو هغوی ئې مالکان ګرځي، او که چیرې یو غلام وتښتیدو او کافرانو ته لاړو نو د غلام مالکان نه ګرځي. وجه د فرق دا ده چې د څناور څاروي په خپل ځان تصرف او قبضه نشته، تر دې چې دار الاسلام نه د وتلو په وخت کې دي هغه ظاهر وي او د کفارو ملک لپاره دمانع وي. په خلاف د غلام نه چې هغه څو پورې دار الاسلام کې وي دغه وخته پورې د آقا د تصرف په وجه سره د هغه تصرف ساقط الاعتبار دي، او کله چې هغه دار الاسلام نه لاړو نو د آقا تصرف زائل شو. او د هغه خپل تصرف ظاهر شو. چې د هغې په وجه سره هغه معصوم بنفسه جوړ شو لهذا هغه محل د ملک پاتې نه شو

قوله وان ابتاع الخ: یو مستامن کافر یو مسلمان غلام په دار اسلام کې په بیعه واخیستو او دار حرب ته ئې بوتلو نو دغه غلام د امام صاحب په نزد مفت ازادیږي، ځکه چې مسلمان د کفر ذلت نه

---

(۱) دارقطني. بیهقي عن ابن عباس ۱۲.

خلاصلول ضروري دي. لهذا تباين دارين قائم مقام د اعتاق شو، دغه شان که چیرې یو غلام په دار حرب کې مسلمان شو او بیا دار اسلام ته راغلو، یا په کافرانو باندې د مسلمانانو غلبه وشي نو دغه غلام هم ازادیږي، ځکه چې روایت کې دي چې د طائف څه غلامان مسلمانان شول او د نبي ﷺ په خدمت کې حضور شول نو نبي علیه السلام د هغوی د ازادۍ فیصله وکړه او وئې ویل هُمْ عُتَقَاءُ اللهِ (۱).

بَابُ الْمُستَامِنِ (۲)
« باب دی په بیان د مستامن کې»
دَخَلَ تَاجِرُنَا ثَمَّهُ (۳) حَرُمَ تعرُّضُهُ لِشيءٍ مِنهم فلو أخرجَ شيئًا مَلَكَهُ (۴)
زمونږ یو سوداګر هلته کې لاړو نو هغه لپاره د هغوی څه څیزونه تعرض کول حرام دي، او که چیرې هغه څیز راوړي نو مالک ئې ګرځي لیکن
محظورًا فَيَتصَدق به فَإِنْ اِدَّانَهُ حربيٌّ او اَدانَ حَرِبيًّا
په طریقې د ممانعت سره، لهذا هغه به خیرات کولی شي نو که چیرې هغې لره یو حربي په قرض څرخ کړي یا ئې په یو حربي قرض
او غَصَبَ اَحَدُهما صَاحِبَهُ و خرجا اِلَيْنَا لم يَقضِ بشيءٍ و كذا
څرخ کړي یاپه دوی کې یو کس د بل څیز غصب کړي او بیا مونږ ته راشي نو قاضي به هیڅ فیصله نه کوي هم دغه شان که چیري
لو كانا حَرْبِيَّيْنِ فعلا ذلك ثُمَّ استأْمَنَا و اِنْ خَرجَا مُسلِمَيْنِ قُضِيَ بالدَّيْنِ
هغوی دواړه حربیان وو او دا کار ئې وکړو او بیا مستامن شول او که چیرې هغوی مسلمانان راغلي وي نو د قرض فیصله به کیدی شي
بَيْنَهما لا بالغصبِ مُسلِمانِ مُستَأمِنَانِ قتَلَ اَحَدُهُمَا صَاحِبَهُ تَجِبُ
شي د دواړو په مینځ کې نه چې د غصب فیصله ، په دوو مستامن مسلمانانو کې یو بل لره قتل کړو نو د هغه په مال کې دیت واجب

(۱) احمد . بن ابی شیبه، طبراني عن ابن عباس، ابوداؤد، (فی المراسیل عن عبد ربه بن الحکم) بیهقي عن عبدالله بن مکرم الثقفی ۱۲.

(۲) اخره عن الاستیلاء لا یکون بالقهر و الاستئمان یکون بعد القهر ۱۲ بحر.

(۳) لانه ضمن بالاستئمان ان لا یتعرض لسهم فالمعرض بعد ذلک غدر و هو حرام ۱۲.

(۴) لو ورد الاستیلاء علی مال مباح الا انه حصل بسبب الغدر فاوجب خبثا فیؤمر بالصدق ۱۲ زیلعي و کشف.

الدِّيَةُ فِى مَالِه و الكفارَةُ فِي الخطاءِ وَ لَاشَيَّ فِى الأَسِيْرَيْنِ سوى الكفارَةِ فى
دي.او په صورت د خطا کفاره واجبيږي او هيڅ څيز نشته په دوو قيديانو کي سوا د کفارې نه په صورت د خطا کي.لکه يو مسلمان
الخطاءِ كقتلِ مُسْلِمٍ مُسلمًا اَسْلَمَ ثَمَّهُ
هغه مسلمان قتل کړي چې هغه په هغه ځائې کي اسلام قبول ړکی وی

د فقهي تشريح: يو مسلمان سوداګر په امن اخيستو سره دار حرب ته لاړو، هلته که يو حربي هغه لره د خريد و فروخت په ذريعې سره مقروض کړو يا مسلمان سوداګر يو حربي مقروض کړو يا په دوی کې يو کس د بل کس نه څه څيز غصب کړو او بيا دواړه فيصلې لپاره دار اسلام ته راغلل نو حاکم به دذوی په حق کې هيڅ فيصله نه کوي. ځکه چې فيصلې لپاره ولايت شرط دی، او دلته کې قاضي ته ولايت نه دی حاصل، ځکه چې مقروض کيدل په دار حرب کې شوی دی، او هلته کې د اسلام حکومت نه وو چې قاضي د هغې متعلق څه فيصله وکړي، او په وخت د قضاء کې هم په حربي مستامن باندې ولايت نشته، ځکه چې هغه په تيره زمانه کې د اسلامي احکامو التزام نه وو کړی. بلکه اينده لپاره ئې کړی دی او د غصب په صورت کې ځکه فيصله نشي کيدی چې دار حرب د قهر او د غلبې ملک دی.

نو څوک چې د چا په مال غالب شو نو هغه ئې مالک ګرځي. البته مسلمان ته به د شي مغصوب د واپس کول حکم کيدی شي (زيلعی) محقق کمال الدين دا هم وئيلي دي چې دين د ادا کولو فتوی به هم ورکيدی شي. ليکن ديانةً نه چې قضاءً. مطلب دا دی چې جبراً به حکم نشي کيدی، بلکه شرعي مسئله به ښودلی شي او که چيرې دا دواړه فيصله غوښتونکي حربيان وي او دوی ته دغه امور راپيش شي چې کوم وړاندې ذکر شو، او دا دواړه امن سره دار اسلام ته راشي نو بيا هم دا حکم دی، چې هيڅ فيصله به نه کيږي، ليکن که چيرې دا حربي مسلمان شي او دار اسلام ته راشي نو بيا هم دا حکم دی چې هيڅ فيصله به نه کيږي، ليکن که چيرې دا حربي مسلمان شي او دا حربي مسلمان شي او دار اسلام ته راشي نو ددين د ادا کولو فيصله به کيدی شي. ليکن د غصب په صورت کې بيا هم هيڅ فيصله به نه کيږي.

فَصْلٌ لا يُمَكَّنُ مُستامِنٌ فِينا سَنَةً و قِيلَ له اِن اَقَمتَ سَنَةً وُضِعَ
فصل دی، تميکن به نشي ورکيدی مستامن ته په مونږ کې يو کال، بلکه هغه ته به وئيلی شي چې که چيرې تول پاتې شول نو په تا

عليك الجزيةُ فإنْ مَكثَ بَعدَهُ سَنةً فهو ذِمّيٌ فلمْ يُترَكَ أنْ يَرجعَ
باندې به جزيه وي اوس که چيرې دې نه پس هم يو کال پاتې شو نو هغه به ذمي کرځي، او دار حرب ته به نشي واپس کولی، لکه څنګه
اليهم كما لو وُضِعَ عليهِ الخِرَاجُ أو نكحَتْ ذِمِّيًّا لا عَكسُهُ فإنْ (١) رَجَعَ اليهم وَلهُ
چې په هغه خراج مقرر شي يا چيرته ذمي ښځې سره نکاح وکړي، نه چې د هغې عکس، نو که چيرې هغه کفارو ته واپس شو او يو مسلمان
وَدِيْعَةٌ عندَ مُسلمٍ أو ذمّيٍّ أو دَيْنٌ عليهما حَلَّ دَمُهُ.
يا ذمي سره د هغه امانت وو يا د هغوی په ذمه دده قرض وو نو د هغه وينه حلاله ده.

(مستامن په دار اسلام کې د يو کال نه زيات نشي حصاريدی)

د فقهي تشريح: قوله لا يُمكّنُ الخ: د حربي کافر په دار اسلام کې هميشه اوسيدل جائز نه دي. ليکن په دوو شرطونو کې يو شرط سره يا خو به هغه غلام وي يا به جزيه قبلوي، نو که چيرې حربي دار اسلام ته داخل شو نو هغه پوره يو کال پورې نشي حصاريدی، هغه ته به صفا وئيلی شي چې که چيرې ته يو کال پورې حصاريږې نو مونږ به په تا باندې جزيه مقرر کړو. وجه دا ده چې که چيرې حربي زياده موده حصار شي نو د کافرانو جاسوس به جوړ شي په دې لحاظ سره د هغه دار اسلام ته راتلل د ضرر نه خالي نه دي، ليکن بالکليه بنديدی هم نشي. ځکه چې په دې صورت کې غله وغيره به بند شي، او د تجارتي کاروبار دروازه به بنده شي. دې وجې نه يو کال به حد فاصل ګرځولی شي. ځکه چې په دې موده کې جزيه واجبيږي.

قوله فان مکث الخ: که چيرې حربي مستامن د بادشاه د صفا وينا با وجود هم يو کال پورې حصار شي نو هغه ذمي دی. اوس که چيرې هغه دار حرب ته واپس تلل وغواړي نو نشي تللی، ځکه چې عقد ذمه منعقد کيدو نه پس نشي ماتيدی. دغه شان که چيرې حربي مستامن باندې جزيه مقرر شي، يا يو حربيه مستامنه ښځه د يو ذمي سره نکاح وکړي او بيا هغوی دار حرب ته تلل وغواړي نو بندولی به شي. ځکه چې دنکاح په وجه سره هغه حربيه ذميه شوه لالتزامها المقام معه، ليکن دهغې عکس نه دی. يعنې که چيرې يو حربي سړي د يو ذميې ښځې سره نکاح وکړي نو هغه دې

---

(١) اى فان رجع الحربى المستامن الى دار الحرب و ترک وديعةً عند مسلم او ذمى او دينه عليهما حلّ دمه بالعود الى دار الحرب لانه ابطل امانه به فعاد حربيًا ١٢ زيلعي.

په وجه سره ذمي نه ګرځي. لعدم التزامه المقام في دارنا. لتمكنه من طلاقها فلا يمنع من الخروج الى دار الحرب.

فَاِنْ أُسِرَ او ظُهِرَ عليهم فقُتِلَ سَقَطَ دَيْنُهُ وصَارَتْ وَدِيعتُهُ فَيْئًا
که چيرې هغه قيد کړی شو يا په هغه غالبه وکړی شوه او هغه ووژلی شو نو د هغه قرض ساقط شو او د هغه امانت غنيمت ګرځي.
و اِنْ قُتِلَ و لَمْ يُظْهَر اَو مَاتَ فقرضُهُ و وَدِيعَتُهُ لِوَرَثَتِه و اِنْ
او که چيرې هغه ووژلی شو بغير د غلبې نه ، يا په خپل مرګ وفات شو نو د هغه قرض اوامانت د هغه د وارثانو لپاره دی، يو حربي امان
جَاءَنَا حَرِبيٌّ بِاَمَانٍ وَ لهُ زوجَةٌ ثَمَّه وَ وَلَدٌ وَ مَالٌ عِندَ مُسلِمٍ اَو ذمّيٍّ او حَربيٍّ
واخيستو اومونږ ته راغلو او په دار حرب کې د هغه بي بي او بچي او څه مال د يو مسلمان يا ذمي يا حربي سره وو او هغه دلته کې مسلمان
فَاَسْلَمَ هُنَا ثُمَّ ظُهِرَ عليهم فالكُلُّ فَيْئٌ و اِنْ اَسلَمَ ثَمَّه فجاءَنا فظُهِرَ عليهم
شو او کافران مغلوب شول نو ټول شيزونه به مال غنيمت وي او که چيرې هلته کې مسلمان شول بيا مونږ ته راغلو او په کافرانو غلبه وشوه
فَوَلَدُهُ الصَّغيرُ حُرٌّ مُسلِمٌ وَ مَا اَودَعَهُ عِند مُسلِمٍ او ذمّيٍّ فهوَ له وغيرُهُ
نو د هغه ماشوم بچي ازاد مسلمان به وي، او هغه کې څه امانت د مسلمان يا ذمي سره اينبودی وي نو هغه هم د هغه دی، اود هغې نه غير
فَيْئٌ و مَن قَتَلَ مُسلِمًا خطاءً لا وَلِيَّ لهُ اَو حَربيًّا جَاءَنا بِاَمَانٍ فَاَسْلَمَ
مال غنيمت دی، او چا چې يو مسلمان قتل کړو په خطاء سره او د هغه ولي نه وو يا ئې يو حربي قتل کړو چې هغه امن اخيستی وو او مونږ ته
فدِيَتُهُ على عَاقِلَتِه للامامِ و فى العَمدِ القتلُ اَوِ الدِّيَةُ لا العَفوُ
راغلی وو او مسلمان شوی وو نو د هغه ديت په عاقلو باندې دی، او که چيرې قصداً ئې قتل کړی وو نو په هغې کې قصاص دی يا ديت دی نه چې عفوه ده.

د فقهي تشريح: قوله فان أُسر الخ: که چيرې حربي مستامن دار حرب ته واپس لاړ شي نو د هغه امان باطل ګرځيږي ليکن صرف د هغې د ذات په حق کې پاتې شو د هغه مال چې هغه دار حرب کې وي، نو د هغې په حق کې امان باطل نه دی، بلکه باقي دی، دې وجې نه د هغه مال به هغه ته په خپله ملاويږي. او که چيرې هغه وفات شي نو د هغه وارثانو ته به ملاويږي، دې وجې نه دلته کې د حربي مستامن د هغه مال حکم بيانيږي، چې هغه دار اسلام کې پريږدي. نو ددې مسئلي پنځه صورتونه دي، چې په هغې کې په دريو صورتونو کې د حربي مستامن قرض (چې هغه د يو مسلمان يا ذمي په

ذمه وي) ساقطيږي او د هغه مال وديعت (چې هغه د يو مسلمان يا ذمي په ذمه وي) غنيمت گرځي او هغه دا دي: (۱) مسلمانان په دار حرب باندې غالب شي او حربي مذكور قيد كړي (۲) يا غلبه حاصله كړي او هغه قتل كړي (۳) بغير د غلبې حاصلولو نه هغه قيد كړي د مصنف د قول فانْ أُسِرَ (۳) او ظُهِرَ عليهم (۱) او (۲) بيان دی. په دې صورتونو كې د هغه وديعت غنيمت ځكه گرځي چې هغه وديعت تقديراً دده په قبضه كې دی، ځكه چې د مودع قبضه په شان د قبضې دمودع ده فيصير فيئًا تباعًا للنفسه. او ددين د سقوط وجه دا ده چې په دين باندې د قبضې اثبات مطالبه وي، او دلته كې مطالبه ساقطه شوه. چې دده په ذمه هغه دين دی، دده قبضه دعامو خلكو د قبضې نه وړاندې ده. لهٰذا دين به هم هغه لپاره مخصوص وي، څلورم صورت دا دی چې مسلمان په دار حرب غالب شي او حربي مذكور وتښتي، په پنځم صورت دا دي چې مسلمانان بغير د غلبې حاصلولو نه هغه قتل كړي. يا هغه په خپله وفات شي. چې هغې لره مصنف په وان قتل و لم يظهر أو ماتَ سره بيان كړی دی. په دې دواړو صورتونو كې د حربي مذكور مال على حاله باقي دی، نو كه چيرې هغه ژوندی وي نو هغه ته به وركړی كيږي، گنې د هغه وارثانو ته به ملاويږي.

قوله وان جاءَنَا الخ: يو حربي كافر د مسلمانانو نه امان طلب كړو اودار اسلام ته راغلو، او خپل بچي، ښځه (څه بالغ، څه نابالغ) ئې په دار حرب كې پريښودل، او يو مسلمان يا ذمي يا حربي سره ئې مال هم دی اوس هغه دلته كې مسلمان شو يا ذمي شو او مسلمانانو په دار حرب باندې غلبه بيا مونده، نو ددغې مستامن ښځه، اولاد او مال مذكور ټول فئ يعنې مال غنيمت شمار كيږي، ښځه او بالغ بچي خوپې ځكه چې هغوی حربيان دي اود چا تابع نه دي تر دې چې هغوی ته مسلمانان وئيلی شي، او نابالغ اولاد خو ځكه چې ماشوم چې هغه د پلار تابع وي، او مسلمان گرځي، نو دا هغه وخت وي چې كله دارين متحد وي، او دلته كې دارين متباين وي، او مسلمان گرځي، نو دا هغه وخت وي چې كله دارين متحد وي، او دلته كې دارين متباين دي، ځكه چې ماشوم په دار حرب كې دی او پلار ئې په دار اسلام كې دی چې هغه دلته كې مسلمان شوی دی، او د هغه مال مذكور ځكه مال غنيمت گرځي چې د حربي مذكور صرف ځان محفوظ وي نه چې د هغه مال، لاختلاف الدارين فبقى الكُلّ غنيمةً.

قوله وان أَسْلَمَ ثمّه الخ: او كه چيرې حربي مذكور خاص په دار حرب كې مسلمان شو، او خپل ماشوم، ښځه او مال ئې هم هلته كې پريښوو او دار اسلام ته راغلو، بيا په دار حرب باندې مسلمانان غالب شول نو د هغه نابالغ بچي د پلار تابع گرځي او هغوی هم ازاد او مسلمان گرځي ځكه

چې په دې صورت کې دار متحد دی ځکه چې پلار ئې هم هغلته کې مسلمان شوی دی، کوم ځای چې اولاد اوسیدو اود هغې چې څه مال دیو مسلمان یا ذمي سره امانت دی هغه چې دده دی. لانه فی ید محترمة و یده کیده و ما سوی ذلک فهو فیئ

قوله و من قتل مُسلمًا الخ: چا په خطأ سره یو داسې مسلمان قتل کړو چې د هغه څوک ولي نه وو یا ئې داسې یو حربي خطاءً قتل کړو چې هغه امان سره دار اسلام ته راغلو، او مسلمان شوی وو، نو په دې دواړو صورتونو کې د مقتول دیت د قاتل په عاقلو باندې لازم دی، چې د هغې دوصول کولو ذمه داري په امام ده او وصول به کړي او بیت المال کې به ئې جمع کړي او که چیرې قتل مذکور عمداً شوی وي نو قاتل به قصاص قتلولی شي یا به ترینه دیت اخیستی شي. مقصد دا دی چې د امام په رائې منحصر ده، په قصاص او دیت کې چې کوم مناسب وي، هغه دې وکړي، دا نه چې مفتو کې ئې معاف کړي

«بَابُ العُشْرِ والخَرَاجِ والجِزيَةِ»
"باب دی په بیان د عشر ، خراج او جزیه کې"
اَرْضُ العَرَبِ وَ مَا اَسْلَمَ اهلُهُ او فُتِحَ عَنوةً و قُسِمَ بین الغانِمِین
زمکه د عربو او هغه زمکه چې د هغې باشندګان مسلمانان شوي وي یا غلبةً فتح شوې وي او په غازیانو کې تقسیم شوې وي.
عُشرِيَّةٌ و السَّوادُ و مَا فُتِحَ عَنوةً و اُقِرَّ اَهلُهُ علیه او فُتِحَ صُلحًا
عشري ده، او سوا د عراق او هغه ځکه چې هغه غلبةً فتح شوې وي او د هغې باشندګان برقرار پاتې شوي وي یا صلحًا فتح شوې
خراجِیَّةٌ و لو اُحْیِیَ مَوَاتٌ یُعتَبر قربهُ والبصرةُ عشرِیَّةٌ وَ خراجُ
وي خراجي ده، او که چیرې شاړه زمکه آباده کړی شوې وي نو د هغې د قرب اعتبار به وي ،او بصره عشري ده او د زراعت قابله
جَرِیْبٍ صَلَحَ للزَّرعِ صَاعٌ و دِرهمٌ و فی جَرِیْبِ الرَّطبَةِ خمسَةُ دَرَاهِمَ
ځمکه کې د یو جریب خراج یو صاع دی او درهم دی،او په ځمکه د ترکاري کې د یو جریب خراج پنځه درهمه دی،او د انګورو او کجورو
وَ فِي جَرِیْبِ الکرمِ و النخلِ المتصلِ عشرةُ دَرَاهِمَ و ان لم تُطِقْ مَا وُظِّفَ نُقِصَ
ګڼرو بوټو والا زمکه کې د یو جریب خراج لس درهمه دي ، او که چیرې ځمکه د مقرر مقدار محتمل نه وي، نو محصول به کمولی شي په
بخلافِ الزیَادةِ و لا خِرَاجَ اِنْ غلبَ علی ارضِه الماءُ اَو انقطعَ او اَصَابَ الزرْعَ
خلاف د زیادت نه، او خراج نشته که چیرې زمکه باندې اوبه غالبې شي یا هغه منقطع شي یا فصل ته څه آفت ورسیږي. او که چیرې

أَنَّهُ وَإِنْ عَطَّلَهَا صَاحِبُهَا او أَسْلَمَ أَو اشتَرَىٰ مُسلِمٌ ارضَ خِرَاجٍ يجبُ ولا عُشرَ في خارِجِ ارضِ الخراجِ

د هغې مالک هغه بیکاره کړي یا هغه مسلمان یا یو مسلمان خراجي ځمکه واخلي نو خراج واجبیږي. او عشر نشته په پیداوار د خراجي ځمکه کې.

د فقهي تشريح: قوله بابُ الخ: د کوم ځیز په وجه سره چې مستامن حربي ذمي ګرځي د هغې د بیان نه پس وظایف مالیه ذکر کوي، چې هغه په ذمي باندې لازمیږي، بیا په عشر کې هر کله چې معنی د عبادت ده. په خلاف د خراج نه چې هغه عقوبت محض دی، دې وجې نه عشر مقدم کوي، عشر په ذمي د عین سره لسمې حصې ته وایي چې هغه د مغلوب کفارو نه د هغوی د نفوسو په بدله کې وصولولی شي.

قوله وأرضُ العَرَبِ الخ: د عربو ځمکه ټوله او هغه ځمکه چې د هغې باشندګانو اسلام قبول کړی وي او هر هغه ملک چې په زور د تورې او د اسلام په غلبې فتح شوې وي، اود هغې ځمکه غازیانو باندې تقسیم شوې وي، دغه ټولې عشري دي. ځکه چې دعربو قبائل چې به مسلمانیدل، نو د هغوی زمکې به هم د هغوی په ملکیت کې پاتې کیدی شوې، او مفتوحه زمکې به د غازیانو په مینځ کې تقسیم کیدې نو هغه به د هغوی ملکیت وو په دې ټولو زمکو باندې هیڅ قسم خراج نه وو. البته د هغې په پیداوار کې به عشر یا نیم عشر وو. دعربو د ځمکو سوا د عشر نه بل هیڅ خراج اخیستل نه د نبي علیه السلام نه ثابت دي او نه د خلفاء راشدینو نه، دې وجې نه د عربو ټوله ځمکه عشري ده.

(**فائده**): امام کرخي ذکر کړي دي چې عرب نه مراد د حجاز ځمکه، تهامه، یمن، مکه، طائف او ځنګل دي. بعضو مکه مکرمه په تهامه کې داخله کړې ده.

تهامه هغه ځمکه ده چې دنجد نه په ښکته ده. او نجد د اوچتې زمکې نوم دی او حجاز دهغې زمکې نوم دی چې هغه د تهامې او نجد په مینځ کې فاصل ده د عربو د زمکې حدود دا دي:

غذیب او انتهائی یمن، یعنې آرض مهره نه تر دشام حدودو پورې طولاً او جدې اودهغې ماوراء یعنې ساحل نه د شام حدود پورې عرضاً، دیمن او ارض مهره د انتهاء نه مراد مسقط اودعدم په مینځ کې مقام دی.

قوله والسواد الخ: دسواد عراق زمکه ده. او هر هغه زمکه چې په قهر او غلبې سره فتح شوې وي اود هغې باشندګان هغلته کې بر قرار پریښودی شوي وي، یا هغه په صلح سره فتح شوې وي، نو دا ټولې زمکې خراجي دي. ځکه چې حضرت عمر ﷺ په سواد عراق باندې د فتح نه پس خراج مقرر

کړی وو (۱) چې د هغې تفصیل دا دی چې د حضرت عمر ﷺ په زمانه کې سوا د عراق د حضرت سعد بن ابی وقاص ﷺ په لاس سره فتح شوی وو د نبي علیه السلام نه پس په بیرون عرب کې دا رومبئ عظیم الشان فتح وه حضرت عمر ﷺ د هغه ځائې ځمکه د غازیانو په مینځ کې د تقسیم کولو متعلق صحابهؤ نه مشوره واخیسته نو رایې مختلفې شوې، حضرت علی ﷺ وفرمایل چې دا مه تقسیموئ لپاره د دې چې دا د مسلمانانو یوه متفقه سرمایه شي حضرت معاذ ﷺ وفرمایل، که چیرې تاسو دا تقسیم کړه نو د قوم په لاس کې به ډیره لویه زمکه راشي او کیدی شي چې دغه شان توله زمکه د شخص واحد په لاس کې شي، اوورروسته راتلونکو مسلمانانو لپاره هډو څه لاره باقي پاتې نه شی. حضرت بلال ﷺ او د هغه ملګرو دې نه اختلاف وکړو او وئې فرمایل چې مونږه دا ځمکه په جهاد سره فتح کړې وه، لهذا زمونږ په مینځ کې دې تقسیم شي. لکه څنګه چې نبي علیه السلام د خیبر ځمکه صرف په حاضرینو باندې تقسیم کړې وه. لیکن آخر هم دا فیصله وشوه چې دا دې نه تقسیمیږي. اخر حضرت عمر ﷺ دسواد عراق ځمکه هم د هغه ځای کافرانو ته ورکړه او په هغوی باندې ئې جزیه او په زمکه باندې خراج مقرر کړو او تمامو صحابؤ دې سره اتفاق وکړو.

(**فائده**): د سواد عراق حدود دا دي. عذیب نه تر عقبه حلوان پورې عرضًا او علث نه تر عبادان پورې طولاً. عذیب بالتصغیر د بنی تمیمو د یوې چشمې نوم دی، دا دکوفې نه په یوه مرحله باندې واقع دی. هم دا د عربو انتهاء ده. او د سواد عراق ابتداء ده حلوان په ضمې د حاء سره د یو ښار نوم دی. علث په فتحې د عین مهمله سره او په سکون د لام سره او ثاء مثلثه، د د جلې مشرقي جانب کې یوه قریه ده چې د عراق حد دی. عبادان په فتحې د عین مهمله او په تشدید د باء سره بصرې سره یوه مشهوره جزیره ده. په سراج کې دي چې د عراق طول د مسافت په لحاظ سره د دوه ویشتو ورځو لار ده. او عرض د لسو ورځو لار ده. صاحب د بحر د شرح وجیه نه نقل کړي دي چې د سواد عراق طول یو سل شپیته فرسنګه دی. او عرض ئې اتیا فرسنګه دی صاحب هدایه لیکي، چې حضرت عمر ﷺ عثمان بن حنیف او حضرت حذیفه ئې ولیږلو، د لپاره چې د سواد عراق پیمائش وکړي هغوی د تولې زمکې پیمائش وکړو نو درې کروړه شپیته لکه جریبه جوړه شوه. او په دې خراج مقرر شو، یو جریب شپیته ګزه وي د شاه کسری په ګز سر

(۱) قاسم بن سلام (فی کتاب الاموال) عن ابراهیم التیمي، عبدالرزاق عن ابی مجلز ابن ابی شیبة عن ابـ عوف محمد بن عبید الله ۱۲.

چې هغه اووه موټي وو، عام گز شپږ موټي وي (كذا في المغرب).

قوله و خراج جريب الخ: كومې زمكې ته چې اوبه رسي او هغه د زراعت قابله وي د هغې د يو جريب خراج يو درهم او قفيز هاشمي يعني يو صاع غله ده. چې د ټولو نه كم خراج دى، او كومه زمكه چې دې نه بهتره وي چې هغې ته أرض رطبه وايې چې هغې كې كدو، تربوز، بنيگن او نورې سبزيانې كيږي د هغې د يو جريب خراج پنځه درهمه دى او دا اوسط خراج دى او كومه ځكه چې دې نه اعلى وي چې هغې كې انگور يا دكجورو ګڼې ونې وي او پيداوار زيات كيږي، او محنت كم وي نو د هغې د يو جريب خراج لس درهمه دى. حضرت عمر ﷺ په سواد عراق چې كوم خراج مقرر كړې وو د هغې دا تفصيل مروي دى.

قوله و ان لم تُطلق الخ: په كومه ځمكه باندې چې د خراج څه مقدار مقرر شوى وي، او ځمكه د هغې متحمله نه وي نو په مقدار معين كې كمى كيدى شي. ليكن د حضرت عمر ﷺ چې كوم مقدار مخكې ذكر شو، په هغې كې اضافه نشي كيدى اگر كه ځمكه دهغې متحمله وي.

قوله و لا خراج الخ: كه چيرې په يوه زمكه باندې اوبه غالبې شي يا د اوبو د منقطع په وجه سره زمكه د پيداوار لائقه پاتې نشي يا په فصل باندې څه اسماني افت راشي نو خراج معاف كيږي، ليكن كه چيرې د زميندار د سستئ په وجه سره د زراعت قابله پاتې نه شي يا يو مسلمان خراجي زمكه واخلي يا ئې په بله طريقې سره حاصله كړي نو خراج به وركوي.

قوله ولا عُشر الخ: د خراجي زمكې په پيداوار كې عشر نشته، يعنې خراج او عشر دواړه نه جمع كيږي، امام شافعي رحمه الله فرمائي چې دواړه جمع كيدى شي ځكه چې دا د دوو مختلفو سببونو په وجه سره په دوو محلو كې واجبيږي دې وجې نه ددې په جمع كيدو كې هيڅ منافات نشته مونږ دا وايو چې خراج په هغه ځمكه باندې واجبيږي چې هغه په غلبې سره فتح شوې وي او عشر په هغې ځمكه باندې واجبيږي چې د هغې باشنده ګانو په خوشحالى سره اسلام قبول كړى وي او دا دواړه صفتونه په يوه ځمكه كې نشي جمع كيدى (۱).

(۱) لا يجتمع العشر و الخراج عندنا كما لا يجتمع العشر مع الزكوة و زكاة التجارة و صدقة الفطر و حد و عقر و جلد و رجم و قطع و ضمان و تيمم و وضوء و حبل و حيض و نفاس و قد اوصلها البعض الى نيف و عشرين ۱۲.

فصلٌ الجزيةُ لو وُضِعَت بتراضٍ لا يُعدلُ عنها و اِلّا تُوضَعُ على الفقير

(فصل دی) جزيه كه چيرې د جانبيو په رضا سره مقرر شې نو هغې نه به عدول نشي كيدی، كنې مقرر كيدی به شي په فقير

المُعتمِل في كُلِّ سَنَةٍ اثنا عشرَ درهمًا و على وَسَطِ الحالِ ضِعفُهُ و على المُكثرِ ضِعفُهُ

باندې چې هغه كته كولی شي په هر كال كې دولس درهمه او په درميانه حال باندې د هغې دوچند او په مالدار باندې د هغې دوچند

(د جزيې احكام)

د فقهې تشريح: قوله الجزية الخ: جزية لُغةً په معنی د جزاء ده. په دې معنی چې دا د قتل بدله ده. يعني كه چيرې كافر جزيه نه وركولی نو قتل كيدی به شي. ددې جمع جُزیٰ ده لكه د لحيې جمع لُحی ده. د جزيې دوه قسمونه دي. جزيه صلحي، او جزيه قهري. كه چيرې د جزيې څه مقدار په طريقې د صلح او د رضا معين شي نو هغې نه عدول كول جائز نه دي. ځكه چې دا بدلول عهد شكني ده. او كه چيرې په طريقې د صلح معين نه وي بلكه د كافرانو د مغلوب كيدو او هغوی په أملاكو باندې قايم ساتلو نه پس مقرر شوی وي نو دهغې درې درجې دي (۱) كه چيرې كافر غريب وي ليكن مزدوري كولی شي نو په هغې باندې دولس درهمه سالانه جزيه به مقرر كيدی شي او ماهوار به ترينه يو درهم اخيستی شي (۲) كه چيرې دا وسط درجې سړی وي نو هغه نه به سالانه څلور ويشت درهمه اخيستی شي (۳) او كه چيرې مالدار وي نو سالانه به ترينه اته څلويښت درهمه اخيستی شي. امام شافعی فرمائي فقير او كه مالدار وي نو د هر يو نه به يو دينار اخيستی شي، ځكه چې نبي عليه السلام حضرت معاذ ﷺ ته فرمايلی وو چې هر بالغ سړي نه يو دينار وصول كړه[1]. په مصنف عبد الرزاق كې د ښځې نه هم د يو دينار اخيستو حكم دی. زمونږ دليل دا دی چې د حضر عمر ﷺ حضرت عثمان او حضرت علی ﷺ نه هم دا مقدار نقل دی. كوم چې مخكې ذكر شو[2]. پاتې شو حديث د معاذ ﷺ نو هغه په طريقې صلح اخيستلو باندې محمول دی، و لذا أمر بالاخذ من الحاملة و لا جزية عليها.

و تُوضَعُ على كتابيٍّ و مجوسيٍّ و وثنيٍّ عجميٍّ لا عربيٍّ و مرتدٍّ و صَبِيٍّ

او مقرر كيدی به شي په كتابي باندې، اتش پرست باندې او عجمي بت پرستې باندې، نه چې په عربي بت پرست باندې، او مرتد، ماشوم

---

(۱) ابوداؤد، ترمذي، نسائي، ابن حبان، حاكم عن معاذ ۱۲.

(۲) ابن ابی شيبه، ابن زنجويه ابن سعد عن عمر ﷺ ۱۲.

وامرأةٍ و عَبدٍ وَ مكاتبٍ وَ زَمِنٍ و اعمٰى و فقيرٍ غير مُتملٍ و رَاهبٍ لا يخالِط و
ښځه، غلام، مكاتب، په ګوډ باندې اوړوند، مزدوري نه كونكى فقير باندې او په داسې راهب باندې چې خلكو سره اختلاط نه ساتي ، او
تَسقُط بالاِسلامِ وَالموتِ وَالتكرُّرِ.
ساقطيږي په اسلام، په مرګ او په مكرر كيدوسره.

د فقهي تشريح: قوله و توضَعُ الخ: اهل كتاب كه يهوديان وي يا كه نصرانيان، او مجوسيان يعني آتش پرستو باندې به جزيه مقرر كيدى شي. لقوله تعالى من الذين اوتو الكتاب حتى يعطوا الجزية دارنګ د دريو فريقو جزيه به خپله نبي عليه السلام قبوله كړې ده. اول د نجران او د ايلاء د خلكو كوم چې نصارى وو دويم د د ومة الجندل چې په هغو كې اكثر د عربو يهود و او ديمن د يهودو دريم د هجر د مجوسيانو ـ البته بت پرستو نه جزيه اخيستو كې اختلاف دى، ځكه چې هيڅ يو بت برست نه د نبي عليه السلام نه جزيه اخيستل نه دي ثابت. امام ابوحنيفة، امام مالک رحمه الله او امام احمد رحمه الله فرمائي چې د اهل كتابو او دبت پرستو ټولو نه جزيه قبلول صحيح دي، بت پرستو نه صحيح نه ده.ځكه چې كتاب الله كې د اهل كتابو قيد دى، او نبي عليه السلام هم د اهل كتابو نه اخيستې ده.

جواب ئې دا دى چې بت پرستو او اتش پرستو كې هيڅ فرق نشته. بلكه بعضو وجوه سره د مجوسيانو حالت د بت پرستونه هم بد تر دى، ځكه چې بت پرست د خالق قائل دي او مجوسيان خالق د خير او خالق د شر جدا جدا ګڼي. مجوسيان محرمات ابديه سره يعنې خپله لور او خور سره نكاح كول صحيح ګڼي. بت پرست دې لغوياتو نه لرې دي. نو ددې خرابو باوجود مجوسيانو نه جزيه اخيستل او هغوى ته په خپل دين باقي پاتې كيدل اجازت دى. نو بت پرستو ته دې دا اجازت ولې نه وي، پاتې شوه د نبي عليه السلام د مجوسيانو نه جزيه نه اخيستل نو د هغې وجه ظاهره ده. ځكه چې كله دجزيې حكم نازل شو نو دهغې نه مخكې تقريبًا تمام بت پرست قبائلو كې اسلام خور شوى وو او هغې نه پس بت پرستو سره د جنګ نوبت بيا رانغلو. اهل كتابو سره مقاتله وشوه او په هغوى باندې جزيه مقرر شوه.

قوله لا عربيّ الخ: د احنافو او موالكو په نزد اګر چې اهل كتابو او بت پرستو باندې جزيه شته ليكن خالص د عربو بت پرست دې نه مستثنى دي. ځكه چې نبي عليه السلام په دوى كې پيدا شوى وو آو هم ددوى په ژبه كې قران نازل شو ، هغوى د قران د معنى او د فصاحت او د بلاغت نه زيات واقف دي نو ددوى كفر شديد تر دى، لهذا حكم به هم سخت وي، يعنې يا به اسلام قبلوي يا به قتليږي. دا

شان د نبي عليه السلام وصيت دی چې «جزيره عرب کې دوه دينه نشي جمع کيدی (۱)» دې وجې نه په جزيې اخيستلو سره هلته کې د بت پرستئ اجازت نشي ورکيدی.

قوله والتکرر الخ: که چيرې د چا نه د څو کالو جزيه نه وي اخيستی شوې نو د امام صاحب په نزد د تير شوو کالونو جزيه ساقطيږي او صرف د روان کال جزيه به اخيستی شي. په نزد د صاحبينو نه ساقطيږي بلکه د تير شوو کالونو جزيه به هم وصول کيدی شي. هم دا د ائمه ثلاثه ؤ مذهب دی ځکه چې دهر حال جزيه مستقل طور باندې واجب ده. لهذا تاخير سره نه ساقطيږي. امام صاحب فرمائي چې جزيه په طريقې د عقوبت سره واجبيږي او کله چې عقوبات جمع شي نو په هغې کې تداخل کيږي، لهذا د يو کال جزيه واجبيږي.

و لا تُحدث (۲) بِيعَةٌ و كنِيسَةٌ فی دَارِنا و يُعَادُ المُنهَدِمُ و يُمَيَّز
او نوي عبادت خانه او گرجابه په دار اسلام کې نه جوړيږي البته منهدمه دوباره جوړيدی شي. او ممتاز به وي زمونږ نه
الذمِيُّ عنّا فی الزيِّ و المركَبِ والسَّرجِ فلا يَركبُ خَيْلاً وَ لا يَعمَلُ بالسِّلاحِ و يُظهِرُ
ذمي په لباس کې. په سورلئ کې او په زين کې نو هغه به په سورلئ نه سوريږي او نه به اسلحه استعمالوي او ښکاره کوي
الكُستِيجَ و يَركبُ سَرجًا كالاُكُفِ وَ لا يَنتقِضُ عهدُهُ بالاِباءِ عَنِ الجزيَةِ
زنار لره او سورلي به کوي په داسې زين باندې چې هغه په شان د پالان وي او نه ماتيږي د هغه عهد ذمه په انکار کولو سره د جزيې
والزِّنَا بمُسْلمَةٍ و قتلِ مُسْلمٍ وَ سَبِّ النَّبِيِّ عليه السلام بَل
نه او په زنا. کولو سرهد مسلماني ښځې او په قتل کولو د مسلمان سره او په کنځلو کولو سره نبي عليه السلام ته بله ماتيږي په يو ځائې
باللِحاقِ ثمه او بالغلبة على موضعٍ للحراب و صَاروا المُرتدِّينَ و يُوخَذ
کيدو د دار حرب سره، يا د جنگ د تياري لپاره په يو ځائې باندې غالب راتلو سره په دې ځيزونو سره دوی په شان دمرتدينو گرځي او اخيستي

(۱) ابن راهويه، عبدالرزاق عن ابي هريرة ۱۲.

(۲) لقوله عليه السلام. لا خصاء فی الاسلام و لا كنيسة (بيهقي، قاسم بن سلام، ابن عدي مرفوعًا و ابو الاسود موقوفًا على عمر ۱۲.

مِن تَغلبيّ و تَغلبيّةٍ بالغين ضِعْفَ زكوٰتِنا و مَولاه كمَوْلى القرشيّ
به شي د تغلبي سړي او ښځې نه چې بالغ وي دو چند زمونږ د زکوة نه، او ددوی ازاد شوي غلام دقریشو د ازاد شوي پشان
و الجزيَةُ و الخِراجُ وَ مَالُ التغلبيّ وَ هَدِيَةُ اهْلِ الحَربِ وَ مَا اَخذنا مِنهم
دي او جزیه او خراج او مال د تغلبي او هدیه د اهل حربو او کوم مال چې مونږ ددوی نه بغیر قتال نه حاصل کړو هغه به زمونږ په
بلا قِتالٍ يُصرَف فِي مَصَالِحِنا كسَدِّ الثغورِ وَ بناءِ القناطِرِ و الجسُورِ و كفايةِ القُضاةِ وَ
مصالحو کې صرف کیږي مثلاً حد بندي او غټ واړه پلونه جوړول او قاضیانو، عالمانو ، سپاهیانو او دهغوی اولاد ته په
العُلماءِ و العُمَّالِ و المقاتِلَةِ و ذرارِيهم و مَن مَاتَ فِي نصفِ السَّنةِ حُرِمَ عنِ العطاءِ.
روزیني ورکولو کې او څوک چې وفات شو په نیم کال کې نو هغه محروم کړی شي دسالانه بخشش نه.

دلغت وضاحت: **بِيْعَةٌ** کلیسا (یعنې د یهودو عبادت خانه) گرجا (یعني د نصارٰی عبادت خانه) **زِيٌّ** هیئت. سُرجَ: زین. **كُسْتِيجٌ**: د زنّار نه علاوه یو تار دی چې هغې لره ذمي خلک په خپلو جامو باندې لګوي. **اكفٌ** جمع ئې اکاف راځي. پالان. **سَبٌّ** کنځل کول **ضِعْفٌ** دو چند. **ثُغور**: جمع د ثغر ده. سرحد قناطر جمع د قنطر ده. **پُل** اوچت عمارت. **جسُور**: جمع د جَسَر ده. پُل **ذَرارِيٌّ** جمع د ذریّة ده. اولاد.

د فقهي تشريح: قوله و يؤخذ من تغلبي الخ: تغلبي تغلب (بکسر لام) ابن وائل بن ربیعه طرف ته منسوب دی. دا د عربو یو قوم وو چې په زمانه د جاهلیت کې نصراني شوی وو. حضرت عمر ﷺ د هغوی نه جزیه طلب کړه نو هغوی د جزیې نه انکار وکړو او وئې ویل چې څنګه تاسو د عربو نه یعنې مسلمانانو نه مال دصدقې وصول کوی نو دغه شان ئې مونږ نه هم اخلئ. حضرت عمر ﷺ دې نه انکار وکړو او وئې فرمایل چې مونږ د مشرکانو نه صدقه نشو اخیستی په دې باندې څه خلک ناراض شول او روم ته لاړل. او څه خواره واره شول. آخر د نعمان بن زرعه په مشوره سره دا خبره فیصله شوه چې دوی نه دې په جزیه کې دو چند زکوة واخیستی شي آخر په دې معاهده وشوه او هر کله چې زکوة د ښځو نه هم اخیستی شي، دې وجې نه د بنو تغلب ښځو نه هم دو چند زکوة مقرر شو.

قوله و مولاه الخ: د تغلبي ازاد غلام نه به هم جزیه او خراج اخیستی شي لکه څنګه چې د قریشي ازاد غلام نه آخیستی شي او حدیث مولی القوم منهم بالاجماع د حرمت صدقې سره مخصوص دي یعنې کوم قوم نه چې صدقه اخیستل صحیح نه دي نو د دغه قوم ازاد غلام نه هم صدقه اخیستل صحیح نه دي.

بَابُ الْمُرْتَدِين

«باب دی په بیان د مرتدینو کې»

يُعْرَضُ الإِسْلامُ عَلَى الْمُرْتَدِّ وَ تُكْشَفُ شُبْهَتُهُ وَيُحْبَسُ ثَلَثَةَ اَيَّامٍ فَاِنْ اَسْلَمَ

پیش کولی به شي اسلام مرتد نه او لرې کولی به شي شک شبه د هغه او قید کولی به شي د دریو ورځو پورې، نو که چیرې مسلمان شو

وَ اِلَّا قُتِلَ وَ اِسْلامُهُ اَنْ يَتَبَرَّأَ عَنِ الْاَدْيَانِ سِوَى الْاِسْلامِ اَوْ عَمَّا انْتَقَلَ

خوبتره ده کنې قتلولی به شي او اسلام راوړل د هغه دا دي چې بیزاره شي د تمامو ادیانو نه سوی د اسلام نه، یا کوم طرفته چې مائل

اِلَيْهِ وَ كُرِهَ قَتْلُهُ قَبْلَهُ وَ لَمْ يَضْمَنْ قَاتِلُهُ وَلَا تُقْتَلُ الْمُرْتَدَّةُ بَلْ

وي هغې نه بیزار شي، او مکروه دي هغه قتل کول او ضامن نه کرځي قالت د هغه، او نه به شي قتل کیدلی مرتده ښځه بلکه هغه

تُحْبَسُ حَتّٰى تُسْلِمَ وَ يَزُوْلُ مِلْكُ الْمُرْتَدِّ عَنْ مَالِهِ زَوَالاً مَوْقُوْفاً فَاِنْ اَسْلَمَ عَادَ مِلْكُهُ

به قید کولی شي تر دې چې مسلمانه شي، اوزائله کیږي ملک د مرتد د خپل مال نه په زوال موقوف سره،نو که چیرې مسلمانه شو نو ملکیت ئې بیا راګرځي

د فقهي تشریح: قوله بَابٌ الخ: د کُفر أصلي د احکامو د بیان نه پس د کفر طاري احکام بیانوي، مرتد په لغت کې مطلق اوړیدونکي ته وائي، ایمان نه راوړي، یا غیر ایمان نه، او په اصطلاح کې د شرعه خاص د ین اسلام نه اوړیدونکي ته مرتد وایې. د ارتداد ظاهري رکن ایمان نه پس په ژبه باندې د کفر کلمه جاري کول دي، ددې صحت لپاره عقل، هوښیارتیا او خود مختاري شرط ده. نو مجنون. بیهوشه، وسواسي ماشوم، نافهمه، مست او د هغه سړي ارتداد صحیح نه دی، چې په هغه اکراه شوی وي، په اشباه کې دي که چیرې یو مست د نبي علیه السلام په شان کې بد ګوئي وکړه نو قتل کولی به شي. او قصور نه معاف کیږي لیکن بحر الرائق کې دا قید دی چې د هغه مستي په یو حرام څیز سره وي، او هغه نشه راوستونکی څیز په خوشحالئ سره استعمال کړی وي ګني بیا خود مجنون په شان دی.

قوله يُعْرَضُ الخ: چې کوم سړی مرتد شو نو حاکم به هغه ته اسلام پیش کړي استحبابًا (صحیح مذهب هم دا دی، او ددین په معامله کې دده چې کومه شبه پیدا شوې وي هغه به رفع کړی شي. او درې ورځې به قید په دې شرط چې هغه مهلت طلب کړي. د امام شافعي رحمه الله هم صحیح مذهب دا دی، اوس که چیرې هغه اسلام قبول کړو خو بهتره خبره ده ګنې بیا به قتلیږي. لقوله صلی الله علیه

وسلم «من بدل دینه فاقتلوه [۱]»

قوله ولا تُقتل الخ: که چیرې یوه ښځه مرتده شي خواه که ازاده وي یا که وینځه، نو هغه به نه قتلیږي، بلکه قید کولی به شي څو پورې چې هغه مسلمانه شوې نه وي، د ائمه ثلاثه، لیث، زهري، نخعي، اوزاعي، مکحول او حضرت حماد فرمائي چې دا به هم قتلولی شي، ځکه چې حدیث مذکور کې کلمه د مَنْ عامه ده. چې هغه سړي او ښځې دواړو ته شامله ده. زمونږ دلیل دا دی چې نبي علیه السلام د قتل نساء نه منع فرمایلي ده [۲].

قوله ویزول الخ: مرتد د مال نه د هغه ملکیت زائله کیږي، لیکن په زوال موقوف سره یعنې که چیرې مسلمان شو خو ملک ئې واپس راګرځي، د صاحبینو په نزد د هغه ملک نه زائله کیږي ځکه چې هغه هم مکلف دي او مال نه بغیر هیڅ یوه معامله نشي کولی، لهذا څو پورې چې هغه قتل شوی نه وي نو ملک ئې نه زائله کیږي، امام صاحب دا فرمائي چې مرتد حربي، او د مسلمانانو په قبض کې دی، مقهور دی، او مقهوریت د مملوکیت علامت دی، چې هغه موجب د زوال ملک دی، لیکن هر کله چې په هغوی باندې اسلام قبلول ضروري دي، او د اسلام د قبلول امید هم شته دی، دې وجې نه زوال د ملک به موقوف کولی شي.

و اِنْ مَاتَ او قُتِلَ علٰی رِدَّتهٖ وَرِثَ کَسْبَ اِسلامِه وَارِثُهُ المسلمُ بَعْدَ قضاءِ دَیْنِ
او که چیرې مړ شي یا قتل شي په ارتداد باندې نو وارث ګرځي ده د اسلام د کټې ده مسلمان وارث، پس د اسلامي قرضي
اِسْلامِهٖ وَ کسبُ رِدّته فَیْئٌ بعدَ قضاءِ دَیْنِ ردّته وَ اِنْ حُکِمَ بلحاقه
ادا کولو نه او د هغه د ارتداد کټه مال غنیمت دی پس د ادا کولو ددین د ارتداد نه او که چیرې حکم وکړی شو د هغه په دار
عَتَقَ مُدَبَّرُهٗ و اُمُّ وَلَدِهٖ حَلَّ دَیْنُهٗ وَ تَوَقَّفَ مُبَایَعَتُهٗ و عِتْقُهٗ
حرب ملحق کیدو سره نو د هغه مدبر او ام ولده ازادیږي او قرض ئې حلال ګرځي او موقوف ګرځي د هغه بیع او شراء او
و هِبَتُهٗ فَاِنْ اٰمَنَ نَفَذَ وَ اِنْ هَلَکَ بَطَلَ. وَ اِنْ عَادَ مُسلِمًا
ازادول او هبه کول نو که چیرې ایمان ئې راوړو نو نافذ ګرځي او که چیرې هلاک شو نو باطل ګرځي، او که چیرې دوباره مسلمان شو

(۱) بخاري، ابن شیبه، عبدالرزاق عن ابن عباس رضی الله عنه، طبراني عن معاویة بن حمیدة و عائشة ۱۲

(۲) الجماعة الا ابن ماجه.

بَعْدَ الحكمِ بِلِحَاقِه فمَا وَجدَهُ فِي يَدِ وَارِثه اَخذَهُ وَ اِلَّا لَا وَ لو وَلَدَتْ اَمَةٌ

دار حرب سره ملاويدو نه پس نو څه چې د خپل وارث په لاس کې بيا مومي نو وادِخلي کښې نشي اخيستی که چيرې اولادو شو دده

له نصرانِيَةٌ لِسِتّةِ اشهُرٍ مُذ ارتَدَّ فَادَّعَاهُ فهِيَ امُّ ولدِه و هوَ

د نصراني وينځې په شپږ مياشتو کې د هغه د مرتد کيدو نه، او مرتد ئې دعوی وکړه نو وينځه ئې ام ولده ګرځي او هغه بچ

ابنُهُ حُرٌّ ولا يَرِثهُ و لو مُسْلِمَةٌ وَرِثَهُ الاِبنُ اِنْ مَاتَ على الرِّدَّةِ

ځوی دی ازاد ليکن دده وارث به نه وي او که چيرې وينځه مسلمانه وي نو ماشوم ئې وارث ګرځي که چيرې هغه په ارتداد باندې مړ شي

اَو لَحِقَ بِدَارِ الحَربِ وَ انْ لَحِقَ المُرتدُّ بمَاله فظُهِرَ عَلَيْه فهو فَيءٌ

يا دارِ حرب ته لاړ شي او که چيرې مرتد سره د خپل مال ته دار حرب ته لاړو بيا په هغه غلبه حاصله شوه نو هغه به غنيمت وي

فَاِنْ رجعَ اِلَى دَارِ الاِسْلامِ و ذَهَبَ بمَالٍ فظُهِرَ عليه فلوارثه فَاِنْ

او که چيرې هغه دار اسلام ته واپس شي او مال يوسي او بيا پرې غلبه حاصله شي نو د هغه مال به د وارث وي، نو که چيرې

لَحِقَ و قُضِيَ بعَبْدِه لابنه فكاتبَهُ فجاءَ مُسْلِمًا فالمكاتبةُ و

هغه دار حرب ته لاړو او دده د غلام فيصله دده د ځوی په حق کې وشوه او بيا هغه مسلمان شو واپس راغی نو مکاتب

الولاءُ لِمُورِثه فاِنْ قتلَ مُرتَدٌّ رَجُلاً خطاءً و لحِقَ او قُتِلَ فالدِّيةُ فى

او ولاء به د هغه د مورث وي، او که چيرې مرتد يو سړي په خطأ سره قتل کړو او دار حرب ته لاړو يا اوژلی شو نو ديت به

كسبِ الاِسلامِ و لو ارتَدَّ بعدَ القطعِ عمدًا و مَاتَ منه او لحِقَ فجاءَ

د اسلامي ګټې نه ادا کيږي، او که چيرې مرتد شو پس د عمداً لاس پريکړی کيدو نه، او هغه ترينه مړ شو يا دار حرب ته لاړو

مُسْلِمًا فمَاتَ منه ضَمِنَ القَاطِعُ نصْفَ الدِّية فى ماله لورثتِه

او مسلمان راغی بيا د هغې د زخې نه وفات شو نو قاطع په خپل مال کې دنصف ديت ضامن ګرځي دم رتد د وارثانو لپاره

و ان لم يحلِقْ و اَسْلَمَ و مَاتَ ضَمِنَ الدِّيَةَ ولو ارتدَّ مكاتبٌ وَ لحِقَ

او که چيرې دار حرب ته لاړ نه شو او مسلمان شواو وفات شو نو د کل ديت ضامن ګرځي او که چيرې مکاتب مرتد شو دار حرب ته

فأُخِذَ بمَاله و قُتِلَ فمكاتبتُهُ لمَوْلاهُ وَ مَا بقِيَ لورثته و لو ارتَدَّ

لاړو او سره د مال نه ګرفتا شو او وژلی شو نو بدل کتابت به ئې دمولی وي او باقي به د هغه د ورثه وي که چيرې زوجين مرتد

الزوجان وَ لَحِقا فولدَتْ و وُلِدَلهُ وَلدٌ فظُهِرَ عليهم فالولدان فيئٌ
شو او دار حرب ته لاړل هلته کې یو ماشوم نې وشو او یو نمسی هم وشو او په تولو غلبه حاصله شوه نو دواړه ماشومان غنیمت
و يُجبَرُ الوَلَدُ عَلَى الاِسْلامِ لَا وَلَدُ الولدِ وَ ارتِدَادُ الصَّبِيِّ العَاقِلِ صحِيْحٌ
ګرځي او هلک به په اسلام باندې مجبوره کولی شي نه نمسي لره، او مرتد کيدل د عاقل ماشوم صحيح دي لکه د هغه اسلام راوړل
كَاِسْلامه و يُجْبَرُ عَلَيْهِ وَ لا يُقتَلُ
او مجبوره کولی به شي په اسلام قبولو باندې او وژلی به نشي.

(د مرتدينو د احکامو تفصيل)

د فقهې تشريح: قوله وان مات الخ: که چيرې مرتد په حالت د ارتداد باندې مړ شي يا قتل شي نو د هغه مسلمان وارثان به د اسلام د ګټې وارثان ګرځي. او هم دغه ګټې نه به د هغه قرض ادا کولی شي کوم چې د هغه په ذمه د اسلام په زمانه کې وو، او د ارتداد د زمانه ګټه غنيمت ګرځي، او کومه قرضه چې د ارتداد د زمانې وي هغه به هم د دغې ګټې نه ادا کيدی شي. د صاحبينو په نزد د دواړو زمانو ګټه به د وارثانو وي. او د ائمه ثلاثهؤ په نزد دواړه به غنيمت کې داخلولی شي ځکه چې مرتد د کافر وارث نه ګرځي. اوس هر کله چې دا مال د يو حربي دی نو ځکه مال غنيمت ګرځي. صاحبين دا فرمائي چې مرتد کيدو نه پس دمرتد ملکيت د هغه په دواړو ګټو کې باقي دی (کما مر) نو د هغه د مرګ نه پس دا ملک د هغه وارثانو طرف ته منتقل کيږي، او د ردت نه لږې وړاندې زمانې طرف ته مسند کيږي، فيکون توريث المُسلم من المسلم لا توريث المسلم من الکافر. امام صاحب دا فرمايې چې د اسلام د زمانې ګټه خو مسند کيدی شي ځکه چې هغه ردت نه مخکې موجود ده. ليکن د ردت د زمانې ګټه کې دا څيز نه چليږي. ځکه چې هغه ردت نه موجود نه وو.

قوله و توقف الخ: د مرتد تصرفات څلور قسمه دي (۱) هغه امور چې کمال ولايت باندې موقوف نه وي لکه (۱) استيلاد، (۲) طلاق (۳) قبول هبه، (۴) تسليم شفعه، خپل ماذون غلام د تصرف نه منع کول، په دې امورو کې د مرتد تصرف بالاتفاق نافذ دي(۲) هغه امور چې د هغې صحت په اعتقاد ملت باندې منحصر دي، لکه نکاح کول (منکوحه مسلمانه وي يا کافره أصيله وي يا مرتده) (۲) ذبيحه، (۳) ښکار کول (۴) ګواهي ورکول (۵) وراثت، په دې کې د مرتد تصرف بالاتفاق باطل دي (۳) هغه امور چې هغو کې مبادلة المال بالمال وي لکه (۱) اخيستل (۲) خرڅول (۳) عقد صرف، (۴)

عقد سلم (۵) عتق، (۶) تدبير، (٧) كتابت (٨) هبه (٩) رهن (١٠) اجاره (١١) صلح عن الاقرار (١٢) قبض دين، (١٣) وصيت، په دې كې د مرتد تصرف د امام صاحب په نزد موقوف دى، او د صاحبينو په نزد نافذ دى.

قوله ولو ولدت الخ: د مرتد د وينځې نصرانيې (يعنې كتابيې) پوره شپږ مياشتې يا د هغې نه زياتو كې ماشوم پيدا شو او مرتد د هغه دعوى وكړه نو وينځه د هغه ام ولده ګرځي. ځكه چې ام ولده ګرځيدل په حقيقت ملک باندې موقوف نه دي او هغه ماشوم به ازاد وي او هم د دغه مرتد به وي، ليكن هغه د مرتد وارث نه ګرځي ځكه چې دده علوق د مرتد د نطفې نه شوى دى، لهذا هغه به هم مرتد وي. وجه دا ده چې ماشوم په ابوينو كې د خير الاديان تابع وي، او دلته كې د ماشوم مور كتابيه ده. او پلار ئې مرتد دى نو ماشوم د مور تابع كيدل پكار دي، ليكن د اسلام په وجه سره پلار باندې صبر ثابتيږي. نو په ماشوم هم ثابتيږي پس د ماشوم ظاهر حال په اسلام باندې دلالت كوي، او هر كله چې پلار مرتد شو نو ماشوم هم مرتد ګرځي، او يو مرتد د دويم مرتد وارث نه ګرځي دا تفصيل په هغه صورت كې دى، چې كله وينځه كتابيه وي، او كه چيرې هغه مسلمانه وي نو ماشوم وارث ګرځي، شپږو مياشتو نه په كمه موده كې پيدا شوى وي يا په زياته، ځكه چې دې وخت كې ماشوم د مور تابع وي، او مسلمان دى، او مسلمان د مرتد وارث هله ګرځي چې هغه مرتد مړ شي يا دار حرب ته واپس لاړ شي.

قوله ولو ارتدّ بعد القطع الخ: يو سړي قصداً د يو مسلمان لاس كټ كړو، هغه مرتد شو او هم د دغې صدمې نه وفات شو، يا دار حرب ته لاړو او حاكم د هغه د الحاق فيصله هم وكړه، او بيا هغه مسلمان شو، او دار اسلام ته راغلو او بيا د دغه زخم د سبب نه وفات شو نو په دواړو صورتونو كې په قاطع باندې د نصف ديت تاوان لازم دى، چې هغه به د مرتد وارثانو ته وركوي. د نفس ديت نه واجبيږي ځكه چې سيرايت الى النفس حلول محل غير معصوم كې شوى دى، لهذا هغه معتبر نه دى، او كه چيرې هغه سړى دار حرب ته لاړ نه شو، بلكه په دارُ الاسلام كې وي چې مسلمان شو. او هم دغه زخم نه وفات شو يا دار حرب ته لاړو ليكن د لحوق د حكم نه مخكې واپس راغلو او بيا د زخم په وجه سره وفات شو نو په دې دواړو صورتونو كې په قاطع باندې مكمل ديت واجبيږي، ځكه چې په دې صورتونو كې هغه په وقت د سرايت هم معصوم الام وو، په دې څلورو حالتونو كې دا حكم د شيخينو او د ائمه ثلاثهؒ په نزد دى د امام محمد او امام زفر رحمه الله په نزد په څلورو واړو صورتونو كې نصف ديت دى.

قوله ولو ارتد الزوجان الخ: زوجین مرتد شو او دار حرب ته لاړل، هلته کې د هغوی یو ماشوم پیدا شو، بیا د هغه ماشوم یو ماشوم پیدا شو، او په دوی ټولو باندې د مسلمانانو غلبه حاصله شوه، او د هغوی په قبضه کې راغلل، نو ځوی او نمسی دواړه غنیمت ګرځي، ځکه چې د ځوی مور مرتده ده، او مرتده نشي قتل کیدی، بلکه وینځه به جوړیږي، او په حریت او رقیت کې ځوی د مور تابع وي، همې وجې نه دواړه به غنیمت وي، اوس به ځوی په اسلام قبلولو مجبوره کولی شي ځکه چې د دین په باره کې اولاد دوالدینو تابع وي، نو کله چې والدین په اسلام باندې مجبوره کولی شي نو اولاد به هم مجبوره کولی شي. پاتې شو نمسی، نو د هغه متعلق اجبار او عدم اجبار دواړه قسمه روایتونه موجود دي.

قوله وارتداد الصبي الخ: که یو ماشوم هوښیار وي او هغه اسلام قبول کړي یا العیاذ بالله مرتد شي نو د احکام دینو په لحاظ سره قابل اعتبار نه دی؟ نو د اول خبرې په باره کې امام زفر رحمه الله او امام شافعي رحمه الله فرمائي چې معتبر نه دی ځکه چې د دین په باره کې ماشوم د والدینو تابع وي دې وجې نه هغه أصل نشي ګرځیدلی، زمونږ دلیل دا دی چې حضرت علي رضي الله عنه په ماشوموالي کې اسلام قبول کړی وو، او نبي عليه السلام هغه صحیح وګرځولو، چې په هغې باندې د حضرت علي رضي الله عنه افتخار مشهور دی. د دویم خبرې متعلق د امام ابویوسف رحمه الله اختلاف دی. هغه فرمائي چې ارتداد مضرت محضه دی، دې وجې نه هغه صحیح نه شو منلی، و لهما أنها موجودةٌ حقیقةً ولا مرد للحقیقة.

بَابُ الْبُغَاةِ

«باب دی په بیان د باغیانو کې»

خرجَ قومٌ مسلمونَ عن طاعةِ الإمامِ وَ غلبُوا علىٰ بلدٍ دَعَاهُم اليه و كشفَ

څه مسلمانان د امام د طاعت نه ووتل او په یو کلي باندې ئې غلبه وکړه، نو امام به هغوی خپل اطاعت ته راوبلي اود هغوی

شُبهتَهم و بَدَأَ بقتالِهِمْ و لو لهم فِئَةٌ أجهَزَ علىٰ جريحِهِم و أتْبعَ

شبه به لرې کړي، او هغوی سره به جنګ شروع کړي او که چیرې د هغوی څه جماعت وي نو د هغوی زخمیان به ووژني اود هغوی

مُوَلِّيهم وَ الاّلا و لَمْ تُسبَ ذرِّيَّتُهُمْ وَ حُبِسَ أموالُهُمْ حتىٰ يتوبُوا و إن

تښتیدونکو پسې ولګي، ګنې نه به لګي، اودهغوی اولاد به نشي قید کولی، تر دې چې هغوی توبه وباسي او که چیرې ضرورت وو

احتاجَ قَاتَلَ بسلاحِهِمْ وخيلِهِمْ وَ اِنْ قَتَلَ بَاغٍ مثلَهُ فظُهِرَ عليهم
نو د هغوی اسلحه او اسونه به په فائده کې راولي، او که چیرې یو باغي بل باغي لره قتل کړو، بیا په هغوی باندې غلبه وشوه
لَمْ يجب (۱) شيءٌ و اِن غلبُوا عَلٰى مِصرىٍّ مِثلَهُ فظُهِرَ عَلَى المصرِ قُتِلَ (۲)
نو هیڅ نه واجبیږي او که چیرې باغیان په کلي غالب شول او ښارنې والا بل ښاریې والا قتل کړو، بیا په ښاریه غلبه وشوه نو قاتل به
به وَ اِنْ قتَلَ عَادِلٌ باغِيًا اَو قتَله باغٍ و قَالَ اَنَا عَلَى حَقٍّ وَرِثَهُ و اِن
قتلولی شي او که چیرې عادل باغي لره یا باغي عادل لره قتل کړو او باغي ووایې چې زه په حقه یم نو قاتل وارث ګرځي، او که چیرې
قَالَ اَنَا عَلَى بَاطِلٍ لَا و كُرِهَ بَيْعُ السَّلاحِ مِن اَهْلِ الفتنَةِ و اِن لم يُدْر انه مِنهم لا.
هغه ووایې چې زه په باطله یم نو بیا وارث نه ګرځي، اومکروه دي اسلحه خرڅول په اهل فتنې باندې ، او که چیرې دا معلومه نه وي چې دا اهل فتنه دي نو بیا مکروه نه دي

د فقهي تشریح: قوله خَرَجَ الخ: هر کله چې د مسلمانانو یو جماعت د امام حق د اطاعت نه خارج شول او په یو کلي باندې غالب شول نو امام به دوی خپل اطاعت طرف ته راوبلي. او د امام د فرمانبردارئ په سلسله کې دوی ته چې څه شکوک او شبهات وي نو هغه به دفع کړي. او که چیرې هغوي یو ځائې کې جمع وي نو هغوی سره ابتداءً قتال کول حلال دي. لپاره ددې چې ددوی جمعیت مات شي، ځکه چې دغه رنګ ددوی جمع کیدل ظاهراً د قتال دلیل دی، او حکم د شئ د هغه په دلیل باندې دائر کیږي. او که چیرې د هغوی یو داسې جماعت وي، چې دا خلک هغوی سره ملاؤ شي نو نور هم به مضبوط شي نو د هغوی زخمیان امام قتل کړي او کوم چې وتښتي هغوی پسې تعاقب وکړي، لیکن د هغوی اولاد به نه قید کوي، ځکه چې حضرت علی ﷺ د اسیر د قتل، کشف سر او د اخذ مال نه منع فرمایلې وه (۳) (ابن ابی شیبه)

---

(۱) لان القصاص لا یمکن استیفاءه الا بمنعة ولا ولایة للامام علیهم حالة القتل ۱۲.

(۲) لانه ح لم تنقطع ولایة الامام ۱۲.

(۳) و قوله فی الاسیر مؤول بما اذا لم یکن لهم فئة ۱۲.

قوله وان قتل عادل الخ كه چيرې عادل سړي يو باغي لره قتل كړو نو قاتل د باغي مقتول وارث گرځي، خواه كه باغي دا ووائي چې زه په حق يم، يا دا ووائي چې زه په باطله باندې يم ځكه چې د حق په وجه سره قتل كولى مانع د ارث نه دى، او كه چيرې يو باغي عادل لره قتل كړي، او دا ووائي چې زه په باطله باندې يم نو بيا وارث نه گرځي.

كِتَابُ اللَّقِيطِ

نُدِبَ اِلتقاطُهُ وَ وَجَبَ اِنْ خِيفَ الضِّيَاعُ و هو و حُرٌّ و نَفَقَتُهُ فى بَيتِ المَالِ
مستحب دي اوچتول د هغې او ضروري دي كه چيرې خوف وو د هغې د ضائع كيدو، او د هغه خرچ به بيت المال نه وي
كَارِثِه و جِنَايَتِه وَ لا يَاخُذُهُ منه اَحَدٌ (۱) و يَثْبُتُ نسبُهُ مِن واحِدٍ
لكه د هغه ميراث او جنايت، او ماشوم به نه اخلي د موندونكي نه هيڅ څوک، او ثابتيږي نسب د هغه د يو شخص نه هم
وَ مِن اثنَين و اِنْ وَصَفَ اَحَدُهما عَلامَةً به فهو اَحَقُّ به و مَنْ ذِمّيٍ و هو
او دوو نه هم، او كه چيرې څوک د هغه مخصوص علامه ښائي نو هغه زيات مستحق دى او ذمي نه هم، او ماشوم به
مُسْلِمٌ اِنْ لم يكن فى مَكانِ اهلِ الذِّمَّةِ و مِنْ عَبْدٍ و هو حُرٌّ و لايُرَقُّ الا بِبَيِّنَةٍ
مسلمان وي كه چيرې هغه د ذميانو په محله كې نه وو، او غلام نه هم، او ماشوم ازاد گرځي، او غلام به نه جوړيږي مگر بينه سره
و ان وُجِدَ مَعَهُ مَالٌ فهو لهُ و لا يصح للملتقط (۲) عليه نِكَاحٌ و بَيْعٌ و اِجَارَةٌ
او كه چيرې هغه سره مال بيا موندى شي نو هغه هم د ده دى، او صحيح نه دي موندونكي لپاره هغه سره نكاح كول او خرڅول او په مزدورى
و يُسَلِّمُهُ فى حرفَةٍ و يَقْبِضُ هِبَتَهُ.
وركول ، البته هغه په څه كسب ولكوي او هغه لپاره به هبه قبوله كړي

د فقهي تشريح: قوله كتابٌ الخ: مصنف جهاد نه بعد لقطې او د لقيط بيان كوي، ځكه چې څنګه جهاد كې جال و مال دواړه په معرض هلاكت كې وي نو دغه شان لقطه (پروت مال) او لقيط (پروت ماشوم) به خطره كې وي او لقيط ځكه مقدم كوي چې د هغه تعلق د نفس سره دى، او نفس په مال

(۱) لانه ثبت حق الحفظ له لسبق يده ۱۲
(۲) لانعدام سبب الولاية من القرابة و الملك و السلطنة ۱۲

باندې مقدم دی، لقیط په وزن د فعیل په معنیٰ د مفعول دی، په لغت کې هغه ماشوم ته وئیلی شي چې هغه پروت ملاؤ شي، او د هغه څوک ولي معلوم نه وي ګویا په هغه باندې د لقیط اطلاق په اعتبار د مایؤول سره دی، لکه (من قتل قتلاً فله سلبهٗ) په شریعت کې لقیط د انسان هغې ماشوم ته وایې چې هغې لره خلکو د غریبئ یا د تهمت زنا د ویرې نه غورځولی وي.

قوله ندب الخ: که چیرې د لقیط د هلاکت ویره نه وي نو هغه راخیستل مستحب دي ځکه چې په دې کې یو خو شفقت دی، دویم دا چې یو نفس ژوندی کول دي چې هغه د ټولو خلکو د ژوندي کولو برابر دي. قال تعالی «و مَن آحیاهَا فکأنما احیا الناس جمیعًا» او که چیرې د هلاکیدو ویره وه نو بیا ئې راپورته کول ضروري دي.

قوله وهو حُرٌّ الخ: لقیط په تبعیت دار الاسلام ازاد او مسلمان ګرځي خواه که د هغه راپورته کوونکی ازاد وي یا غلام وي، ځکه چې أصل په بنی ادم کې حریت دي، رقیت خو امر عارضي دی، او د هغې خرچ به بیت المال نه کیږي. د حضرت عمر ﷺ او حضرت علی ﷺ نه هم دا روایت دی (۱)، لکه څنګه چې د هغې میراث بیت المال ته ځي. او د هغه د قصوراتو تاوان بیت المال نه ورکیدی شي.

قوله ومن اثنین الخ: که چیرې د لقیط متعلق دوه کسان دعویٰ وکړي چې ماشوم زمونږ دی او څه مرجح موجود نه وي، نو د هغه نسب دواړو نه ثابتیږي، لکه یوه وینځه چې دوو شریکوالو کې مشترکه وي، او دواړه شریکان د ماشوم دعویٰ وکړي نو نسب د دواړو نه ثابت ګرځي.

کتابُ اللُّقطة

لُقَطةُ الحِلِّ و الحَرمِ امَانَةٌ اِنْ اَخذَهَا لِیَرُدُّها علی رَبِّهَا و اشهَدَ و

د حل او حرام نه غورځیدلی شوی څیز أمانت دی، که چیرې اخیستی وي هغې لره خپل مالک ته دواپس کولو په نیت سره، او ګواه ئې پرې

عَرّفَ اِلیٰ اَنْ عَلِمَ اَنّ رَبَّهَا لا یطلبهَا ثم تَصَدّقَ فاِنْ جَاءَ رَبُّهَا

نیولی وي ،نو هغه به اعلان کوي تردې چې غالب ګمان ئې وشي چې اوس به ئې مالک طلب نه کوي بیا به هغه خیرات کړي اوس که چیرې

---

(۱) مالک، شافعي، بیهقي، عبدالرزاق، ابن سعد، عن عمر، عبدالرزاق عن علي ۱۲.

نَفَّذَهُ اَو ضَمَّنَ الملتَقِطَ و صَحَّ التِقاط البهيمَةِ وَ
مالک ئې راغلو نو که غواړي نو نافذ دې کړي او که وغواړي نو اخيستونکی دې ضامن کړی.او صحيح دی چارپايه څناور لره نيول
هو مُتَبَرِّعٌ فى الاِنفاقِ على اللّقيطِ وَ اللُّقطَةِ وَ باذنِ القاضِى تكُونُ دَيْنًا وَ
او هغه متبرع ګرځي په لقيط او لقطه باندې خرچ کولو کې، او د قاضي په حکم سره د مالک په ذمه قرض ګرځي، او که چيرې د
لو كانَ لهَا نَفْعٌ اَجرَهَا وَ اَنفقَ عَليهَا وَ اِلّا بَاعَها وَ مَنَعَهَا مِنْ رَبِّهَا
هغې نه څه نفع کيدی شوه نو په اجرت به ئې ورکړي او اجرت نه به په هغې باندې خرچ کوي، ګنې خرڅ دې کړي او هغه د مالک نه منع
حتّٰى يَاخُذَ النفقةَ ولا يَدْفعُهَا اِلٰى مُدّعِيْهَا بلا بيّنةٍ فاِنْ بَيَّنَ عَلَامَتَها
کولی شي تر دې چې خرچه وصول کړي او نه به ورکوي دا مدعی ته بغير د ګواهانو نه، نو که چيرې نښانې ئې وښودله نو ورکول
حَلَّ الدّفعُ بلا جَبرٍ و يَنتفعُ بهَا لو فقيرًا و الّا تَصدّقَ على اَجْنبىّ
ورته جائز دي ليکن بغير د جبر کولو نه، او که چيرې محتاج وو.نو پخپله ترينه نفع اخيستی ګنې خيرات به ئې کړي په
وَصحَّ على ابوَيْهِ و زوجَتِه وَ وَلدِهٖ لو فُقَرَاء
اجنبي خلکو باندې او صحيح دي صدقه کول په مور، پلار، ښځه او اولاد باندې که چيرې هغوی محتاج وو.

د فقهي تشريح: قوله اللّقطة الخ لقطه د التقاط نه ماخوذ په معنٰی د اوچتولو سره، په ضمې د لام او په فتحې د قاف سره، غورځيدلی شوی څيز راپورته کوونکي ته وايې، او په سکون د قاف سره هه څيز ته وائي چې هغه راپورته کړی شي. لکه ضحکه په فتحې د حاء سره اسم فاعل دی او په سکون د حاء سره اسم مفعول دی، دا د خليل نحوي رايې ده، أصمعي ، ابن الاعرابي او فراء د اسم مفعول کيدو په حالت کې د قاف فتحه جائز ګڼړلې ده.

قوله لقطةٌ الحل الخ: غورځيدلی څيز که د حرم وي او که د غير حرم وي، کم وي يا زيات وي، په هر حال کې اوچتول ئې بهتر دي، او که چيرې د ضائع کيدو ويره وي نو بيا ضروري دي په دې شرط چې هغه مالک ته د رسولو په نيت سره اوچت کړي، او په هغې به خلک ګواه کړي.

يعني دا به وو ايې چې کوم سړی ورک شوي څيز پسې تلاش کوي نو ماته ئې راوليږئ. نو چې کله ئې په دې نيت سره اوچت کړو نو دغه څيز به ده سره امانت وي، يعني که چيرې بغير د تعدي نه هلاک شي نو په ده تاوان نشته، اوس ده لره پکار دي چې د مسجد په دروازو باندې، بازارونو کې، او عامو لارو کې د هغې اعلان وکړي تر دې چې غالب ګمان ئې وشي چې اوس به دې لره مالک نه

طلب كوي (١) خواه كه هغه څيز كم وي يا زيات. د امام اعظم رحمه الله او د ائمه ثلاثو دا قول دی، بيا كه چيرې د هغې مالك پيدا نه شي نو هغه به خيرات كړي. او كه چيرې پخپله ضرورت مند وي، نو پخپله ئې هم استعمالولی شي.

قوله فان جاء الخ: كه غور څيدلی شوی څيز اوچتونكي خيرات كړو او هغې نه پس ئې مالك راغلو نو كه وغواړي نو هغه صدقه به جائز كړي، په دې صورت كې به ثواب مومي، او كه وغواړي نو اوچتوونكي نه دې ضمان واخلي ځكه چې ده د بل مال بغير د هغې د اجازت نه خرچ كړی دی، و الاباحة من جهة الشرع لا تنا فی الضمان حق للعبد.

قوله و هو متبرع الخ: لقيط او لقطه راپورته كوونكی چې څه په دوی خرچ كوي، نو هغه متبرع او احسان دی. مالك نه د هغې د خرچې مطالبه نشي كولی، البته كه چيرې قاضي وئيلي وي چې په ده خرچ كوه او وروسته ئې بيا مالك نه واخله نو په دې صورت كې هغه د مالك په ذمه دين ګرځي.

كِتَابُ الأُبق
أَخْذُهُ أَحَبُّ اِن قوِيَ عليْهِ و من رَدَّهُ مِنْ مُدَّةِ سَفرٍ فلهُ اربعونَ درهمًا
د تښتيدلي غلام نيول بهتر دي، كه چيري په هغې قادر وي، او چا چې هغه د مودې د سفر نه واپس كړو نو هغه لره څلويښت درهمه دي
و لو قيمتهُ اقلّ منه و من رَدَّهُ لِاَقَلَّ منها فبحسَابه وَ المدَبَّر أُمّ الولدِ
اګر چې د غلام قيمت د هغې نه كم وي او چا چې دې نه كم فاصلې نه واپس كړو نو په دغه حساب سره به وي، او مدبر او امولده
كالقِنّ و اِن أُبِقَ منَ الرَّادِ لا يضمنُ و يشهدُ انه اَخَذهُ لِيَرُدَّهُ و
په مثل د خالص غلام وي، او كه چيري واپس كوونكی نه وتښتيدو نو ضامن نه ګرځي. او ګواه به ونيسي چې ماده لره د واپس كولو لپاره
جُعل الرّهْنِ على المُرتهِن و اَمْرُ نفقتِه كاللُقطةِ.
نيولی دی، او د رهن اجرت په مرتهن دی، اود تښتيدونكي غلام حكم په شان د لقطې دي

د فقهې تشريح: قوله كتاب الخ: د لقطې او لقيط سره ددې كتاب مناسبت عروض د تلف او د زوال دی، صرف دومره خبره ده چې په لقطه او لقيط كې تلف په اعتبار د ذات سره وي، او په ابق اباق نه

(١) صححه فی الهداية، و قال فی البزازية و الجوهرة و عليه الفتوی ١٢.

ماخوذ دی، د شرارت او سرکشئ په وجه سره د غلام او وينځې تښتيدو ته وئيلی شي (كذا عرفه ابن الكمال)

په دې تعريف کې هغه غلام هم داخل دې، چې د آقا د مستاجر او په عاريت سره اخيستونکی او امانت دار او د هغه د وصي نه وتښتي.

قوله و اخذه الخ: تښتيدلی غلام نيول مستحب دي، په دې شرط چې نيوونکی د هغه په حفاظت باندې قادر وي، او آقا ته ئې ورسولی شي. او که چيرې په دې قادر نه وي نو بيا مستحب نه دي. اوس چې کوم سړي ده لره راوستو که چيرې هغه د سفر د مودې په مسافت سره يعنې درې ورځو په مسافت سره ونيولو او حاضر ئې کړو نو د هغه مزدوري څلويښت درهمه (۱) دي، اگر چې د غلام قيمت دې نه کم وي. او که چيرې دې نه کم مودې نه ئې راولي نو مزدوري به په هغه حساب وي. امام شافعي فرمائي چې د آقا د شرط نه بغير به مزدوري نه ملاويږي. او د قياس تقاضا هم دا ده چې په آخذ په سلسله کې متبرع دی، نو دا د گم شده غلام په شان شو زمونږ دليل دا دی چې په نفس مزدورئ باندې د صحابه کرامو اجماع ده. البته په مقدار کې اختلاف دی. لکه چې حضرت عبدالله بن مسعود ﷺ نه څلويښت درهمه نقل دي. او حضرت عمر ﷺ او حضرت علي ﷺ نه يو دينار يو دولس درهمه دا رنگ د حضرت عمر ﷺ نه څلويښت درهمه مروي دي، نو مونږ په مسافت سفر کې څلويښت درهمه واجب کړه. او دې نه په کم مسافت کې د څلويښت نه کم، توفيقًا و تلفيقًا بين الاثار.

قوله و ان أبق الخ: که چيرې غلام د واپس کوونکي نه وتښتيدو نو ضامن نه گرځي ځکه چې غلام هغه سره امانت وو، او امانت کې بلا تعدي ضمان نه وي، که چيرې غلام په خپل ذاتي کار کې ولگوي او غلام وتښتي نو ضامن دی.

قوله و جُعل الرّهن الخ: که چيرې عبد مرهون د مرتهن نه وتښتيدو نو د هغه دواپسي مزدوري په مرتهن واجب ده. په دې شرط چې د هغه قيمت د دين برابر وي يا هغه نه کم وي، او که چيرې قيمت زيات وي نو مرتهن باندې مزدوري په قدر د دين به وي، او باقي مزدوري په راهن به وي. لان حقه بالقدر المضمون.

(۱) عبدالرزاق، طبراني، بيهقي عن ابن مسعود ﷺ، ابن ابي شيبه عن عمرو علي، عبدالرزاق، ابن ابي شيبه عن عمرو بن دينار (مرسلاً) ۱۲.

كِتَابُ المفقُودِ

هُو غَائِبٌ لم يُدرَ موضعُهُ و حَيٰوتُهُ و مَوتُهُ و يَنْصِبُ القَاضِيْ مَن يَاخُذ

مفقود هغه غائب دی چې د هغه ځائې او مرګ او ژوند معلوم نه وي، داسې کس لپاره به قاضي څوک مقرر کړي چې د

حَقَّهُ و يَحفَظُ مَالَهُ و يَقومُ عليه و يُنْفِقُ مِنه علیٰ قريبه وِلادًا زوجته

هغه حق وصول کړي او د هغه د مال حفاظت وکړي او د هغه مشري وکړي خرچ وکړي د هغه د مال نه رشته ولادت په قرابت دارو باندې او د هغه په ښځه باندې

ولا يُفرّقُ بَيْنَهُ و بَينَها وَ حَكَمَ بموته بَعْدَ تسعِينَ سَنةً و تُعْتَدُّ

او قاضي به تفريق نه کوي دده او د ښځې په مينځ کې ، او حکم به کوي د هغه په مرګ باندې پس نوي کالونو نه، او ښځه به

امرأتُهُ و وُرِثَ منه ح لا قبلهُ و لا يرِثُ مِنْ اَحَدٍ مَاتَ و لو كَانَ

ئې عدت تیر وي، او دغه وخت به د هغه ترکه تقسيم کيدی شي نه چې دې نه مخکې او هغه به د چا وارث هم نه ګرځي چې هغه مړ شوی

مَعَ المفقودِ وارِثٌ يُحجبُ به لَمْ يُعْطَ شَيئًا و انِ انتقَصَ حَقُّهُ

وي ، او که چيرې مفقود سره يو داسې وارث وو چې د هغې په وجه سره هيڅ نه مومي او که چيرې د هغه حق کميدونو هغه

به يُعْطیٰ اَقَلَّ النصيْبَيْنِ و يوقف الباقِي كالحَملِ (۱)

ته کمتره ملاويږي، او باقي به ساتلی شي په شان د حمل

د فقهې تشريح: قوله هو غائب الخ: شريعت کې مفقود هغه سړي ته وايې چې د هغه ځائې معلوم نه وي چې هغه کوم ځائې دی، او نه دا معلومه وي چې ژوندی دی او که وفات دی، دداسې سړي احکامو کې قاعده کليه دا ده چې هغه د خپل ذات په حق کې ژوند شمار کيږي نو د هغه د ښځې نکاح به بل چا سره نه کيږي. او د هغه مال به په وارثانو تقسيميږي. او نه د هغه اجاره فسخ کيږي الی غيرذلک. او په حق د غير کې وفات شمار کيږي. نو هغه د بل وارث نه ګرځيږي او که چيرې يو کس ده لپاره وصيت وکړو او وفات شو نو مفوق د د وصيت د مال مستحق نه ګرځي. بلکه د هغه حصه به د هغه د هم عصرو تر مرګه پورې محفوظه ساتلی شي.

---

(۱) فلو كان مع الحمل وارث اخر لا يسقط بحال و لا يتغير بالحمل يعطي كل نصيبه و ان كان ممن يسقط بالحمل لا يعطي شيئًا و ان كان ممن يتغير يعطي الاقل ۱۲.

قوله ولا يفرق الخ: د مفقود او د هغه ښځې په مينځ کې به قاضي تفريق نه کوي، امام مالک رحمه الله فرمائي چې کوم سړی څلورو کالو پورې لا پته وو نو قاضي به دهغوی په مينځ کې تفريق وکړي او ښځه به ئې عدت وفات تير کړي او چې چا سره ئې مرضي وي نو نکاح دې ورسره وکړي. ځکه چې حضرت عمر رضي الله عنه د هغه سړي متعلق هم دا حکم کړی وو چې کومو لره جن اغواء کړی وي [۱] زمونږ دليل د نبي عليه السلام ارشاد دی «چې د مفقود ښځه هم د هغه ښځه ده تر دې چې هغه ته د مرګ يا د طلاق خبر اورسي» [۲]. دغه شان حضرت علی رضي الله عنه فرمائي چې دغه ښځه مبتلا کړی شوې ده نو هغې ته صبر پکار دی. تر دې چې د خاوند د مرګ پته ولګي يا د طلاق اطلاع بيا مومي [۳]. ابو قلابه، جابر بن زيد ، شعبي، نخعي، د ټولو دا قول دی، او د امام مالک رحمه الله حضرت عمر رضي الله عنه په قول سره استدلال صحيح نه دي. ځکه چې حضرت عمر رضي الله عنه نه د حضرت علی رضي الله عنه قول طرف ته رجوع ثابت ده [۴].

قوله وحکم بموته الخ: کله چې د مفقود د عمر نوي کالونه تير شي نو قاضي به د هغه د مرګ فيصله کړي. او د هغه ښځه به عدت وفات تير کړي. ځکه چې سړي عادةً د نوي، کالونو نه زيات ژوندی نه پاتې کيږي (په دې فتوی ده) د ظاهر الرواية چې لحاظ سره د مرګ حکم هغه وخت لګي کله چې د هغې همعصر خلک ختم شي. ځکه چې اکثر داسې کيږي چې انسان د همعصرو نه ډير کمتر ژوندی پاتې ۳۰، ۶۰، ۷۰، ۸۰، ۱۰۰، ۱۰۵، ۱۰۷، ۱۱۰، او ۱۲۰ کالونه تيريدو نه پس د مرګ حکم لګولو اقوال دي. ليکن عمر غير معمول بها دي.

قوله ولو کان الخ: که چيرې مفقود سره يو داسې سړی وي چې هغه د مفقود په موجودګئ کې مجوب ګرځي نو دغه وارث ته به هيڅ نه ملاويږي، او که يو وارث داسې وي چې محجوب نه ګرځي بلکه د هغه حق کميږي نو د هغه په دوو حصو کې به ورته کمتره حصه ورکړی کيږي، او باقي به محفوظ کولی شي. مثلاً يو سړي دوه لونړه، يو مفقود ځوی، يو نمسې او يا نمسئ روسته پريښودل او

---

(۱) ابن ابي شيبه، عبد الرزاق، دارقطني ۱۲.

(۲) دارقطني عن المغيرة، و الحديث ضعفه ابو حاتم و عبدالحق و ابن القطان وغيرهم ۱۲.

(۳) عبد الرزاق عن علي ۱۲.

(۴) ذکر عبدالرحمن بن ابي ليلى ثلث قضيات رجع فيها عمر الى قول علی امرءة المفقود إمرءة ابي کنف و المرءة التى تزوجت في عدتها و قولنا في الثلاثة قول علی ۱۲.

وفات شو، او مور د چا اجنبي په قبضه کې ده، او د ځوی په مفقود کیدو کې د ټولو وارثانو اتفاق وو نودواړو لونړو ته به نیمه حصه ملاویږي، ځکه چې نصف په هر صورت کې یقیني دیو او نصف باقي به محفوظ ساتلی شي. او نمسی یا نمسئ ته به هیڅ نه ملاویږي، ځکه چې دا محجوب که چیرې مفقود ژوندی وي نو دی د میراث مستحق نه دی.

((كِتَابُ الشِّرْكَةِ))
شِرْكَةُ الملكِ أَن يَملِكَ اِثنانِ عَيْنًا اِرْثًا او شِرَآءً و كُلٌّ اجنبيٌّ فِى قِسْطِ صَاحِبِه
شرکت ملک دا دی چې مالکان شي دوه سري د یو څیز په طریقې د میراث یا په طریقې د بیع سره، او په دوی کې هر یو اجنبي وي دبل
و شركةُ العَقدِ اَنْ يقولَ احَدُهما شاركتُك فى كذا و يقبَلُ الأخرُ
په حصه کې او شرکت عقد دا دی چې په دوو سرو کې یو سړی ووایې چې ما تاسره په فلاني څیز کې شرکت وکړو او دویم ئې قبول کړو

د فقهې تشریح: قوله کتاب الخ: لکه څنګه چې د مفقود مال شخص حاضر سره امانت وي او دغه شان په شریکینو کې د هر یو مال دبل سره امانت وي، په دې مناسبت سره مصنف د کتاب المفقود نه پس کتاب الشرکة ذکر کوي، د نفس شرکت مشروعیت د کتاب الله نه هم ثابت دي، قال تعالی «فَهُمْ شُرَكَاءُ فِى الثُّلُثِ» او حدیث نه هم ثابت دی (ففی الحدیث) عن السائب انه قال للنبی علیه السلام كنت شریكی فی الجاهلیة فكنت خیر شریک لا تداری و لا تماری (١). و قال علیه السلام قال الله تعالی «انا ثالث الشریکین ما لم یخن احدهما (٢)» شرکت په لغت کې دوه حصې داسې شان سره یو ځای کول او مخلوط کول دي چې هغې کې امتیاز او جدایې باقي پاتې نه شي. دغه شان عقد شرکت ته هم وائي اګر چې به هغې کې اختلاط نه وي لان العقد سبب له، په اصطلاح د شریعت کې شرکت هغه عقد ته وئیلی شي چې هغه په رأس المال او منفعت دواړو کې واقع وي، نو که چیرې رأس المال کې شرکت نه وي او صرف په منفعت کې وي نو هغې ته مضاربت وئیلی شي. او که چیرې صرف په رأس المال کې وي، نو هغې ته بضاعت ویلی شي.

(١) ابوداؤد، ابن ماجه، احمد، حاکم ١٢

(٢) ابوداؤد، حاکم عن ابي هريرة ١٢

قوله شركت الملك الخ: د شركت دوه قسمه دي (۱) شركت املاک (۲) شركت عقود، شرك املاک دا دي چې دوه كسان په وراثت اخيستلو، هبه، صدقه استيلاء او اختلاط وغيره كې په څه طريقې سره د شئ معين مالكان شي، ددې حكم دا دی چې په دې كې په شريكينو كې هر يو د بل په حصه كې اجنبي محض وي، چې د هغه د اجازت نه بغير هيڅ مضر تصرف نشي كولی، شركت عقد دا دی چې په دوو كسانو كې يو كس بل ته دا ووايي چې زه په فلاني څيز كې ستا شريک يم، اودويم ئې قبول كړي ددې څو قسمونه دي چې هغه لاندې ذكر كيږي

و هي مفاوَضةٌ اِنْ تَضَمَّنَتْ و كالةً و كفالةً و تسَوِيَا مالاً و تصَرُّفًا ودِيناً.
او هغه شركت مفاوضه دی، كه چيرې شامل وي وكالت او كفالت ته، او دواړه برابر وي په مال او تصرف او په دين كې، نو
فلا تصِحّ بين حُرٍّ و عَبْدٍ و صَبِيٍّ و بالغٍ و مُسْلِمٍ و كافرٍ و ما يشتريْهِ
شركت مفاوضه صحيح نه ده په مابين د ازاد او غلام او ماشوم كې، او د بالغ، مسلمان او دكافر په مينځ كې،او څه چې
كلٌّ يَقعُ مشتركًا اِلّا طعَامَ اهْلِه و كِسوتُهم و كلُّ دَيْنٍ لزِمَ اَحَدهما
اخلي هغه به مشترک واقع كيږي، سوا د كور والو د طعام او د پوشاک نه ، او هر دين چې لازم وي هغوی كې په احدهما
بتجارةٍ او غَصْبٍ اَو كفالةٍ لزِمَ الأخرَ و تَبطُل ان وُهِبَ لاحَدِهما
باندې په وجه د تجارت يا د غصب او يا كفالت سره، نو په بل هم لازميږي، او باطليږي كه چيرې هبه كړی شو يوكس ته
اَو وَرِثَ ما تصِحّ فيهِ الشِركةُ لا العَرْض و لا تصِحّ مُفَاوَضَةٌ و
يا په ميراث كې واخيستو داسې مال چې هغې كې شركت صحيح وي نه چې سامان، او نه صحيح كيږي شركت مفاوضه او شركت
عِنانٌ بغيْرِ النقدَيْنِ و التِّبرِ و الفُلوسِ النافقةِ و لو بَاعَ كلٌّ نِصفَ
عنان د روپو ، اشرفو، كچه چاندۍ او د رائجو پيسو نه علاوه كې او كه چيرې خرڅ كړو هر يو خپل نيم سامان د بل د نيم
عَرضِه بنصفِ عَرضِ الأخر وعَقد الشركةَ صَحَّ و عنانٌ ان تضمَّنتْ و كالةً فقط
سامان په عوض كې او عقد شركت وكړي نو صحيح دي، او شركت عنان دی، كه چيرې صرف وكالت ته شامل وي او صحيح
و تصِحّ مع التساوِی فی المالِ دُوْنَ الرِّبح و عكسه و ببَعْضِ المال و خلاف الجنسِ و
كيږي كه چيرې صرف په مال كې مساوات وي نه چې په نفع كې، يا د هغې عكس وي، يا بعضې مال كې شركت وي يا خلاف جنس وي يا عدم اختلاف وي

عَدَمِ الخلط و طُولب المشتري بالثمنِ فقط و رَجَعَ علی شریکه بحصّته منه
او مطالبه به کیدی شي د قیمت صرف د مشتري نه، او رجوع به کوي په خپل شریک باندې په هغه هومره حصې سره او
و تبطلُ بهلاکِ المَالَیْنِ او اَحَدِهِمَا قبل الشراءِ و ان اشتری احدُهما بماله
شرکت باطلیږي قبل از شراء د یو یا د دواړو مالونو په هلاکیدو سره او که چیرې یو کس په خپل مال سره څه واخیستل او د
وهَلک مَالُ الأخرِ فالمشتری بینهما و رَجَعَ بحصّتِه من ثمنه علی شریکه
دویم مال هلاک شو نو اخیستی شوي اسباب به د دواړو مینځ کې مشترک وي او رجوع به کوي په خپل شریک باندې په خپلې
و تفسُدان شُرِطَ لِاَحَدِهِما دَرَاهِمُ مسمّاةٌ مِنَ الرِّبحِ و لکُلٍّ مِنْ شرِیکی
حصې سره، او فاسدیږي که چیرې یو لپاره څه درهمه د نفع مقرر شوي او د شرکت عنان او شرکت مفاوضې هر یو شریک
العنانِ و المفاوَضَةِ ان یبضعَ و یستاجر و یُودِعَ و یضارِبَ
ته اختیار دی چې هغه مال په طریقې د بضاعت یا په طریقې د امانت یا په طریقې د تهیکی یا په طریقې د مضاربت سره ورکړي
و یُوَکِّلَ و یَدُهُ فی المَالِ اَمَانَةٌ.
یا څوک وکیل جوړ کړي، او په مال کې د هر یو تصرف به په طریقې د امانت سره دی.

(د شرکت مفاوضه او د شرکت عنان بیان)

د فقهې تشریح: قولهُ وَهِیَ مُفَاوَضَةٌ الخ: د مصنف د صیغو په اعتبار سره د شرکت عقد څلور قسمونه دي مفاوضه. عنان، تقبل،وجوه ، مفاوضه تفویض په معنی د مساوات سره دی، یعني په هر څیز کې برابر دي، ددې صحت لپاره څو شرطونه دی (۱) شرکت مفاوضه وکالت او کفالت دواړو ته به شامل وي، یعني په شریکوالو کې هر یو به د بل وکیل هم وي او د هغه د طرف نه به کفیل هم وي، دې لپاره چې مقصود یعنې اخیستی شوي څیز کې شرکت متحقق شي ، ځکه چې یو شریک یو څیز واخلي نو هغه د بل په ملک کې هغه وخت داخلولی شي کله چې هغه ته ددې ولایت حاصل وي. آو دلته ولایت بغیر وکالت نه نشي کیدی (۲) دواړه شریکوال به په مال کې برابر وي (۳) په تصرفاتو کې به برابر وي (۴) په دین کې به برابر وي. دا هم یاد ساتل پکار دي چې ائمه ثلاثه د شرکت مفاوضه د جواز قائل نه دي. امام مالک رحمه الله خو تر دې پورې وئیلي دي چې لا أعرف مالمفاوضة او قیاس هم دا تقاضا کوي ځکه چې په دې کې د مجهول الجنس وکالت او کفالت وي

او دا جائز نه دی. لیکن استحساناً جائز دي(۱). او وجه د جواز تعامل د خلکو دی. چې عام طور باندې دا قسم معامله بغیر د نکیر نه نه کیږي. او تعامل ناس په وړاندي قیاس ترک کولی شي، پاتې شو د مجهول الجنس د وکالت عدم جواز، نو دهغي جواب دا دی چې وکالت بالمجهول اگر چې قصداً جائز نه دي، لیکن ضمناً جائز دي، لیکن په ضمن د مضاربت کې د مجهول شئ د اخیستو وکالت کیږي.

تنبیه: مصنف د شرکت عقد څلور قسمونه کړي دي چې په هغې کې دا شبه کیدی شي چې شرکت تقبل او وجوه کې شرکت مفاوضه او عنان نه کیږي، حال دا دی چې خبره داسې نه ده، دې وجې نه بهتر تقسیم دا دی چې شرکت یا خو بالمال وي یا بالاعمال، یا بالوجوه، په دې کې د هر یوه دوه قسمونه دي. مفاوضه او عنان، نو ټول شپږ قسمونه شول، زیلعي ، طحاوي، کرخي ، او صاحب ذخیره وغغیره هم دا ذکر کړي دي.

قوله فلا تصح الخ: په مساوات فی التصرف متفرع دي یعني د یو ازاد او د غلام په مینځ کې او د بالغ او د ماشوم په مینځ کې او د بالغ او د ماشوم په مینځ کې شرکت مفاوضه صحیح نه ده. ځکه چې ازاد ، عاقل او بالغ سړي د تصرفاتو او د کفالت دواړو مالک وي او غلام بغیر دمالک د اجازت نه د یو څیز هم مالک نه دی، دغه شان ماشوم بغیر د اجازت دولي نه د کفالت او د تصراتو ملک نه دی، دارنګ د طرفینو په نزد د مسلمان او د کافر په مینځ کې هم صحیح نه دی ، ځکه چې مساوات فی الدین مفقود دی، البته د امام ابویوسف په نزد صحیح دی.

قوله وما یشتریه الخ هر کله چې په شروط مذکوره سره شرکت مفاوضه صحیح شي نو په شریکوالو کې چې کوم یو سړی یو څیز واخلي هغه به مشترک وي ځکه چې تقاضا دعقد مساوات دی، او په شریکوالو کې هر یو د بل قایم مقام دی، نو د یو خریداري لکه چې د بل خریداري ده. البته چې کوم څیزونه په دائمي ضروریاتو کې داخل دي هغه ترینه مستثنی دي لکه اهل وعیال لپاره خوراکه، ترکاري، لباس د اوسیدو لپاره کوړ اخیستل او په اجازت د شریک سره لپاره د وطئ وینځه اخیستل وغیره، ځکه چې کوم څیز د دلالت حال په ذریعې سره معلومیږي، هغه د زباني شرط برابر وي.

---

(۱) فی الحدیث (فاوضعوا فانه اعظم للرکة) مجمع الانهر ۱۲.

قوله و تبطل الخ: په کومو څيزونو کښې چې شرکت صحيح وي يعنې دراهم دنانير، که چيرې په دې کښې يو څيز يو شريک په طريقې د هبې سره يا په طريقې د وراثت سره حاصل کړي نو په هغې کښې شرکت مفاوضه باطله ګرځي ځکه چې په شرکت مفاوضه کښې لکه څنګه چې ابتداءً مالي مساوات شرط دی، نو دغه شان بقاءً هم شرط دي، او په صورت مذکوره کښې بقاءً مساوات مفقود دي البته که چيرې په طريقې مذکوره سره ئې سامان يا زمکه حاصله کړي نو شرکت مفاوضه نه باطليږي ځکه چې دې کښې شرکت صحيح نه دی لهذا مساوات هم شرط نه دي.

قوله و لو باع الخ: دوو کسانو سره څه سامان وو په دوی کښې هر يو خپله نصف حصله د بل د نصف حصې په عوض کښې خرڅه کړه، هغې نه پس دواړه شريک شول نو شرکت صحيح دی، خواه شريک مفاوضه وي او که شرک عنان، ځکه چې دغه دواړه د عقد بيع په وجه سره په قيمت کښې شريک شول (بشرکة ملک) يو کس ته د بل په حصه کښې تصرف جائز پاتې نه شو. دې نه پس د عقد شرکت په وجه سره دا شرکت ملک شرکت عقود شو چې اوس هر يو دبل په حصه کښې تصرف کولی شي.

قول و عنان الخ: د شرکت عقد دويم قسم شرکت عنان دی چې دا صرف متضمن وکالت لره دی، چې په دې کښې د دواړو شريکوالو مال او نفع برابر وي يا کم و بيش، دواړه تجارت کوي يا صرف يو کس، بهر صورت شرکت عنان صحيح دی، ليکن که چيرې ټوله نفع د يو لپاره مقرر شوه نو صحيح نه ده ځکه چې دې صورت کښې شرکت پاتې نه شو. بلکه بضاعت يا قرض ګرځي. که چيرې پوره نفع عامل لپاره وي نو قرض او که صاحب مال لپاره وي نو بضاعت او که چيرې په شريکوالو کښې د هر يو لپاره بعضې مال په ذريعه وي نو بيا هم شرکت صحيح دی، ځکه چې شرکت عنان کښې مساوات شرط نه دي. دا رنګ مختلف الجنس سره هم صحيح ده. ځکه چې زمونږ په نزد د عنان لپاره اختلاط هم شرط نه دی.

و تقبُّلٌ ان اشترک خيَّاطانِ او خيّاطٌ و صبّاغٌ على ان يتقبَّلا الاعمالَ و
او تقبل دی که چيرې شريک شي دوه درزيان يا يو درزي او يو رنګسار په دې شرط چې دواړه به کار کوي، او کټه به د دواړو په مينځ
يكون الكسبُ بينهما و كلُّ عملٍ يتقبَّله اَحَدُهما يلزِمُهما و كسْبُ اَحَدِهما بينهما و
کښې نيمه وي اوس چې کوم يو کار يو کس واخلي نو هغه په دواړو لازميږي او کټه به د دواړو په مينځ کښې شريکه وي او شرکت وجوه
وُجُوهٌ ان اشترکا بلا مالٍ على ان يَشتريَا بوجُوهِهمَا و يَبيْعَا و تتضمَّنُ الوكالةَ
دی که چيرې شريک شي بغير مال نه په دې شرط چې په خپل وجاهت سره به اخلي او خرڅوي به ئې او دا وکالت ته شامليږي او که چيرې

فان شرطا منا صفة المشتری او مثالثته فالربح کذلک و بطل شرط الفضل
دوارو شرط کړو نو نصف نصف یا دریمه حصه نو نفع به هم دغه شان وي او د زیات شرط به باطل وي فصل او نه صحیح کیږي
فصل ولا تصح شرکة فی احتطاب واصطیاد و استقاء و الکسب للعامل و علیه اجر
په لرګو جمع کولو کې او په ښکار کې او په اوبو کې او ګټه به د عامل وي او په ده به مزدوري لازمه وي په مثل د هغه بل د
مثل ما للاخر و الربح فی الشرکة الفاسدة بقدر المال وان شرط الفضل و تبطل الشرکة
مزدوري او ګټه په شرکت فاسده کې په قدر د مال وي اګر که زیاتی شرط ئې کړی وي او باطلیږي شرکت په مرګ د احدهما
بموت احدهما و لو حکما و لم یزک مال الاخر بلا اذنه فان اذن کل وادیا معا
سره اګر که حکماً وي او زکوة به نه ورکوي د بل مال نه د هغه د اجازت نه بغیر نو که چیرې هر یو اجازت وکړواودوارو په یو ځل
ضمنا و لو متعاقبا ضمن الثانی و ان اذن احد
ادا کړو نو دواړه ضامن ګرځي او که چیرې یو بل پسې ئې اد کړو نو بیا ثاني ضامن ګرځي. که چیرې د مفاوضي یو شریک د
المفاوضین بشراء امة لیطأها ففعل فهي له بلا شيء.
وینځې د اخیستلو اجازت ورکړو وطي لپاره او هغه واخیسته نو وینځه به د هغه وي بغیر د عوض نه

(د شرکت وجوه او د تقبل بیان)

د لغت وضاحت: **خیاط** درزي. **صباغ** رنګساز. **مناصفة** نصفا نصف. **احتطاب** لرګي جمع کول.

اصطیاد: ښکار کول. **استقاء**: اوبه طلب کول.

د فقهي تشریح: **قوله و تقبل الخ:** د شرکت عقد دریم قسم شرکت تقبل

د فقهي تشریح: **قوله و تقبل الخ:** د شرکت عقد دریم قسم شرذکت تقبل دی، چې هغې ته شرکت اعمال شرکت ضائع اوشرکت ضائع او شرکت ابدان هم وایې. د هغې صورت دا دی چې دوه کسب ګر مثلاً دوه دذریان یا یو درزي او یو رنګسار په دي خبره متفق شي چې هر ممکن الاستحقاق عمل به قبلوو او چې څه ګټه وشي په هغې کې به دواړه شریک یو اوس په شریکوالو کې چې کوم سړی څه کار کوي، نو هغه به په دواړو لازم وي، او کومه مزدوري چې یو په عمل سره حاصله شي، هغه به بموجب شرط په دواړو کې تقسیمیږي اګر چې دویم کس کار نه وي کړی و عند

الشافعي لا تجوز هذه الشركة.

قوله ووجوهٌ الخ: د شرکت عقد څلورم قسم شرکت وجوه دی، د هغې صورت دا دی چې شریکوالو سره مال نه وي بلکه هغوی په خپل اثر و رسوخ سره او په خپل اعتماد او اعتبار سره د سودا گرونه په قرض مال راوړي او هغه خرخوي او بیا په نفع کې شریک وي د شرکت دا صورت هم صحیح دی، په دې کې د خرڅ شوي څیز په اعتبار سره نفع تقسیمیږي، یعنې که چیرې دواړو شریکوالو یو څیز په نصفانصف سره واخیستو نو نفع به هم نصفانصف وي او که چیرې یو شریک دریمه حصه واخیسته او بل شریک دوه حصې نو نفع به هم هغه شان وي، او که چیرې یو شریک د زیاتي نفع شرط ولګولو نو شرط باطل دی، و هٰذه الشركة لا تجوز عند الشافعي و مالك.

(د شرکت فاسده بیان)

قوله فَصْلٌ الخ: په دې کې د شرکت فاسده احکام ذکر دي. شرکت فاسده هغه دی چې په هغې کې د شرکت صحیحه د شروطو نه یو شرط هم بیانه موندی شي. چې کوم څیزونه مباح الاصل دي لکه لرګي، ښکار وغیره د هغې په حصول کې شرکت صحیح نه دي ځکه چې شرکت متضمن وکالت لره وي او دمباح اشیاء تحصیل کې وکالت نه متصور کیږي، ځکه چې د مباح څیزونو پخپله مؤکل مالک نه وي نو په خپل ځائې باندې د بل قائم مقام ګرځولو هم مالک نه دی.

قوله و الكسبُ الخ: یو سړي یو مباح څیز حاصل کړو او بل کس د هغه اعانت وکړو نو هغه به د حاصلونکي وي. او د اعانت کوونکي چې څومره مزدوري د مروجه دستور مطابق کیږي هغه هومره مزدوري به ورته ملاویږي دا حکم په نزد د امام محمد رحمه الله دی چې د هغې متعلق حموي د مفتاح نه نقل کړي دي چې فتوی لپاره دا مختاره دی. د امام ابو یوسف په نزد هم معین ته به اجرت ملاویږي، لیکن د حاصل شوي څیز د نصف قیمت نه به زیات نه ورکړی کیږي، غایته البیان کې دي چې دا قول مبنی پر استحسان دی.

قوله و الرِّبحُ الخ: که چیرې په څه وجه سره شرکت فاسد شي، نو په هغې کې چې څه نفع وي هغه به د مال د مقدار په موجب وي اګر چې د زیاتی شرط شوی وي اوس که چیرې تول د یو شریک وي نو دویم شریک ته به د هغه د محنت اجرت ملاویږي، قنیه کې دي، چې یو سړی د کشتئ مالک دی هغه ځان سره څلور کسان شریک کړه په دې شرط چې ددوی به کشتئ چلوي او چې کوم ګټه کیږي د هغې پنځمه حصه به دمالک وي او باقي به په څلورو شریکوالو کې برابره تقسیموي نو دا شرکت فاسده

دی، او چې څه ګټې هغه به ټوله د مالک وي او دې څلورو کسانو لپاره به واجبي مزدوري وي.

قوله لم يزكّ الخ: يو شريک به د بل شريک د اجازت نه بغير د هغې د مال زکوٰة نه ورکوي، ځکه چې شريکوالو کې هر يو ته چې د بل د طرف نه چې د کوم تصرف اجازت دی، هغه په امورو د تجارت کې دي، او زکوٰة په هغې کې نه دی ، او که چيرې شريکوالو کې هر يو بل ته د زکوٰة اداء کولو اجازت ورکړی وو او هر يو يو ځائې زکوٰة ادا کړو نو دواړه ضامن دي، اودواړه په خپلو کې مجرا وکړي. او که چيرې دواړو يو بل پسې اداء کړو نو کوم چې روسته ادا کړو هغه به ضامن وي.

قوله وان أذِنَ الخ: د شرکت مفاوضه يو شريک بل شريک ته د وطي لپاره دوينځې اخيستلو اجازت ورکړو او هغه وينځه واخيسته ، نو وينځه به خاص د مشتري وي، او څه به نه ورکوي، ځکه چې د وطي لپاره د اخيستو اجازت ورکول هبې لره متضمن دی، ځکه چې دلته کې د وطي حلال کيدو لپاره د هبې نه علاوه بله طريقه نشته، وقالا يضمن حصة شريكه و هو قول الائمة الثلاثة.

كتابُ الوَقْفِ

هُوَ	حَبْسُ	العَيْنِ	على	ملكِ	الواقفِ	والتصدّقُ	بالمنفعَةِ
وقف بندول دي د عين شئ	په ملکد	اقف کې	او خيرات کول	دي د نفع			

د فقهي تشريح: قوله كتابُ الخ: شرکت سره د وقف مناسبت دا دی، چې دواړو نه د هغه مال انتفاع

• مقصود ده چې هغه په اصل مال باندې زياتی وي ليکن په شرکت کې اصل مال د صاحب مال په ملک کې وي او په وقف د اکثرو علماؤ په نزد مالک د ملک نه خارجيږي.

وقف لُغةً په معنی د حبس دی يعني بندول لکه چې موقف الحساب هغه ځائې ته وائي کوم ځای کې چې د قيامت په ورځ به خلک د حساب کتاره لپاره بندولی شي.

قوله هفوَ حَبْسُ الخ: په اصطلاح د شريعت کې وقف هغې ته وايې چې يو څيز په خپل ملک کې بند وساتي او د هغې نفع خيرات کړي. و هذا على مذهب الامام.

د صاحبينو په نزد وقف دا دی چې يو څيز لره د الله په ملکيت کې بند کړي او د هغې نفع چې په چا باندې غواړي په هغې ئې وقف کړي.

و	المِلكُ	يَزول	بالقضاءِ	لا	إلىٰ	مالكٍ	و	لا	يَتمّ	حتّىٰ	يُقبَضَ
او ملک زائله کيږي په قضاء سره د قاضي ، او دويم مالک نه کرځي اووقف نه پوره کيږي تر دې چې قبض کړی شي									

و يُفرَز و يجعل اخرهُ بجهةٍ لا تنقطع و صحّ وقفُ العقارِ ببقره
او جدا کړی شي وګرځولی به شي ځآن ته، په داسې طريقې سره چې منقطع نه شي او صحيح دي وقف د ځمکې سره د غويانو
و اکرته و مُشاعٍ قضِيَ بجوازه و منقولٍ فيهِ تعامُلٌ ولا
او د کارنده ګانو سره او د داسې مشاع څيز سره چې د هغې د جواز حکم شوی وي، او د داسې منقول څيز چې په هغې کې
يُملک و لا يُقسمُ و ان وَقف على اَولادِه و يَبدأُ من غلّتِه
تعامل وي او د وقف به تمليک نه کيږي او نه به تقسيميږي اګر که په اولاد باندې وي او د وقف پيداوار نه به اولاً به د
بعمارته بلا شرطٍ ولو دَارًا فعِمارتُهُ على مَن لهُ السُّکنٰى و لو اَبٰى
هغې مرمت کيږي بغير شرط نه، او که چيرې کور وو نو د هغې مرمت د هغې په اوسيدونکي دي، که چيرې انکار وکړي يا
او عجزَ عَمَّرَ الحَاکِمُ باجرته و يصرفُ نِقْضَهُ اِلى عِمارته ان احتاجَ وَ
عاجز وي نو حاکم به د هغه د اجرت نه مرمت وکړي، او د هغې ملبه به هم د هغې په عمارت کې لګيدی شي که چيرې ضرورت
الّا حفظهُ ليحتاج و لا يُقسِمه بين مستحق الوقفِ و ان جعل الواقِفُ
وو ګنې ضرورت لپاره به محفوظ ساتلی شي.او د مستحقينو وقف کې به نه تقسيميږی که چيرې واقف د وقف پيداوار
غلّةَ الوقفِ لنَفسه او جَعَلَ الولايةَ اليهِ صَحَّ و ينزع لو خائنًا کالوَصِيّ و
يا د هغې توليت خپل ځان لپاره کړو نو صحيح دی، او وقف به د هغې نه خارج کولی شي که چيرې هغه خيانت وکړي لکه وصي اګر که هغه
ان شرط ان لا ينزع
د نه خارج کولو شرط لګولی وي.

(د احکامو د وقف تفصيل)

د لغت وضاحت: يُفرزُ جدا کولی به شي. **عقارٌ** ځمکه. **اکرةٌ** زميندارخلک. د اکارّ جمع ده. **مُشاعٌ** مشترک، غير مُنقسم **نقضٌ**: مات، ګوډ.

د فقهې تشريح: قوله والملک الخ: د مبسوط روايت په لحاظ سره د امام ابو حنيفة په نزد وقف صحيح نه دی، ځکه چې منفعت معدوم کيږي، او تصدق بالمعدوم جائز نه دی، ليکن صحيح دا دي چې وقف د ټولو په نزد جائز دی، ليکن د امام صاحب په نزد لازم نه دی، يعنې واقف ته د ابطال وقف

اختیار شته دی، دې وجې نه د امام صاحب په نزدد واقف د ملک زوال بغیر د قاضي د حکم نه نه کیږي، ځکه چې کومو مسئلو کې د مجتهدینو اختلاف وي په هغې کې د قاضي د حکم ضرورت وي، د امام ابویوسف او ائمه ثلاثه په نزد د قاضي د حکم ضرورت نشته، بلکه د هغوی په نزد په وقف سره د واقف ملکیت زائله کیږي، د امام محمد ﷫ په نزد د واقف ملک هغه وخت زائله کیږي کله چې د وقف څوک متولي مقرر شي، او شئ موقوف د هغه په قبضه کې ورکړی شي، مشائخو د صاحبینو قول ته ترجیح ورکړې ده. او هم په دې فتوی ده.

قوله ولا یتمّ الخ: د طرفینو په نزد د وقف تمامیت لپاره د موقوف مقبوض میدل او هغې جدا کول ضروري دي. یعني که چیرې شئ موقوف تقسیم پذیر وي نو هغه تقسیم کول او جدا کول پکار دي. ځکه چې د امام محمد په نزد قبضه شرط ده ځکه د هغه په نزد واقف د مشاع جائز نه دی، په خلاف د امام ابویوسف ته چې د هغې وقف د عدم احتمال د قسمت باوجود هم نه تمامیږي، مشائخو د بلخ د امام ابویوسف قول ته او مشائخو د بخارا د امام محمد قول ته ترجیح ورکړې ده. خلاصه بزازیه، والوجیه، شرح مجمع، تجنیس او غایة البیان کې دي چې په وقف د مشاع کې فتوی د امام محمد په قول ده.

قوله ویُجعل الخ: په نزدد طرفینو دا هم ضروري ده چې د وقف صورت انجام دې دا شان وکړی شي چې هغه منقطع کیږي نه بلکه جاري وي. یعني انجام کار دوقف مؤید کیدل ضرورت دي مثلاً که چیرې په خاص خلکو ئې وقف کړو چې د هغوی په یوه زمانه کې عدم کیدل هم ممکن وي نو دادې ووائي چې د هغوی د وخت د وقف نفع دې فقیرانو یا علماؤ ته اورسي. امام ابویوسف نه په دې سلسله کې دوه روایتونه دي یو دا چې تابید وقف ضروري دی لیکن ذکر دوام شرط نه دی، او دا صحیح ده دویم دا چې تابید او د وام شرط نه دی.

قوله وصَحّ الخ: تنها زمکه وقف کول بالاتفاق صحیح ده، ځکه چې دا د متعددو صحابه کرامو د عمل نه ثابته ده، لکه چې ابوبکر الصدیق ﷠ خپل یو کور مکه کې او حضرت عمر ﷠ خپل کور په مروه کې او سعد بن ابی وقاص ﷠ خپل کور په مدینه او حضرت علی ﷠ خپله زمکه او خپل کور په مصر کې وقف کړی وو. دغه شان حضرت عثمان ﷠ یوه چینه په پنځه دیرش زره درهمه واخیسته او وقف ئې کړه. لیکن اشیاء منقوله وقف کول د امام صاحب په نزد جائز نه دي، او امام ابویوسف ﷫ فرمائي که چیرې زمکه سره د غوایانو او د کارنده ګانو وقف کړې نو صحیح ده، ځکه چې د مقصود

په لحاظ سره دا څیزونه تابع د أرض دي، و محمد مع ابی یوسف فی جواز و قف المنقول تبعًا.

قوله و مشاعٌ الخ او مشاع یعني دریمه یا د نصف زمکې وقف کول هم صحیح دي، په دې شرط چې قاضي د هغې د جواز حکم کړی وي ځکه چې جواز وقف مشاع مختلف فیه دی، دې وجې نه د قاضي حکم ضروري دی، دغه شان چې کوم څیزونه منقولي وي او په هغې کې د مځکې نه وقف شوی وي یا کیږي نو د هغې وقف هم صحیح دی، لکه تبر، آره، رمبی، تابوت، قران پاک، کتابونه وغیره. و اما الکراع و السلاح فلا خلاف فیه بین الشیخین للاثار المشورة فیه.

قوله و لا یملکُ الخ: هر کله چې وقف به اجتماع د شروطو او په ارتفاع د موانعو سره مکمل شي نو نه د هغې بیع جائز ده او نه تملیک نه په عاریت باندې ورکیدی شي، او نه رهن کیدی شي، او نه مستحقینو دوقف په مینځ کې تقسیم کیدی شي، ځکه چې د موقوف علیهم حق دمنافعو د وقف کې دی نه چې په عین وقف کې، او تملک او قسمت د هغې منافي دی.

قوله و ان جُعِلَ الخ: که چیرې واقف د وقف بعضې یا کل امدني یا د هغې تولیت د خپل ځان لپاره شرط کړو نو د شیخینو په نزد صحیح دي، د امام صاحب په نزد دواړه صورتونه صحیح نه دي، او د امام شافعی په نزد ړومبی صورت صحیح نه دی، دلیل د شیخینو دا دی چې نبي علیه السلام به د خپلې موقوف صدقې نه خوراک کولو او دا هغه وخت کیدی شي چې هغه مځکې شرط لګولی وي ځکه چې بغیر شرط نه خوراک کول بالاجماع جائز نه دي. معلومه شوه چې خپل ځان لپاره د آمدنۍ شرط لګول صحیح دي (و فیه تأمل)

فَصْلٌ مَنْ بَنٰی مسجدًا لَم یَزَلْ مِلْکُهٗ عنه حتّٰی یُفرِزَهٗ عن ملکه
(فصل) چا چې مسجد جوړ کړو نو په دې سره د هغه ملک نه زائله کیږي تر دې چې هغې لره جدا کړي د خپل ملک نه په لاره سره، او
بطریقه و یأذن بالصلٰوة فیهِ فاذا صَلّٰی فیْهِ واحدٌ زالَ مِلْکُهٗ.
د لمانځه کولو اجازت وکړي په هغې کې، نو که چیرې په هغې کې یو سړي هم لمونځ وکړو نو د هغه ملک زائله کیږي.

د فقهي تشریح: قوله من بنٰی الخ: چې کوم سړي مسجد جوړ کړو نو هغه هم د هغه ملک وي تر څو پورې چې هغې لره د خپل ملک نه سره دلارې نه جدا نه کړي، او خلکو ته په کې د لمونځ کولو اجازت ورنکړي. ملک نه جدائي خو ځکه ضروري ده چې دې نه بغیر مسجد خالص د خدائې لپاره نه ګرځي. او د لمانځه اجازت ورکول ځکه ضروري ده چې د طرفینو په نزد وقف کې تسلیم یعنې

قبضه و رکول ضروري دي، او دلته کې حقيقي قبضه متعذره ده دې وجې نه وقف نه چې کوم مقصود دی يعنې لمونځ کول هغه د حقيقي قبضې قائم مقام ګرځي. اوس که چيرې پس د اجازت کولو نه يو سړي هم په کې لمونځ وکړو نو د مالک ملک ختميږي. امام ابويوسف رحمه الله فرمائي که چيرې مالک صرف دومره وويل چې ما دې لره مسجد جوړ کړو نو صرف دومره وينا سره د هغې ملک زائله کيږي، ځکه چې د هغې په نزد تسليم شرط نه دی.

و مَن جَعَلَ مسجدًا تحتَهٗ سرداَبٌ اَو فوقَهٗ بَيْتٌ و جَعَل
چا چې يو مسجد جوړکړو او لاندې ترينه تهه خانه وي يا د هغې دپاسه بالاخانه وي، او د
بَابَهٗ الی الطريقِ وَ عَزَلَه او اتَّخَذَ وَسْطَ دارِه مسجدًا
هغې دروازه لارې طرف ته کړې او جدائي کړې يا د کور په مينځ کې جومات جوړ کړو
و اَذَن للناسِ بالدخول فيْهِ لهٗ بَيْعُهٗ و يُورث عنه وَ مَن
او اجازت ئې وکړو خلکو ته هغې ته د داخليدو نو هغه خرڅولی شي او وارثان د هغې وارث ګرځي،
بَنٰى سقايَةً اَو خانًا اَو رباطًا او مقبرةً لم يزلْ مِلكُهٗ
او کوم سړي چې سقاوه يا سرائې يا د لښکر د پړاو لپاره ئې يوځائې يا قبرستان جوړ کړو نو د هغه ملکيت نه
عَنْهُ حتّٰى يحكم به حَاكِمٌ و اِنْ جُعِل شَیْءٌ مِن الطريقِ
زائله کيږي تر دې چې حاکم د هغې حکم وکړي او که چيرې څه لاره مسجد کړی شو نو صحيح ده لکه څنګه
مسجدًا صحَّ كعَسكِه
چې د هغې عکس صحيح دی،

دلغت وضاحت: سَرداَبٌ تهه خانه. عَزَلَ جدائي ئې کړه. سَقايَةٌ د اوبو جمع کيدو ځای. خانٌ: سرابې. رباطٌ هغه ځای چې هلته کې لښکرد سرحد حفاظت لپاره قيام کوي. مقبرة: قبرستان

د فقهې تشريح: **قوله و من جعل الخ:** يو سړي مسجد جوړ کړو او د هغې لاندې تهه خانه جوړه کړه يا د هغې دپاسه ئې کور جوړ کړو، . او د مسجد دروازه ئې لارې طرف ته وويستله او خپل ملک نه ئې جدا کړه، يا ئې خپل کور کې مسجد جوړ کړو. او خلکو ته ئې د راتلو اجازت ورکړو. نو په دې ټولو صورتونو کې د امام صاحب په نزد مالک هغې لره خرڅولی شي، او که چيرې هغه وفات شي نو په

ترکه کې به د هغه وراثانو ته حصه ملاويږي مطلب دا چې دغه مسجد په حکم د وقف کې نه دی، ځکه چې دې کې حق العبد باقي دی، لهذا هغه خالص خدائې لپاره نه شو.

قوله وان جُعل الخ: که چیرې د مسجد د توسیع ضرورت وي او حسب ضرورت د لارې څه حصه په مسجد کې شامله کړې شي یا د اطرافو ځمکه واخلي او په مسجد کې داخله کړی شي، نو دا جائز دي، ځکه چې صحابه کرامو رضی الله عنهم د مسجد حرام توسیع دغه شان کړې وه. دغه شان که چیرې د جومات څه زمکه په لاره کې شامله کړی شوه نو دا هم جائز ده (والله اعلم بالصواب)

(تمت بالخیر)


مکتبہ رشیدیہ
سردار پلازہ اکوڑہ خٹک 0344-9084693

